١٨٧٩٤

۲۸۸۴-۴۵۴

وزارت فرهنگ و آموزش عالی
کتابخانه ملی

صد هزار ثنا سبحانه　　په هزار هزار لسانه
چه ستا ذات لره سزاوي　　ستا خو نبي وو ستا رضا وي
ازلي وابدي وي　　لا مقطوعه سرمدي وي
تل مضروبه پخپل خان کښې　　پهر حين پهر آن کښې
همه واره موجوده　　خاصه تا لره معبوده
صد درود وصد سلام دې　　چه ده پاک رسول انعام دې

پدغه شماره جانانهٔ — بلك زيات چندان چندانه

چه لايق ده عالي شان وي — پر صاده پاك سبحان وي

هم لاعدوي لاحد ه — لغريب شير محمد ه

هم پر وارو رسولانو — ده نبي پر سرورانو

كيهٔ ال كيهٔ اصحاب دي — اهل بيت كيه احباب دي

پس لحمد لصلوته — راشه غوز باسه وساته

اول زده كره ده ايمان دي — چه لازم پر مسلمان دي

اعتقاد چه په غلط وي — كوم پيه سود ده عبادت وي

كه زرساله طاعت كه — بي بنياده عمارت كه

اخر خان به دي رسوا كه — پر هوا چه څوك بنا كه

بيا پسي مي شريعت دي — چه د پاك رسول ملت دي

پسي زهد رياضت كره — ته روش ده طريقت كره

حقيقي پياله بنوش كري — كه و داتر تيب ته كوش كري

ته به وير تشي تر خدايه — كه پو هيزي دل ارايه

شريعت عظيم درياب دي — طريقت لكه غراب دي

حقیقت دُرّ نایابه — کیه کا زې لدریابه
اوّل ورشه تر دریابه — بیا کښتي گوره مهتابه
دُربه وکا زه پخپله — که طلب کړې ځما دله
دُربه نه مومي هیڅکله — بې دریابه امې عاقله
کهړ څو یه طلب کارئي — شب گیري کوې بیدارئي
که کښتي نکړې سامانه — سُود یه نشته بې ارمانه
دُربه نه راوړي هیڅ گلّه — ده دریاب لقعره گلّه
دا څلور رکنه د لبره — ده کتاب شه مقرره

عقائد بل شریعت دی — طریقت بل حقیقت دی

بیا پنځم رکن اې وروره — ده تجوید دې تیه گوره

چه اسرار العارفین دی — ده سالک حبل المتین دی

په پښتو ټبه بیان کړم — چه پرې پوه اهل ایمان کړم
له اباته له حدیثه — بل گمان مکړه انیسه
کو نرې ما هم چرې یاد که — په عامي خاطر ښاد که
زه دې دوې په باب دعا کړم — لزېږ پر ولسو دا کړم

رته روی ده محمد دی ‎ — ‎ داسؤال ده شیر محمد دي

که ګناه یه ناپایاب وي ‎ — ‎ چیه شغل ده کتاب وي

وار په وړ غوره له اوره ‎ — ‎ پخپل فضل کرم کوره

په فردوس کښې یې مکان کړه ‎ — ‎ خپل دیدار ورته عیان کړه

قصه اعتقادیات

الرکن الاول في الاعتقادیات

ده رسول ده خولې حدیث دی ‎ — ‎ ده جوهر په ود نفیس دي

تار پتار به ستما امت شي ‎ — ‎ ده هر چا به خپل ملت شي

دوي یه بری اویا فرقې ‎ — ‎ ده هر چا به خپل سبق وي

نور به واړه دوزخیان وي ‎ — ‎ چه به خوار وزار حیران وي

هم هغه به جنتي وي ‎ — ‎ چه سنت جماعتي وي

قصه فرق

في الحديث ستفرق امتي ثلث وسبعين فرقة كلهم في النار الا الفرقة الناجية

ده هغه دواویا نکاره ‎ — ‎ چه دوزخ ته ځي یکباره

عقیده ده دوي خرابه ‎ — ‎ مخالفه له کتابه

دا یوه فرقه مؤمنه چه جنت لره به ځینه
برابر یه اعتقاد دوي نه باطل وي نه کساد دوي
کره نخښه ده دوي دا دي پکتاب کښې هویدا دي
چه یاران به دوست کښېنه همکي واړه مؤمنه
بهتري به وائي کوره ابوبکر لره وروره
بیا عمر دي بیا عثمان دي وروسي علی تابان دي
بل تعظیم به کاندي دویه ده دیو دوو قبلو خوشخویه
بیت المقدس بل بیت الله دي چه لوی کړیه پاک الله دي
بل به مسح کاندي ګله پر ماسي باندي لد له
بل ګواهي نه لي تحقیقه پر هیچا باندي صدیقه
چه دوزخ ده دوي وطن دي یا جنت ده دوي مسکن دي
مګر عشر مبشره دي چه پعدد په شماره دي
بل که مړي وي بدخویه جنازه یه کاندي دویه
هم امام که دیر بدکار وي پسي مونځ کاندي تیار وي
هم پادشاه وته دوي رام وي که عادل وي که ظالم وي

في الحديث

فی الحدیث صلوا خلف کل بر و فاجر و اطیعوا
لکل بر و فاجر و صلوا علی کل بر و فاجر

انس جن چه خدای پیدا کړه | هم گویا هم په شنوا کړه
کل حکمت په معرفت دي | بنده گي په عبادت دي

فی الایة وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون
وفی الحدیث القدسی کنت کنزا مخفیا فخلقت
الخلق لاعرف

چه هلک بالیونی وي | لجنجاله په خلاصي وي
چه عاقل بالغ عالم شي | نور ایمان پرده لازم شي
دا دوه شرطیه مؤمنه | ده ایمان ده وجوب سینه

فی الایة فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون
وفی الحدیث العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة

بیان علم

مراد لعلم معرفت دي | نه منطق نه حکمت دي
نه هیئت نه فلسفي دي | نه عروض نه قوافي دي

در سوره ذاریات در رکوع سیوم

در سیپاره ۱۴ در رکوع یازدهم

علم حال لاز مړ تا دے — باقي سعيه دي خطا دے

في الاية يتعلمون ما يضرهم ولا ينفعهم ١٢

هر انسان چه دي عاقل وے — پخپل عقل کښ کامل وي
معرفت ورله بويه — پخپل عقل اي خوش خويه
چه نظر که لور پر لوري — مصنوعات د رب وګوري
په يقين به وپوهيږي — چه دا کار به خود نه کيږي
کوم کالي دي بي استاده — که پوهيږي نيک نهاده
خوخوك شته چه دا کوينه — پر هر څيز قدرت لرينه
دي به خلاص وي لنقصانه — هم لعيبه هم لنز يانه

في الاية ويتفكرون في خلق السموات ١٢

لشريکه به رها وے — دغه کار بيه تنها وے
که شريك د ده پيدا شي — اختلاف به ده دوي را شي
چه دا يو ده شي ايجاد که — هغه بل عدم بنياد که
نور تر ميان به عداوت شي — بيا معطله به خلقت شي
دا موجود به هم برباد شي — ده عالم به ورك بنياد شي

درسيپاره چهارم
درسورة آل عمران
در رکوع چهارم

در سورة انبیاء
در سیپارۀ هفد
هم در رکوع سیوم

فی الایة ولو كان فيهما آلهة الا الله لفسدتا ١٢

که یو بل ته عجز رکاندي	خدائي نشائي پري باندي
که پدواړه چار کوینه	یو قدرت پري نلرینه
دوي بدواړه عاجزان وي	دا خدائي سه څه شان وي
معرفت چه دا قدر دي	پري یو هان مسلم کافر دي
معرفت پرده لازم دي	چه په عقل کښ سالم دي

در سیپارۀ بست
یکم در سورة
لقمان در رکوع
دیم

فی الایة ولئن سألتهم من خلق السموات والارض
ليقولن الله ايضا فيه والذين جاهدوا فينا لنهدينهم
سبلنا ١٢

بعض دا وائي د لبره	رب دي تا که بهروره
معرفت پرده همه مه	واجب ندي ته دئ مه
چه خبر شریعت شي	په نبي و په ملت شي
که کنار د چا مکان وي	لعالمه دي نهان وي
په اسلام نوي غوزیده لي	نام یه نوي اروېده لي
دي حساب دي لچار پایه	چه معذور دي دل آرایه

کدي مرشي کافر نه دي | په اسلام کښ خاسر نه دي

في الاية وما كنا معذبين حتى نبعث رسولا ١٢

بيان معرفت

ماسوي له معرفته | نور احكام له شريعته
كه حرام وي كه حلال وي | كه ثواب وي كه وبال وي
كل معلوم په شريعته | كه پوهيږي نيك خصلته
پكښ عقل كور وكر دي | چه گمان كوي ابتر دي
حسن قبح هم شرعي دي | هسي نه چه دوي عقلي دي
كه په شرع واي حلال له | د شراب خوردن اي لاله
مونږ به نو ويل چه بد دي | كيه بد بولي دارد دي
كه په شرع واي حرامه | د نماځه كړه دل ارامه
مونږ به نه ويل چه ښه دي | كيه ښه بولي ښه نه دي
د عاقل ته يو اشارت بس دي | د ير ويل كار د ناكس دي
كڅوك تا پوښتي جانانه | لا اسلامه لا ايمانه
جدا ندي يو له بله | كه پوهيږي اي عاقله

در سیپارهٔ پانزدهم در سورهٔ سبحان الذی اسری رکوع دوم

الایمان والاسلام

حقیقت یه نمایان دي | چه پدا باوراذعان دي
چه رسول لخدا راوړي | هغه واړه ما منلي
امر و نهي څه او روره | هم وعید و وعد گوره
که قصص وي که امثاله | په فرمان لذوالجلاله
که تسبیح که له اذکاره | هم ناسخ منسوخ دي یاره
بیا دوه رکنه د ایمان دي | چه لازم پر مسلمان دي
یو اقرار دي بل تصدیق دي | پا خلاص په تحقیق دي
که پټ به مدام سر وي | چه پرزړه کښ بې باور وي
مسلم ندي منافق دي | د عذاب عتاب لایق دي

فی الآیة ان المنافقین فی الدرك الاسفل

که پرزړه اعتبار وکه | پس ان چه اقرار نکه
پرغه قول چه مشهور وي | له اسلامه څخه دور وي
د ده قتل بکتاب دي | روایت چه پدا باب دي

فی الحدیث امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا

لا اله الا الله

صن الثانی

څني وائي مسلمان دي | که ښکاره ندي پنهان دي

في الاية الا من اكره وقلبه مطمئن بالايمان ١٢

بيان ايمان

شروط ايمان

ده ايمان دي څو شرطونه | وا ره زده کړه اي ميمونه
يو ايمان راوړه پغيب | چه نه شك وي نه دي ريب
خداي هيڅاندي ليده لي | نه پسترګو چا کتلي
ملائك دي که نبيان دي | دوزخونه که جنان دي
که صراط دي که ميزان دي | کل پغيب څموز ايمان دي
بل ايمان پخپل اختيار دي | نه پجبر اضطرار دي
چه څوك زور ور باندي کړه | چه اقرار سري پخوله که
چه يقين باور يه نوي | ده لسان ثمر يه نوي
بل هم فرق بويه اي لاله | ده حرام وله حلاله
چه حرام حلال ګڼينه | يا حلال حرام شميرينه
لاسلامه يه واته دي | دا بکفر کښ واته دي
بل هم خوف وير ه لخدايه | کپو هيڅ بري دل ارايه

هم امید دي لرحمته | کهر څوئ بد خصلته
خوف رجاء ده ایمان څنګ دي | بي لدواړو یه بد رنګ دي
هیڅ مرغه بي پر و باله | پرواز نکه څما لاله
بل ایمان دي پدوه رنګه | سینه پاکه کړه لن نګه
یو مجمل بل مفصّل دي | تر اوّل ثاني افضل دي
اجمالي ایمان ایمان دي | چه سړي پري مُسلمان دي
اجمالي ودا ته وائې | چه جدا یه نه وائې
پتوحید ده رب کویاوي | کلیمه وائي شنواوي

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

بل معبود باطل مطلق دي | بي یوه خدایه چه حق دي
محمد ده ده رسول دي | پر څښتانو مي قبول دي
هر فرمان چه ده راوړي | په اخلاص مي قبول کړي
که حدیث دي که قرآن دي | کیه حال دي کیه شان دي

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ کَمَا هُوَ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِیْعَ اَحْکَامِهٖ

ما پخداي دي باور کړي | په اخلاص مي دي منلي

چه لايق ده رب ده شان دے — په غه شان مي ايمان دي
هم نمونه چه ده حق دے — همكي واړه برحق دے
هم صفات ده ذو الجلال دي — همه واړه با كمال دے
هر فرمان چه وي لخدايه — ما منلي دي خود رايه
مفصّل بد غه وينه — چه جدايه وشميرينه
پاك الله دي ما منلي — په تصديق مي باور كړي
چه يه ذات لمو نيهان دي — دي خالق ده كل جهان دي
شريك نلري پذات كښ — نيه مثل په صفات كښ
نيه ضد شته نيه ند شته — چه بل څوك يه معاند شته
ده ده ژوندي بي لساهه — بي لروحه اي دے لخواهه
بي غوږ ويه اوريده دي — بي چشمانو يه ليده دي
نيه شكل نه صورت شته — نيه خواب نه غفلت شته
ندي جسم نه جوهر دے — نه عرض نه مصوّر دے
نه معدود دي نه محدود دے — نه معدوم دي نه مفقود دے
نه بالا دي نه پائين دي — نه يسار دي نه يمين دي

نیه اب شته نیه خور شته | نه لباس نیه بر شته
بی ځایه بی مکان دی | بی لوقته بی زمان دی
نه خفه دی نه خندان دی | نه هیڅوک د ده خپلوان دی
نه خروج که نه دخول که | نه پکښې په حلول که
نه تغیر که نه بدلیږی | نه ځاسره یو کیږی
هر چه عقل و ورسیږی | هیڅ صفت پری نه لږیږی
څه عیب که نقصان دی | منزه ځینې سبحان دی
حقیقت یې معلوم نه دی | د افهام و مفهوم نه دی
که ملك که جن بشر دی | ځیر ته کور کر دی
ستا په فکر کښې سود نشته | بی عجزه بهبود نشته

فی الحدیث تفکروا فی الصفات ولا تفکروا فی

الذات

هم باوری کړی کوره | په نمونه د الله وروره
کل نمونه ده رب یر دی | د حساب لحد تیر دی
په قران کښې چه راغلی | پحدیث کښې په شپیلی

واړه نه نيوي دي لا له　　رب دي تا نکه ملا له

في الحديث ان الله تعالى تسعة وتسعين اسماء من احصاها دخل الجنة: بيان اسماء الله ١٢

چه وشميري په ژبه　　هم باور وکړه طالبه

پاك الله به جنت ورکه　　پحديث لځوك باور که

چه نمونه ده سبحان دي　　تير تر عقل تر گمان دي

چه شارع گفتار په کړي　　پهغه نامه نومړي

دا روا اندي مؤمنه　　چه به نوي نام پر يږدينه

کمعني يه جدا نه وي　　هم اطلاق يه روانه وي

يو مثال به در ته وايم　　چه وتا وتي ونمايم

که عالم وائي روا دي　　کعاقل وائي نا روا دي

کشافي وائي ثواب دي　　که طبيب وائي عذاب دي

لا هو ولا غيره

٢ هم نمونه ده ير دي جا نه　　که لذات شي يکسانه

دا ذاتونه بهم پر شي　　ستايخونه به اندهير شي

ښکاره شرک دي دل ارامه | تبه ووزي له اسلامه
لکه عین ذات چه ندي | دوي جدا څبله هم ندي
که جدا کړي یو لبله | ستا ایمان بشي باطله
چه توحید ده الله وائي | پوحدت سره یه ستائي
ده نامه وحدت به راشي | ذات به پاته معرا شي
دا ایمان ندي اي وروره | په تمهید کښ یه وګوره

قديمة ليست عين الاخر ولا غيره

هم همه واړه قدیم دي | چه لذات سره هیم دي
یو وبل ندي یکسانه | بمعني کښ اي انسانه
هر نامه لري معني دي | چه لبله دا جدا دي
چه رحمان هغه رحیم دي | چه قهار هغه کریم دي
همکي پردا قیاس کړه | لري وهم او وسواس کړه

ذاتي وفعلي وصفاتي

اسم ذات

بیا اسما دي پدري رنګه | کیو هیږي اي خوش رنګه
یو فعلي دي بل ذاتي دي | بل دریم یه صفاتي دي

اسم ذات هغه دي لاله — رب دي تا نگه ملا له
چه پر ذات یه دلالت وي — نه هنر نیه خصلت وي
که لذات جدا نه وي — هم په لفظ ادا نه وي
لکه نام چه د الله دی — پر دغه وینا گواه دی
که دي دال وجه له صفاتي — چه لازم لپاکه ذاتي
جدائي یه وه لامحاله — صفاتي یه بولي لاله
چه قادر مرید حکیم دي — یا سمیع بصیر علیم دي
بل هم حي بل قدیر دي — متکلم ورسره هیم دي
دغه نور اسما د لبره — هم فعلي گڼره یک سره
چه دوال پر دا صفت دي — پر هغه خوي خصلت دي
تل لذاته لازم نه دي — دي باقي ودائم نه وي
چه نقیض یه هویدا دي — کاهي هغه کاه دا دي
لکه غفار یا قهار دي — یا جبار یا ستار دي
یا باسط یا رزاق دي — یا ممیت یا خلاق دي

وبصفاته کذلك ١٢

اسم صفت

اسم فعل

بیان صفات الله

بیان صفات الله

هم مولی لره صفات دي | قدیم واره لکه ذات دي
ماسوی لذات صفاته | نو پیدا دي وائم تا ته
کیه فرد که طبیعت دي | کیه ذات کیه صفت دي
که زمین وي که اسمان وي | جنتونه که نیران وي
لنیستي دي رب جوړ کړي | پقدرت یه دي هست کړي
یعربي وائي صفت دي | په پښتو وائي خصلت دي
بیا صفات دي په دوه رنګه | کاورلري خوش رنګه
یو ذاتي دي بل فعلي دي | همه واره کمالي دي
چه نقیض ي ده دوه نقصان وي | همه واره نمایان وي
دي لازم ده ذو الجلال | جدایي ده ده محال دي
دا ذاتي بوله دلبره | رب دي تاکه لهره وده
اول علم بل حکمت دي | بل حیوة دي بل قدرت دي
اراده ده له کلامه | بل سمع ده دل ارامه
بل قدم دي له بصره | اي ځما نور البصره

چه کلام سمع بصر دي ضد یه گنګ و کوڼ کړ دي
ده قدم نقیض حدوث دي لوار ه و رب قدوس دي
ده حکمت نقیض عبث دي پاك الله تري مقدس دي
اراده ده نیك نهاده چه یه جبر لاء ضدا ده
والله ته نسبائیږي چه پري زور جبر کیږي
چه نقیض ده ده کمال وي نه نقصان نه وبال وي
فعل دا بوله ځما دله رب دي تانکه غافله
لکه خلق یا احیا شوه یا عزت یا په عطا شوه
یا قهر یا ذلت دے یا په نفع یا رحمت دے
باقي قول پر د اقیاس کړه مه شبهه و مه وسواس کړه
چه نقیض په وبال ندي والله ته محال ندي
یا صفات ده رب چه دینه عین ذات ندي مؤمنه
چه مفهوم ده دوي جدا دے یو له بله هویدا دے
نه بیلتون ده دوئي کیږي چه لذاته جدا کیږي
هم صفات ده رب جانانه همګي ندي یك سانه

چه اثر ده دوي جدا دي | ده وحدت گمان خطا دي
اثر ده علم دانائي ده | ده بصر یه بنائي ده
ده حیات اثر زیستن دي | ده سماع یه شنیدن دي
نه بیلتون ده دوي کېږي | چه بي بله پیدا کېږي

بیان الملك وملائکته

هم الله لره ملك دي | ده زمین که ده فلك دي
دي مشغول لعبادته | مبرا له معصیته
بېخپل شکل ځما ده له | دوي لیده لشي هیڅکله
چه صورت ده دوي لطیف دي | لکه باد هوا لطیف دي
که وچا ته ښکار کېږي | پکشف صورت بدلېږي
نیه خواب نیه خورښته | نه لباس نیه برښته
نیه نر ښځي شته کوره | بملك وکښل اي ورور
ده هرچا دي خدمتونه | چیه که بي منتونه
داچلوریه مقرب دي | بخدمت کښ روز وشب دي
جبرائیل میکائیل دي | عزرائیل اسرافیل دي

چه ده وحي کاروبار دي | ده جبرئیل په انتظار دي

ده میکائیل خدمت باران دي | چه اوریځ یې په فرمان دي

ده ارواح قبض د له | عزرائیل کوي پخپله

بیا څه نور چه یې اعوان دي | چه همه لاندې تر فرمان دي

چه پر باد باندې حکمت دي | ده اسرافیل دغه خدمت دي

هم ده صور شپیلۍ به د له | اسرافیل فوکه دوځله

بیا بهتر ده دوی جبریل ده | چه د پاک رسول خلیل ده

مقرب بیا کذ رکړه | حمله ده عرش بهتر کړه

ده افلاک ملک اي وروره | همه وار به بهتر کوره

تر ملک وچه پائین دي | ده هوا که ده زمین دي

وکتبه ۱۲ بیان کتب

بل کتب هم تول منمه | او عدد یې نه شمېر مه

یا به زیات یا به کم شي | څه دین به پرې برهم شي

هغه څو چه شمیر ینه | سل څلور په ولړ به نه

داتوریت چه پر موسی دي | بل انجیل چه پر عیسی دي

هم زبور چه پر داود دي — بل فرقان چه پر محمود دي
سل صحيفي په ځما جانه — نازل شوي له رحمانه
لس د آدم پنځوس د شيث دي — ديرش نازلي پر ادريس دي
پر خليل له ذو الجلاله — لس نازلي ځما لاله
دغه قول تحقيق ندي — چه ايات په رفيق ندي

في الآية منهم من قصصنا عليك ومنهم من لم نقصص

قول كلام د پاك رحيم دي — دي مخلوق ندي قديم دي
نه عربي نه سرياني دي — نه پارسي نه يوناني دي
هيڅ لغت پري بخوريږي — تعبير جري څيني كيږي
نه كلمه ده نه ايت دي — نه سپاره ده نه سورت دي
نه متصل نه منفصل دي — نه دي جزدي ندي كل دي
جبرائيل چه نزول كه — په لسان په د رسول كه
متصف شي په لغات — په همه وار وصفات
سفاره وو هم ايت شي — بدايت په نهايت شي
چه موږ پښ بو وايو — په غوږ و سره شنوايو

یا یه کښو یې کاغذو نه | یا یه اخلو یې لاسو نه
قدیم ندي نو پیدا دي | و دانا ته هویدا دي
دلالت پر هغه کړینه | چه قدیم دي ای مومنه
چه صفت د ذوالجلال دي | لحدوثه یه مجال دي
دال حادث مدلول قدیم دي | چه صفت د پاک رحیم دي
د کتب بهتر لا له | په قران اوسه خوشحاله
چه یه لولي پنازیږي | لکه ګل هسي غوړیږي
چه نازل پر بهترین دي | بهتري یه خود تعین دي

ورسله ١٢ بیان رسل

رسولان واړه برحق دي | چه انکار کوي احمق دي

في الاية لا نفرق بين احد من رسله ١٢

زه همه واړه منمه | او عدد یه نه شمیرمه
کوندي کړ وي یا به زیات وي | لدا حال دي نجات وي
یا سل شل زره نبیان دي | پکتب کښ بیان دي
هم څلور زره بالا دي | پکتاب کښ هویدا دي

عدد انبیاء

اولوالعزم

رب عالم دي لدا حاله … زه بخه وايم اي لا له
بيا رسل چه دي لدويه … تير سو د يار لس دي خوشخويه
پكښ شپږ دي اولوالعظم … كښېږ عد يه كوي جزم
چه ادم صفيّ الله دي … دوم نوح نبيّ الله دي
ابراهيم خليل الله دي … بل موسي كليم الله دي
بيل عيسي روح الله دي … بل محمد رسول الله دي
چه ده دويه عزيمت وه … ده خپل نفس يه پهزيمت وه
ده رخصت لكاروباره … دوي تيرشوي وه يكاره
چه ده بل په پيروي دے … قديم دين پده قوي دے
ورتحي وحيه له الله … دا نبي بولي دلخو اهه
كيه راوړي نوي دين ق … له الله چه متين وے
هم كتاب پرنازل وينه … دا رسول گڼه مؤمينه
هر رسول نبي بال شے … كباور دي ځما بخوله شے
نبي نوي رسول لا له … كاهي كاهي مشي ملاله
نبيان وارهاي يارا نو … بهترين دي لوليانو

در سیپارهٔ سیوم در سورهٔ آل عمران در رکوع چهارم

غوث قطب که ابدال وي　　رعیت کله د شاه سیال وي

في الآية إنّ الله اصطفى آدم ونوحًا وآل إبراهيم
وآل عمران على العالمين

ښځه نشته پیغمبره　　که باور کوي دلبره
آسیه ده که ساره ده　　مریمه که هاجره ده

در سیپارهٔ چهارم در سورهٔ نحل در رکوع ششم

في الآية وما أرسلنا من قبلك إلا رجالًا نوحي إليهم

هم بهتر دي له ملکه　　بي شبهې وو بې لشکه
که علوي دي که سفلي دي　　که د عرش که د کرسي دي
جبرائیل که میکائیل دي　　اسرافیل که عزرائیل دي
هم دوی پاك دي لګناهه　　لعبثه لتباهه
لصغیره لکبیره　　نبیّان پاك ګنړه امیره
پس لوحي که سابق دي　　لعصیانه دوی فائق دي
که صادر ځيني ذلّت شي　　دم پدم یه مغفرت شي
چه بقصد یه اختیار نوي　　پذلت یه بزګار نوي
نبوّت یه برقرار وي　　هغه دوي هغه چار وي

هم نبي چه دي وفات وي	نبوّت ده ده ثبات وي
دي په قبر کښې زنده وي	نه غافل وي نه مړده وي
په هفته کښې هم يو ځله	ده هر چا عمل اي دله
پر نبي باندي عرض کيږي	دي خوشحاله يا فحسيږي
ولي پاك نوي جانانه	لکنا همه لعصيانه
په صغير گناه يه ياره	ولايت نځي يکباره
چه وفسق ته مائل شي	ولايت ده ده زايل شي
چه افضل ده درست جهان دي	محمد آخر زمان دي
ده ده نور چه هويدا شه	کل عالم ځکه پيدا شه

فِي الحَدِيثِ أَنَا مِنْ نُورِ اللهِ وَالْخَلْقُ مِنْ نُورِي ۱۲

کل پيدا ده ده له رويه	کبا ورکوي خوشخويه

فِي الحَدِيثِ القُدْسِي لَوْلَاكَ لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الأَفْلَاكَ أَيْضًا لَوْلَاكَ لَمَا أَظْهَرْتُ الرُّبُوبِيَّةَ

که عرش که کرسي دي	که جني دي که انسي دي
که لوح که قلم دي	کبا لا پائين عالم دي

افضل المخلو...

فيه لولاك لما ... الربوبية

چه آدم لا ابُ کل وه	نبوّت ده ده کامل وه
بصورت که آخرین دی	بمعنی کښې اوّلین دی

فی الحدیث کنتُ نبیًّا وآدمُ بین الماءِ والطین ۱۲

هر نبي مه یه نام لیږه لي	پرنګین ده خاتم کښلي
چه به چري شه درمانه	لتدبیره بې سامانه
والله ته بې رویدا رکړه	کشایش بیه ده کار کړه
چه یه راست وي یه سنت کښې	هغه تل وي په فرحت کښې
هرګز نه نښلي پر زمکه	سایه نوه ده ده څکه
هم محبوب ده پاک احد وي	چه پیرویها ده محمد وي
شرافت ده رسول ګوره	پکښې فهم کوه وروره

فی الآیة إن کنتم تحبّون الله فاتّبعوني یحببکم الله ۱۲

محمد لري دوه میمه	کته فهم کړي فهیمه
بل هم ح دي بل هم دال دي	څه مدلول او څه یه دال دي
دوه میمان یه چشم سار دي	چه دوه کونه تري اظهار دي
ته خلقه دا دوه میمان کړه	یه غوزویه آویزان کړه

ده رسول حلقه بګوش شه — په مینه کښې مدهوش شه
دا دولتِ سرمدي دی — ازلي ابدي دي
دواړه کونه بدِ تا شي — مرتبه بدي بالا شي
رب ربي ده محمد دي — هم دي الله الصمد دي
شیر محمد حلقه بګوش کړه — دا دولت یه هم اغوش کړه
کوندي پسي د هغه در شي — په نظر یه بهره ور شي
همه اولاد و آله — اي قادره بر کماله
بیا پسي چه بهترین دي — اولوا العظم مرسلین ي
بخوبي کښې زیاده دویه — توفیق بو یه اي خوشخویه
بیا پسي نبیان دي لاله — رب دي تانکه ملا له

وباليوم الاخر بيان اخرت

هم قیامت بشي اي لاله — په فرمان لذوالجلاله

في الاية ان الساعة اتية لا ريب فيها

چه نفس تر سري تیر شي — خپل روزګار یه په بل پیر شي
دا ده هر سړي قیامت دي — لحدیثه روایت دي

فِی الحَدِیثِ اِذَا مِتَّ فَقَد قَامَت القِیَامَةُ ١٢

بل قیامت چه پر عالم وي   عالم وار ه به برهم وي
چه صور کښی دمیده شي   هر ذي روح به مرده شي
که ملک وي که انسان وي   که وحوش وي که پریان وي

فِی الاٰیَةِ وَنُفِخَ فِی الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِی السَّمٰوٰتِ وَالاَرضِ

خو ژوندي خاصه رب وي   یا څلور به مقرب وي
بیا به امر پر عزرائیل شي   چه فرمان د رب جلیل شي
لجبریله لمیکاله   روح به اخلي څما لا له
هم بروح له اسرافیله   عزرائیل واخلي به بی دلیله
بیا د مت امر پري وشي   چه فرمان د الله وشي
ماسوي بشي کل فوت   کل نفسٍ ذائقة الموت
بل بزمکه خمیده شي   در څوید و دمید شي

فِی الاٰیَةِ وَاِذَا رُجَّتِ الاَرضُ رَجًّا ١٢

بل به غرونه تار پتار شي   چه روان قطار قطار شي
لکه گرد هسي به شینه   تل پښو رکښ اي مؤمنه

در سیپارهٔ بست
و چهارم سورهٔ زمر
در رکوع ششم

ده سیراب بڅیر به وړوړه	لطافت وي ده دوي ګوره

فی الآیة وسیرت الجبال فکانت سرابا ۱۲

څو تیر یږي څلویښت کاله	باران ووري مالا مال له
ده مني بڅیر باران وي	عجب طور عجب شان وي
ده پسرلي په ود به زیږي	مرده کان چه بشکاره کیږي

فی الحدیث ینزل الله امطارا متوالیة کمنی الرجال فینبتون من الارض کما ینبت البقلة

چه څلویښت کاله پوره که	اسرافیل به بیا زنده که
دي بصور و دمه وسیه	چه به مړه ژوندي کوینه

فی الآیة یلقی الروح من امره علی ما یشاء ۱۲

دغه صور به لکه نور وي	ده ګبین بڅیر به پوره وي
په وروخانو دلبره	ربدي تاکه بهره وره
چه هر روح لره مکان وي	پولبله دوي پنهان وي
کعذاب کیه راحت وي	بڅپل کور کښي بي صحبت وي

فی الحدیث الصور قرن من نور التقمه اسرافیل انه

ذو ثقب لکل انسان ثقبة فيه روحه ۱۲

اسرافيل چه پکښ فو که	کل ارواح بدني لاهو که
خپل بدن لره به درومي	چه قرار پده کښي مومي
بيا ناګاهه به زنده وي	چه حيران به استاده وي

آيه ثم نفخ فيه اخرى فاذا هم قيام ينظرون ۱۲

بي لميوبي له نوشه	لحيرته وي مدهوشه
خيني هير به کل جهان وي	جهان څه کړي داخپل ځان وي

آيه وترى الناس سكارى وما هم بسكارى ولكن
عذاب الله شديد

پو نسو کاله به دائم وي	چه پر پښو باندي قايم وي
ده نيزې پقدر وروره	نمر نژدي که رب دي زغوره
هم ده نمر اتلس رويه	وزمکي تشي يکسويه
عاصيان به پکباب وي	نيولو کښ به غرقاب وي
او نيکان به پامان وي	پر سايه ده عرش تابان وي
نغه روځ هم ديره لوده	نه پمياشتي په کال وده

الف

په زور گونه یه شماره ده | په قران کښ چه ښکاره ده

آیه فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ سَنَةً مِمَّا تَعُدُّونَ

که ځوانان وي که واړه وي | له حیرته به زاړه وي

یا د اعمر چه تیریږي | هلك هم پکښ زړیږي

يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا السَّمَاءُ

بدعمل په بد صورت وي | ډیر یه خوف هراست وي

وي بدبوي لکه مرداره | پر عاصي به سپوره وي یاره

آیه وَيَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلَى ظُهُورِهِمْ

أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ

هم زنځیر به نمایان وي | نه غوث نه نفیر وي

درمانده حیران به گوري | لعنتونه به پري ووري

بل اوریځ به ډیره لویه | تر عرش لاندي وي خوشحق

پر اسمان بشي نازله | پري به مات شي څمادله

یو پر بله چه لگیږي | آسمانونه به نړیږي

بیا به خود بخود تباه شي | چه فرمان ده پاك الله شي

آيه يوم تشقق السماء بالغمام ۱۲ كاتبه رسول

بيا ملك به بي حيده كه	اسمانونه به چنده كه
د كاغذ لطور شانه	څه قدرت دي نمايانه

اية يوم نطوي السماء كطي السجل للكتب ۱۲

اوه صفه به ملك شي	چه جدا ده هر فلك شي
استاده بوي حيران دوي	وفرمان ته نگران دوي

آيه والملك صفا صفا

بيا اوريځ به راپيدا شي	پاك الله به هويدا شي
نيه ځاي نيه مكان وي	پاك الله به نمايان وي

في الآية الا ان ياتيهم في ظلل من الغمام ۱۲

بيان صور

صورتونه به بدليږي	ده باطن بڅير چه كيږي
چه عالم به حقاني شي	صورتونه روحاني شي
چه باطن يه ده آدم شي	صورت هم ورسره سم شي
چه باطن دي پاكسا دوي	بصورت كښ يه فساد وي

در سورهٔ ...
در سورهٔ انبياء

حرام دي چا خوراك وي ... يا لباس يا يه پوشاك وي
ده خنزير په صورت پاڅي ... ده حسرت او بني به څلي
كه چوغل وي يا غيبت كه ... ده بيزو به صورت كه
چه ريا كه يا سود ونه ... ده دوي كښاته وي سر ونه
كه په حكم كښ ميلان كه ... هغه گوري وه چشمان كه
كه پادشاه وي كه امير وي ... كه قاضي وي كه سفير وي
چه كبر بد هنر وي ... هغه گنك كوركر وي
خوك بخيلي ژب ژوئي ... چه په خوله كښ به ورژوئي
خوك به پاس سيلي سپور وي ... دا سيلي به ده او وي
مقرب چه ده حاكم وي ... دي جابر او ظالم وي

في الآية يوم ينفخ في الصور فتأتون افواجا ١٢
وفي الحديث طويل يحشر عشر اصناف من امتي
بعضهم على صورة الخنازير وبعضهم على
صورة القرد وبعضهم منكوس تعجب على
وجوههم الى آخره ١٢٥

تعجب

رب روي ده پاک نبي دے | شير محمد يو خوار عاصي دے
خيل صورت يه بدل مکړي | لعصيانو يه مل مکړي

والکفر والمعاصي بمشيت الله تعالى وارادته علمه
کالايمان والطاعات لا برضاه

هر بنده چه دي کافر شي | پر گناه دي لاور شي
مقدر وي له ازله | غلط مه دره مه اهوله
اراده پر د سبحان وي | هم په علم پاشان وي
هم توفيق له کردگاره | چه خذلان دي اي نگاره

في الاية وما تشاؤن الا ان يشاء الله وفي
الحديث جف القلم

که لکفر روي گردان شي | وايمان ته گريزان شي
بيا يه دا توفيق عيان که | مشرف يه په ايمان که
هر اختيار چه د بنده وي | بيا هغه توفيق لده وي
که دي خير که دي شر که | چه اسباب يه برابر که
خو پيشير يه يار رضا ده | چه هر کوره ناسزا دي

په اسلام ده ده راضي دي ‌ ‌ ‌ کهرځو يه بي نيازي دي
ځکه سود دي که نقصان دي ‌ ‌ ‌ همه واړه ده انسان دي
که بنده وايي جانانه ‌ ‌ ‌ چه پټ راز که لسبحانه
که ګناه که معصيت دي ‌ ‌ ‌ واړه ستا مشيت دي
ځکه خير ځکه شر دي ‌ ‌ ‌ واړه ستا قضا قدر دي
څو زه کوم قدرت اختيار دي ‌ ‌ ‌ چه اختيار مړ لا اختيار دي
موږ ولي ګنا بيزو و ‌ ‌ ‌ پګناه به عذابيز و و
رب به داوايي همدمه ‌ ‌ ‌ پعاصي زه پوهيدمه
ځالق ده خيل کړ دار شي ‌ ‌ ‌ چه روزګار ده ده ګان شي
ده ور کړي اختيار څه کړ ‌ ‌ ‌ چه طاعت يې صرف نکړ
دا جواب چه شنيده شي ‌ ‌ ‌ عاصيان به شرمنده شي

والمعراج حق بيان معراج

ده معراج په شپه جانانه ‌ ‌ ‌ رسول تير شه له آسمانه
چه سپور شوي پر براق وه ‌ ‌ ‌ په آسمان کښي يه اطاق وه
دي په دو کونو بصر وه ‌ ‌ ‌ څکه تين لکه نظر وه

معراج

در سیپاره پانزدهم
در سورهٔ سبحان الذی

چه روان شه دي لفرشه	پلحظه تیرشه لعرشه

في الآية سبحان الذي أسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام وفي الحديث أنا في المسجد الحرام عند البيت بين النائم واليقظان إذ أتاني جبرائيل بالبراق وهو دابة أبيض فوق الحمار ودون البغل يضع حافره عند منتهى فركبته الحديث

طرفه

ترافدا کویه گذر شه	ومولي تیه نظر شه
پصورت ده وصال وه	نچه خواب وه یا پخیال وه
هسي نځه ځاي مکان وه	خو په راز ده رب پوهان وه
قاب قوسین یه مکان شه	چه الله پري مهربان شه

آية دنى فتدلى فكان قاب قوسين أو أدنى

هغه شپه وه څما لا له	پر رسول اتلس کاله
نه خوراک نیه خواب وه	چه مشغول پسوال جواب وه
قوه یه حب ده ذوالجلال وه	په مقام کښ ده وصال وه
نور عالم ځیني غافل وه	شپه وه روځ پر دویه تل وه

وكرامة الاولياء حق ۱۲

بيان الاولياء

هر ولي چه باكمال وي
پري عطا ده ذوالجلال وي
كرامات يه كلّه كلّه
ښكاره كيږي اي عاقله
لكه پاس چه بهوا ځي
يا په پښو لكه بر سيناځي
آصف څكه راوړ جانه
ده بلقيس تخت عيانه
چه طلب يه سليمان كړ
دم يدم يه نمايان كړ

ايه انا اتينك قبل ان يرتد اليك طرفك ۱۲

ده مؤمن چه ځان كندن وي
جدائي ده روح ذتن وي
ملائك پر واويلا كه
آسمان زمكه هم ژړا كه
علامه ده ژړا وي
چه سرخي يكښ پيدا وي
هم مسجد ده ده جانانه
وي پده پسي گريانه
هر مكان چه ده طاعت وي
ديريه آه فرياد غربت وي

في الحديث المؤمن اذا مات بكت السماء و

الارض اربعين صباحا ۱۲

كرامة الاولياء

والحضرات الكرام الكاتبين
الموضع المقام

خوش بوئي وي لجنته ‏ — للباسه لِزينته

فِي الحَدِيثِ وَسُؤَالِ النَّكِيرِ وَالمُنكَرِ لِلمُؤمِنِين

بيت — كالايُشَدادِ اِذا رمدت عيناه — لاسوال

رب دي خوك دي راته وايه ‏ — همخپل دين راتله وښايه

بل هم خوك دي پيغمبر دي ‏ — خوك امام خوك دي رهبر دي

دي بوائي پجواب كښِ ‏ — په جواب باصواب كښِ

رب مي خداي دي چه احد دي ‏ — هم نبي مي محمّد دي

دين ځما واړه اسلام دي ‏ — ځما امام ده رب كلام دي

يا حاضر به په صورت وي ‏ — چه پښان په ده حضرت وي

بيا به سوال لده كوينه ‏ — چه دا خوك دي اي امينه

آيه يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالقَولِ الثَّابِتِ فِي الحَيٰوةِ الدُّنيا

كه بسوال لكافرانو ‏ — پغضب سره يارانو

آتشين گرزيه پلاس وي ‏ — هم په شكل ؤ هر آس وي

مخ يه تور لتوره شبه ‏ — الامان دي ځما ربه

چه په گرز وستر كو كتل كه ‏ — جور ده زړونو غوڅه ول كه

گنجینه کتب خطی

في الحديث اذا قبر الميت اتاه ملكان اسودان ازرقان يسئلان

لجوابه درمانده وي | نه سود نه فائده وي
چه پرده باندې گذار که | خبیث تن یه تار پتار که
ده ده هومبره چغار وینه | هر حیوان بیه وار وینه
بې پیریه بې آدمه | کبا ور کوې همدمه
جهت دا که شنیده واي | بیاودوي ته رسیده واي
نور ایمان به ضروري وه | نه بغیب اختیاري وه
ده دنیا له کاروباره | به دوي لاس وا خستي کاره
ده هلکو ده نبیانو | پسوال کښې اي یارانو
اختلاف ده روایت دی | رب عالم بحقیقت دي

وكذا سؤاله تعالى يوم القيمة

بيان سوال حق تعالى

هم به پاك الله بخپله | كه سوال لبنده دله
لهمه جرمه گناهه | پناه غواړه له الله

چه عاصي وو مسلمان وي | سوال جواب به پنهان وي
ورنژدي به پاك سبحان شي | بلا كيفه لامكان شي
چه گناه يه معلوم نشي | دي خجل مغموم نشي
چه اقراري به قصور كه | عظيم فضل به ظهور كه
بيا به عفوه دا گناه كه | چه كرم به پاك الله كه

في الحديث ان الله يدني المؤمن فيضع كنفه ويستره
فعلت كذا وكذا فيقول اي رب نعم فيقول غفرت لك ١٢

ده كافر سوال سكاره وي | نب ستر اراده وي
چه جهان په خبره شي | شرمنده به په محشر شي
ملائك به هم غوغا كه | چه به خوار عاصي رسوا كه

اية هؤلاء الذين كفروا الا لعنة الله على الظلمين

وصحايف الاعمال حق ١٢ ~~بيان عمل~~

هر عمل چه ده انسان وي | كه بدي كړي كه احسان وي
په خيري كښې به تحرير وي | كه صغير وي كه كبير وي

اية ونخرج له يوم القيمة كتابا منشورا ١٢

دوه ملک دي مقرر ره | لهر چا سره دلبره
چه نیکي بدي یه کښینه | څو ژروندي وي اي مؤمینه
پقیامت به وربنکاره شي | چه د ه تن حجاب یاره شي
ده نیکبخت څیري به دله | پښي لاس شي ورکوله
هم حساب بیه آسان وي | چه خوشحال او خندان وي

آیة وَاَمَّا مَنْ اُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ فَسَوْفَ يَدْعُوا ثُبُورًا

ده عاصي څیري به جانه | روبروکه نمایانه
له لوستو به مجبور وي | څو ګناه د ده مغفور وي
یا دي خلاص شي لعذابه | چه جزا مومي سیرابه

وَالْحِسَابُ حَقٌّ

بیان حساب

هم حساب به پاک سبحان که | چه بعدل نمایان که
هر نفس چه ده بنده وي | بحساب کښي به توده وي
کیه کازي په غفلت کښي | په ګناه په معصیت کښي
کد دوستر کو نظر وي | چه کاته یه لرو بروي

یا چه شوي به پښو لاس وي — لحسابه کل خلاص وي
خپل صورت به پرده ګواه شي — چه فرمان د پاک الله شي

ایه یوم تشهد علیهم ایدیهم وارجلهم بما کانوا یکسبون

هم ده مال حساب به خیر وي — ګزره وي که قطیر وي
چه راوړي دي لګه وه — بیا خرڅ کړي دي بخه وه
کیه وجه وي حلال له — پکفاف یه خرڅ کړه لا له
دي بخلاص شي لتا وانه — هم لغرمه هم لزیانه
کیه وجه ده حرمت وي — د بر عذاب سیه زحمت وي
کیه خرڅ کیه حصول وي — چه به د واړه په ملول وي
ده حسرت پیاله به شوي — خپل طاعت به لده دوړي
پتاوان کښ ځما لا له — رب دي تا نکه ملال له
چه تمام د ده احسان شي — پري به بار د ده بل عصیان شي
چه یه خپل ګناه تود وي — پقیامت به شرمنده وي
هغه لا په خوار وزار شي — چه د بل ګناه پر بار شي
هم حساب به کیږي د له — لهر چا سره یو ځله

لکه پسه چه جوشیده که	عالم واره خلاصیده که

في الآية إن الله سريع الحساب وفي الحديث يحاسب الناس قدر جلسة الشاة والميزان حق

نیک بد شي په تله	بنده مګر نه یو خله
بد بختان به لړزنده وي	په عمل به شرمنده وي
چه سنګین به عبادت وي	ده هغو ځاي جنت وي
هم سنګین به پر بالا ځي	دا به عکس له دنیا ځي
که بدي یه شي غالبه	ودوزخ ته ځي طالبه
مګر فضل ده الله وي	چه غفران یه ده ګناه وي
یا دي یا للشفاعة	خلاص شي دي لمعصیة

آية فأما من ثقلت موازينه فهو في عيشة راضية وأما من خفت موازينه فأمه هاوية وما أدراك ما هيه

چه میزان یه برابر وي	ده هغو اعراف مقر وي
ده دوزخ جنت تر میان دي	عالي ځاي چه نمایان دي
ده جنت روزګار چه شي نه	دي به وخوري ده زړه وینه

ده حساب له کاره وباره
دا قلم دي له دستاره

ودوزخ ته چه ناظر وي — هر داخپل مکان شاکر وي

میزان کښ چه یه ژدینه — ده عمل صحایف وینه

یانیکي یه نوراني که — بد به جسم ظلماني که

یا عمل به تاله کیږي — ده باري قدرت سیزي

یکښ کوم یو قال قیل که — چه عرض خفیف ثقیل که

والصراط حق ~~بیان صراط~~

هم ملك به دلپذیره — په اویا زره زنځیره

جهنم به راښکاږي — ده عالم زړونه ښکاږي

چه اویا زره ملك وي — چه په هر زنځیر به لك وي

عاصیان بشي پښیمانه — سود یه نوي له ارمانه

فِي الْآيَةِ وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى

بیا به پولي صراط کوره — پاك الله ښکاره که ورورة

دي به پاس پر جهنم وي — چه هیبت یه پر عالم وي

فِي الْآيَةِ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا وَفِي الْحَدِيثِ يُوضَعُ الصِّرَاطُ عَلَى

جهنم یوم اذ

بطن جهنم ۱۲

باریکي به لکه موي ده | لکه تیغ تیزي به خوي ده
ده او بو ټخیر آب دار دي | هم ده پونسو کالو لار دي
چه عمل د سړي ډیر شي | لکه برق هسي به تیر شي
خوك به د ړومي مالا ماله | ده سپاره ټخیر خوشحاله
کیه لږ وي عملونه | دوي په میاشتي پکلونه
پر صراط به ټیر یږیږي | په رفتن به زهیر یږیږي
په خوله کښې به غرقاب وي | لغړمو ټخه بي تاب وي
خوك به کښا ته نسو هیده که | پد ووزخ کښي لکیده که

والحوض حق ~~بیان حوض~~ ۱۲

بل هم حوض ده کوثر دي | چه انعام ده پاك سرور دي

في الاية انا اعطيناك الكوثر ۱۲

تر شید ویه او به سپیني | تر عسلو دوي شیریني
هم تر واورو به سړي وي | هم تر کوچو به پستي وي
ترا بده به سیراب وي | کهر څو تشنه کباب وي

مربعه یه هیئت دي — هم د میاشتي مسرت دي
ګاوه چه ښکاره کیږي — زبرجد دي چه ځلیږي
هم کوزي یه هو مبره دیري — ده آسمان لستوریو تیري
همکي تازه تابانې — دي ده دُرّ نمایانې
یا کوثر ده جنت جوي دي — ښه یه خوند ښه یه بوي دي
حوض خان لره مکان دي — چه مشرب ده مؤمنان دي
یه محشر کښ اي احبابه — رب دي تا که یسیرابه
چه [illegible] ساقي وي — چه لمان بیه دیچاباتي وي

وشفاعةٌ حقٌّ بیان شفاعت ۱۴

ده قیامت یوځي بو روز — عاصیان ګرزي سرتوره
دوي به راشي تر آدمه — چه دي مشر دي همه
چه امید ده شفاعت که — بیا آدم به معذرت که
یجنت کښ ځما مقام وه — چه غنم را نه حرام وه
تناول مي ده دوي وکړ — احتراز مي تري د نه کړ
نو عتاب وشه وما نه — شه لمانه جنت یاته

نجالت مې ده خپل ځان دې	څه مجال ده نور جهان دې
حضرت نوح له روان شي	په زار کښې په نالان شي
حضرت نوح هم جواب که	چه ده دوې خاطر کباب که
خما امت چه خود بيني کړه	دوې هر کوره بې ديني کړه
ما دعا ده دوې په باب کړه	پاک الله چه مستجاب کړه
همه وار په طوفان کړه	دوې په مړه نا مسلمان کړه
چه لحلمه زه محروم يم	نجالت له مغموم يم
ابراهيم له ورد رومي	كوندي دا شفاعت مومي
ابراهيم به اعتذار كه	چه خاطر ده دوې ازار كه
چه نمرود كيه لښكر وه	په دعا مې زير زبر وه
چه لصبره گريزان يم	په خپل ځان پوره حيران يم
ځي موسي له چليږي	په زار کښې وه ريږي
بيا موسي بهم د لداره	خلاص که ځان لدغباره
ده فرعون ډير طغيان شه	بې حسابه بې پايان شه
بې طاقته شوم بې تابه	ما دعا كړه لدا بابه

اجابت مې ده دعا شه | زودي نيل په ما واشه
تحمل مې نکړ کوره | اه افسوس لره هر کوره
ځې عيسي لره ژړا کړي | ګرياني ووړ او يلا وکړي
بيا عيسي هم قيل قال که | چه خاطر ده دوي ملال که
يهود دا ګفتار دے | عيسي زوي ده کردګار دے
هې توبه لدې ګفتاره | زه وېرېږم له ستاره
پخپل خان پوري حيران يم | لدغې وينا ترسان يم
دغه کار ده محمد دے | چه محبوب ده پاک صمد دے
ډير په صبر ډير ثبات وه | چه افضل ده مخلوقات وه
که ځو امت جفا کړه | ده په باب ده دوي دعا کړه
هدايت ور کړې الهه | دوي نا پوهه دي ګمراهه
دي شفيع المذنبين دي | رحمة للعالمين دي

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ

چه نازل دغه آيت شه | ده ابليس هم ډير فرحت شه
چه زه هم يم له عالمه | بخره غوارم له کرمه

مسلط وه لقديمه | يو ملك پرده فهيمه
چه پرده بيه ګذار کړ | پدا ضرب بيه ازار کړه
په شپه روح کښ به يو ځله | دا روز ګار وه تل په تله
خلاص شي دي لدا زلته | ده نبي لبر کته
که عاصيان خلاص که لهٔ اوره | عجب ندي لده ګوره
اخر راشي دلبره | دغه پاک نبي ترده
تصلي به کاندي ديره | ده عاصيانو ترحد تيره
مقام محمود ته روان شي | په سجده به يو زمان شي

ايه عسى ان يبعثك ربك مقاما محمودا ۱۲

حمد به وائي يځو شانه | محمد فصيح لسانه
بيانا ره به پسي وه شي | چه خاطر خوشحال ده ده شي
ته سر يور ته کړه حبيبه | ده رنځور زړه طبيبه
ما عاصيان وا ره بخښلي | چه تر نا دي دره غلي

في الحديث شفاعتي لاهل الكبائر من امتي ۱۲

چه ده پاک الله دوستان وي | پردوي اذن ده رحمان وي

شفاعت به کوي لا له — چه عاصیان کاندِ خوشحاله
هم فرزند به کاندي پاره — شفاعت لموره پلاره

فِي الآيةِ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ ١٢

رب روي ده محمد دي — دا سؤال ده شیر محمد دي
که هر څوک یه ډیر عصیان دی — زیات دي فضل صد چندان دي
دي محروم مکړي حضرته — ده رسول لشفاعته

والجناتِ حق بیان جنت ١٢

هم اته دي جنتونه — پښه زیب په زینتونه
تر عرش لاندي یه مکان دي — اراده چه ده سبحان دي

آیه عِندَ سِدرَةِ المُنتَهَى عِندَهَا جَنَّةُ المَأوَى ١٢
وَفِي الحَدِيثِ سَقفُ الجَنَّةِ عَرشُ الرَّحمٰنِ ١٢

دار الجلال چه واړه نور دي — دروازه کیه قصور دي
دار السلام دي لیاقوته — اي حماده ورهي قوته
دار القرار دي لمرجانه — رب دي وروله حماجانه
بل عدن ده زبرجد دي — بل نعیم ده زمرد دي

بل هم

بل هم خلد لسپین زرو — بل ماوی ذی لسرو زرو
بل فردوس دی چه علا دی — چه پذات کښ لوالی دی
دیوالونه خوشرنګ دی — چه خښتی رنګارنګ دی
یاده سرو زرو یا سپینی — ځوک یاقوت دی کیه وینی
هم ده مشکو یه وی خاوری — روایت دی کیه اوری
بل یه حوری دی خوشرویه — پری رویه عمر بویه
مهربانی دلنوازی — عشوه ناکی جلوه سازی
نوری ستر کی سمن بره — غافل مه اوسه دلبره

ایه وحور عین کامثال اللؤلؤ المکنون

بیان حور

نه زری نه به وری وی — چه وچانه پی کړی وی
ده دوی عمر دری دیرش کاله — هم ځوانان ده دوی همساله
ځکه پیغله ځکه ځوان دی — ده بلوغ یه دا اوان دی
او یاکزه یه قاست وی — ډیر بی شوق محبت وی

آیه عربا اترابا وفی الحدیث اهل الجنة جرد مرد

مکثون ابناء ثلثه وثلثین علی خلق آدم

سبعون ذراعا ۱۲

مُدام ناستي په فرد وکښ — په خیمو سراپر فرد وکښ

نظر نه کوي لخیا له — ده هیچا په طرف لا له

آیه حورٌ مقصوراتٌ في الخیامِ لم یطمثهنّ انسٌ

قبلهم ولا جانٌ ۱۲

او یا حوري ده چاوي — که غریب وي که گداوي

زیات جزا ده خپل عمل دي — خپل کردار ده سړي مل دي

یاده پو نسو روایت دي — رَبِ عالمِ بحقیقت دي

که څو حوري تابان وي — مؤمنانِ ي صد چندان وي

ده او یا حورو جمال دي — په یوه کښي مالامال دي

بل هلك یه پداشان دي — چه لحورو هم تابان دي

في الآیةِ ویطوف علیهم وِلدانٌ مخلّدون واذا

رأیتهم حسبتهم لؤلؤًا منثورا

پصورت به هلکان وي — په باطن لکه زنان وي

په دیدن بیه خوښیږي　　هم خلوت به لذوي کیږي

هم لحور و به خلوت وي　　چه ده دوي زینت به وي

لکه ژوندده دنیا واره　　هو مېره یو خلوت وي واره

تل بوي بکار نو نه　　کهر څو که خلوتونه

ایه اِنَّا اَنْشَأْنٰهُنَّ اِنْشَاءً فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ۱۳

نه مني نه به مذي وي　　تش لذت بيه روزي وي

پر پر فلک به نشستن وي　　سر تو پایه به کندن وي

په یاقوت په زمرّدو　　په الماس په زبرجدو

آیه عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ مُّتَّكِئِيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ۱۴

ده جنت شراب به دله　　نوشانوش که یو پر بله

نه جنون نه درد سر وي　　نه دیچا عقل ابتر وي

آیه وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا

يُنْزِفُوْنَ ۱۴

هم لباس بیه زیبا وي　　یا اَتْلَس یا به دیبا وي

آیه وَيَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

هم بفرش هم به غالي وي — متکا و هم نهالي وي

استبرق وي هم حليري — يا سندس وي چه تاويږي

في الآية على فرش بطائنها من استبرق ايضا فيه

على رفرف خضر وعبقري حسان

بل هوا يه ده بهار وي — نه سړه نه به حار وي

عمبر بويه خوش نسيمه — هم تياره نه وي فهيمه

آيه لا يرون فيها شمسا ولا زمهريرا ١٢

بل به غوښي ده مرغانو — خوراك وي ده جنتيانو

بي لږوو به تيريږي — دمادم به هضم کيږي

آيه ولحم طير مما يشتهون ١٢

بل باغات پيشان شان وي — چه ميوي په فراوان وي

چه ميلان دي پيدا شي — خود بخود را جدا شي

په دهان کښ به لګيږي — ده ده کام به په خوږيږي

به هر فصل کښ موجود وي — هر ثمر چه يه مقصود وي

آيه وفاكهة كثيرة لا مقطوعة ولا ممنوعة ١٢

بیان میوها

چه پرزړه کښي هویدا شي — ده مؤمن چه تمنا شي
یا یه سترګي پخو شیږي — دم پدم به پیدا کیږي
چه خاطر یه غمګین نشي — یو بانو یه سنګین نشي

في الاية وفيه ما تشتهيه الانفس وتلذ الاعين

خوورتك یه پخچال دي — پعطا ده ذو الجلال دي
حکایت دي لخبره — تیه غوز باسه دلبره
چه په زیب په زینتو نه — رب پیدا کړه جنتونه
وجبریل تیه فرمان کړ — وه جنت تیه روان کړ
ډیر زیبا وو لا نظیره — دي حیران شه دلپذیره
بیارته راغي ترجلیله — جلیل داویل جبریله
چه دا ځاي چه رنګ مقام دی — چه ده خوار بنده انعام دی
ده وي صنع ده جلال دی — ده صفت یه څه مجال دی
نه وطن نه ولایت دي — تا جوړ کړي پقدرت دي
چه خبر یدا وطن وي — که څه مرد وي که څه زن وي

ځان به ور ولي لا چاره ته جنته کردګاره
يو ساعت به غفلت نکه چه آخر ندامت نکه
بيا الله وويل جبريله ځه رفتن کوه بي ډيله
ده جنت پر لار نظر کړه ته رفتن پدا ګذر کړه
چه دا لاريه وليد له ډير سخته وه عاقله
ده تکليف لکا روباره پوره وه کښو لک خاره

في الحديث حفت الجنة بالمكاره وحفت النار بالشهوات ١٢

کړيه راز لذو الجلال له جبريل داويل له حاله
لاريه سخته ده دشواره اي خالق کردګاره
يا نصيب که څوک دژوندي شي په خواري په ځيګر خون شي
ستا په فضل محبّت شي چه مقام ديچا جنّت شي
ده کفار ور کي ور وره خادمان ده جنت کوره
ټش ده دوي به خوراک آب وي نيه قدر نيه آب وي
يا اعراف ده دوي مکان دي ده دوي حکم پداشان دي

مرحمت

هم پېري چه مسلمان وي | ده دوي حکم ده انسان وي
يا به خلاص وي لعذابه | دوي محروم وي لثوابه
رب روي ده مصطفی دي | شیر محمد یو بي نوا وي
شرمنده ده روي سیاه به | کته فضل کړي الله
دي به ورشي ته جنته | ستا لفضله مرحمته

والنار حق بیان اتش

هم اوه دي دوزخونه | چه کښنا ته دي محونه
تراومه زمکه زیر دي | عذابونه پکښ ډیر دي
جهنم بل حطمه دي | بل جحیم هاویه دي
بل سعیر بل سقر دي | بل لظي ده غم مقر دي
بد مقام بد وطن دي | چه ده خوار عاصي مسکن دي
په ده برو به بلیږي | عاصیان به په ورتیږي
چه اتش یه ډیر سوزان دي | الامان الامان دي

في الاية وقودها الناس والحجارة ١٢

ده اظهار اور لغه اوره | او يا یمه بحره کوره

ده دا اور

ده رحمت په اوبو ولي　　او يا څله لمبه وي لي
څويه تا به څويه سوزدي　　څويه ضوئ څو فروزدي
ده دوزخ بخړنك اوروي　　چه عاصي يكښن نسكوروي
چه لنبي يه پورته كيږي　　يا غيرت كوي پريكيږي
ده ده زغ به پرده ياروي　　كده پونسوكا لولاروي
چه ده خره ښان هوكينه　　پناه غواړه اي امينه

آيه لها شهيق وزفير ايضا فيه تكاد تميز
من الغيظ ١٢

كه په پښو چوتي كوره　　څوك په پښوكه لغه اوره
داده سرما غره به خوځي　　ناقراره چه به سوځي
ده كيوي ښان بجوش له　　هم ناري هم به خروش له
چيه دوب شي بشروا　　حال يه خوي بنجات غواړه
بل لړم هم ماران وي　　چه بخرخ پدوزخيان وي
چه پتن ده دوي څرخيږي　　پيچ تاب به څيني كيږي
ده لړم بيا اي لا له　　وي اويازره دنبا له

دوه احل ...

الجهنمي

ده هر دم ذهر يادېږي	او يار طله حسابېږي
هم په طول دي دمارانو	په دغه شماره يارانو
ده کافر صورت بلوي که	چه ماران لهم پري توي که
هر يو غابښ به ده ده ونيه	ده لوي غرو بڅير مؤمينه

حديث ان الجهنمي ضرسه مثل جبل احد

بل به وزي تږي شوم وي	يا خوراك بيه زقوم وي
وي بد شکله بدګواره	چه منت يه ده لناره

آيه لاکلون من شجر من زقوم

پري به ګرمي او به تښنيه	چه کولمي بيه ريبنيه
چه سينه يه که کبابه	دوي به نشي پسير ابه

في الآية فشاربون عليه من الحميم ايضا فيه
فيقطع امعائهم

بل ده دوي پغاره کوره	زنځيرونه وي له اوره
هم په ښو بيه دلبره	زولني وي له سقره

في الآية انا اعتدنا للكافرين سلاسل و

أَغلالًا وَسَعِيرًا ١٢

لهٔ كافروائي هې توبه دهٔ   دا يه ځاي دهٔ ترا بدهٔ
چه پوست پاره پاره شي   بيا تازه به دوباره شي
چه عذاب دهٔ دهٔ دائم وي   دهٔ رب قهر پري قائم وي
تبدل چه حساب دے   او يا ذرّه يکتاب دے
په تغسير کښ يه وکوره   کبا ورد ي نشي ورو ره

فِي الآيَةِ وَكُلَّمَا نَضِجَت جُلُودُهُم بَدَّلنَاهُم

جُلُودًا أُخَرَ ١٢

که مؤمن وي ګناه ګاره   بد عمله بد کردا ره
دهٔ عمل جزا به مومے   په اخر به خلاصي مومے
پري به توي اب حيوان که   و جنت ته چه سامان که
حاصل دا دي لدا بابه   ډير به خه وايم احبابه
خواري ډيره دهٔ بي شانه   پدوزخ کښ بي پايانه
خلاصيدهٔ ځيني محال دي   په کرم دهٔ ذو الجلال دي
پډير زهد تقوی دي   په افسوس يثرادي ٢

چه دوزخ مولیٰ سامان کړ | وجبریل ته فرمان کړ
څه رفتن کړه ته دوزخه | هم ته ګرمه هم ته یخه
بیا احوال را ته عیان کړه | ده دوزخ صفت بیان کړه
جبرائیل راغی ته خدایه | عرضیه دا کړ دل آرایه
بدوطن بد اقلیم دی | ډیر یه خوف هي ډیر یه بیم دی
چه خبر پدا مقام وی | په زړه الصبح شام وی
ځان به و ساتي لاچاره | ده دوزخ لسخته ناره
بل به ذکر ده الله که | نه عصیان نبه تباه که
بیا جبریل وته فرمان شه | پرده امر ده رحمان شه
چه نظر و کړه و لار ته | ده رفتن و کار و بار ته
چه رفتن یه پر دا لار کړ | دا یه عرض پر پاک ستار کړ
یا نصیب که ځوک امان شي | چه پر بله لار روان شي
پور لزیبه لزینته | لهوا او له شهوته
ربروي ده پاک نبي ده | شیر محمد یو خار عاصي ده
کړي نګا مغریب له او | پخپل فضل کرم ګوده

وَرُؤيَةُ اللهِ تَعَالَى فِي الجَنَّةِ حَقٌّ

بَيَانِ دِيدَارِ

هم دیدار به رب ښکاره که — مؤمنان به ننداره که
چه ستر ګی یی لګیږی — لکه ګل یی تازه کیږی
نه ځای نه مکان وی — نه جهت نه زمان وی
چه رب دلته ده یا هورته — یا رب کښته دی یا پورته
یا پیشپه دی یا صباح دی — یا پښین دی یا رواح دی
یو دیدار به د رب هر چا وی — که غافل وی که پارسا وی
چه ځای وی په جنت کښی — په اکرام په عزت کښی
زیات جزا ده خپل همت دیی — په همت پوری قیمت دی
بعض داوائی ای لاله — رب خبر لدی احواله
ده مردانو به دیدار رویی — په هفته کښی به یو وار رویی
و زنانو ته چه حاضر وی — دا یو ورځ کښی د اختر وی
په دیدار کښی د پیریانو — اختلاف دی ای یارانو

فِي الآيَةِ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ

وفي الحديث

وفي الحديث سترون يوم القيمة ربكم كما
ترون القمر ليلة البدر ١٢

ده دیدار چه تماشا وي | جنتونه به ترشا وي
کیه حوري که غلمان وي | جو دانه به نمایان وي
که دیبا کیه اتلس وي | په نظر بلکه خس وي
پوشاك کیه خوراك وي | پنظر لك خاشاك وي
ده عرصات پر میدانونه | چه رب کاندي حسابونه
و هر جاته به عیان وي | که کافر که مسلمان وي

آیه واشرقت الارض بنور ربها ١٢

چه کفار به نکران وشي | په صفت ده قهرمان وشي
مسلمان چه ورته کوري | پري برحم ده خداي ووري

والمیثاق حق ١٢ بیان میثاق ١٢

چه آدم الله پیدا کړ | ده تکلیف کار یه بنا کړ
نور یه مسح ده ده شا کړه | پخپل ید سره الله کړه
کل اولاد یه نمایان شوه | ده سور کو میږ پشان شوه

[illegible]

مؤمنان په نوراني وه — کافران په ظلماني وه
انبیا یکښې تابان شوه — چه پدوي کښې نمایان شوه
الست بربکم الله وېې — بجواب کښې په بلي وایې
ایا ستا سو رب زه نیم — چه رب نیم نور بڅه یم
دوبه وایي څوک زه خدائي — هم قادر هم رهنمائي
همه واړه په اقرار کړه — په خدائي چه کړ دکار کړه
ده هغو عذر قاصر دي — په ایمان کښې چه خاسر دي

آیه وَاِذْ اَخَذَ رَبُّکُمْ مِنْ بَنِيْ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ

چه تنها ده روح ایمان وي — نه جسد نیه نښان وي
پدغه لیان په گوره — دي مسلم نوي اي وګروه
څکه خلاص ده لر دَ ته — نشه خیر لر وایته

وَالْعَیْنُ حَقٌّ بیان نظر

هم نظر لره اثر دې — بحدیث کدي باور دې
څې سري ترقبر ستانه — ده نظر لتا پستانه

وَفِي الْحَدِیْثِ الْعَیْنُ یُدْخِلُ الرَّجُلَ فِي الْقَبْرِ وَ

٤

الحمل

الجمل في القدر ١٢

کهٔ څو یه شي مرغوب وي — په نظر دي چا محبوب وي
چه ښو له یه دا ایات وي — لنظره یه نجات وي

في الاية ماشاء لا قوة الا بالله في الحديث من
اعطى خيرا من اهل ومال فيقول عند ذلك
ما شاء الله لا قوة الا بالله لم ير فيه مكروها

والسحر حق ~~بيان سحر~~ ١٢

هم سحر کښ تاثیر دی — چه فرمان ده پاک قدیر دی
که ګناه لري دلبره — خالي نه دي له اثره
په کبیر کښ یه حساب دي — روایت چه ده کتاب دي

في الاية يعلمون الناس السحر ١٢

ده لبید لوني ساحري — وي سحر کښ ماهري
دوي چه سحر پر رسول کړ — پاک رسول الله ملول کړ
پري جبریل نازل سبحان کړ — دا احوال یه ور بیان کړ
چه یو چاه لتا پنهان دي — چه نامه یه ذي زروان دي

الله

دی

پکښی ژړی ده کمان پروته | هغه راوړه وخپل ورته
چه داغوته ده ځوځایه | قل اعوذ یې وه وایه
هر آیت چه تمامیږی | یوغوته به خلاصیږی
چه رسول حاضر وترګړ | په فرمان یه دا اکبر کړ
وه وتریه وُلس ځایه | غوته کړیه دِل ارایه
چه تمام شوه سورتونه | ده ده ورك شوه زحمتونه

وتاثیر الدعاء حق ۱۲ ~~بیان دعا~~

بل انکار مکړه امیره | ده دُعاؤ لتاثیره
چه قضا نوی بلاوی | کاهی دفع یدُعاوی

فی الحدیث الدُعاء والبلاء یتلجلجان الی یوم القیمة ۱۲

یتلجلجان

هم و مړه وته رسیږی | چه دعاوریسی کیږی
تلاوت وی که خیرات وی | لعذابه یه نجات وی
یا ترشا صالح فرزند وی | لثوابه بهره مند وی

فی الحدیث ذریة صالحة یرزقها الله العبد

٤

في القبر

تملك

يدعون له يلحقه الدعاء

هدیره چه پرلو لاروي — ده عالم یکښ رفتاروي
یا طالب یکښ تیریږي — عذابونه رفعه کیږي
ته څلویښت ورځ لاله — رب دي تانکه ملا له

في الحديث انّ العالم والمتعلم اذا امرّ على قرية فانّ الله يرفع العذاب عن مقبرة اهل هذا القرية اربعين يوما وافضل البشر بعد الانبياء ابو بكر

رضي الله عنه

چه بهتر دي لا نسانه — له نبیانو پراته جانه
ابو بکر ده دین نمر وه — چه اسلام پري منوّر وه
پر رسول باندي عاشق وه — دي مینه کښ صادق وه
څکه پاک رسول اي ورور وه — وه پرده مین هر کوره

في الحديث ما افضلكم ابا بكر بكثرة صوم ولا صلوة ولكن بشيء وقر في قلبه وفيه ايضا لو كنت متخذا خليلا غير ربي لاتخذت ابا بكر

خلیلاً ایضاً فیه کنت وابا بکر کفرسی رهان
فلو سبقنی فامنت به ولکن سبقته فامن بی ١٢

یار غار ده پاك رسول وه — پټ بغار کښی ناست ملول وه
لکفار چه وه تللي — په فرمان ده رب وتلي

آیه ثانی اثنین اذ هما فی الغار ١٢ بیان الفرق

په اسلام کښی چه سابق وه — په امور ول یو کښی فایق وه
مشرف چه په اسلام شه — عبد الله په عزیز نام شه
هم لقب ده ده صدیق شه — پمعراج چه تصدیق شه
عبد الکعبه په نامه کوه — څو جاهل وه څما وزوره
دي پیر ده قحافه وه — چه عثمان ده ده محضه وه

ثم عمر رضی الله تعالی عنه ١٢

بیا پسي حضرت عمر دي — څه په نور کښی بهتر دي
ده خوبي ده ده انیسه — مبرهن لدي حدیثه

فی الحدیث عمر سراج اهل الجنة ایضاً فیه لو لم
ابعث لبعثت یا عمر

وه اسلام غریب پنهانه | شه په تیغ ده ده عیانه
ده باطل ده حق فارق وه | ده اسلام صبح صادق وه
فاروق ځکه ده ده نام شه | چه مشهور بخاص عام شه
همیشه وعدل داد وه | ده هر چا زړون پښاد وه
شوه د کفر خونه ورانه | ده عمر لښه دورانه
پر عالم یه رعیت کړ | ورک یه کفر ضلالت کړ
زر شپته بښهره ای یاره | ده واړه وکښه یکباره
شپږ هم نور پر دا بالا وه | فتحه کړې پاک مولی وه
هم څلور زره احبابه | بت خانې شولې خرابه
پدوران ده عمر کوره | مسجدونه شوه ای ورور
چه زر یونس منبروونه | دره ولې یکښې وونه

ثم عثمان رضی الله تعالی عنه

بیا پسې بهتر عثمان دی | چه پدر ده ده عفان دی
وه عظمت ده ده دلبره | مبرهن لدا خبره
دې جامعه ده قران وه | ده حیا د سخا کان وه

کبه چا لده جفا کړه — پعوض کښي یه وفا کړه

ده لښکر چه خرخ سامان وه — همه واړه پر عثمان وه

کیه ډیر مال دولت وه — ده ده نوه ده حضرت وه

ذي النورین یه لقب وه — چه رسول ته مقرب وه

سبب داوه چه مشهور ده — رقیه ده نبي لور ده

بحرم کښي ده عثمان وه — ده ده خونه پتا بان وه

چه خزان کلي بهار شیه — ده مرګوني پنا تار شه

ام کلثوم یه ورکړه لاله — بیا عثمان شه پري خوشحاله

ثم علی رضی الله تعالی عنه

بیا بیي حضرت علي وه — چه دي ډیر متعالي وه

في الحدیث انت اخي في الدنیا و الاخرة

پهلوان ده محمد وه — چه خطاب ده ده اسد وه

که بکران مهم موجود شه — دي بتیر ترخیل وجود شه

داحدیث دي خود جلي — لا فتی الا علي

هم ده دا حدیث اظهار — لا سیف الا ذو الفقار

هغه گل چه وه تابانه ‌ ‌ ده رسول ده باغ جانانه
پد ستار کښې ده علي وه ‌ ‌ په رتبه کښې چه عالي وه
پنامه فاطمه دا وه ‌ ‌ کپو هیبزي دایدا وه
چه دا اخلاص ده الله او وه ‌ ‌ محبان ده دي اي وروه
په ظهرا چه مقلب وه ‌ ‌ پښایست کښې بوالعجب وه
ده ظهرا نځیر تابانه ‌ ‌ تل خوشحاله وه خندانه
څلور واړه چار یاران دي ‌ ‌ چه واړه مني سنیان دي
چه انکار که بدخصلت دي ‌ ‌ بدمذهبه بدملت دي
چه انکار کوي لده ویه ‌ ‌ یا به بدوائي خوشخویه
دا یه کفر کښېواته دے ‌ ‌ له اسلامه یه واته دے

فی الآیة والذین آمنوا معه أشداء على الکفار رحماء بینهم إلى قوله لیغیظ بهم الکفار و

الخلافة على هذا النهج

(النهج)

داهم زده کړه دلنوازه ‌ ‌ رب دي تا که سرفرازه
چه نزول یه آخرین دي ‌ ‌ الیوم اکملت لکم دین دي

پاک رسول په اندوګین شه　　چه یې د تصدیق یقین شه
خود خما عمر تمام شه　　چه کامل واړه اسلام شه
ده مولي په وصال خوښ شه　　زړه یې دا ده ناخوښ شه
چه امت به مي شي پاته　　تکیه نلري وچا ته
نفس شیطان ده دوی دښمن دي　　چه داخل ده دوی په تن دي
خما امت بکه ګمراه هه　　کرم وکړه یا الله
چه اندوه په بې حه پایان شه　　ده مسجد پر لور روان شه
اصحاب واړه وه همرازه　　زر خبر شه لدا رازه
چه خفه وه هم پریشانه　　چه دا رویه بي درمانه
پاک رسول په تن بیمار شه　　چه ده زهر روي ازار شه
چه ثواب ده شهادت دي　　لحدیثه روایت دي
یوه روځي سخته ازار وه　　ده وصیت په کار بار وه
عزرائیل چه شتابي وه　　پصورت ده اعرابي وه
دري دلي پدربار کښ　　ده رخصت په انتظار کښ
ورسول ته چا بیان کړ　　دا احوال یه ور عیان کړ

څوک راغلي له صحرا دي — ده دیدن په تمني دي

پاک رسول وویل عزرائیل دی — چه فرمان ده رب جلیل دی

اهل بیت ده نبي لاله — شوه پیدا ګفتار ملاله

ډیر په آه او فغان کړه — چه فراق یه ده جانان کړه

فاطمه شوه بي آرامه — تر حد تیره دل آرامه

چه فراق یه ده پدر کړه — څرا یه ګریبان تر کړه

له رسوله مي بیلتون دي — رب حکم څګر خون دي

کشکي مرګ څما ور نبي وای — چه مي روغ پر پښي دي وای

چه فارغ شه له وصیته — هم لپنده نصیحته

اعرابي نوه پدر کښي — پدا لار پدا ګذر کښي

له رسول یه صحبت وه — نیه شکل نه صورت وه

حکم چه ده را ته وایه — اي رسول رهنمایه

پاک رسول ویل مهلت کړه — ډیر تلوار مکړه فرصت کړه

چه جبریل راشي تمانه — څما عرض ده ډیر بي شانه

یم هر کوره غم ګساره — دامّت لګا روباره

بیا جبریل چه اعادت کړ پر رسول یه بشارت کړ

هیڅ اندوه مکړه رسوله ستا خاطر مشه ملوله

پاك الله چه مهربان شه چه ده دو یه پضمان شه

عزرائیل یه مرخص کړ چه واك دار یه پنفس کړ

پدا شرط چه نه یې سختي دي چه څماده امتی دي

همگی تیره پر ما کره عاجزان وار ه رها کره

لهر څو یه دیر زحمت دي څما قبول یخپل صورت دي

دو یه کوم طاقت لرینه چه پدا سختي کا لینه

زه د رچار شم زیر مه خواره ده مولي پر دزوي داره

ده دنیا رونق چه مات شه هغه پاك نبي وفات شه

اصحاب یاته شوه حیرانه دیر غم جن وه هم گریانه

یو فراق ده پاك سرور وه چه ده دوي نور البصر وه

هم یه دم ده ده پد مروه بي لده یه دیر ماتم وه

بل غم جن ده دین پکار وه ظاهر روغ باطن بیمار وه

چه ده شرع نمر غروب شه په تیاره کښ عالم دوب شه

هم د دین بدر عدم شه | پر جهان باندي ظلم شه
عمارت د دین برباد شه | بې ستونه بې بنیاد شه
قیل و قال یکښې پیدا شه | مصلحت قرار پر دا شه
که خلاف څموږ میان شه | کل کارونه به ویران شه
دنیا بې وي کدیني وې | که مونږ کښې دوئی وې

بیان خلافت

خلیفه د ده صدیق شه | پصلاح په تحقیق شه
خلافت یه وه شپږ کاله | بیا وفات شه څما لاله
لهغه مرضه وروره | چه سکاروي بولي کوره
چه رحلت یه لدنیا کړه | د دنیا کوڅه یه تر شا کړه
خلیفه د ده عمر شه | په صلاح چه مقرر شه
بیا لس کاله خلافت وه | لنا بودي یه رحلت وه
یو غلام چه لولوه وه | دي مرئي د مغیره وه
د هغه پتیغ مقتول شه | والله ته دي موصول شه
خلیفه د ده عثمان شه | د علي هم دا فرمان شه

خلافت یه دولس کاله بیا شهید شه ځما لاله
چه مقتول هغه خوشرنګ و دا ایت پوسیورنګ وه
فسیکفیکهم الله قدرت ګوره ده الله
بیا علی چه بهترین وه خلافت ده ده تعین وه
پدوه کاله خلافت وه والله تیه وصلت وه
عبدالرحمن بن ملجم وه چه قاتل ده پاک صنم وه
قاتلان کمقتولان دي چه ده پاک رسول یاران دي
دوي غلط په اجتهاد کښ کل مصاب په اجهاد کښ
وه واړه ته لاس پر سر کړه بدګمان لزره بدر کړه
دا دیرش کاله خلافت دي چه انصاف عدالت دي
لغه پسه امیران وه عدل نشته ظالمان وه
چه ده عدل دعوه کړینه دا روانده مؤمینه

في الحديث الخلافة بعدي ثلثون سنة ويصير
بعدها ملكا عضوضا ثم العشرة المبشرة

بالجنة ١٢ بيان عشره مبشره ١٢

بیا بهتر چه ده بشر دي | عشره وو مبشر دي
ابو بکر بل عمر دی | بل عثمان دي بل حیدر دی
بل زبیر دي بل طلحه دی | بل سعید بل عبیده دی
بل سعد لعبد الرحمنه | شه خبر لدا بیانه
چه گواهي ده جنت کلکه | پر دوي لووشي بې شکه

فِی الْحَدِیثِ اَبُوبَکْرٍ فِی الْجَنَّةِ وَعُمَرُ فِی الْجَنَّةِ وَ
عُثْمَانُ فِی الْجَنَّةِ وَعَلِیٌّ فِی الْجَنَّةِ وَطَلْحَةُ فِی
الْجَنَّةِ وَزُبَیْرُ فِی الْجَنَّةِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ فِی الْجَنَّةِ
وَسَعْدُ بْنُ اَبِی وَقَّاصٍ فِی الْجَنَّةِ وَسَعِیدُ بْنُ
زَیْدٍ فِی الْجَنَّةِ وَاَبُو عُبَیْدَةَ فِی الْجَنَّةِ کَمَا فِی
التَّکْمِیَةِ ثُمَّ اَصْحَابَ الْبَدْرِ وَالرِّضْوَانِ الْمُبَشَّرِیْنَ

بها ۱۲

بیاده بدر چه غازیان دي | یا اصحاب چه ده رضوان دي
ده اصحابو بهترین دي | چه پدین کښ دوي متین دي
دوي بې شکه جنتیان دي | بحدیث کښ چه بیان دي

فی الکـ

فِي الحَدِيثِ قَدْ أطَّلَعَ اللهُ عَلَى أَهْلِ البَدْرِ فَقَالَ
اِعْمَلُوا مَا شِئْتُم فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ أيضًا فِيهِ لَنْ
يُدْخِلَ النَّارَ رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا أيضًا لَا يُدْخِلُ
النَّارَ أحَدًا بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ ١٢ بيت

هم حرم چه د نبي دي
ځيني وائي جنتي دي

لحسينه له حسنه
فاطمه دي اي ګلشنه

ځيني داوائي اي لاله
رب عالم ده دوي لحاله

وَلَا يَجُوزُ الشَّهَادَةُ لِغَيْرِهِم

ماسوي چه دي لدويه
د جنت ګواهي خو نخويه

پر هيچا مله ګناه دي
د ير عصيان د ير يه تباه دي

که هر څو يه عمل د يروي
تر حساب تر شماره تيروي

وَكَذَا بِدُخُولِ النَّارِ إِلَّا إِذَا مَاتَ كَافِرًا ١٢

ده دوزخ ګواهي هم د له
پر هيچا مله هيڅ ګناه

که فرمان که مسلمان وي
چه ګناه يه بي پايان وي

هر کافر لره امکان دي
ده اسلام د ايمان دي

الجنة

کافر

ده مسلم

ده مسلم که ګناه ډیر وي | کبیره یه ترحد تیر وي
ګوندي رب یه مغفرت که | په نصیب یه سعادت که
که په کفر کښ مردار شي | چه احوال ده ده اظهار شي
ده دوزخ ګواهي کته لي | ګناه نشته کیه ولي

ثم المهاجرین والانصار

بیا پسي چه بهترین دي | ده حضرت څګر پرین دي
همګي واړه انصار وه | چه مدت ده دوی اظهار وه

في الحدیث لا عیش الا عیش الاخرة فاغفر للمهاجرین ایضا فیه اوصیکم بالانصار فلهم

کرشي وعیشي

ثم سائر الصحابة رضی الله تعالی عنهم

بسي هم واړه اصحاب دي | چه ده پاك نبي احباب دي
چه دوي کړي خذمتونه | رنګا رنګ مشقتونه
پهمت یه دین روښان کړ | کوټ ده کفر یه ویران کړ
کم یې بش چه هدایت دي | ده اصحاب برکت دي

واره ستوري ده هدا دي | چه اصحاب ده مصطفی دي

في الحديث اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم
ايضا فيه افضل القرون قرني وافضل النساء
عايشة رضي الله عنها في بعض الخصال ١٢

چه ښځو کښ ده غوره | بي بي عايشه ده بهره وره
پخپل ځین خویونه | ده تمام عالم تر ښځونه
چه هنر ده دي فائق وه | رسول څکه پري عاشق وه
علم عقل يه کامل وه | څکه ده پرورته مائل وه
بعض داوايي دلبره | فاطمه گڼړه بهتره
چه ده پاک رسول فرزند دي | نور ده ستر گو ارجمند دي

ثم خديجة الكبرى ١٢

بيا پسي بهتره گوره | خديجه گڼړه اي وروره
پر حضرت وه ډيره گرانه | په نسب يه وه خپلوانه
که قاسم که فاطمه وه | که طاهر که زينبه وه
کل اولاد ده خديجي دي | ام کلثوم ته رقيي دي

ابراهیم دي ماریه دي | ده سریتي قبطیه دي
ده واړه و مړك وښي وه | چه لا پاك رسول ژوندي وه
ظهراشیر میاشتي آخره | کوهیږي اي ماهره

ثم من یرام عیسی علیه السلام ثم الیسة امرءة فرعون

بیا خوبي چه منظور دي | مریمه ده عمران لور دي

آیه واصطفیك على نساء العلمین

چه فرعون یه شوهر وه | کهرخو اشد کافر وه
ده موسي دین یه قبول کړ | والله ته یه وصول کړ
بند پر بند یه خما د له | په میخون وه کنډ له
دا فرعون یه عذاب کړه | بیا یه اور کښ یه کباب کړه
خزان پاڼه یه ده چنبیل شوه | سراسره چه غلبیل شوه
بیا یه ولید بي حجابه | جنتونه اي مهتابه
په نصیب یه شهادت شه | والله ته یه وصلت شه

فی الایة رب ابن لی بیتا فی الجنة ونجنی من

فرعون وعمله والله اعلم

بیا الیسه کړه بهتره
له صلاح هر وه وره

ثم نساء امهات المؤمنین ۱۲

بیا حرم ده پاک سرور دے | بخوبی چه بهرور دے

فی الایة یا نساء النبی لستن کاحد من النساء ۱۲

لکه مور چه وه حرامه | وخپل زوی ته دل آرامه
وه نکاح ده دوی دلبره | پر امت حرام یکسره
هر چه بخت ده دوی بیدار وه | پاک رسول یه خریدار وه
بحرم کښ یه داخل وے | وخدمت ته یه واصل وے
واره خور لس دی دلبره | روایت دی لسیره
یه نکاح کښ جمع نه وی | تر نه زیاتی روانه وی
چه خاصه ده پاک رسول آر وے | ده امت یه سه چار وے
هم سریتی یه څلور وی | په داخلی یه یکور وی

ویکف اللسان عن ذکر الصحابة الا الخیر ۱۲

بول اصحاب چه ده سرور دے | الصلاحه بهرور دے
ژبه بند کړه لګفتاره | چه نابوده وی ای یاره
آزار ده سبحان دے | بحدیث کښ چه بیان دے

في الحديث اکرموا اصحابي فان خيارکم عند الله اصحابي فمن احبهم فبحبي ومن ابغضهم فببغضي ومن اذاهم فقد اذاني ومن اذاني فقد اذى الله

اذيهم

قصه حضرت معاويه

پر معاوي باند د لبره — بد گمان مکره لسره
چه مخلص ده پاک سرور وه — په تقوي کښې هم اشهر وه
خلافت چه ده علي وه — معاويه مدعي وه
سبب دادي اي مهتابه — روایت دي لکتابه
قاتلان چه ده عثمان وه — ده علي متابعان وه
معاويه يه مقرب وه — چه قريب يه په نسب وه
ده دخيل قصاص طلب کړ — چيه دا شور شغب کړ
له علي شه روي گردانه — جنگ جدل شه لدا ميانه
معاويه ویل تلوار دي — ده قصاص پر کار بار دي
ده علي پېږد دلبره — بيا تاخير دي پکښې غوره

قاتلان ده په قوت کښ | په هیبت په شوکت کښ
که دي قول صحت وي | چه دعوي پر خلاف وي
هم عمل پر اجتهاد دي | نه په بغض نه عناد دي

ویزید واختلف في لعنه

یزید

قصه یزید

یزید دیر بد وه بي شانه | مدینه یې کړه ویرانه
هم حسین یې مقتول کړ | والله ته یې وصول کړ
بد یزید بد یې لښکر وه | ظلم فسق یې هنر وه
بي ستري یې کړه بنیاده | رب دې دې که نابنیاده
پکښ تیر سو مستوري وې | چه همه واره بکري وې
ده دوي ستر یې کرامات | همکي شوي ثیبات
ده حرم مستوري یاره | وکوفه ته شوي فراره
هم اوس سو عالمان وه | چه پتیغ مړه مظلومان وه
قبایح یې بي پایانه | صواعق کوره جانانه
یا نظر پر تکمله کړه | ده زړ لړي د اشبه کړه

پر تکمله

چه کښي

چه گفتن ده ده لعنت دي | اختلاف ده روایت دي
بعض داوائي اي لاله | رب دي تانکه ملا له
په عالم کښې چه فساد که | شور شر یې کښې بنیاد که
یوه لحظه لعین وي | چه مقام یې اتشین وي

في الاية فهل عسيتم ان توليتم ان تفسدوا في الارض وتقطعوا ارحامكم اولئك الذين لعنهم الله ١٢

خصوصًا کڅوک جانانه | مدینه کاندي ویرانه
یا تش خوف او هول رینه | چه پردوي یې تیره وینه

ظلمًا اخ

في الحديث من اخاف اهل المدينة ظلمًا اخافه الله تعالى وعليه لعنة الله والناس اجمعين ١٢

بعض داوائي اي ورور | یزید نوه راضي کوره
لښکرو چه تعدی وه | چیه کړیه ناسزا وه
د ولس کسه امرا وه | په لښکر کښې کبرا وه
د حسین پتاوان کښې | یزید مره کړه پمیدان کښې

ده لښکر وه
نه د قتل فضیحت

چه بنا یه د اقصاص کړ | لتهمته یه ځان خلاص کړ
لعنت منع پکتاب دي | په ویل کښ یه عذاب دي

وفي الحديث المؤمنين ليسو بلعانين ۱۲

هغه قول چه اصح دي | همه واړه ارجح دي
که یزید پدا راضي وای | چه امر بي نیازي وای
صد لعنت شه پرده باندې | چه پري پټ شي لاندې باندې
کنه امر نه راضي وي | کفر نشته دي عاصي وي
ځو یه کفر تعین نوي | تر هغه به لعین نوي

وابواه رسول صلى الله عليه وسلم مسلمانان ۱۲

قصه پدر و مادر رسول صلعم ۱۲

د رسول چه مور پلار دي | مسلمانان ایمان دار دي
د ابراهیم پدین همه مه | دوي باقي ته آخر دمه
یا زمان چه د فطرت وه | نه تکلیف نه شریعت وه
خالي نوي لعرفانه | پخپل عقل نما یانه
یا اعجاز د پاک سرور وه | چه ژوندونیه مکرر وه

لیسو

دوي

پوره

پر پوره اتلس کاله | عبدالله وفات شه لاله
چه وشل تیه قربت کړ | بیا امني لیسي رحلت کړ
پاک رسول شه یتیم پاته | ابوطالب وه نیوو خاته
چه مبعوث همغه ضنم شه | پر عرب پر عجم شه
ده دعاده دوي په باب کړه | پاک الله چه مستجاب کړه
دواړه پاڅیده لقبره | مسلمانان شوه د دین بدره
کا ورد ي تشي وروره | عبدالحق فتوحات کوره
د رسول دین یه قبول کړ | بیا ورب تیه وصول کړ
بل تفسیر ابن عباس دي | چه پر دین باندي پاس دي
یا تفسیر غرایب دي | چه بیان یه عجایب دي
تیه دا آیت کښ جانانه | تفسیرونه کړه عیانه

آیه وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ

لځوک دا ځنگه اشکال که | چه دي تا خاطر ملال که
مړه کفار شوه دل ارامه | سو دیه کوم لدا السلامه
د اسلام یه ضروري دي | نځه عیب اختیاري دي

ورته دا ځنگه جواب کړه دغه اوریه مړیه اب کړه

اوّل مرګ چه وه ده ته وېه | پر اجل نوه خوښ خوي یه
لکه عزیر چه وفات شه | پوسط کښې ده حیات شه

آیه فاماته الله مائة عام ثم بعثه ۱۲

یا هغه چه دوي رفتار کړه | لطاعونه یه فرار کړه
یو ار مړه شوه بیا ژوندي شوه | په دعا د خپل نبي شوه
چه خرقیل وه څما لاله | رب دي تا نکه ملا له

فی الآیة الم تر الی الذین خرجوا من دیارهم وهم الوف حذر الموت فقال لهم الله موتوا ثم احیاهم

چه ده کفر له مقاله | څوک پرهیز نکه ای لاله
لکه فقه اکبر ګوره | دا اوّل مرګ دي ای ورور

کما قال ابو حنیفة رض في الفقه الاکبر وابواه صلی الله علیه وسلم ماتا علی الکفر والشقی سعید و
السعید شقی ۱۲

هم الله قادر پر دا دي | پنهان ندي هویدا دي
چه نیک بخت سړي بد بخت که | یا بد بخت سړي نیک بخت که

لکه بخت چه دې چا بد شي | مسلمان وي يا مرتد شي

آيه يمحو الله ما يشاء ويثبت ولا يسقط الامر والنهي

عن العبد قط ۱۲

کهٔ څوک سړي زاهد وي | ډېر پارسا و ډېر عابد وي

دي ولي وي با کمال شي | چه دوستدار دهٔ ذو الجلال شي

دي په خلاص نشي اي وروره | دهٔ بندګي لسخته اوره

آيه واعبد ربك حتى يأتيك اليقين ۱۲ ولا كفر

في الكبيرة ۱۲

کهٔ ګناه دهٔ سړي ډېر شي | کبيره په تر حد تېر شي

چه خمار وي يا زاني وي | هم بې لمانهٔ هم خوني وي

دي کافر ندي مؤمنه | څو حلال په نشمېرينه

په حلال ګڼړل همدمه | دي کافر شي دم تر دمه

کهٔ صغير وي کهٔ کبير وي | دي و کفر وته خير وي

هر چه سپک بې ګڼي لا له | دي کافر ګڼه د ړحاله

کهٔ څوک صغير ګناه وي | چه يوکك وي يا يو ګاه وي

وَلَا يُحْكَمُ بِتَكْفِيرِ أَهْلِ الْقِبْلَةِ بِدُونِ الْقَطْعِيِّ ١٢

بیان توحید ١٢

بل هم دا زده کړه طالبه | چه توحید وائي پړ به
دي اقرار پر رسالت وي | لقرانه یه صحبت وي
وقبله ته دري کلّه | دي کافر مه بوله کلّه
لو یه کفر تعین نشي | په دلیل په یقین نشي
هغه ویل به جانه | ستاواته شي له ایمانه

فِي الْحَدِيثِ مَنْ قَالَ لِأَخِيهِ الْمُسْلِمِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ
أَيْ رَجَعَ عَلَيْهِ مِنْهُ ١٢ قَالَ وَالنُّصُوصُ مَحْمُولَةٌ
عَلَى الظَّاهِرِ مَا أَمْكَنَ وَالْعُدُولُ الحاد ١٢

بل حدیث دي که ایت دي | چه ظاهر یه دلالت دي
تري مراد هغه معني دي | په تفسیر چه هویدا دي
چه معني یه ده لغت دي | نچه رمز اشارت دي
هر چه داوائي دلبره | چه معني ده دوي لسره
چا ته نده دا معلومه | بي امامه هم معصومه

وار ه رمز اشارت دي ده دوي داګمان غلطي
داملحد بولي اي لا له رب دي تانکه ملا له

ولا یعلم الغیب الا الله تعالی

بیان علم غیب

علم غیب ده ستار دي چه واقف ده پټ اسرار دي
که ملک دي که نبیان دي دوي په غیبه ناپوهان دي
مګر رب فضل پري وکه پالهام یه خاطر شه که

قال والیأس من الله تعالی کفر

چه امید نکه لرحمه دي کافر کښه بي رحمه
که هر څو که ګناهونه ګناهونه لکه غرونه

في الایة ولا ییأس من روح الله الا القوم الکفرون

ولکذا الامن عذابه

که دي چا حسنات ډیر وي پکثرت ده طاعت سیر وي
ده مغروره پطاعت شي لعذابه یه غفلت شي
داهم کفر دي جانانه پناه غواړه لرحمانه

في الاية ولا يومن بمكر الله الا القوم الخاسرون ۱۲

وبتصديق الكاهن ۱۲

قصه كاهن ۱۲

كه كاهن منجم وروره | چه لغيب وائي گوره
په كلام يې څوك باوركه | چه تصديق وكاهن وركه
داهم كفر دي جانانه | پناه غواړه لرحمانه

والاستهزاء بالشريعة والاستهانة بها ۱۲ ۱۲ ۱۲

داهم زده كړه نيك طينته | كل احكام لشريعته
كه حرام وي كه حلال وي | كه ثواب وي كه وبال وي
كڅه فرض كه واجب وي | كه سنت كه مستحب وي
كه فقير وي كه ملك وي | هغه څوك چه اهل الله وي
ده واړه وتعظيم بويه | پرتبه كښ اي خوش خويه
چه پدا كښ مسخره كه | پرسر بله شراره كه
ياچه سپك بيه كڼينه | داهم كفر دي مومينه

ولاعبرة لايمان البائس ۱۲ كاتبه رسول بابا

وكذا الاستهزاء

بالايمان

بیا ایمان دي پدوه رنگه	داخوز ده کره اي خوش رنگه
هغه ایمان چه په اختیار وي	پقیامت بدي بکار وي
چه ده مرگ آثار عیان شي	څوك لویري مسلمان شي
یا طلوعه له مغربه	آفتاب وکاندي طالبه
دا ایمان یه ضروري دي	ده ده پاته مخ توري دي
که کافر شي نیك خصلته	خالي نه دي لعبرته
فرق یه دادي که پوهیږي	په اندك رموز کرو هیږي
دا مقام حق الیقین دي	حق باطل پکښ تعین دي
چه کافر نوي ایمان که	عذا بونه نمایان که
واړه خوف اضطرار دي	نه غیب اختیار دي
او مسلم چه کفر کاندي	دا شاهد ده پرده باندي
چه ایمان یه پیش زایل وه	دي وکفر ته مائل وه
دي پري نوه پوهیدلي	له ایمان وه وتلي

ویکفی التقلیدی ان کان مع التصدیق ۱۲ ... ۱۲

دوه هم نور قسمونه گوره	ده ایمان دي څماورزوره

یو ایمان استدلالي دي   چه افضل تر لؤالي دي
پس هر څوک چه په ایمان وي   په دلیل په دي پوهان وي
له آیته له حدیثه   کیږو هیږي اي رایسه
بل ایمان تقلیدي دي   څه تقلید څه په بنا دي دي
چه خبر نوي اي ورور   له دلیله څخه کوره
چه څه آروي له جهانه   دي هغه وائي جانانه
چه پر زړه کښي په تصدیق وي   په اخلاص په تحقیق وي
تقلیدي ایمان ایمان دي   چه سړي پري مسلمان دي
کاوریه د زړه نوي   تش په خوله گفتار ده دوي
مسلم ندي منافق دي   ده عذاب عتاب لایق دي

اَلْاِیْمَانُ لَا یَزِیْدُ وَلَا یَنْقُصُ ۱۲

حقیقت څه ده ایمان دي   ده هرچا سره یکسان دي
کم زیات نه کیږي ورور   ده عالم ده جاهل کوره

فِي الْحَدِیْثِ اَلْاِیْمَانُ مُکَمَّلٌ فِي الْقَلْبِ زِیَادَتُهُ وَ نُقْصَانُهُ کُفْرٌ ۱۲

په تصدیق

په تصدیق کښې شمالاله | تفصیله له اجماله
تفاوت دی پیدا کیږي | ځای پرځای هویدا کیږي
لکه تصدیق چه د صدّیق وه | نزهر چا محکم حقیق وه

واختلفوا في انّه مخلوق ام لا ١٢

چه پیدا کښې دلپذیره | اختلاف کیږي امیره
ایمان مخلوق دی او که نه دی | ستا د زړه باور بڅه دی
چه غیر مخلوق وائي | شهادت په ایمان ستائي
چه کلام د پاک مولی دی | لخلقته تبرّا دی
چه مخلوق بولي دلبره | چه حادث دی سراسره

ولا یقوم الساعة الّا ان یاتی اشراطها قبلها ١٢

قصه مهدی ١٢

چه قیامت نژدې شي کوره | یو مهدي برآشي وروره
جبر ظلم به برباد که | انصاف عدل به بنیاد که
چه نسب یه پدري دی | له حسنه عسکري دی
آتم نسل ته حسین | چه رسیږي نور العین

چه مخلوق یې بولي یاره
د اتصدیق یې له اقراره
وو دی ایمان بولي دلبره
چه حادث دی بې شماره
قبلها

یا لسله د حسن دیے — اخلاق یه مبرهن دیے
عزیز نام یه محمد دي — هم جمال یه تیز تر حد دي

في الحديث لا يذهب الدنيا حتى يملك العرب
رجلا من اهل بيتي يواطئ اسمه اسمي يملأ
الارض عدلا وقسطا

ده ده شکل شمائل دي — و نبي ته چه مائل دي
خوي خصلت بد ده کړي — له نبي به کله سم وي

في الاية وانك لعلى خلق عظيم اصاحبه سيد رحمت

چه اسلام غریب شي لا له — کار ده شرع شي پایماله
ده مهدي هله ظهور وي — بیا تازه ده شرع نور وي

ثم الدجال عليه اللعنة

قصه دجال

بیا بي دجال دي جانه — پناه غواړه لسبحانه
چه رسول کړي هجرت وه — مديني لره رحلت وه
عبد الله محمود صديق وه — لنبي سره رفيق وه

اسمي
وقسطا

په يوه ځاي چې ګذر شه — وقريه تيه نظر شه
چه دا مجمع الهوي وه — ده دجال لعين ماوي وه
په قريه کښ يوه يهود وه — دي مشهور پدا ودود وه
محضه نامرده ده سائل وه — له اسلامه دي مائل وه
وقطانه يه وه عورته — سحر کره بد خصلته
چه دجال ځيني پرواز کړ — وقطاني سحر آغاز کړ
پهغه ساعت ګويان شه — هم صورت په ډير کلان شه
څو لعين کړ له آغازه — ده خدائي دعوه همرازه
عبد الله محمود حاضر وه — پر احوال ده ده ناظر وه
پاک رسول په خبر کړ — چه حال پر ير زور کړ
صباح راغي تر دجاله — ده اسلام لقيل قاله
دجال بيا وبښ شه لخوابه — دي ساکت وه لا جوابه
اخر دي ځيني روان شه — دجال پاته نکران شه
دجال راغي لشتابه — مديني لره مهتابه
چه کوڅو نيه ويران کړه — عالمونه يه لرزان کړه

په عالم کښې واویلا شوه	مدینه شور غوغا شوه
پاک نبي پرې خبردار شه	په دعا یې انتظار شه
رب فضل نمایان کړي	خما امت به خپل امان کړي
خو چه وقت یې د ظهور وي	له امته خما دور وي
دا دعا شوه مستجابه	بو ملک راغی مهتابه
ده مرغه پخیر پران شه	دجال تیر تر تبرستان شه
پروت ده دېره جزیره کښې	په زنځیر په سلسله کښې
بیا چه وقت یې د ظهور شي	پر عالم باندې ضرور شي
دي بار په کو کار که	هر سړي به خبردار که
که معجزا د سړي ګروي	په آواز به یې نبر وي
مګر رب دې پاعصمت که	لنا ړي یه پغفلت که
شب روز به سرګردانه	ودجال ته شي روانه
ته خلو نیستو وړ ګوره	عالم به ولي شي لور ده لوره
اب خورده دو یه هیر که	دا روزګار به په بل بیر که
وه دجال ته بسجده که	داخیل دین به بي هوده که

چه سواري هغه کافر که | ګرحاضر به دي خپل خر که
هغه خر چه عالم وینی | رنګ یه سور دي لکه وینې
ده ده ورکي او یا میله | روایت بي قال قیله
په جزیره کښ یه مکان دي | هغه ځاي عجب ودان دي
چه اتیا میله چمن دي | ده دجال ده خر خوړن دي
لسحره ترما بنامه | چمن تول کاندي تمامه
بیا صباح تازه تابان وي | لکه وه هغه بنان وي
ته ځلویښتو ورځو کوره | مسخر که عالم وروره
مسخر به دیر پیري دي | ده دجال دوزخ جنت دي
دغه روځ بوي دِ رازه | چه ده ده بوي همرازه

فِي الْحَدِيثِ يَوْمٌ كَجُمُعَةٍ وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَسَنَةٍ وَ سَائِرُ أَيَّامِ الدَّجَّالِ كَأَيَّامِكُمْ

نور عالم چه مسخر که | وکوفه ته به سفر که
دولس کسه به اسلام وي | نور یه تول کفر ظلام وي
چه پیشوا یه دل آرامه | ده ده پاک نبي همنامه

خوړون دي — زره

معلومیږي چه مهدي دے   روایت چه لا ربي دیے
دوي به تیر ترسره مال شي   مقابل به دجال شي
محمد بوائي لا له   و دجال ته لا مقاله
شه خبر ده ځان لر شمه   یو سترګوئي کوړ چشمه

في الحديث رجل كهل أعور العين اليمنى مكتوب
في جبهته كلمة كفر

محمد به دیر زده که   ده ده دین به رنجیده که
یو څو روځ شهادت شي   لدنیا به پرحلت شي
بیا دجال به عصي وزوره   که پرده باندي خسوره
ده ده تن به مالیده که   پاک الله به یه زنده که
دي به بیا هغه جواب که   چه خاطر یه بیکاب که
څو اخر به دروعي کوره   مديني لره اي ورور
بیا هوري به جنګ جدل وي   پاک الله به ده دوي مل وي
بیا به جنګ وشي بي شانه   نمکه کښ دریم جانه
بیاده بل جنګ به بیناه وي   چه پرتو ره به ده سبیناوي

هوري

بیا بیت المقدس ته ځان خبر کړه بوالهوسه
دا ځو ځایه به امان وي له دجاله چه عیان وي
هر چه کهف ورد که کوره د جمعي پسحر وروره
له دجاله به امان وي چه فرمان به د سبحان وي

في الحديث من قرء سورة الكهف يوم الجمعة فهو معصوم ثمانية ايام من كل فتنة

بیا عیسی به له آسمانه ده دمشق ملک کښې جانه
ظهور وي کوي ناګاهه نماز دیګر به وقت دلخواه
چه مهدي به امامت که ده نمانځه به اقامت که

في الحديث فيما هم في الصلوة اذ بعث المسيح ابن مريم ونزل عند المنارة البيضاء شرقي دمشق بين يدي مهروذتين

ده مرغلرې بعصا وي چه پلاس کښې ده عیسی وي
پسې دجال ځیني فرار که چه عیسی پسې رفتار که
دي په زمکه فرمان وکه چه صورت خسف ده ده که

كل فتنة والدجال ثم عيسى السلام

مهروذتين

ده جاليان به تار پتار كه — ځوك به مره ځوك بفرار كه
ده اسلام دين به قوي كه — ورك به كفر گمراهي كه
خراني به نمايان وي — همه واره به عيان وي
بيا مهدي به خلافت كه — عيسي شغل د طاعت كه
ده ده شرع او س منسوخ دي — ده حضرت ده دين رسوخ دي

ثم ياجوج وماجوج ١٢

قصه ياجوج ماجوج

ده شمال پطرف وزوره — چه وتن ده تر كوگوره
دوه عظيم غرونه يادي بي — جور فلك وته رسيزي
يكبنس سد دي نمايانه — ده ياجوج ماجوج لميانه
ده ده طول دي او يا ميله — روايت بي قال قيله
دوسوگزه هم بلند دي — استحكام يه تير تر اند دي

في الاية اتوني زبر الحديد حتى اذا ساوى بين الصدفين ١٢

دوي بذات بني ادم دي — له اولاده ده ادم ده ي

واړه څو نسو زره واره | په تمام امت بسیاره
بل په عمر هسي پیروي | تر دوران ده عقل تیروي
زر په لونې وي دلبره | زر په زوي وي بد هنره
تر هغو په مرگ محال وي | اراده ده ذوالجلال وي
بل په قد دي نامعقول له | رب دي دوي که زر ملوله
څوک تر سل گزه کبیر دي | څوک یو لویشت قصیر دي
بل ده دوي غوږونه ورو | نهایت دي لوي هر کوره
یو لحاف بل په بستر که | څان لحوا به بهره ورکه
چه وفات حضرت عیسی شي | نو یاجوج ماجوج پیدا شي
هغه قول چه شهیر دي | او روځ په تاخیر دي
چه وقت ده را تلو را شي | اراده ده پاک مولی شي
هغه سد به دوي پاره که | بد رنگ شکل به ښکاره که
عالمونه به خراب که | کوه دشت به هم سیراب که
مگر څو څایه وای لا له | چه امان وه لد جا له
څلور کاله به فرش که | په عالم کښې به گردش که

فی الایة وهم من کل حدب ینسلون

دوي بغشي ولي الی الله — وفلك ته يك ساله
چه رعیت به موږ آسمان کړو — ملائك به فرمان کړو
خون الوده به راځي ساره ته — تعجب دي وداكار ته
چه مغرور دغه کفار شي — پري به قهر ده قهار شي
حواله به فرزند که — چه به قهره آواره که
هم واره به برباد که — بیا به دا حکم برباد که
هم دوي ورك کاندي یکسو به — خلاص که ملك لبده بوبه

ثم دابة الارض

قصه دابة الارض

بیا پدوي پسې به کوره — دا براشي رب دي رغوره
چه نامه یه جساسه دی — بدیه شکل سیاسه دیے
ده غوږکي شیان یه سرې دي — مخالف یه نور بشر دي
هم ده اوبس بخیریه غاره — اي مؤمنه پناه غواړه
هم ده اوبن خیري ورو به — هم دیپل غوبزونه کوره

ده دي لمر دمره پرنګ دي | نور لمره داهم رنګ دي
ده دابي ورکي جانانه | دولس ګزه نمايانه
هغه ګز چه ده ادم وي | هسي ندي چه به کم وي
بيا خروج ده دي مؤمنه | لصفا څخه واڅيه
چيه دري روځ سفر شي | ده دابي به ثلث بدر شي
چه تو له و وزي لغاره | و فلک ته رسي ياره

في الاية اخرجنا لهم دابة الارض تكلمهم ان الناس
كانوا باياتنا لا يوقنون

په اوه روځ به لا له | لجنبه تو شما له
لمشرقه تر مغربه | دا ګردش وکه طالبه
که کافر وي بي ايمانه | پناه غواړه له سبحانه
پر تندي يه نمايان شي | کاف نځاري دي چه عيان شي
که مسلم وي دل آرامه | دوه ميمان سين له لامه
پر جبين ده ده مرقوم وي | چه ايمان ده ده معلوم وي
يا پلاس ده دوي عصا وي | چه راغلي تر موسي وي

هم خاتم ده سلیمان دي | لدابي تحفه عیان دي
پرتندي ده کافر یاره | خاتم پوري که یکباره
پکښې د انخښه ظاهر وي | چه مکتوب هذا کافر وي
چه مسلم نیک خصلت وي | په عصایه اشارت وي

ثم طلوع الشمس من المغرب ۱۲

بیان شمس قمر

هم سپوږمي به لمغربه | راوخیږي اي طالبه
ده دوي شکل به بسکاریږي | نور به هم پکښې تاویږي

في الحدیث یطلعان من المغرب مکورتین کا الثورین فلا ضوء للشمس ولا نور للقمر و في

روایتین کالقرائتین ۱۲

دوي به راولي جانانه | ده فلك ته نیمه میانه
دوباره به روي گردان شي | عالمونه به ترسان شي
کافرانه به وه ویریږي | په اسلام به وه گرویږي
مسلمانان به شي تائبه | لعصیانه اي طالبه

کالقرائتین

کافراه

کافران به وي ملوله | چه توبه یه نا قبوله
ده توبي دریه بسته شي | ایمان کفر به ښکاره شي
ده عاصي توبه قبوله | رب دي تا نکه ملوله

فی الایة یوم یاتی بعض آیات ربك لا ینفع نفسا ایمانها لم یکن امنت من قبل او کسبت فی ایمانها

خبر الّا ۱۲

چه دا روخ شي تیره کوره | نمر به بیا رته ولاړ شي ورزوره
دي به خپل عادت دستور که | څوک ملك نفخه ده صور که
پدا میان کښ چه مهلت دی | سل شل کاله روایت دي

ثم رفع القرآن ۱۲

هم قرآن به څما کله | الله محوه که لد له
هیڅ سري به نه وي جانه | پدنیا کښ قرآن خوانه
که یحفظ کښ کامل وي | چه سحر پاڅي جاهل وي
هم ملك بته آسمانه | قرآن تول یوسي جانانه

فی الحدیث اقرؤا القرآن قبل ان یرفع فانه لا یقوم

الساعة حتى يرتفع ثم هدم الكعبة ١٢

قصه حبش ١٢

بیا حبش به شي غالبه | پر عرب باندي طالبه
چه مکه به که خرابه | پناه غواړه اي مهتابه
ده ایمان جوهر نفیس دي | په زوال ده ده ابلیس دي
هر مسلم چه ایمان داروي | بیا ایمان ده ده پکار وي
رد کفر دي پیر وائے | پتوحید دي الله ستائے
کوندي خلاص شي لرجیه | کپو هیږي اي فهیمه

اللهم انى اعوذ بك من ان اشرك بك شيئا وانا اعلم به واستغفرك لما لا اعلم به تبت عنه ورجعت و تبرءت من الكفر والشرك والمعاصى كلها واسلمت ورجعت الى الاسلام واقول لا اله الا الله محمد رسول الله ١٢ الله الركن الثانى فى الشريعة ١٢ ١٢

بیان شریعت

چه فارغ شوي له ایمانه | غافل مه اوسه نادانه

يرتفع

بندګي در لره بویه ‌ ‌ چه بنده ئي اي خوشخویه

خو د بو وصل شي لخدایه ‌ ‌ که طلب کړي دِلارایه

تر سبهر که نژدې وتاته ‌ ‌ طلب مکړه بله خواته

في الآية نحن اقرب اليه من حبل الوريد

چه وخدای ته څوک رسیږي ‌ ‌ لاري دري دي بیانیږي

اول منده شریعت دی ‌ ‌ چه راوړي پاك حضرت دی

لحرامه له حلاله ‌ ‌ لثوابه له اوباله

کیه فرض که واجب دي ‌ ‌ که سنت که مستحب دي

پهء واړه عمل کړه ‌ ‌ شریعت ده لاري مل کړه

بله لار ده طریقت دي ‌ ‌ چه دپر زهد ریاضت دي

ده دنیا لکاروباره ‌ ‌ اخسته ده لاس یکباره

شبخیزي نفلونه کوره ‌ ‌ لوږي تندي څماوروړه

في الحديث الشريعة اقوالي والطريقة احوالي

بله لار ده حقیقت دي ‌ ‌ چه ده کشف کرامت دي

چه لزهده ریاضته ‌ ‌ نور پیدا شي نیك خصلته

وو ښکاره وي دوه جهانه ‌ ‌ په صفا ده باطن جانه

قال عليه السلام لحارثة بن رضى الله عنه
انا مؤمنا حقا لكل حق حقيقة فما حقيقة ايمانك
يا حارثة فقال اسهرت ليلى واظمأت نهاري
واستوى لى من الدنيا ذهبها وفضتها وحجرها
ومدرها فكانى انظر الى عرش الرحمان بارزا و
اهل الجنة يتزاوران واهل النار يتعاودون و

فقال اصبت فالزم

ده شريعت مافي مؤمنه ‌ ‌ واوره لس اصله لر ينه
چه عمل ده ظاهر تن دي ‌ ‌ دي لا زم پر مردزن دي
چيه يو ځيني خطا كړه ‌ ‌ دغه كوتب هغه تالا كړه
لمونځ زكوة تلاوت دي ‌ ‌ روژه حج نصيحت دي
بل هم ذكر نيك خلقي دي ‌ ‌ بل روپيش ده پاك بني دي
بل معاش كره لحلاله ‌ ‌ بيا هاله طاعت كره لاله
چه شروط دي يا اركان دي ‌ ‌ يا په فقه كښ بيان دي

هیڅ حاجت نشته و ما ته — چه ونیم و کچا ته
پټ اسرار چه وي لدویه — کم ببش وائم خوش خویه

الاصل الاول في الصلوة ١٢

بیان نماز

کدي نمونځ که طهارت وي — واجب فرض که سنت وي
مستحب کیه اداب وي — موافق چه پر کتاب وي
چیه بنه وکړي مؤمنه — ده باطن صفا لرینه
سر یه دادي کیو هیږي — په ویل خما کړو هیږي
چه د تازه و صورت دي — یو لبله مرتبط دي
که ده خیر که ده شر دي — یو لبله یه اثر دي
یو مثال به ذره ته وائم — چه و تا ته یه وه نمائم
چه دي ذره پر چا شیدا شي — صورت هم یه مبتلا شي
صبح شام وي پطلب کښ — تل یه شور یه شغب کښ
وڅ شوند لیمه تروي — پطلب ده خپل دلبر ويي
رنګ یه زیړ لکه زعفران وي — وهر چا ته نمایان ويي

ستا زړه چه لتا سره صفا دي
کښنا نشته بيا صورت دي

ده صورت هم هسې جوړ دي | په باطن کښې په اثر دي
خيرې کوره و هوښيار ته | ده چشمانو وه خمار ته
ښې خوزې خوزې خبرې | که لتا سره نادرې
آخر زړه ستا مبتلا که | چه صورت الفت پيدا که
ده دين هم دا هسې چار وي | يو لبله په انوار وي
که ده تن پاکي خوک وه که | په باطن کښې اثر نه که
يا بشه نمونځ وکه دلبره | زړه يه نشي منوره
د انقصان دي په ادب کښې | په سنت په مستحب کښې
يا ده زړه چشمان په کوږ وي | ده دنيا په حب مسرور وي
چه په ذکر نور اشغال که | ده باطن حواس کلال که
کيه شغل ده طاعت وي | دير يه زهد رياضت وي
دي اسرار وينې عيانه | په دنيا کښې اي جانانه
که مخفي پاته لپا شي | چه رحلت يه له دنيا شي
خو دو ده ته بنکاره شي | چه ده تن حجاب پاره شي
کچوک ولاړ پر شريعت وي | پر سنت ده پاک حضرت وي

لکه څوک چه سخت بیمار وي … په وجود کښ یې آزار وي
ده حکیم کولې وشو مې … دې لړ نخه شفا مومې
پروت وي دې بجهالت کښ … ده دوا په طبیعت کښ
چه دا خوښک دې اوکتر دې … ده شفا یه کوم اثر دې
دا اګر مې دې که سر دیدې … چه ده رنځ مې بهبود دې
یو مثال دې مالیده لې … پر نمانځه پوري راغلې
زه یه کښم لا ربعینه … کاور کوي مؤمنینه
لکه تن چه ده انسان دې … یو یه روح او بل یه ځان دې
تن جسد اندامونه … یو زه ستر ګې هم غوږونه
رب جوړ کړي پښان شان دې … یو لبله نمایان دې
ده نمانځه دا هسې شان دې … یو یه روح او بل یه ځان دې
چه قیام او سجود دې … ده نمانځه تن وجود دې
ده رکوع سجدې اساس دې … لکه سر پښې او لاس دې
چه ده دوي کمال آرام شه … دا یه حسن ده اندام شه
بیا تومه و جلسه کوره … لکه غوږ و ستر ګې وروره

کدي لمونځ پکار دي فرض و — احتیاط ته کوه هر گوره

مکړه غلا په خپل طاعت کښ — بیا کړه طمع په جنت کښ

في الحديث اسوء الناس سرقة من يسرق من صلوته
فقالوا كيف يا رسول الله فقال ان لا يتم ركوعه و

بیان حضور — سجوده ١٢ — ~~خازن~~ ١٢

روح یه نیت او په حضور دي — بي حضوره نا منظور دي

په لمانځه کښ فائده نوي — چه د حضور قاعده نوي

لکه مړ پر غاړه بار وي — سړي لا پر خوار و زار وي

في الاية اقم الصلوة لذكري وفي الحديث لا صلوة
الا بحضور القلب ايضا لا يحضر الرجل فيها قلبه

مع بدنه ١٢

چه زړه په څه مسرور وي — د دنیا په حب مخمور وي

سود یه نشته څما جانه — په لمانځه کښ بي نقصانه

د ده لمونځ د ه بي اودسه — دي جنب دي بوالهوسه

لکه مست چه په شراب وي — په لمانځه کښ په عذاب وي

الصلوة لا ينظر الله الى صلوة

في الاية ولا تقربوا الصلوة وانتم سكارى

بل مثال ده نمانځه وروند ❀ زخيري راوړي به کوره
پادشاه ده روئ جهان وي ❀ ده ده ډير جود احسان وي
دي وچا ته پيغام وکه ❀ هم وعده ده انعام وکه
که يو ښه زيبا غلام وي ❀ ده ده زيب زينت تمام وي
هم عاقل هم بينا وي ❀ په اندک رموز دانا وي
څوک پيدا کړه که څما ده پاره ❀ زه به ډير يم منت باره
مقرب به ده درکړم ❀ پري انعام به سيم زر کړم
و خدمت ته څوک تله که ❀ الترام ده غلام وکه
شب روز وي په طلب کښ ❀ پخواري په تعب کښ
چه حاضر شي و سلطان ته ❀ غلام راولي ميدان ته
بي له روحه چه مرده وي ❀ بي له سره پا سقطه وي
دست پا يه وي خرابه ❀ کوڼ کړوي لا جوابه
عقل نه لري ابتر وي ❀ په عوز وکښ په وقر وي
کوم به سود لدا خدمته ❀ بي افسوسه ندامته

شاه وده ته په غضب وي — په لقهر مضطرب وي
په تدبیر کښې ده سزا وي — چه کړیه استهزا وي
ځان زهیر که په خدمت کښې — شي ده شاه په غرامت کښې
ده ده طمع ده احسان وي — چه احمق او نادان وي
حضور دادي اي دلبره — رب دي تا که بهره ور
چه څوک نمونځ ده اهښي شان که — پاک الله حاضر عیان که
ماسوا ورک که لمیانه — هاله راز که لسبحانه
کدانکیزي له چانه — کم تر دا مشته نادانه
چه ورب ته ته حضوري — په حجاب کله مستوري
فراموش د ځان جهان وي — چه د راز ده پاک سبحان وي
یا ولاړ وي دي خاموشه — لحیرته یه مدهوشه
عاجزي کړه په حال کښې — په اقوال په افعال کښې
که رکوع پیر کوزي کړي — پټ په زړ کښې عاجزي کړي
بیا چه سر پسجده کښېږدي — لهیبته ده رب دیږدي
چه زه خوار عاجز بنده یم — لګناهه شرمنده یم

ماسوي ورك كړه لد له
چه إِنِّي وَجَّهْتُ وائي كله

چه پزره يه ماسوي وي
دروغ گوي او بي نواوي

چه پژبه يه تكبير ويے
ماسوي درته حقير ويے

كه امير وي كه پادشاه وي
په نظر دِي لكه كاه وي

چه الحمد وائي جانه
مدحه مكړه لسلطانه

رب العالمين وايه پژبه
پزره دا لره طالبه

مربي مي پاك الله ديے
سر كوزي ده بل تباه ديے

في الحديث الصلوة تمسكن وتواضع ١٢

دا يومشت دي لخړواره
نمايان يه مكړه يا ره

همكي پردا قياس كړه
لري وهم او وسواس كړه

هرچه نمونځ يه پداشان ده
هغه كس شاه شاهان ده

لده نكيږي هيڅ كله
كناهونه خما دله

في الاية إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ١٢

هم ده خداي پدر قبول وي
والله تيه وصول وي

دا ده هر بنده معراج دي
روايت چه پدا باب دي

حدیث الصلوٰة معراج المؤمن ۱۲

بې حضوره لمونځ باطل دی | رواج نلري عاطل دی
په صحت کښې یه فساد دي | ده قیامت پورې کساد دي
لکه څوک چه ته بازاره | ده سودا او سود ده پاره
په کیسه کښې ده ده پول وي | دي احمق او جهول وي
هغه وار په قلف مردود شي | نه سودا او نیه سود شي
یا توبه ده ده بادام وي | کوه دشت ده ده مقام وي
کوم یه سود ده خالي پوست وي | چه بادام ده نه وروست وي
وزي یا ته شي محروم مه | بتوبه ده ځان مغموم مه
ته حضور کړه دِل آرامه | لتکبیره ته سلامه
کښې بعض کښې حضور وي | بعض یا ته نا منظور وي
قضائي ده فریضه کړه | ته پنفل جبیره کړه
چه وسواس دکثیر نشي | تَل د ځان په زهیر نشي

فی الحدیث لا یصلی بعد صلوٰة مثلها ۱۲

کډي نفل په خلل شي | بې حضوره معطل شي

ده غه هومبره نفل بو یه | کهرڅو یېر وي خوشخو یه
کیه جمع ته حضور کړي | خپل نقصان به پهجبور کړي

في الحديث ان العبد يصلى الصلوة فانما يكتب

ما عقل منها ۱۲

دا یو اصل ما بیان کړ | په نمانځه کښې مي عیان کړ
په هر ځاي کښې یه جاري کړه | فهم بو یه بیداري کړه
چه نور اوقات غفلت وي | حضور کله ده طاعت وي
چه حضور یه هم عادت شي | دیچا خویو نسه خصلت شي
چه دوام پخوله ذاکر وي | په باطن رب ته حاضر وي
پحضور خوراك اب که | حاضر پاڅي حاضر خواب که
تمام تن وجود یه نور وي | عبادت یه پحضور وي

الاصل الثانی فی الصدقة ۱۲

بیان صدقه

بل هم مال سندل دلداره | همیشه ده خداي دیاره
که واجب پر تا زکوة دي | که زیاتي نفل خیرات دي

فی الآیة والذین یکنزون الذهب والفضة ولم
ینفقونها فی سبیل الله فیحمی علیها فی نار جهنم
فتکوی بها جباههم وجنوبهم ۱۲ فی الحدیث هلك
الاکثرون الا من قال بالمال هکذا او هکذا ۱۲

سریه دادي اي دلبره | رب دي تاکه بهره وره
مال ده هر سړي مرغوب دی | هم مطلوب دي هم په محبوب دی
چه معاش وار په مال وي | په نیستي سړي ملال وي
هم د رب منل اي ورور | پر بنده واجب دي گوره
که مصداق یه ده ایمان وې | که دانه وي بي ایمان وې

فی الحدیث لا یکمل العبد حقیقة ایمانه حتی یکون
بیان الله ورسوله احب الیه من نفسه وماله

په اخلاص چه مسلمان وې | حب د خدای په صد چندان وې
مال ځان په تول ترشا وي | په مولی چه څوك شیدا وي
ده مال باسي زکوتونه | تل مدام کړي خیراتونه
چه راضي بخیل خالق شي | دوي همیشه کښ صادق شي

فی الحدیث

في الحديث الصدقة تقع في كف الرحمان ١٢

څوك منع د زكوة كه ⁂ نه سخا و نه خيرات وه

وهغو ته مال مرغوب وي ⁂ تر الله يه دي محبوب وي

هغه يار چه و زړه تير وي ⁂ نور ياران تر پوري هير وي

شرمنده وي تر خداي پوري ⁂ روايت دي كيه گوري

چه حيله كړي په زكوة كښ ⁂ سود يه نوي په خيرات كښ

تش قالب دي بي لساهه ⁂ دا دنيا يه شوه تباهه

دي لئيم ده خداي دشمن دي ⁂ چه په جب كښ دروغژن دي

ده خيرات دي څو شرطونه ⁂ واره زده كړه اي ميمونه

اول خيرات نه پټ پغلا كړه ⁂ په رضا يه ده مولي كړه

يو به خلاص شي جانانه ⁂ ده مولي لقهره مانه

بل به عرش پر تا سايه شي ⁂ پر عالم چه شراره شي

في الحديث ان صدقة السر تطفي غضب الرب
والذي تصدق بيمينه بحيث لا يعلم شماله احد
السبعة يظلهم الله يوم لا ظل الا ظله ١٢ ١٢

بل چه پټ پنهم خیرات وي — لږ یا بدي نجات وي

چه شي ځاي ده سري قبر — لدنیا شي ده ده صبر

ده لږم بصورت ګوره — ده ده بخل شي اي وروره

هم ریا لکه تورمار وي — چه پرده یه تل ګذار وي

چه خیرات یه پر ریا شي — تور مال ده هغو دا شي

چه حلال یه دا لږم کړ — د خپل ځان ځیني بیغم کړ

یا لقمه یه کړه تیاره — ده تورمار وخوله ته یاره

چه قوي یه هغه مار کړ — خپل صورت یه خوار زار کړ

سود یه نشته بي لږیانه — که لږم وړني نادانه

دوم مکره منتونه — که هر څو کړي خیراتونه

مه دیچا پدا ازار کړي — چه خیرات پرچا شمار کړي

في الاية ولا تبطلوا صدقاتكم بالمن والاذى ۱۲

لفقیره منت بویه — چه پرتا یه کړي خوشخویه

لکه رنځور دیچا صورت وي — یا علاج یه حجامت وي

که وینکښن دخداي ده پاره — حجامت وکه اي یاره

دي لرنجه صحت مومي | خوشحالي ده فرحت مومي
منت باره دجام وي | دعاگوي په صبح شام وي
ده باطن داهسي شان دي | چه علاج ده ده احسان دي
چه قبول دِ تاز کوه که | یا احسان یا به خیرات که
بخل ستا بدل په جود که | په قبول دي پاك وجود که
دریم مال دستا حلال وي | چه رضا ده ذوالجلال وي
چه خیرات که له حرامه | سود په نشته دل آرامه
تش ده ده غاره خلا سیبزي | که څښتن ته نرسیږي

ولا تیمموا الخبیث منه تنفقون وفي الحدیث ان
الله طیب لا یقبل الا طیبا ١٢

څلورم ته پناز یزه | چه خیرات کوي سیزه
ته خفه وو غمکین مشه | لحاغو ته جبین مشه
بودرم چه بخندان وي | برضا ده پاك مولي وي
داترسل زره بهتر دي | چه ثواب ده ده بیشتري
چه ترش رویه وي غمکینه | بخیرات کښ اندوه کینه

في الحديث سبق درهم الف مائة درهم ١٢

چه قوت د بینوا طعام وي — په بندګي کښې د رب رام وي
پنځم خیرات کړه و صالح ته — خواري ور کړه و طالح ته
خصوصًا چه دې قریب وي — عیال منده او غریب وي
یا به ستا جامه پر تن وي — کڅه مرد وي کڅه زن وي
ستا هم بخره د ثواب دي — روایت چه د کتاب دي
که ګناه د لا شریك که — تا به هم بخان شریك که

في الآية وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان وفي الحديث لا تأكلوا الطعام تقي ولا تأكل طعامك الاتقياء ايضا فيه واطعموا الاتقياء واولوا معرفكم ١٢

بیان سخاوت

بیا سخیان دي پدري رنګه — ګناور کوي پر هنګه
چه د رب د در خاصان دي — د دي بحر غواصان دي
یو کم وي کیه بیش وي — همه واره د درویش وي
لکه پاك صدیق اي یاره — چه حضرت ته یکباره

مال ملک یه تول انعام کړ — بیا رسول چه دا کلام کړ

دادي راوړو میدان ته — کوږدي څه پریښو وځان ته

ده وي پاک الله مي پریښو — مال مي تول وتا ته کښیښو

میانه روهغه ده یاره — چه کل نښندي یکباره

پوره باسي زکوتونه — زیاتي نفل خیراتونه

څه سلتي ورته ناظر وي — چه فراغ یه ده خاطر وي

یا خوراک یا کسوت شي — دي قوي پر عبادت شي

یا ده دي ده یاره جانه — چه محتاج شي نما یانه

پري به جود احسان وکړم — چه حاجت دفع ده کړم

في الاية ولا تجعل يدك مغلولة الى عنقك ولا تبسطها كل البسط ايضا فيه يسئلونك ماذا ينفقون قل العفو ١٢ ~~صاحبه سيد رحمت ١٢~~

چه ادني وضعیفان دي — خپل مالونه باندي ګرځان دي

نه نقصان که پر زکوة کښي — نیه لاس یه بل خیرات کښي

کیه مال نوي فقیر وي — بخیرات یبي زهیر وي

بنایسته خوږي خبري — چه لږ روڼه که غم لري
یا زهیر لحوك صورت که — دي ده بل مؤمن خدمت که
یا پښتنه ده رنځور که — جنازه ته ځان حضور که
نصیحت کاندي وچا ته — تول حساب دي لخیرات ته
روایت دي لحدیثه — کیا ورکوي انیسه

الاصل الثالث فی الصیام

بیانِ روژه

بل روژه نسه اي ورروه — چه دي رب خلاص که له اوره
دا زوال ده هر شهوت وي — دروازه ده عبادت وي

فی الحدیث خصاء امتی الصیام ایضا فیه لکل شئ

باب وباب العبادات الصوم

سریه دادي اي دلبره — رب دي تا که بهروره
چه تن روغ شکم یه سیروي — پاك الله ده سري هیروي
زره یه تخت سریر غواړي — هم دِباج حریر غواړي
نه بوستان عمارتونه — تور سترګي شنه خالونه

دایمه

دا یه فکر صبح شام وي | نیه دین نیه اسلام وي
چه شیطان غوندي دشمن دی | دي داخل ده ده پتن دي
هر چه وینه حلول کاندي | پهغه ځاي کښن دخول کاندي
چه داخل دي چا پتن شي | ده ده خپل د زړه وطن شي
کل اقلیم ده صورت جانه | ابلیس خپل کړه لا نسانه
تل عصیان تل په ګناه کړي | عزیز عمر په تباه کړي
غافل مشه لغلیمه | لا ریه بنده کړه فهیمه
لز خوراك ده ځان هنر کړه | وینه وچه ده بشر کړه

في الحديث ان الشيطان يجري من بني ادم مجرى الدم

فضيقوا مجاريه بالجوع ۱۲

داهم زده کړه اي خوش رنګه | چه روژه کړه پدهري رنګه
چه افضل او بهبود دي | هغه صوم ده داود دي
ن روژه صبا افطار وي | دا ئمایه ده غه کار وي
که روژه یه کال سر وي | تر هغه هم دا بتر وي

في الحديث لا صوم ولا افطر قاله حين قيل له عليه

الشاذ من فلان يصوم الدهر

سِرَيه دادي کپو هيبزي … په ويل څما کړو هيبزي
چه روژه يه تل عادت شي … دَامزاج يه طبيعت شي
نيه نفس په زهيروي … نپه ده کښ يه تاثيروي
نيه کسر ده شهوت وي … نده نفس کدورت وي
لکه څوک چه تل دَوَاخوري … پر مقام يه دَغِزاخوري
بيا د رنځ ده پاره کوره … دي هغه دارو که وروژه
نيه سود نيه پايده وي … ده حکمت يه داقاعده دي
مختلف دارو پکار وي … پصورت کښ يه اثار وي
ميانه رو هغه مؤمنه … چه اته مياشتي يه خورينه
بيا څلور مياشتي دِ لداره … څان نګاه کړه له افطاره
چهارشنبي پان شنبي جانه … کړه حساب لر رمضانه
په کامِل به دَا حساب شي … ستا يه بخره يه ثواب شي
چه اذني ده صعفان وي … په همت کښ يه نقصان وي
روژه دار په رمضان وي … نور په شغل اېنان وي

ضعفان

بطاعت

پطاعت کښې همت بویه ‌ ‌ ځان ناقص مکړه خوشخویه
خصوصًا روژه دلداره ‌ ‌ چه ثواب لري بې شماره

في الحديث الصوم لي وانا اجزي به

دري هم نور قسمونه کوره ‌ ‌ ده روژي راغلي وزوره
یو ده عام بل ده خاص دي ‌ ‌ بل روژه ده خاص الخاص دي
ده عامي روژه مهتا به ‌ ‌ له خوراك وي له آبه
احتراز که لجوماعه ‌ ‌ ځان نګاه که لو قاعه
تل بخوله ده ده غیبت وي ‌ ‌ پوچ ګویي او فضیحت وي
په ګناه بسي به شوري ‌ ‌ هم پرده ي عورته کوري
خوله تر لي ګاو خروي ‌ ‌ په روژه کله خبروي
چه خواص روژه لرینه ‌ ‌ لګاهه ځان ساتینه
نه بخوله دیجا غیبت که ‌ ‌ نه پلاس به پښو ذلت که
نه نظر که ده چشمانو ‌ ‌ وطرف ته ده زنانو
هر اندام ده ده صائم وي ‌ ‌ ده طاعت پر لور قائم وي
چه خبر شي له ګناهه ‌ ‌ دوي روژه کېني تباهه

بیا قضا لازم پر ځان که | چه رضا ده پاک سبحان که
خاص الخاص چه روژه دار وي | دوي ده زړه و نو چوکیدار وي
ساتي ځان لغیره فکره | هم زبان لبده ذکره
بحضور کښ تل مدام وي | دا یه شغل صبح شام وي
چه ده غیر فکر جانه | بخاطر لري پنهانه
دوي قضا لازم پر ځان که | تدارک ده خپل نقصان که
دا هم زده کړه اي صنمه | کوندي خلاص شي لما تمه
چه بسیار یه آب خور وي | آدم ندي کاو خر وي
که طعام وي که ثمر وي | په تکرار کښ یه ضرور وي

في الاية كلوا واشربوا ولا تسرفوا ١٢ ٥ ١٢

پدستور چه ده بشر خوري | یو وار شام بیا سحر خوري
پروژه کښ ته یو ځله | ځان سیراب کړه ځما دله
دا یو وار قبل سحر خوره | پر سنت ده پیغمبر خوره
په نماشام ځني افطار کړه | حریص نفس پر قرار کړه
چه ځان سیر کړه پدوه واره | دا روژه ندي دلداره

نهري بدل په سحري شه لصيامه فراري شه
که نماښام دا هومبره ډیر خوري چه ده دو وقت ېخير خوري
ده روژي سر يه باطل کړ يو په بله يې داخل کړ
خلاص به نشي لشيطانه څو ضعيف نشي جانانه

الاصل الرابع فى الحج

بيان حج

حج هم فرض ده ايمان دي چه لازم پر مسلمان دي

في الاية ولله حج البيت من استطاع اليه سبيلا

چه لحجه روي گردان وي په ايمان کښې يې نقصان وي

في الحديث من مات ولم يحج فليمت يهوديا
او نصرانيا

اوّل مله پيدا پر لار کړه صلحا و تقوي دار کړه
څو دي ښې رسيږي ياره لبدا نوخه کناره
بل خرڅي کړه له حلاله حج ها له کوه اي لاله
خلاص کړه ځان ته و زيارت ته مکړه قصد و تجارت ته

علی الناس

چه خاطر دې پرېشان نه وي | ستا به هیڅ کښ نقصان نه وي
بل سخا کړه په طعام کښ | هم بزمي کړه په کلام کښ
لا یعني پرېږده جانانه | جنګ جدل مکړه لځانه
صبح شام کړه په خوله ذکر | په باطن د الله فکر
په فکر اندیښنه شه | بیا الګوره بې رونه شه
چه د ژوند فراق مې دا دې | د قیامت فراق بخوا دې
چه سفر کړه و عقبی ته | کور کلي به شي پاته
د احرام لباس په تن کړه | بیا الحاظ د خپل کفن کړه
د جنازې فکر وسواس دې | چه سوارې د او بن داس دې
چه بیابان دې کور وطن وي | خالي ځای دې تا مسکن وي
خالي ام اوسه بې نیازه | ته د قبر له الحاظه
چه درېش غل رهزن شي | په لړزه دې تا بدن شي
ته غافل مشه اې لا له | د نکیر منکر لسواله
چو پېژنه کښ عرصات کړي | بیا خاته د عرفات کړه
بل زیارت د مصطفی دې | چه د زړه صیقل صفا دې

هم وجود ده شفاعت دي | خوشنودي د پاک حضرت دي

في الحديث من زار قبري فكانما زارني ومن
زارني وجبت له شفاعتي ١٢

بل زيارت کړه ده نيکانو | ده ژوندو ده مړدګانو

في الحديث ان احوال العرش منابر من نور عليها
اقوام لباسهم من نور ووجوههم ليسوا بانبياء ولا شهداء
يغبطهم النبيون والشهداء فقالوا يا رسول الله صفهم
لنا فقال المتحابون في الله والمتجالسون في الله و
والمتزاورون في الله ١٢

بل سفر کوه طالب شه | ته وعلم ته راغب شه
ګرد آلوده چه پړد الا روي | ده ګناهه استغفار وي

في الحديث من اغبرض قدماه في طلب العلم
فقد وجبت له الجنة ١٢ الخامس في التلاوة ١٢

بيان تلاوة قرآن ١٢

ده قران لتلاوته | غافل مشه نيک خصلته

من نور

الاسفل

۱۳۷

هر چه ډیر ډیر تلاوت که | ده هغو به شفاعت که

في الحديث ما من شفيع افضل من القرآن يوم
يوم القيمة لا نبي ولا ملك ١٢

چه قرآن لولي اي دله | دي به اور کښ سوځي کله
دوزخ هم ځیني لرزان دي | چه کلام ده پاك سبحان دي

في الحديث كان القرآن في اهاب ما مسّه النار ١٢

ډیر ادب احترام کړه | تلاوت بیا ده کلام کړه
ځاي تن جامه کړه پاکه | له نجس له خاشاکه
خوشبوئي پوري پخان کړه | ښایسته عطر ریحان کړه
مخ پر قبله دو زانو یاره | تلاوت کوه دلداره
کښاته کوره وقرآن ته | نظر کړه ځان جهان ته
تلاوت چه پقیام وي | په نمانځه کښ ستادوا موي
پهر حرف بد جانانه | سل نیکي وي لرحمانه
که الف وي کدي باوي | کدي ت وي کدي ثاوي
ده هیڅکي ئي حرف انیسه | روایت دي لحدیثه

کدیه

که په ناستي دي صلوة وي | نور بنځوس په حسنات وي
بې نمانځه چه لولي ورور | ته بنځه ویشت نیکي گوره
کډ کړي طهارت وي | په پاکي ئي ستا قرئت وي
کید لوست په ناپاکي کړي | که وړ شي بې پاکي کړي
لس نیکي ده دړي مهتابه | خالي ندي له ثوابه
که په پړو وت بي ادبه | قرآن لولي بې تعبه
هم خالي نده لفضله | کباور کوي ذوا الفضله

في الاية ان الذين يذكرون الله قياما وقعودا وعلى جنوبهم

هرګز لاس مزده اي ورور | چه محدث جنب ئي گوره
هم بحيض په نفاس کښي | قرءان مه اخله پلاس کښي
مکروه نده چه غلاف وي | کشاده وو متجاف وي

في الاية لا يمسه الا المطهرون ~~صاحب سيد~~ رحمت

مه بتعجيل مه تلوار کړه | پلوستو کښي په مدار کړه
زور زير شد مد گوره | اخفا اظهار غنه ورو ره

مخرج کښې د حرف پاره — فهم ډېر کوه بې شماره
چه حروف په بدل نشي — په معنی کښې خلل نشي
لکه صاد او سین او ث وي — یا به ذال ظا و ز وي

فی الایة ورتل القرآن ترتیلا

ده قرآن ختم خوشرنګه — قاریان په پدري رنګه
څوک په میاشت ختم کوینه — څوک په دري روځ موئینه
میانه ره ختم اخراب دي — چه په ده کښې ډېر ثواب دي
په هفته کښې چه یو ځله — ده قرآن ختم کاندي دله

فی الحدیث خیر الامور اوسطها

کم لد رو روځو عذاب دي — روایت چه بد اباب دي
اس ده عقل یکښې لنګ دي — افلاطون پدا کښې ګنګ دي
دا اسرار الهي دي — معلوم کړي یا ک نبي دي
سر په دادي کپو هېږي — په اندک رموز کړو هېږي
ترحد تیره چه دوا شي — ده رنځور پخان بلا شي
پرېردا رو ده سري سم وي — عزیز عمر په برهم وي

مخرج پاره

په قدر چه ځوك دوا كه | ده رنځوره صورت شفا كه
د باطن هم دا مثال دي | چه بي قيل هم بي قال دي
ده قرآن چه پټ اسرار دي | عارفان پري خبردار دي

في الحديث نزل القرآن على سبعة احرف لكل آية منها ظهر وبطن ولكل حرف حد ومطلع ١٢

نه اوس دا الحاظ كړه جانه | چه زه راز كړم لسبحانه
دا ده پاك الله كلام دي | ده عاجز بنده پيغام دي
نور په زيانه تر آفتاب دي | پټ ده لفظ په حجاب دي
بي حجابه كه ښكاره شي | اسمان زمكه به پاره شي
لكه ښكاره چه الله نور كړ | تار پتار په كوه طور كړه

في الآية فلما تجلى ربه للجبل جعله دكا وخر موسى صعقا ١٢

زره لغيره فكر خلاص كړه | بيا قرآن نور ته پلاس كړه
پر سينه پر سر په كښېر دي | لهيبته ده ده ريز دي
په گفتار ده ده عمل كړه | ته قرآن ده لاري مل كړه

عکرمه چه اصحابي وه | دي مخلص ده پاک نبي وه
چه خبر یه بعظمت وه | ده قران پکرامت وه
چه به خلاص شه لقرانه | بي هوښي به شوه عیانه
ده بناري کړه پزور ه | بیا بي هوښه بشه وروره
بمعنی کښ فکر بویه | چه قران لولي خوشخویه
چه معني یه ملحوظ نوي | تش ده لفظ حظوظ نوي

في الاية فلا يتدبرون القران ام على قلوبهم اقفالها وفي الحديث اقرؤا القران والتمسوا غرائبه وقال علي رضي الله تعالى عنه لا خير في عبادة

لا فقه فيها ولا قراءة لا تدبر فيها

لحوک یو آیات تکرار که | هم یه شام هم یه سحار که
تر تمام ختم بهتر وي | لمعني چه بهره ور وي
څکه پاک رسول سل څله | بسم الله تکرار ه وله
روایت له ابوذر ه | چه لشامه تر سحره
هغه پاک رسول گرځان که | دا آیات یه ده قران که

اغرائبه

فی الآیة ان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفرلهم

فانك انت العزیز الحکیم ۱۲

موافقت ده دل جان کړه | هیا شروعه ده قرآن کړه
که ثواب جنت مذکور وي | ستا پزړه کښ ده سرور وي
ده عذاب په آیات لاله | ستا خاطر بو یه ملاله
که بیان وي لعظمته | ځان عاجز کړه لهیبته
ستا رجا بو یه غالبه | چه غفران لولي طالبه
ده سرور بو وقت کښ ژاړه | لعذابه پناه غواړه

فی الحدیث اتلوا القرآن وابکوا فان لم تبکوا

فتباکوا ۱۲

که سخت دل وي هر کوره | ژړه ولدي که پزوره
دادي لوي بدبختي ده | چه پزړه کښ دي سختي ده
ده حیا بو وقت کښ ووره | په جبین کښ عرق کوره
که قصه وي ده کفار | ده بدین ناپکاره
چه شریك ده الله ستائي | یا یه زوئي لولي وائي

ته خفه داخپل آواز کړه | بیا ته نن ده رب الحاظ کړه
هغه بد ده گفتار ه | چه کفار یه کوي یاره
تلاوت چه پداشان وي | هغه کړ په کاملان وي
چه پژبه یه گفتن وے | په شریکه په زړه تن وے
بل قرآن څخو یاد کړه | ته پحفظ زړگي ښاد کړه
ده عذاب تخفیف ده یاره | ستا لموره هم لیلاره
که مسلم وي که کفار وي | چه لائق ده سره انکار وي

في الحديث فيه تخفيف العذاب عن الوالدين وانكان مشركين ۱۲

بیا یه هیر مکړه هیڅ کله | ډیر گناه لري اي دله

الاصل السادس في الذكر ۱۲

بيان ذكر ۱۲

بل هم ذکر کړه جانانه | کوندي خلاص شي لنیرانه
کیاري غواړي لخدایه | مدام ذکر کړه خود رایه
پاک الله بدي پرچار وي | څودِ تا شغل اذکار وي

فی الحدیث انا عند ظن عبدی و انا معه متی ذکرنی ۱۲

چه ذاکرِ شام و سحر وي | تر غذا هم دا بهتر وي
هم بهتر لسخاوته | کوهيږي نيك خصلته

فی الحدیث لذکر الله بالغداة و العشی افضل من حطم السیف فی سبیل الله و اعطاء المال سحا ای واسعا ۱۲

هيڅ بهتر نشته طالبه | يو تر زړه وو بل تر ژبه
په ژبان چه څوك ذاکر وي | هم پزړه کښ دي شاکر وي

فی الحدیث خیر المال لسان ذاکر و قلب شاکر ۱۲

الاصل السابع فی طلب الحلال ۱۲

پس لفرض فرض کوره | ده حلال طلب و ږوره
چه اول فرض اسلام دي | بيا حلال کسوت طعام وي

فی الحدیث طلب الحلال فریضة بعد الفریضة ۱۲

بیان حرام ۱۲

که حيا دي شي لخدايه | حرام مخوره دِل آرايه

تابه وګړولي ته اوره | ګرڅي بڅان پکښن خمسوره
طاعت کله شي لچا نه | چه حرام خوري ئماجانه

في الحديث من نبت من السحت فالنار اولي به ١٢

چه حوارُ بشو یه وي کړ | غنم نه ربي دِلبر
که تکلیف کوي لڅانه | برابر وي لعصیانه
نه اخلاص نیه شوق وي | نه لذّت نیه ذوق وي

في الاية کلوا من الطّيبات واعملوا صالحا ١٢ ١٢

عبادت یه نا قبول وي | یه حرام چه مشغول وي
نه فرض یه څه آب وي | نه نفل یه ثواب وي

في الحديث انّ الله نزل ملکا على بيت المقدس
ينادى كلّ ليلة من اكل حراما لم يقبل الله صرفا ولا
عدلا اى فرضا ولا نفلا ١٢

که پلس دراهم یاره | خوك جامه کاندي تیاره
پکښن یو درهم حرام وي | عبادت یه ناتمام وي

في الحديث من اشترى ثوبا بعشرة دراهم وفي

ثمنه درهم حرام لم يقبل الله تعالى صلوته مادام

عليه شئ منه ۱۲

كڅوك نفل بې پايان كه — قامت خم لكه كمان كه
هم له پر روژو كړ نك شي — ده لندي ده ژي پرنك شي
سو ديه نوي دل آرامه — څو پاك نشي لحرامه

قال عبد الله بن عمر رض لو صليتم تكونوا كالحنايا وصمتم
حتى تكونوا كالاوتار ما يقبل الله ذلك منكم الا بورع

حاجز ۱۲

كه څلوېښت روځ صبا رشي — لحرام نه كنار شي
داستا زړه به منور شي — په لسان بدي اثر شي
تل بكړي خوږي خبري — ده حكمت كښلي نادري
ده طاعت لذت بموي — ده اخلاص شراب بڅوي

في الحديث من اكل الحلال اربعين صباحا نور الله
قلبه واجرى ينابيع الحكمة من قلبه على لسانه

بيان تقوى ۱۲

بیا تقوي پخلو رنگه | دا هم زده کړه اي فرهنگه
ده عوام تقوي دا وي | چه عمل یه په فتوي وي
ده ملا وخوله ته رام وي | که حلال وي که حرام وي
روایت چه ورپیدا شي | تصلي ده دوي پیدا شي
دا تقوي ده صالحانو | لشبهي څخه یارانو
چه تش وهم ده تحریم وي | لهغه کاریه بیم وي

في الحدیث دع ما یریبك الی ما لا یریبك ۱۲ کاتبه رسول بابا

دوي فتوي غواړي لخانه | لمفتي وي دوگردانه
ده مفتي پنږد حلال وي | وصالح وته وبال وي

في الحدیث استفت قلبك وان افتاك المفتون ۱۲۱۲

لطیبه له حلاله | متقي پرهیز که لاله
لحلاله اجتناب که | وخپل نفس ته عتاب که
چه نفس غالب نشي | ده حرام طالب نشي
نفس سرکښ دي اي دلبره | واکي مه پریږده یکسره
اموخته چه پخو نبي وي | نو عادت یه په سرکښي وي

في الاية

في الاية ونهى النفس عن الهوى فان الجنة هي
الماوى وفي الحديث لا يبلغ العبد درجة المتقين
حتى يترك ما لا باس به مخافة ما به باس ۱۲ ۰۱۲

ده چشمانو نظر زغوري ❁ ده دنيا زينت نه كوري
نه بنه آس عمارتونه ❁ نه لباس نه نعمتونه
كه بوستان كه سيم زروي ❁ پر حرام ده دوي نظروي

في الاية ولا تمدن عينيك الى ما متعنا به ازواجا
منهم زهرة الحيوة الدنيا ۱۲

چه نظريه پر زينت وي ❁ نيه ذوق نيه لذت وي
لطاعته له ايمانه ❁ كاوركوي جانانه

في الحديث لا تنظروا الى اموال اهل الدنيا فان بريق
اموالهم يذهب بحلوة ايمانكم ۱۲ صاحبه آخوزاده

ده صديق تقوي هم داوي ❁ چه هر كار ده لله وي
كه لباس كه اب خور كه ❁ دوي پر دا باندي نظر كه
چه قوي پر عبادت شي ❁ پر بندگي پر طاعت شي

کمقصود دې چا لذت وي … له لباسه یه زینت وي

یا روېش ده کاوخر که … بي لګکره اب خور که

ده عارف پنز د حرام دي … مختصر ګناه کلام دي

في الحديث الدنيا ملعونة وملعون فيها الا ما كان لله تعالى ١٢

حکایت له اربعینه … تیه غوز باسه مؤمنه

چه عارف ده رنځ ده یاره … چه دارو وکړه اي یاره

پدا روکښ د اسرو شوه … چه پر دوي باند کردش وه

کوزوده ته نصیحت کړه … ده رفتن یه اشارت کړه

ده وي دیم پدم حساب دي … چه ثواب دي که عقاب دي

في الحديث حاسبوا قبل ان تحاسبوا ١٢ کاتب قرسول

چه ګردش لغير الله وي … د یه مالره ګناه وي

دا تقوي دي لخاصانو … ده کامل غواصانو

ته خود او کړه اي وزونه … مه کدو د اوسه وه کوره

چه به وخ لا مده یکسان یم … پدستور به حیوان خوري

مه سختي کړه دل ارامه … چه بنه خوري لطعامه

شوه

په ګیاه پېیي به بنوړېږي — مال به هول حرام ګوړېږي
دا تقوي ندي وسواس دي — لمکر و نوده خنّاس دي
لحرامُ ډېر پرهېز کړه — څو دي پښي رسي ګریز کړه
چه خوراک یه شبه ناک وي — تل غافل ګرزي بي باک وي
له حلال له ماله قوّت کړه — امّا قوت لا یموتُ کړه
که حلال وي هم حرام شي — چه لحده تېر طعام شي
په شکوک مال کښ ای دله — فتوي مه اخله له بله
پنظر چه دِ تا پاک وِ وي — بیا حلال بیه خوراک وي
تبه نشي بزه کاره — که حرام وي ای دلداره
اٰهینه بدي صفا وي — ستا باطِن به مصفّي وِي
لکه چري پتوړ تم کښِ — په اندوه یما تم کښ
ښایسته زیبا بتر وي — ستا برکت پربستر وي
پر خاطِر خوشحال تابان کړي — هزار شکر دِ سبحان کړي
داناګاهه بِي ګانه وي — په نظر دي جانانه وِي
که حرامِ د تېه خر ګند شه — نور خوراک یه لتا بند شه

اهینه بدي که توره | که حلال وي خما وروره
لکه ښه بیغله بي شانه | چه شي وصل لکنا دا نه
په نظر به بي کانه وي | ده ده خپله جانه وي
مبتلا به په صحبت شي | په وصال به په قربت شي
حاصل دا دي له کلامه | چه عالم پخوا قسامه
که مشهور وي په صلاح کښ | په تقوي و په فلاح کښ
بي پښتني په ته مال خوره | تیه سیر ما لا مال خوره
چه پوښتنه به ده مال کړي | چه خاطر به ملال کړي
دا ازار ده مسلمان دي | چه نیک بخته نیک نشان دي
که پظلم کښ مشهور وي | پریا و به غرور وي
دیر اسباب به ده حرمت وي | که بادشاه که رعیت وي
هرگز مخوره لدا ماله | خو هلاک دي نوي کاله

في الحديث لا تاكلوا اخباز الملوك فانها عجين بدم

الفقره ۱۲۶

که مجهول دیجا روزگار وي | چه فاسق که پرهیزگار وي

که طعام یې خوري روا دي | که پرهیز کوي تقوي دي

چه بحال خبردار نشي | خوش خاطر یه آزار نشي

کیځ مال اکثر حلال وه | حرام کښ وه ده د مال وه

هم پرهیز د دې له بویه | که تقوي کوي خوشخویه

که مشکل د ده د احوال وه | ده حرام د ده حلال وه

کوم مغلوب دي کوم غالبه | حال معلوم کړه لصاحبه

تیه شان شوکت کوره | ده ظالم بخیر وي وروره

هر کز مه خوره لداماله | څو پرسش کوي لحاله

کده فسق علامه د له | تا یده کښ و لید له

دا دلیل ده حرمت ند ی | چه خوراک یه بدعت بدي

کما روی انه علیه السلام طلب الماء من الکافر

لضوء وروی انه توضاء عمر بجره نصرانیة

که فقیر عاجز ناتوان وي | ده ده سوال دې پت پنهان وي

کده بل دوراندې کوره | څوک سوال کوي پزوره

دې احسان کوي بي شماره | ده عالم لشرمه یاره

بت پرزره کښې به بخښيږي	په سخا به زهير يږي
دا تر غلا عصب بتر دي	بکتاب کدي باور دي
ده حيا به قيحي ورور ه	شه ده ده زړګي خسوره
يو پرزره ده ده پرهار شه	بل بمال يه ګه ناتار شه
ده تقوي علم ده يار ه	دنيا مه غواړه اي يار ه
چه سود اديې بايمان دي	سود دي نشته واره زيان دي

في الاية ولا تشتروا باياتي ثمنا قليلا ١٢ ١٢

بنا يسته حلال کسب کړه	عبادت هله ده رب کړه

قال الله يا موسى كل من كد يمينك ولا تاكل عن دينك ١٢

که پر سر ده غرولسر ه	تل دبري وړي دلبر ه
ودانا ته وي هسانه	دنا مراد له امسانه

قال علي رض قلع الصخر من قلل الجبال احب الي من منن
الرجال ١٢ الاصل الثامن في حسنة المعيشة ١٢

اي سالکه که وحيد يې	بل خوک نلري فريد يې
ستايتن کښې دادري څېز ه	غافل مه اوسه عزيز ه

طبیعت

بوقوتي شهواني دے — طبیعت حیواني دے
چري نفع که لذت وي — چه به لاندي تر قدرت وي
وخپل ځان تیه را کاږي — لاس ده نور څیني کاږي
لکه دیر حرص خنزیر که — لور پر لور کا ته څیر څیر که
بل قوت غضبي دے — چه طینت ده ده کلبي دے
لري دیر ومي لغه کاره — چه ضرور وینی نکاره
تل بخپله رضا تله که — دي ده نور رضا نکه
لکه سپي شور غوغا که — چه فقیر پر در الله که
دیر یم عقل باکمال دي — چه عطا ده ذوالجلال دي
عجب نیک خصلت د ده جانه — چه عطا ده لسبحانه
تحمل که باربردار وے — تل احسان که نیکوکار وے
اوس کمر دسي پهلوان ئي — چه خبر سود زیان ئي
ستا پلاس دي دا دري څیزه — سپي خنزیر ملك عزیزه
نه دا سپي خنزیر آرام کړه — وملك ته دو یه رام کړه
چیه لاندي تر فرمان وي — خوار زار عاجزان وي

په فرمان ده ده عمل كه نه خلاف نه جدل كه
تل ده شرع په فرمان وي و فرمان ته نگران وي
مرتبه بمدي والا شي تر ملك به هم بالا شي
ته وريښي تر خدايه بل گمان مكړه خود رايه
كه ده وي په رضا تله كړي بي هوده كار و نه ته كړي
چه ملك دي خوار و زار كړه و سجده ته دي لاچار كړه
تل سجده كوي وسپي ته و ختر يرغوندي دني ته
په صورت كه بشر وي تر خنزير تر سپي بتر وي
ندمي شرم نه حيا شي ندي خوف ويره لخدا شي
چه دي رشد و خنزير ور كړه بيا ملك دي دستگير ور كړه
چه بازار ده عدالت شي تعامل بحقيقت شي
په عمل ذاد بستا دوي ده صورت بازار گشاد وي
پوشيده اسرار اشكاره شي چه حجاب ده تن پاره شي
خود به ده سپي په رنگ ئي په قيامت به په هم رنگ ئي
يا په رنگ بد ده خنزير شي دير تبه خسته زهير شي

فی الحدیث یحشر عشر اصناف من امتی بعضهم علی صورة الخنازیر بعضهم علی صورة القردة ۱۲

قطمیر څکه درومي لا له	ده جنت پر لور خوشحاله
که ظاهر ده سپي بڅیر وه	په باطن ده سړي تیر وه
دامن گیر شه ده نیکانو	ځان یې وه پیوست لسکانو
یو راهب وه اي صنمه	گوښه تله لي لعالمه
چا له ده پرسش ده حال کړ	ده جواب عجب مقال کړ
دا رنك نده اي دلداره	چه عالم کښم بدکاره
ما الدوي کړي نفرت دي	لکناهه مي عصمت دي
څما خیل نفس عقور دي	تل مي عمر په ضرور دي
گوښه ناسته سکواني کړم	ده خپل نفس پاسپاني کړم
بل څما پلاس خنزیر دي	ما ترې لي پر نخیر دي
چه څوك خوز نکه لمانه	خلاص به نشم لتاوانه
کدي تا غایو وطن وي	کور کلي دي مسکن دي
اول فهم کړه اي دله	هغه چار مکره هیڅ کله

که پلوس که په زبان وي | چه ازار ده مسلمان وي

في الحديث المسلم من سلم المسلمون من نفسه و

لسانه و يده ۱۲

چه دير فضل کړم وي | دي بهتر ده کل عالم وي

هغه بدبخت ده دست جهان وي | چه ازار ده مسلمان وي

في الحديث خير الناس من ينفع الناس وشر الناس

من يؤذي الناس ۱۲

چه احسان دي چاهر وي | ساووکان يه تول چاکروي

بي لسيم بي لز ره | خادمان يه وي دلبره

قال علي رضي الله تعالى عنه ۱۲

خيل پرد نيکه چه لئيم وي | نيه خوف نيه بيم وي

ده خواران بار بردار شه | يه بدي کبن نيکوکار شه

پر نيکي چه نيکي کړينه | خرخري دي اي مؤمنه

في الحديث ان اردت ان تسبق الصديقين فصل

من قطعك واعط من حرمك واعف من ظلمك

بکن

بل کمینه نیکو کار شه | کبر مکړه ته خاکسار شه
چه ده خوار و خوار نصیحت نوی | دی لمحه خبر نوی
چه یې خوار وکېښ خاکسار شي | بیا هله غنچه ګل زار شي
ترحم ته پر صغیر کړه | ډیر ادب ده زاړه پیر کړه
چه پر وړو کیو رحمت نکه | ده سپین زیریو عزت نکه
دا رویش ده اسلام ندي | کباوړ دي څما یخوله دي

فی الحدیث من لم یرحم صغیرنا و لم یوقر کبیرنا فلیس

منا ۱۲

هر سپین زیري ای دلبره | برابر لپیغمبره
په عزت په اکرام کښ | مکره قال یدا کلام کښ

فی الحدیث الشیخ فی القوم کالنبی فی الامة ۱۲

کړه اکرام عزت جانا نه | ده سپین یو بی پایانه
داستا عمر به بسیار شي | دا عزت به در ډکار شي

فی الحدیث ما وقر شاب شیخا لشیبه الا قضیه الله

فی شیبه من یوقره ۱۲

زیریو

رب حیا کوي بي شماره — ستا لسپین ویښتو یاره
ستا له ده هم حیا بویه — چه ګناه نکړي خوشیخویه
داهر ګوره بدا نخوړوي — چه سپین زیري مخ یه نور وي

فی الحدیث خلقت الشیب من نوری فاستحیین
ان احرق نوری بناری ١٢

بل خوش حاله خندان اوسه — لهرچا نه تابان اوسه
نور له اوره دي تلخیص دي — کباور دي بحدیث دي

فی الحدیث اتدرون من حرمة علیه النار قالوا الله
ورسوله اعلم فقال اللهن اللین السهل المعلق ١٢

بل هم صلح صلاح ګوره — کړه د دو لمیانه وروره
دښمني چه نمیان وي — یو بل له روي ګردان وي
نیک نامي نیک نښان دي — هم ثواب یه بي پایان دي

فی الایة والصلح خیر وفی الحدیث الصلح خیر ولو کان
بین الدیکین ١٢

چه ده دو لمیانه شر که — په ایمان پوري شر که

حبطه ده ده عمل وي ے — نه هم رازه نیه مل وي ے

في الحدیث افضل الاعمال اصلاح ذات البین وافساد ذات البین هي الحالقة ای للخیر ١٢ صاحبه سید رحمت

بل چغلي مکړه بخپله — مَیه غوز باسه لبله

چه لبله وائي تا ته — ستا به وه وائي بل چا ته

قبل من نم الیك نم عنك ١٢

مقرب یه ده در مکړه — په گفتار یه باور مکړه

پر حرام ده جنت بوي دي — چه یه دا خصلت خوي دي

في الحدیث لا یدخل الجنة قتات ای نمام ١٢

بل تر دري ورخ زیا تره — ما نې مکوه د لبره

کړ خودي دې یرازار که — کوټ دز ره دي تار بتار که

و ظالم ته میلان مکړه — بخان پوري نیران مکړه

في الایة ولا ترکنوا الی الذین ظلموا فتمسکم النار ١٢

لحوك گډ شي خما دله — ده دین لار یه وه وهله

هر عالم چه خان گډ وړ که — او بر یه پوري بخیل وړ که

لکه سپي چه لختر پره | ملاقات کوي اميره

في الاية مثلهم کمثل الکلب ان تحمل عليه يلهث
او تترکه يلهث ١٢

ده نبي ميراث يه پر پسنو | چه داسنديه پر سر کښيښو
ځيني لري چه هر کوره | دي شيطان کنهاي ورو

في الحديث العلماء ورثة الانبياء اذا لم يخالطوا الامراء
وان خالطوهم فهم لصوص الدين فاحذروهم
فاحذروهم فاحذروهم ١٢

وي نيك بخت ده اميرانو | چه پر در ده فقيرانو
مدام ناسته که د لبره | لدعاوي بهره وره
چه پر در ده امير ناست وي | يا به عجز يا به خواست وي
وي بدبخت ده فقيرانو | کباوتر کوي يارانو

في الحديث نعم الامير على باب الفقير وبئس
الفقير على باب الامير ١٢

بل معاش داهسي رنک کړاي | لمجلسه ئان هم رنک کړاي

چه پدوی کښ رسوا نشي | خوار و زار بي نوا نشي
په باطن گوښه کنار شه | ده زړګو ئي څوکیدار شه

في الحديث خالطوا الناس باعمالهم وزائلوهم بالقلب ١٢

کیه شغل ده بدکار رویے | ستادي منع په اقرار رویے
هر گز مه کښ نه دلبره | پهغه ځاي کښ دلاوره
یو روح داؤد سؤال کړ | چیه راز ده ذو الجلال کړ
رب ده ابه کوم خصلت وي | چه وتا ته مي قربت وي
هم پخلق کښ محبوب یم | ده هر چا ده زړه مرغوب یم
وحیه را غله له آسمانه | وداؤد ته اي جانانه
کدین داره متقیان وي | ستادي هم دا هسي شان وي
څوك اهل ده دنیا وي | مجلس کښ حاضر ستا وي
پظاهر خصلت ده دوي کړه | په باطن کښ ځان یکسوي کړه

یا داؤد وخالق اهل الدنیا باخلاق الدنیا وخالق
اهل الاخرة باخلاق الاخرة ١٢ قصه شریر

بل څوك اهل شریروي | په بدي کښ دي شهیروي

یا شاعر وي بد هنره | مدارات یه کړه دلبره
چه سائلي دي خپل آب وي | نهایت یه ډیر ثواب وي

في الحدیث ما وقی به الرجل عرضه فهو صدقة ۱۲

یوه روځ یکو ړکښ جانه | پاک رسول تاسته وښادانه
یو کم بخت وه پدربار کښ | ده دخول یه انتظار کښ
پاک رسول ورسره ووده ننه | مدارات یه ډیر کاونه
عایشه وه بحیرت کښ | ده رسول پدا خصلت کښ
پاک رسول ویل شریر دي | په بدي کښ لا نظیر دي
مدارات ورسره بویه | چه امان یه شو لخویه
چه دا طور داشان وي | دي بد بخت ده درست جهان وي

في الحدیث شر الناس عند الله منزلة یوم القیامة من
ینزله الناس اتقاء لفحشه ۱۲

بل چه ښي دي ډیري زغله | ده تهمت لخایه دي له
تبه هم شي گناه کاره | که گناه نلري یاره
چه پر تا نابود گمان که | یا غیبت دي پر زبان که

في الحديث من آمن بالله واليوم الآخر فليتق مواضع

التهم ۱۲

چه دور نجي لدا ځايه | بيا بد موره دل آرايه
کدي څوک عيب جويي که | بدګمان بدګويي که

في الحديث من وقف مواضع التهم فلا يلومن

اسماءَ الظن به ۱۳

يوه روځ حضرت خبري | پخپل کور کښ کړي نادري
بل څوک پيښ شه ناګهانه | پاک رسول وويل يا فلانه
دا مي خپل حلال حرم دي | صفيه ده دي علم دي
يا خما خپله عمه دي | چه نامه يه صفيه دي
اختلاف ده روايت دي | رب عالم بحکايت دي
هغه ځوان وويل رسوله | ستا خاطر مشه ملوله
خموږ کله داګمان شي | چه لتا صادر عصيان شي
چه به ښځه بيګانه وي | ستا به راز افسانه وي
ده وي نفس او شيطان دي | هر چا کښ پټ پنهان دي

بل ده خوږ زړه دوا کړه ‌‌ ‌ ده محتاج حاجت روا کړه
څو دي وسع او طاقت وي ‌ ‌ کډ مال که شفاعت وي
چه ثواب یې نهایت دي ‌ ‌ زیات ده کال تر عبادت دي
یو ساعت که په دا لار کښ ‌ ‌ شي زهیر ده بل په چار کښ
که ناقص د رماندە وي ‌ ‌ ستا به خپل ثواب تو ده وي

فی الحدیث قیامك مع اخیك ساعة خیر من اعتكاف سنة قضاها اولم یقبضها ١٢

بل نرمي کړه په کلام کښ ‌ ‌ پیش دستي په خپل سلام کښ
چه ثواب یې بې پایان وي ‌ ‌ علامه دي ده ایمان وي

فی الحدیث علامة المؤمن افشاء السلام ولین الکلام

بل دوه لاس ور کړه پمینه ‌ ‌ چه څوك پر کړندي کړینه
مه یو لاس وچا ته ور کړه ‌ ‌ مه ښکاره ده ګتو سر کړه
داده کبر نښانه دي ‌ ‌ وازار ته بهانه دي
سود دي نشته واړه زیان دی ‌ ‌ په ثواب کښ دي نقصان دی
لو یار حمت ده رحمان دي ‌ ‌ چه نازل ستا پمیان دي

نور واړه هغه مونده لي چه لاس وي غوړیده لي
یو به پاته شي وتاته ده یر بخه وایم تاته

في الحديث اذا التقى المسلمان فتصافحا قسمت بينهما
سبعون رحمة تسع وستون لاحسنهما يدا

بل چه زیان ده مسلمان وي دي حاضر نوي پنهان وي
کیه مال وي کیه آب وي چه خاطر یه پکباب وي
فائده تا لره مدت دي ده نیکانو دا خصلت دي
که د ږ سینه شي د شواره رب به ستا وي مددکاره
کته بل کړي بي ابرویه رب بتا سپك که بدخویه

في الحديث ما من مسلم ينصر اخاه فيمن من يهتك فيه عرضه
الا ينصر الله فيموطن يحب فيه نصره وما من مسلم اخذل
مسلما فيموضع ينهك فيه حرمة الا اخذله الله فيموضع يحب نصرته

بل پرهیز کړه لغنیا نو کړه مجلس ده فقیرانو
دوي پسا ه صورت زنده دي په باطن لکه مرده دي

في الحديث اياكم ومخالطة للموتى قيل ومنهم

قال الاغنياء ١٢

تابه هم که مړه د له
آخلی یو فیض لبله

هر مجلس لره اثر دے
په حدیث کښې باور دے

فی الحدیث لکل مجلس تاثر ١٢

چه موسی وئیل یاربه
زه عاجز شوم لطلبه

ستا موندو ماته ګران دي
پرکوم لوري پخه شان دي

پاک الله وئيل کليمه
سمه لاړ دې مستقیمه

شکسته زړونه پيدا کړه
ځما هلته تماشا کړه

قال موسی الهی این اطلبك قال عند المنكسرة

قلوبهم ١٢

هر فقیر چه دې صبور وي
لخواري په زړه چوړ وي

پاک الله وینې عیانه
نشه خبر لدا بیانه

نه شك نه شبهه وي
په حضور مشاهده وي

قال موسی ومنهم قال الفقراء الصبر هم جلسا الله ١٢

بل فائده چه د دین نوي
پکښې علم تلقین نوي

لري درومه لغه ښايه | هرګز مه کښېنه خود رايه
تنهائي ښيني بهتر وي | لمجلسه چه ده شر وي
ده نيکانو مجلس ورورنه | تر تنهايا بهتر وي ګوره

في الحديث الوحدة خير من جلس السوء الجليس
الصالح خير من الوحدة ۱۲

هر چه ناسته ده عطار که | هغه بوي ده مشکو بار که
بي تکليفه ور رسيږي | چه سودا ده مشکو کيږي
سري خلاص نوي له اوره | که احتياط کوي هر ګوره
چه ده پښ پدوکان ښوري | سره بڅري باندي وري

في الحديث مثل الجليس الصالح كمثل صاحب المسك
ومثل جليس السوء كمثل القير اى الحدود ۱۲

بل څوک مه پرېږده د رونه | پخپل کور کښې اندرونه
که اشنا وي که غريب وي | کدي خيښ کدي قريب وي
کدي ورور کدي تره وي | چه ولاړدي تابر وره وي
که ولي وي که خوش خويه | لاحتراز درلره بويه

که یکو رکښې بې غیرت وي — وده ووس تیه نسبت وي
حکایت دي لحدیثه — تیه عوز باسه رائیسه
صدیق راز کاوه نهانه — لعایشي سره جانانه
چه بل څوک نوه حاضره — پاک رسول پېښ شه ماهره
دیر پقهر بغضب وه — لغیرته مضطرب وه
په پاکي کښې دده لاله — دي نازل لذوالجلاله
دقرآن شپارس ایاته — دیر بخه وایم وتاته
هم صدیق ده دي پدړوه — په پاکي کښې زيري نروه
باوجود رسول غمګین شه — پلیده په اندوه ګین شه
چه صدیق ورته حیران وه — لکه بید هسي لرزان وه
بیا صدیق ویل رسوله — ستا خاطر شه ملول له
د احوال راته اظهار کړه — په شیرین زبان ګفتار کړه
پاک حضرت ویل صدیقه — حال مي دادي لتحقیقه
چه ته راز لعایشي کړي — څما ده زړه ولیه دیر یکوي
نه راز کوي پنهانه — نه وي ربې لشیطانه

نې الحرز

فى الحديث انا غيور والله اغير منى ۱۲ ۱۲

قصه پير ۱۲

که سپين زيري پيرانه وي | يا هلك يا ديوانه وي
چه نظر يه پر ديکدان وي | خوب زشت ورته يکسان وي
اندرون يه پر بزده جانه | که خبر يې لقرء انه

فى الاية والتابعين غير اولى الاربة من الرجال والطفل الذى لم يظهروا على عورة النساء ۱۲

دا احوال چه د ر بيان شه | ده کافه اهل ايمان شه
خاصه حق ده مور پلار دي | چه لازم پر نيکو کار دي
هغه کار مکره هيڅ کله | سيه غوز باسه لبله
چه ده دوي پکښ آزار وي | که کردار وي که کفتار وي
شايسته نرمي خبري | کره لدوي سره نادري
هم عزت اکرام ور کړه | تل خذمت ده دوي پر سر کړه

فى الاية ولا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما

قولا کريما ۱۲

بجنت غواړي لخدایه — لري مخه دل آرایه
نه ده دوي پرضاتله کړه — وجنت کښیواته کړه
دي محروم شي لجنته — لوي لاریه کړه غلطه

فی الحدیث من ادرك ابویه فی الکبر ولم یدخل الجنة فقد اخطاء ۱۲

ده مور حق دي دوچنده — پرپدر باندي جانانه

فی الحدیث حق الوالدة ضعفین علی الاب ۱۲

بل هم حق ده همسایه دي — تل پرده باندي سایه دي
لکناره خلویښت سرایه — همسایه دي دل آرایه
ومحتاج تي کړه ښندنه — پر رنځور یه کړه پښتنه
لمرده سري رفتار کړه — که قرض غواړي تریه جار کړه
که ادایه پښه زره که — چه خاطر دي ملال نکه
حب دي پرینکه همزه — دي ده قرض لمقراضه

قال علی رضی الله تعالی عنه القرض مقراض المحبة لقوله علیه السلام لاتقرض اخاك فان

القرض

القرض مقراض المحبة

په فاتحه یه غم جن ښاد کړه ښاد دې مبارک باد کړه
کدې تله لي وي لکوره ده کور زیرمي کړه اي ورور
ماني مه خږوه پورته چه ضرور وي ده ده کورته
بې ستري وي که بل حال وي چه خاطر یه بملال وي
چه میوه وړي لبا زاره دي محروم مکړه دلداره
که تنها یه خوري صنمه نو ریه پټه وړه پنهمه
هم داخیل هلك هوښیار کړه کم لوی واړه خبردار کړه
هم یه چري اظهار نکه کم لوی یه آزار نکه
هم که کرم ستا دیگدان وي همسایه دي نگران وي
ده ده بخره ځیني بویه څخو کم بیش خوش خویه
دي ناحقه دلگیر مکړه په تش بویه زهیر مکړه
ده حدیث مضمون هم دادي په پښتو چه هویدا دي
سخت روځ چه ده قیامت وي پر عالم باندي هیبت وي
چه اول ده ده گفتار وي ده حقوق طلب کار وي

همسایه دي اي رائیسه	که خبرئي لحدیثه

فِی الحدیثِ اول الخصمین یوم القیمة جاران ۱۲

ده ده سپي هم آزار مکړه	پري ده کاني ګذار مکړه
چه ازاریه همسایه وي	لجنتي ناوایه وي

فی الحدیث لا یدخل الجنّة من لا یؤمن جاره ۱۲

همسایه چه ده نعمان وه	په بدي کښ نمایان وه
ضروري یه پاکه وله	ده امام ولور ته دَ له
بیا امام لهغه ځایه	وره پخپله دل آرایه
څو پر حلم یه شیدا شه	محبت یه پري پیدا شه
یهودي وه مسلمان شه	اهل دین اهل ایمان شه
بل خپل وانو عزیزان دي	چه حقوق یه لا بیان دي
چه خپل وي کوي پوهیږي	و مولی ته وصل کیږي
چه لخپله دویده وي	له الله بریده وي :

فی الحدیث القدسی اَنَا الله انا الرّحمن وَهٰذه الرّحیم شققتها من السّماء اِسمی من وَصلها وصلته ومن قطعها قطعته

چه صله د رحم کوي　　په رویش ده احسان بشوي
یو یه عمر دیر روي لا له　　بل مدام گرزي خوش حاله

فی الحدیث صلة الرحم یزید فی العمر ۱۲

چه لخپله خولك فرار که　　یا ازار ده مور پلار که
پر حرام ده جنت بوي دي　　پدوه گونه یه سیاه روي دي
کده یو نسو کال لا روي　　ده جنت به تهه کا روي

فی الحدیث توجد رائحة الجنة علی مسیرة خمسمائة عام ولا یجد ریحها عاق ولا قاطع الرحم ۱۲ ۱۳

ده رضاعه نسبت گوره　　غافل مه اوسه اي ورور
پاك نبي کړ یه غزاوه　　ده کفار دا سزاوه
دیر یه بند دیر یه اسیر کړه　　چه یه دوي خسته زهیر کړه
یوي شخي دا جواب کړ　　و رسول تیه خطاب کړ
زه ترله یم ستا سروره　　لرضاعه بهره وره
دا یه خلاص کړه لبنده　　کیو هیبزي اي هوشمنده
سرفراز یه ده احسان کړه　　لجاوه یه ده سامان کړه

ولاړه داته ولایته | له اکرامه له عزته
نصیحت کوه ودوي ته | چه خلاص نوي وبدخوي ته
نه هم شي بزه کاره | ګله دوي شي څوک بدکاره

فی الایة وانذر عشیرتك الاقربین

بل عورت ته جانانه | نصیحت کړه بي پایانه
بیا ماني ښي اختیار کړه | لفراشه یه کنار کړه
بیایه وه وهه پزوره | غافل مه اوسه لکوره

فی الایة فعظوهن واهجروهن فی المضاجع واضربوهن
فی الحدیث لا ترفع عصاك عن راس اهلك

ده عورت خلقت کوره | لکړي پښتي ده وزوره
چه کږم بیار نکړیے | عورتینه برلا زنکړیے

حدیث خلق الله تعالی حوا من ضلع آدم علیه السلام

که داوړه اثر نکه | وصلاح ته ګذر نکه
ته طلاق ورکړه هم دمه | مشر میزه له عالمه
شرمنده به محشر ویے | ده هغو خواوري پسرویے

ده دنیا

ده دنیا لنا موننکه — هیڅ پروا مکړه ملنګه
چه دیندار یا فقیر وي — پېوړنه تل زهیر وي
احتراز کوي ګلشنه — لدشنامه لزدنه
چه فاسق وي ای طالبه — دي پر ښځه وي غالبه

في الحديث هن يغلبن الكرام ويغلبهن الفساق ۱۲

بل په کور کښې اواره کړه — تل مزاج مسخره کړه
خنده روي اوسه خوشحاله — چه دي کور نشي ملاله

في الحديث خيركم لأهله وانا خيركم لأهلي ۱۲

چه ده ښځې پوچ ګفتار وي — ده مړه جبر و قار وي
یو به قبر ده نور وي — تل به دوته حضور وي
بل ثواب لري یارانو — ده او یا وشهیدانو
بل ده ښځو میان جانه — برابر اوسه یکسانه
که پوشاک وي که طعام وي — مجلس وي که کلام وي
کیه تاسه کیه خواب وي — کیه قدر کیه آب وي
که مزاج که مسخره وي — که پنهان وي که ښکاره وي

چه طرف کوي لمیانه | داګناه لري بي شانه
په قیامت به په بدرنګ وي | دي به کوږ په یوه خنګ وي

في الحدیث من له امرئتان وقال لاحدیهما جاء یوم القیمة وشقه عائد ۱۲

زره په لاس ده پاک سبحان دی | والک دی په ټاکله ده خان دی
وهرلورته چه میلان که | په فرمان یه ده رحمان که

في الحدیث قلوب الخلائق بین اصبعین من اصابع الرحمان ۱۲

چه اختیار نوي د لخواهه | ویره مکره لګناهه
تش د زړه میینه لا له | مه ویریږه له وبا له
چه بل چري برابر ئي | پرهرچا ختلي نمر ئي

في الحدیث هذا قسمي فیما املك فلا تاخذني فیما لا املك ۱۲

عدل ډیر ګران دي اي لا له | ویره کړه لذوالجلا له
نه غافل بي فروا نخه | ده خپل زړه پرضا نخه

چه وناسته حیرانه | بله مسته وي خندانه

في الآية ولا تميلوا كل الميل فتذروها كالمعلقة ۱۳

کږه یو وي اي دلبره | دوم نشته لبشره
چه مین پرچا شیداوي | محبت یه هویدا وي
بل ځاي نکه هغه مینه | لکځوك خوري د زړګي وینه

في الآية وما جعل الله لرجل من قلبين في جوفه ۱۳

ته لوړه سره جدل کړه | ده غم او پرتندي بل کړه
تل تکلیف کوه له ځانه | برابر اوسه یکسانه
چه د زړه پر ضا تله کړي | تل واورته کښیوانه کړي
چه مړه پنا رضا وي | داهر کوره ناسزا وي
نیه موخ نیه طاعت وي | نه دیدار نیه جنت وي

في الآية الرجال قوامون على النساء ايضا فيه و
للرجال عليهن درجة ۱۳

که رواوای بي لخدایه | ده سجد کړه دل آرایه
پر سجده یه نکو نساره | تل عورته وه دلداره

ومړه وته انیسه ‍ روایت دي لحدیثه

فی الحدیث لو جاز السجود لغیر الله لامرت المرءة بالسجود لزوجها ۱۲

بل کمینځه یا مړیونه ‍ ستا پکور کښې وي میمونه
نه پوشاک ده دوی پښان کړه ‍ برابر یه آب نان کړه
دوی ساته لهغه کاره ‍ چه سختي لري دشواره

فی الحدیث اتقوا فیما ملکت ایمانکم اطعموهم مما تاکلون واکسوهم مما تلبسون ولا تکلفوا من العمل الا ما یطیقون فان الله ملککم ایاکم ولو شاء لملکهم ایاکم

سپک نظر مکړه جانانه ‍ ور تیریږه له عصیانه
پښپه روح کښې خماد له ‍ دا یه حق دي او یا خله

سئل علیه السلام کم نعفوا عن المملوک فی الیوم فقال سبعین مرة ۱۲

بل دیني ورونه پیدا کړه ‍ پدا مینه خان شیدا کړه
تل مدام کړه صحبتونه ‍ ده نیکانو زیارتونه

چه پر تاده رب کرم شي | پاس پر عرش د تا قدم شي
تن پوښاك د شي لنوره | تل خوشحال کرزي مسروره
چه نبيان يه هم ارمان که | شهيدان يه صدچندان که
کهرڅو يه رتبه لويه | تردا زيا ته ده خوش خويه

في الحديث ان حول العرش منابر من نور لباسهم من نور ووجوههم ليسوا بانبياء ولا شهداء يغبطهم النبيون والشهداء فقالوا صفهم لنا فقال المتحابون في الله والمتجالسون في الله والمتزاورون في الله ۱۲

څوك چه ورونه ديني وکه | ده زيارت پر لوري تله که
او يا زره به ملك وي | چه ده ده پر کاب لك وي
که دعا ده ده پښان کښ | پر زمين په آسمان کښ
ښه دي تك ښه دي فتار وي | ښه دي خوي ښه دي وقار وي

في الحديث من زار في الله شيعة سبعون الف ملك يقولون طاب ممشاك ۱۲

ته ترځان پردوي احسان کړه | دوي خوشحاله او خندان کړه
لکه چوړچه دهدي وي | یا مزاح مسخري وي

روی انا ننتهب ونحن نجر علیه السلام وهو یجرنا فی ذلك النهب ۱۲

کم ترځان په مکړه کوره | پچپل مال کښې شماوروړ
دي محتاج مکړه هیڅکله | وسوال ته شما دله
کدا نوي اتفاق دے | چه وروړ ورنشته نفاق دے

روی انه جاء رجل لابی هریرة رض فقه انا لواخیك فی الله تعالی فقه اتدری بحقوقه فقال لا فقال ادناه ان لاتکون بما لك اولی ۱۲

هم ده خداي ده پاره جانه | دښمني کړه نما یا نه
ده هغو چه کمراهان وي | په دوستي کښې ده ده زیان وي
کدي زوي دي هم غلیم دي | چه خصلت یه ده رجیم دي
حضرت نوح ځکه بیزار شه | لکنعانه چه فرار شه

فی الایة انه لیس من اهلك انه عمل غیر صالح ۱۲

بل مدام کړنه ترش رویه ‏ ‏ لبدا نوای خوش خویه
هیڅ احسان ده ده له لاسه ‏ ‏ قبول مکړه لخنا سه
چه نیکي دي پاك بندنشي ‏ ‏ محبت دي څر ګند نشي
دي تاخونه به تا لا شي ‏ ‏ ورك ستا نه بغض الله شي
پاك رسول څکه ای دله ‏ ‏ پدا رنګ دعا کوه له
هغه کس چه ستا دښمن وي ‏ ‏ لځه مردوی لځه زن وي
رب لاس یه بالا مکړي ‏ ‏ ده ده مال ومارا مکړي

فی الماثورة اللهم لا تجعل لفاجر علی ید اضحیة قلبی

چه خدائي محبت نوي ‏ ‏ ده بدانو غیرت نوي
سود یه نشته پطاعت کښ ‏ ‏ پله یرزهد ریاضت کښ
څکه وحي له آسمانه ‏ ‏ وعیسي ته راغلي جانه
که ده کل جهان طاعت کړي ‏ ‏ چه تنها یه تصورت کړي
چه ده خدای ده پاره مینه ‏ ‏ دښنی [illegible]کوي رنګینه
سود دي نشته لطاعته ‏ ‏ که یوهیزی نیك خصلته

اوحی لعیسی علیه السلام لو ان عبدتنی بعبادة

اهل السموات والارض وحب فی الله لیس وبغض فی
الله لیس ما اغنی عنك ذلك سیاء ۱۲

کدي خپل که بیګانه وي | که یکور کښ جانانه وي
چه خان جوړ که وخدمت ته | خلاص که تا وعبادت ته
یا وتا وته انعام که | څوک ده سیم زر غلام که
یا یتیم وي یاد باغ وي | چه سبب دي ده فراغ وي
چه ده حب سبب د دا شي | د تامینه پري پیدا شي
ده هغه هم حب في الله دي | بل ګمان مکړه تباه دي

في الحديث الدنیا مزرعة الآخرة ۱۲

کدي حب ده سیم زر وي | یا الباغه دي ثمر وي
زخمیه کړه اي شومه | فقیر یاته شي محرومه
داده واړه بدي سر دي | په ویل کدي باور دي

في الحديث حب الدنیا رأس كل خطیئة ۱۲

بل هم حق ده فرزندانو | چه لازم ده اي یارانو
ته په زوده دوي سرور کړه | خپل فرزند ده ستر ګو نور کړه

في الحديث الولد نور في الدّنيا وسرور في الاخرة ١٢

هم پلوړ مشه غم کينه — کيو هيړي اي مؤمينه

خاص چه زوال نوبت وي — دا پکو رکښ برکت وي

في الحديث برکة المرءة بتکميرها بالبنات ١٢

کوره کوم يوستا پکاروي — چه وکوړ ته دِړفتار وي

چه صالحه نيکوکار وي — زوي ورچار شه چه بدکار وي

چه په لو هو مبتلا وي — دي صابر پر دا بلا وي

که پرځاي ده دوي حقونه — دي له اوره ججابونه

في الحديث من ابتلاء بهن فاحسن اليهن کن له ستر من النار

يو خبر شه له اذانه — پښي غوز کښ ده دجانه

پکين غوز کښ اقامت دي — چه ده پاک نبي سنت دي

له صبيانه په امان دي — بحديث کښ چه بيان دي

في الحديث من قرءهما يدفع عنه ام الصبيان ١٢

بل خونبي ور لره بويه — چه خيرات وکړي خوشخويه

دوه دِه نوئي دوه ده لوړ دي — لکتابه چه مستور دي

لغه پسه سلامت وي ... نيه عيب نيه علت وي
بل يه نام کښ زده دلبره ... شايسته يکتاب غوره

فی الحديث حسنوا اسماء اولادکم والاولى التعبد

فی اسماء المخلوق ۱۲

عبدالله عبدالرحمان دي ... په نمونوکښ تابان دي
بل نامه يه محمّد دي ... که حامد دي که احمد دي

فی الحديث من رزق له من الانباء ثلث ولم يسمّ

احدًا محمّدًا فقد اخطاء ۱۲

ژړا يه اندوه مکره ... خان نادان نا پوه مکره
تردوميا شتو شهادت دي ... چه وئل يه عبادت دي
ترځلو ذکر دا دي ... الثقة بالله دي
ترا تو ميا شتو بيا درود دي ... ده نبي پرپاک وجود دي
ترڅو کالو استغفار دي ... هم د مور هم ده پلار دي
يا نفرين يا لعنت دي ... ده کافر بد خصلت دي
بل يه زيرمه ده مکتب کړه ... تل ده علم ده ادب کړه

بړکړ

برکت به پرشي لا له | ستا پکور کښې مالا ماله

في الحديث اذا خرج الصبي لطلب العلم يكثر الخير في بيته ١٢

ثویه عمر اوه کاله | نصیحت کوه اي لا له
چه ولس ته رسیدن شي | نور لا زمه ده زدن شي
پیمانځه روژه انیسه | روایت دي لحدیثه

في الحديث مروا صبيانكم اذا بلغوا سبعا فاضربوه اذا بلغوا عشرا ١٢

بل سواري شاوري دي | ده مره د لاوري دي
هم د نخو هنر کوره | دا څرخه دي څما وروره
چه یو کردش دوره دي | زړیدن ده صغیره دي
که نیت خالص کفاف وي | لسواله یه عفاف وي
دوي پدا هنر شنوا کره | روي لور دواړه دانا کره

في الحديث علموا اولادكم الفروسية والصباحة وبناتكم الغزل ١٢

اولادوي

څوځيل ځان په زهير نکه | تل شبخون شبګير نکه
فرزند ياته بې هنر شي | دي بتر تر ګاو خر شي
ده پلار خونه په ناله وي | تل په آه و

في الحديث اولادنا اكبادنا صغراؤهم امرائنا و
كبرائهم اعدائنا ان عاشو عذبونا وان ماتو فاتونا

۱۲ ك

بل يکسانه په احسان کړه | ته د خپل اولاد ميان کړه
چه خاطر په ملال نشي | ستا په غاړه وبال نشي

فِي الحديث ساووا بين اولادكم في العطيّة

بل ختنه ده فرزند بويه | پر اوه کاله خوش خويه
پر اولس په واده کړه | ته له ده سره بائده کړه
بل په سپک نظر مه ګوره | و فرزند ته څما ورو ره
هر نظر چه ده پدر وي | ده جهان هغه نظر وي

في الحديث اكرموا اولادكم ۱۲۰

آموخته يه يکسب کړه | ته يه زده خواري تعب کړه

دي د ه ښځو بحساب وي ... چه نه زيږمه نه اکساب وي
يو به سپک شي بجهان کښ ... بل به دين وي نقصان کښ

قال عمر رضي الله تعالى اختصوا اولادكم في الاكساب وقال لقمان يا بني لا تزول كسوبا فمن يفتقر الى الناس يهان و يضع دينه ۱۲

نه کسب چه پدا شان وي ... پهر حين پهر آن وي
نيه علم نه ادب وي ... نيه درس نيه مکتب وي
چه به برکړي د ه د ه غاړه ... بي لښتغه پناه غواړه

في الاية ولا تقتلوا اولادكم خشية املاق ۱۲

بل عزت د ه ملا نه دي ... پر مغل پر پښتانه دي
که هندو که مسلمان ي ... عزت بويه چه مهمان وي

في الحديث اكرموا الضيف ولو كان كافرا ۱۲

بد وطن بد ديا روي ... چه ميلمه به بي وقار وي
دي بي خيره بجهان کښ ... چه سستي که په مهمان کښ

في الحديث بئس القرى مالم يكرم القرى ايضا فيه

لاغیر فیمن لایضیق ۱۲

دښمني که له سبحانه　　چه بدي که له مهمانه
څیني غوته جبین مشه　　پدر تله یه غمګین مشه

فی الحدیث الضیف فقد ابغض الله تعالی ۱۲

دي روزي خوري سنا لخوانه　　ګناه یوسي له جهانه
دیریه خیر برکت دي　　بنه هنر بنه یه خصلت دي

فی الحدیث الضیف اذا جاء برزقه واذا ذهب
ذهب بذنوب القوم ۱۲

خدمت کښه چه بشوري　　زر رحمت وربانديِ وري
برکت هم هو مبره ګوره　　پرهغه ګور لور ده لوره

فی الحدیث الضیف اذا دخل بیت اخیه دخل
معه الف برکة ورحمة ۱۲

ته او به تووه اي دله　　پرلا سوده ده پخپله
هم له سره تر دره　　ته رفتار ګوه دِ لبره
هم رکاب یه نسه یاره　　ثواب دیر لري بي شماره

که غریب وي نا آشنایه	ته قبله کړه ورنمایه
هم خبري کړه اي وروره	ده حاجت لټایه ګوره
هم اوبه کښېږده بسیاره	د اودس ده څښو ده یاره
پرغه ځاي هم بستر بویه	چه میل مه کښېني خوشخویه
یکښ تل تازه تابانه	ته مشعل کړه ځما جانه
یا لمبه کوه له اوره	که چراغ نوي اي وروره
چه لازم ده ده عزت دي	ته ده ورور خو ضیافت دي
تر دا زیات دي خیل خیرات دي	کیه وکړي حسنات دي

فی الحدیث الضیافة ثلثة وما زاد فصدقة

بنه لذیذ طعام تیار کړه	ډیر عزت ډیر وقار کړه
ده ګناه یه مغفرت وي	ده طعام چه ډیر لذت وي

۱۲ فی الحدیث من صادف من اخیه شهوة فقضاها غفر له

که حاضر وي ستا پکور کښ	تکلیف مکوه پنور کښ
چه به قرض یا سؤال کړي	خیل خاطر به پملال کړي
ستا سخا به پریا وي	له اخلاصه به رها وي

قالوا خير الطعام ما حضر وخير السيئات ما ستر
وخير الناس خير البشر ۱۲

هزي مخندهٔ وه لا له	چه ميل مه نشي ملا له

فى الاية وما لبث ان جاء بعجل حنيذ ۱۲

مه کاته کړه ولقمه ته	ومهمان و طعمه ته
چه ديچا لويه وي که کمه	دي زهير نشي صنمه
کړه پرهيز لدا کلامه	ده هغو له التيامه
چه خفه دي تا مهمان وي	بخوراک کښې به نقصان وي
خوده لاس نوي نيو لي	ته لاس مکا زه وړ مبري
مه طعام اخله هيڅ کله	خو دي سير نشي اي دله
ده کوږ نخره کم بيشه	خيني اخله دوراند يشه
کدوي يا ته شي محرومه	شي ده خان پغم مغمومه
بخدمت کښې به تقصير وي	ستا ميلمه به بزهير وي
عزيزان حاضر کړه کوره	ده طعام پوقت اي وروره
يو ده ده پکښې عزت دي	بل دي وصل ده قربت دي

حقده

حق ده کور ده څښتن دا دي — يو لبکه چه جدا دي
چه میلمه دي تلوار نکه — ده ده زړه دي آزار نکه
څو يه وې بولي پخپله — بیا هله دي ورځي دله
ندي دا تلوار که يا ره — چه روټي کړي ژر تيار ه
کوندي کار يه سامان توي — هیڅ په ده کښ نقصان توي
ندي آخلي لطعا مه — بي رخصته دل ارامه
مکر دا رنکه پو هيږي — چه خاطر يه به خوښيږي
مه وسيږي ته لدا خوانه — روټي اچوه جانانه
مه سخا کړه لفقير ه — چه مضيف نشي زهيره
چه دي بولي وخيل کور ته — په تلوار چه ودا لور ته
چه فارغ شي لطعا مه — په تلوار چه دل آرامه

في الاية لا تدخلوا بيوت النبي الا ان يؤذن لكم
غير ناظرين اناه لكن اذا دعيتم فادخلوا واذا
اطعمتم فانتشروا ١٢

بل لدې روږ څوزياتره — مکث نه بويه دلبره

مکر څوک دیره الجا که | چه خیرات یا سخا که
بل خوشحاله څه خندانه | لداځا لدا مکانه
که څوک دی زړه زهیروی | پخذمت کښی ستا تقصیروی
بل هم حق ده تعامل دی | دساووُاوده مغل دی
ده هندو ده مسلمان دی | چه لازم پر هر انسان دی
راشه قرض مکړه لچانه | که څوئ دیر پړ پښانه
که کمر دی که آهین دی | ترداد وار پور سنکین دی

قال لقمان حملت الجندل والحدید فلم ار شیئا اثقل

من الدین ۱۲

تیره تیغ تیره مقراض دی | جدائی ده هر راز دی
کدی خپل وی کا اشنا شی | چه قرض میان کښی راشی

قالوا القرض مقراض المحبة ۱۲

که محتاج یی دیر هر کوره | پور هاله کوه ای ورورره
په خزانه ده مولی کړه | پداد رکښی خان کدا کړه
چه نظر په بخیل مال وی | په ادا کښی یه اشکال وی

۱۹۵

څه بنده څه په دولت دي | څه بازو څه په قوت دي

في الحديث تقرضوا للرزق اذا احتاج احدكم

فليستدن على الله ورسوله ۱۲

هرچه بخت دې چا بيدار وي | كشاده بده ده دار وي
بل به قرض ده ده هم كړوي | بخيل كور كښې به بيغم وي
بل روزي يه يد يار وي | نه سفر نيه رفتار وي

قد على سعادة الرجل وسعة داره وخفة ردائه و

توافق اهله ورزقه في بلده ۱۲

چه په قرض كښې يه نيت داوي | چه تلوار به پادا وي
ورته سپك بدغه بار شي | پاك الله به په چار رو شي

في الحديث من كان عليه دين ينوي ادائه كان

معه من الله تعالى ۱۲

ملائك بهم د عا كه | چه دا قرض يه ربادا كه
چه دعا يه مستجاب دي | دير طاعت دير يه ثواب دي

في الحديث ان الملائكة يدعون له حتى يقضيه ۱۲

کهٔ نیست کاره خالي لاس — ده ده غاره که څوک خلاص
یا اجل ورکه په پوره کښِ — غریب نه سیځي پاور کښِ
دیر ثواب لري بي شانه — وي حساب ده ده آسانه

في الاية فنظرة الى ميسرة و في الحديث من انظر معسرا او ترك له حسابه الله حسابا يسيرا ١٢ كاتبه رسول

معامله چه کړي آسانه — پر هغه به له سبحانه
رحمتونه مدام ووري — چه پدا رویش کښِ شوري
کیه دادکیه بسیا دوي — چه تسهیل که نیک نهادی

في الحديث رحم امرء سهل القضاء والاقتضاء ١٢

بل قسم مکره هیڅ کله — پسودا کښِ ځما دَ لَه
چه سختي که پدا کار کښِ — په حبه وويډ ينا ر کښِ
بي مروته وي بي دينه — خيني تښته اي مومنه

قد على من حاسب بالتمرة لامرة له ومن لامروة له لادين له

ده دانق حساب و کوره — ده حسن دو راندي ورو ره
ده عتاب پدا گفتار کړه — دیر لعنت یه پر دوي یار کړه

روی انه حاسب عند حسن رجلین بدانق فقم لعنة
الله علی الدانق والمستدانق ١٢

بل قسم مکره هیڅ کله　　پسودا او سود کښې د له
که باطل وي که برحق وي　　چه قسم کوي احمق وي
دي محروم وي نیک خصلته　　ده الله لښه رحمته

فی الحدیث لاینظر الی منفق السلعة بیمینه ١٢

چه ډیر قسم هنر وي　　په ایمان کښې یه ضرر وي
په روزي کښې یه نقصان وي　　ډیر ګناه ډیر یه عصیان وي

فی الآیة ولا تجعلوا الله عرضة لایمانکم وقد علی
ایمان المرء یعرف بایمانه ١٢

مه صفت کوه ای وروره　　ده دئ خپل کالي هر ګوره
مه ده بل لما له وایه　　لکه بدوي دل آرابه
لا یعني دي له کلام مه　　سود یه نشته دل آرامه
روز نرخ چه وي جانانه　　پټ یه مکوه لجانه
داروېش ده اسلام ندي　　کاوردي څما یخوله دي

فی الحدیث من غشنا فلیس منا ۱۲

نقصان مکره پدا میان کښ | پکاسه وُو پمیزان کښ
چه و نقص ته که میل | ده مقام ده هغو ویل

فی الآیة ویل للمطففین الذین اذا اکتالوا علی الناس
یستوفون و اذا کالوهم او وزنوهم یخسرون ۱۲

بل هیڅ عیب پنهان مکره | ته خلل ده ایمان مکره
ښکاره وه وایه عیانه | چه گالې پرلې جانانه
خیانت مکره هیڅ کله | امانت چه پروت وي دله
ته وعده مکره خلافه | چه وچاته بي کړي لافه
بی ایمانه وي بي دینه | چه وعده خلافه وینه

فی الحدیث لا ایمان لمن لا امانة له ولا دین لمن لا عهد له

ده نفاق علامه دي له | تا پده کښ وه لیده له
چه دروغ خیانت که | لوعدي مخالفت که

فی الحدیث علامات المنافق اذا حدث کذب و اذا
وعد خالف و اذا ائتمن خان ۱۲

بل هم حق ده سائلانو | پر هر چا دي اي یارانو
که سپور در شي ستا تر کوره | دي ده حق خښتن ده وروره

في الاية واما السايل فلا تنهر وفي الحديث للسايل حق ولو جاء على فرسه ١٢

که حاجت یې پرښتیا وي | په سوال په التجا وي
دي محروم شي ستا له دره | خلاص به نشي اي دلبره

في الحديث لو صدق السايل في حاجة ما افلح من رده

که تیشه وي یا تبر وي | چه سائل ولاړ پر در وي
که کټوې وي یا به بیل وي | هر کاره وي که غلبیل وي
که کاسه وي یا سوزن وي | چه سایل ولاړ غمجن وي
ده بر ګناه ده ډیره عذاب دي | روایت چه پدا باب دي

في الاية ويمنعون الماعون ١٢ صاحبه سیدرحمت

سر به داده که یو هیزي | په ویل دیچا ګرو هیزي
مؤمنان به یو لبله | مددت غواړي تل ته تله
یو بل به پوره چار وي | دا دنیا دا یه وقار وي

دیرِ جنتی عمارت شي | بشیه زیب بشیه زینت شي

فی الحدیث المؤمن للمؤمن کالبدان یشدّ بعضهم بعضاً

کوم یو لاس دي چه تنها شي | دي به پاک یا زیبا شي

چه مزي یو لبله | لاس هله پاکیزي دله

فی الحدیث المؤمنین کالیدین یغسل احدهما

بالاخر یعاوُن من الاخِر ۱۲

بل هم حق ده میل مُستیادي | چه پیزه نی بیا دي

خوک چه نختي ته مهمانه | دیر گناه لري نادانه

بي فرمانه شي لخدایه | لرسول دل ارایه

فی الحدیث من لم یجب الدّاعي عصیٰ اللهُ ورسوله ۱۲

که خولري دیارویے | یاده نفل روژه داروے

هیڅ دي عذر نکه لاله | چه زره نشي ملاله

فی الحدیث لو دعیت الی کراع الغنم لاجبت ولو اهدی

الی دراع تعسلن ایضاً فیه تکلیف لك اخوك ط و

تقول انی صائم ۱۲ کاتبه رسول بابا رحمکم الله تعالیٰ

۲۰۵

وه کړاع الغنم اي ورو ره	يو سړل لمکي کوره
پاک رسول ویل همدمه	که مي بولي زه به خمه
کدي نفل روژه دَاره	روژه ماته کړه دلداره
بیا قضا یه زاوړه جانه	ډیر ثواب لري بي شانه

فی الحدیث احب اخاك واقض یوما مکانه

چه مؤمن که خوك خوشحاله	رب خوشحاله شي اي لاله
تر روژه یه زیات ثواب دي	ده دي پرخ ونان آب دي

فی الحدیث من ستر المؤمن ستر الله تعالی الاصل

التاسع فی الامر بالمعروف والنهی عن المنکر

اول خان ته نصیحت کړه	بیا وبل ته پند عبرت کړه
کته خلاص پر بزدي پندونه	کړي ونور ته پندونه
داخالي نده مهتابه	له اجر ته له ثوابه

فی الحدیث مروا بالمعروف وان لم تعملوا کله و

انهوا عن المنکر وان لم تجتنبوا کله

داخپل خان به مسخره کړي	پعالم بیه شهره کړي

رب بنا ته یغضب شي | چه لتا پاته آدب شي
خپل گفتار بدي شي لومه | سود بنه مومي ظلومه

في الاية كبر مقتا عند الله ان تقولوا ما لا تفعلون

کړه نرمي پخپل گفتار کښ | شفقت پدا رفتار کښ
تل موسي وهارون گوره | ده فرعون پر لوري ورغوره
چه ده پاك الله گفتار وه | ده نرمي ده ده وقار وه

في الاية اذهب الى فرعون انه طغى فقولا له قولا

لينا لعله يتذكر او يخشى

څوك بد که گناه کاروي | يا نيولي خپله لاروي
سود يه نشته لطاعته | ده بني لعبادته
څو بخوله نصيحت نكړي | پر زړه بغض غيرت نكړي
ستا به هم لدوي حساب شي | چه عذاب يا عتاب شي
پند پنهر کښ بد ان وه | تل ده دوي گناه عصيان وه
وه نيكان اتلس زره | پدا ښهر کښ ماهره
دير يه زهد دير طاعت وه | ده نبيانو عبادت وه

همكي واړه عذاب شوه ‌ ‌ نيكان هم پكښې كباب شوه
تل دوچوله كبله ‌ ‌ تاندي سوځي پاو ورله

في الاية واتقوا فتنة لاتصيبن الذين ظلموا منكم
خاصة وفي الحديث عذبت اهل قرية فيها
ثمانية عشر الف اعمالهم اعمال انبياء قالوا
يا رسول الله قال لم يكونوا يبغضون الله ولا يامرون
بالمعروف ولا ينهون عن المنكر

كچا آغوسته قبا وي ‌ ‌ ده حرير يا ديبا وي
يا څوك غونځ كه لنقصانه ‌ ‌ يا غيبت كوي لچانه
يا بظلم يا بدعت كه ‌ ‌ يا بشكنځل يا فضيحت كه
ته ساكت بې لعتابه ‌ ‌ خلاص به نشې لعذابه
ته شريك پدا گناه يې ‌ ‌ هم مأخوذ عند الله يې
مگر دا دې تا يقين وي ‌ ‌ چه عبث دي تا يقين وي
نصيحت دې مسخره شي ‌ ‌ جوړه بله نندارې شي
يا دې تا يقين باور وي ‌ ‌ چه ده سر مال ضرر وي

یاد تا بي ابرو ئي وي
چه وهل پوچ کوئي وي
نصیحت مکړه خودرایه
وکړه تینسته لد اخا یه

فی الایة واذا مروا باللغو مروا کراما ۱۲

که کړي نصیحتونه
چه قبول کړي مخنتونه
ډیر ثواب دي بي پایانه
که خبر يي لقرآنه

فی الایة وانه عن المنکر واصبر علی ما اصابک ان
ذلک من عزم الامور ۱۲

که یقین دي باندي نوي
وهم ویره دي پرزه وي
کوندي مال ره ضرر شي
راته جوړ به نوي شر شي
یا یمنع خپل احسان که
چه پرما یه پښان شان که
خلاص به نشي لعذابه
که ساکت شي لعتابه
ځیني تښته کوره د له
ځودي نشي رسیږي غله
چه بنده هلته روزي ده
واړه ملک ده پاک باریده

فی الایة وارض الله واسعة فتهاجروا فیها وفي
الحدیث البلاد بلاد الله والخلق عباد الله ۱۲ ۱۲

چه یوه لویشت څوك لځایه | تینبته وکه دل ارایه
تښتوَلي خپل دین وي | لبدا نوا ندوه گین وي
واجب ده لره جنت دي | لحدیثه روایت دي
لنبي سره به مل وي | چه داتینبته عمل وي
هم به مل ده پاك خلیل وي | نبه قال وي نبه قیل وي
چه دوي کړي داهجرت وه | لکفارُیه نفرَت وه

وفی الحدیث من فرّ بدینه فلو شبرا وجب له الجنّة وکان رفیق ابراهیم و محمّد علیهما السّلام فی الجنّة ایضا فیه المجاهد من جاهد الیهودی والمهاجر من هاجر السّوء ۱۲ الاصل العاشر فی اتباع السنّة

۱۲ صاحبه آخونزاده سید رحمت ۱۲

چه ده پاك نبي پسَرو تشي | پدایون کښ تَرَه رو تشي
په خوي په خصلت کښ | پسکوت په حَرَکت کښ
هغه بي قیل بي قاله | جنت بیا مونده اي لاله
هم محبوب به ده ستاروي | چه ده پاك نبي پر لاروي

في الاية قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ١٢

عبادت وي كه عادت وي … چه ده پاك نبي سنت وي

پر توك آغونده پناسته … استنجا مكره لراسته

پښې لاس خوراك آب كره … ځان په عطر په ګلاب كره

سريه دادي اي دلبره … رب دي تا كه بهره وره

په هر كار كښې يو حكمت دي … چه ده پاك نبي سنت دي

په كښې فيض پټ پنهان وي … ځما سنا كه كوم حيران وي

ته چارپاى نه يې انسان يې … مكلف په حين آن يې

في الاية ايحسب الانسان ان يترك سدى ١٢

نفس سركش دي اي دلبره … ملوني مه پريږده يكسره

چه په خپله رضا درومي … خوشحالي و وفرحت موومي

بنده ګي به كاندي هيره … شي ښتاو ته دې لېره

ته زېږه ملونه اي وروره … ګوره ده لره هر ګوره

چه مدام زهير بسته وي … په طاعت كښې خوار خسته وي

كه خوراك كدي آب وي … كدي ناسته كدي خواب وي

که نکه

که نکاح وي که تجرید وي   که مجلس وي که توحید وي
کدي کسب که هنر وي   چه سنت ده پاک سرور وي
محمد ابن اسلم وه   پر سنت چه مستحکم وه
هر بوري نخه هیڅ کاله   ده خوراک نکاوه ده له
بیالده نه چا سؤال کړ   ده جواب ېدا مقال کړ
طریقه چه ده سنت دي   ده خوراک پکیفیت دي
زه بري نیم پوهیده لي   ما حدیث ندي لیده لي
شوم وصبر ته لا چاره   چه شرمیږم لروېدا ره
بل سالك وه څما دله   ده محسي په پېښه کو له
په کېن لوري ابتدا کړه   ده سنت لاریه خطا کړه
یو خروار غنم دِ لدا ره   ده دي خپل گناه ده پاره
ده خیرات کړه اي یارانو   کفارت ده فقیرانو
بل سالك چه نیك خصلت وه   لده پاته جماعت وه
فاتحه یه غوښته یاره   ده ده خپل اندوه ده پاره
لکه هر چه زوي وروشي   سري دیر یغم خمسور شي

بل سالك چه مختصر وه ‌ لدنيا ده ده سفر وه
ورته ناست خاصه مريد وه ‌ چه دغه يه آخر ديد وه
ده اوس ده خپل استاد كړ ‌ په سنت يه ده زړه بنا دكړ
لمريده څخه هير شه ‌ چه خلال ده زيري تير شه
ژبه بنده ده استاد وه ‌ ده نيك خوي نيك نهاد وه
اشارت يه كړ لدښته ‌ وخلال ته خود پرسته
عاقل ته يو اشارت بس دے ‌ چه بد پروائي ناكس دے
اوس سنت عظيم دير ياب دي ‌ چيه قعر ناپاياب دي
كړ بيش څيني بيان كړم ‌ چه په پوه عامه افغان كړم
خالي لاس مځه اي ياره ‌ ده اوراد لبا زاره
چيه ورد نوي اي وروره ‌ دابي دينه وي هر كوره

في الحديث من لا ورد له لا دين له ١٢ يا الله

آخر شب پاڅه لخوابه ‌ پټ ثواب ده ناپايابه
چه ملك هم كوركر دے ‌ په ثواب يه نا خبر دے

في الآية تتجافى جنوبهم عن المضاجع يدعون

ربهم

ربهم خوفا وطمعا فلا تعلم نفس ما اخفى لهم ١٢

چه وده وي تر سحره | شيطان بول كه د لبره
په غوږ وكښ ده ده كوره | اي سالك رب دي ژغوره

في الحديث من نام على الصباح بال الشيطان في اذنيه

چه اول وينښ شي لخوابه | دا دعا لوله احبابه

الحمد لله الذى يحيى الموتى وهو على كل شئ قدير
الحمد لله الذى احياني بعد ما اماتني واليه النشور
الحمد لله الذى عفاني في جسدي ورد الى روحي
وبعثني لذكره سبحان من يحيى الموتى وهو على كل
شئ قدير لا اله الا انت سبحانك اني كنت من
الظالمين سبحانك اللهم استغفرك لذنبي و
اسالك رحمتك اللهم زدني علما ولا تزغ قلبي بعد
اذ هديتني وهب لي من لدنك رحمة انك انت الوهاب ١٢

بيا نظر كره له آسمانه | دا آيات لوله جانانه
ده ګناه يه مغفرت دي | لحديثه روايت دي

ان فی خلق السموت والارض واختلاف اللیل و
النهار لایات لاولی الالباب ربنا ما خلقت هذا
باطلا سبحانک فقنا عذاب النار اشهد ان لک

ربا و خالقا ۱۲

چه بیرون ووزي لکوره ده اودس ولوړ ته کوره
دا دعا ده نیک نها ده تا به وړولي ترمرا ده
کدي مال وي کدي خان وي کدي اهل فرزندان وي
دوي امان وي له آفته لخواري لذ لته

بسم الله الرحمن الرحیم بسم الله توکلت
علی الله لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم اللهم
ارضنی بما قضیت و بارک فیما قدرت حتی لا احب
تعجیل ما اخرت ولا تاخیر ما عجلت بسم الله علی نفسی
و دینی واهلی و مالی و ولدی وسنة الخلفاء ۱۲

که حاجت کوي خود ړایه دا دعا لمبري یه وایه
چه بند خلاص کړي له ازاره تبه خلاص شي له آزاره

که پېرې وي که ديويان وي — چه ضرور دي تا ده ځان وي

پدا وقت سرې تنها وې — حفظه لده جدا وې

ډېر آزار کېږي لدوبه — پدا وقت کښې اې خوشخويه

اللهم انى اعوذ بك من الخبث والخبائث من

الشيطان الرجيم ۱۲

چه ولاړ شې لغه ځايه — وپاک ځاى ته دل ارايه

دا دعا لوله د لبره — رب دي تا که بهره وره

الحمد لله الذى اخرج عنى ما يؤذينى واسالك فيما ينفعنى

غفرانك ربنا واليك المصير نعم المولى ونعم النصير ۱۲

لرې د ړومه لد يا ره — خپل ځان پټ کړه له آزاره

چه حاجت که بې حجابه — خلاص به نشې لعذابه

چه وده وته بل گورې — ډېر لعنت پر دواړو ري

فى الحديث لعنة الله على الناظر والمنظور ۱۲

چه نه درخته نبه لاروي — نبه غاړه ده جوي باروي

چه ودا لوړ ته تعين شي — پهغه لحظه لعين شي

کنه سیوري کسا یه وي | یا په درختو کښې میوه وي

في الحدیث من قضى حاجة تحت شجرة مثمرة او علی طریقة عامة او وسط نهر جار فعلیه لعنة الله والملائكة والناس اجمعین ۱۲

هرګز بول مکړه ګوره | په ولاړ رب دي زغوره
د رسول پخو جفا دي | نه شبهه او نه خفا دي

في الحدیث اربع من الجفاء ان یبول قائما وان یمسح وجهه من الثواب قبل فراغه من الصلوٰة وان یسمع منادیا فلا یجب ان اذکر عنده فلا یصلی علیه ۱۲

مګر خاي پلیت مردار وي | پر صورت دده پر هار وي
یا ستي کښې یه ضرر وي | که ریزي دي مضطر وي
یا مرض د یچاده ملاوې | په ولاړ کښې یه دوا وي

قال الاطباء البول في الحمام قائما دواء من وجع الصلب ۱۲

احتراز کوه لغاره | کپو هیزي اي دلداره

وه ویریږي لضرره | ده پرې دیو لشره

في الحديث لا يبولن احدكم في الجحر فانها مساكن الجن

بل هم خان چپ کړه لبا ده | لغه ځایه نیك نها ده
چه به ځاځکي درسیږي | تن جامه دي مرداریږي
دېر عذاب ده قبر کوره | وي لدا سببه وروره

في الحديث استنزهوا عن البول فان عامة عذاب القبر منه ١٢

روبرومشه هیڅ کله | وقبله ته څما دله
مه قبله کوه وشاته | دېر به څه وائم وتاته
وقبله ته داخیل ځنك کړه | مدام بول پدارنك کړه

في الحديث لا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها لكن شرقوا وغربوا ١٢

پر حاجت باندي ته دېره | ناسه مکوه دلیره
وه ویریږه لبا سوره | اي څماده ستر کو نوره

قال لقمان لا تطل القعود في الحاجة فانه يورث

الباسور ۱۲

بول مه ښه په زوره | که غالب وي پر هر کوره
مشانه بد شي ورانه | شه خبر لسود ه زیانه

سنة الوضوء ۱۲

چه اوبه کړي پر لاس توبه | استنجا کوي خوشخوبه
دادعا لوله سنت دي | چه امان ده هر آفت دي

اعوذ بكلمات الله التامات من شر جميع ما خلق واعوذ بك من همزات الشياطين واعوذ بك رب ان يحضرون اللهم اجعل طهوري

وكفاته لذنوبي تنها ۱۲

پاکي مکره لطعامه | لهډوکي دل آرامه
یا وابنه وي یا به سکور وي | یا بل خیز چه پوخ په اور وي
یا پلیته لوټه یاره | چیه ته آخلي دوباره
کڅان پټ کړي له آزاره | استنجا وکړي د لداره
دادعاده دلپذیره | چه ثواب یه بي نظیره

الحمد لله الذی جعل الماء طهورا والاسلام نورا
ومحمد صلی الله علیه وسلم مبشرا ورسولا اللهم
طهر قلبی وحصن فرجی ویسر لی امری ۱۲ ۱۲

چه اودس کوي هوښمنده	دواړه لاس مینځه تر بنده
دا دِ ورد دا د طاعت دي	چه ده یمن برکت دي

بسم الله الرحمن الرحیم بسم الله العلی العظیم والحمد لله
علی دین الاسلام والاسلام حق والکفر باطل اللهم
ثبتنی علی دین الاسلام وامتنی علی شهادة ان لا
اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله
اللهم انی اسالك الیمن والبرکة واعوذ بك من
الشوم والهلکة ۱۲ یا الله ۱۲

صاحبه سید رحمت ۱۲

چه اوبه کړي لخولې تویه	دا دعا لوله نیك خویه

اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد واعنی علی ذکرك و
شکرك واحسن عبادتك وتلاوة کتابك ۱۲ ۱۲

چه مسواك وهي د لبره | دا دعا لوله لسره

اللهم اجعل تسويكي هذا تمحيصا الذنوب ومرضات لك يا سيدي

بيا په پوزه كښ اوبه كره | دا دعا و بل بخوله كره

اللهم ارحني رايحة الجنة وارزقني من نعيمها وانت عني راض

بيا ده پوزي سوبه ول كره | ته ده دئ ذكر وئل كره

اللهم لا ترحني رائحة النار وجحيمها وانت علي غضبان اللهم اني
اعوذبك عن روايح النار وسوء الدار كاتبه رسول

بيا اوبه توبه پر مخ كره | دا دعا لوله نور مخ كره

اللهم بيض وجهي بنور معرفتك يوم تبيض وجوه اوليائك
ولا تسود وجهي يوم تسود وجوه اعدائك

چه بني لاس مينځي اي لاله | دا دعا وايه لقا له

اللهم اتني كتابي بيميني وحاسبني حسابا يسيرا

ده كين لاس دعا دي داي | يكتاب كښ هويدا دي

اللهم لا تعطني كتابي بشمالي ولا من وراء ظهري ولا تحاسبني
حسابا يسيرا اللهم لا تجعل يدي مغلولة الى عنقي

ته پر مسح

ته پر مسح ده سر جانانه | شه ده دي ذکر گویانه

اللهم غشني برحمتك وانزل علي من برکاتك وظللني
تحت ظل عرشك يوم لا ظل الا ظله ولا تجمع بين
نوصا واقدامنا ١٢

بیا پر مسح ده غوږ دله | لدعا مشه غافله

اللهم اجعلني من الذين يستمعون الاقوال فيتبعون
احسنه واسمعين منادي الجنة مع الابرار ولا تسمعني
منادي النار مع الاشرار ١٢

پسي مسح کړه پر غاړه | دا دعا لوله پرویاړه

اللهم فك رقابنا ورقاب آبائنا وامهاتنا من النيران
واعوذ بك من السلاسل والاغلال

کړه پر پښي په اوبه تويه | دا دعا لوله نيك خويه

اللهم ثبت قدمي على الصراط يوم تزول الاقدام ١٢

انا انزلناه ده يو خله | پر کينه پښه هم خادله
يو سو کاله عبادت دي | لکا به روايت دي

بل لوستل ده تشهد دي | چه پر هر اندام لابد دي

بل قادر هم ته دِ ړي واړه | پر اندامو ایه د لداره

پر دښمن بدي قوت وي | هم توانا بدي صورت وي

خاتمه ده اودس دادي | پکتاب چه هویدا دي

اللهم اجعل سعیی مشکورا وذنبی مغفورا وعملا مقبولا وتجارتی لن تبور برحمتك یا عزیز یا غفور

چه پخوله یه دا اذکار وي | ده اوس پکار بار وي

پاك الله به لکر مه | ده او بو لهره نمه

یو ملك پیدا که گوره | چه تسبیح به وائي وروره

په اویا او یاز بانه | ده قیامت ته روح جانه

چه ثواب یه ده بنده وي | که ژوندي وي که مړه وي

فی الحدیث والذی بعثنی بالحق نبیا یا انس من قالها عند وضوئه لم یقطر من خلال اصابعه قطرة الاخلق الله تعالی منه ملکا یسبح الله تعالی بسبعین لسان یکون ثوابه الی یوم القیمة ١٢

ما ولا

بیا ولاړ شه لغه خایه	او به وځنه دل آرایه
چه وي تیري له اودسه	دعا لوله بو الهوسه
چه هر درد لره دوا دي	هم دارو دي هم شفا دي

اللهم اشفنی بشفائك وادنی بدوائك اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین واجعلنی من الذین اذا ابتلیتم صبروا واذا اعطیتم شکروا واجعلنی من عبادك الصالحین الذین لا خوف علیهم ولا هم

بحر نون ۱۲

ورپسي هم ته دري ځله	تشهد وایه اي د له
خود به رب خلاص که وتاته	اته دره له جناته

اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله فی الحدیث من قالها فتحت له ابواب الجنة الثمانیة یدخل من ایها شاء ۱۲ یا الله

بیا نظر کړه وآسمان ته	وخلقت ده پاك سبحان ته
داد عاده نیك خصلته	وي محفوظه تر قیامته

شي تر عرش لاندي مکتوم | ملائک یه که مختوم
چه زوال ده دې هیڅکله | بګناه نوي اي د له

الحمد لله الذی خلق السموات بغیر عمد ترونها سبحانک الله و بحمدک استغفرک و اتوب الیک فاغفرلی و تب علی انک انت التواب الرحیم فی الحدیث من قرء ها تسم علیها بخاتم فوضعت تحت العرش و لم یکسر الی یوم القیمة ۱۲ و سنة قیام

اللیل ۱۲

چه فارغ شي له اودسه | تهجد کړه بوالهوسه
کډیر نه کیږی لتانه | کړه یو شفعه نادانه
بل دوه صلوة تسبیح دي | ډیر لذیذ ډیر ملیح دي
لکه پسه چه لو شي یاره | خلاص کړه ځان لدغه باره

فی الحدیث صل من اللیل ولو قدر حبلة شاة ۱۲

دا بهتر توکل جهان دی | نیک عمل نیک نشان دی
هر چه څه دي پدنیا کښ | مکره شک پدا ونیا کښ

فی الحدیث رکعتان فی جوف اللیل خیرٌ من الدنیا و ما فیها ۱۲

چه بیدار یه آخر شب وي — پر هغو رحم د ه رب وي
مغفرت یه په نصیب وي — هغه کس د ه خداي حبیب وي
لجبریل داؤد ه سوال کړ — پدا رنګ یه قیل قال کړ
کوم یو وقت د ه اِجابت دے — چه د پر قدر عزّت دے
د ه وي نیم پوهیده لي — امّا هومبره غوزیده لي
عرش خالي نوي لبنوره — وسحر ته ځما ورور ه
وسحر ته چه بیدار وي — د ه هغو به اِستغفار وي
د ه هغو چه مغفرت شي — قراري پسکونت شي
رب نازل شي لا مکا نه — و ه دنیا ته آسما نه
اخر شب وته د لبر ه — روایت دي لخبر ه
وایه کوم سړي دعا که — ځما ولوړ ته تمنّا که
چه دعا یه کړم قبو له — پا ته دي نشي ملو له
هغه څوک دي چه سوال که — عاجزي د ه ذوالجلال که

زه به ور کړم هر چه غواړي | چه خوشحاله وي په وياړي
کوم سړي وي چه زهير وي | پګناه به په تقصير وي
مغفرت غواړي لمانه | چه په وبخښم جانانه

في الحديث ينزل ربنا كل ليلة الى سماء الدنيا
حين يبقى الثلث الثالث ثم يقول من يدعوني
فاستجيب له من سائلني فاعطيته ومن يستغفرني
فاغفر له ۱۲

که ملوله شي بد خوابه | ته اوده شه اي احبابه
لږ آرام کړه تر سحره | بيا وقتي پاڅه د لبره
في الحديث ليصل احدكم من الليل ما يتسير له فاذا
غلبة النوم فرتقد ۱۲

دير تکليف مکړه لځانه | چه ملول کېشي جانانه
پطاعت کښ چه کهال شي | پاک الله لده ملال شي
في الحديث لا تكابدوا الليل ايضا فيه ان الله لا
يمل حتى تملوا ۱۲

کهال شي

چه پر زړه ده سري زور روي — ده باطن چشمان يه کوړ وي
نه اخلاص نيه حضور روي — بنده گي يه پضرور روي

قال علي رضی الله تعالی عنه روحوا القلوب فانها

اذا کرهت عميت ۱۲

چه تهجد و کړي مؤمينه — غافل مشه ليا سينه
چه دي زړه ده درست قرآن دي — بحديث کښ چه بيان دي

فی الحديث لکل شئ قلب وقلب القرآن يس ۱۲ ۱۲

چه خاص ده خداي ده پاره — بنده ولولي دلداره
ده گناه يه مغفرت دي — بل ثواب يه نهايت دي
لکه څوک چه دوه ويشت ځله — قرآن ولولي اي دله

فی الحديث من قرءها يريد به وجه الله غفر الله وله
من الاجر کانما قرء القرآن اثنی وعشرين مرة ۱۲ ۱۲

ته وريه شي تر مراده — يدوه کوه نيک نهاده
شي به خلاص لهره شره — کړه باور لد اخبره

فی الحديث تدعی القيمة والدافعة والقاضية ۱۲

بل یا حيّ یا قیوم دے | ډیر ثواب ډیر یه شکوم دے
دي سبب ده هر فتوح دي | زنده کي ده مړده روح دي
نه یو ځل ده ده عدد دي | دا یه عدُ دا یه حد دي
هم درود ده څما و روره | په اوّل اخر کښ کوره

وسنة الصّباح والمساءِ

چه خبر شي لصادقه | په امز ولیو کښ فایقه

سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم وبحمده

استغفرُ الله العظیم واتوب الیه

ملائک به تري پیدا شیے | اراده چه ده مولی شیے
چه تسبیح که تر قیامته | ستاده پاره نیک خصلته
هم دنیا به لوړه لوره | پرتا توبه شي هر کوره

فی الحدیثِ من قرءها مائة مرّة یخلق الله تعالی من
کل کلمة ملکا یسبح الله تعالی الی یوم القیمة ولك
ثوابه و تاتیك الدّنیا راغمة عشرة

ته سنت ده صباح دله | کره یکوره کښ تر تله تله

بیا مسجد لره رفتار کړه | څه نمونځ وکړې ځان تیار کړه
خو چه نمر نوي ختلي | ته ترشا کړه کور کلي
نماز دیګر هم ترماښامه | چرته مځه د دل آرامه
وطاعت ته غاړه کښېږده | ده دنیا شغلونه پرېږده

فی الآیة فسبح بحمد ربك قبل طلوع الشمس وقبل غروبها

پاك الله بدي غمخوار شي | ستا به جوړه هره چار شي
كده دین كه ده دنیا وي | چه غمخوار دي پاك الله وي

فی الحدیث حكایة یا ابن ادم اذكرونی بعد الفجر ساعة وبعد العصر ساعة اكفك رضیت مؤنة ما بینهما

هم له اوره به حجاب وي | ستا په برخه به ثواب وي
درجه بدي شي پوره | ده فردوس جنت ولوړه

فی الحدیث من صلى صلوة الصبح ثم جلس یذكر الله حتى تطلع الشمس كان له حجابا وستر من النار

وله فی الفردوس سبعون درجة

دلوره

کته زیرمه ده دنیا کړي | خپل غوله به تاله کړي
جوړ کارونه بدي وران شي | چه خاطر دي پریشان شي
یو ویښته به ستا تر کوره | زیاتي د رنشي اي وروره
تر هغه چه مقدر وي | ستا په بخره به مقر وي

في الحديث من اصبح وهمه الآخرة يجمع الله له و حفظ عليه ضيعته وجعل غناه في قلبه واتته الدنيا راغمة ومن اصبح وهمه الدنيا شتت الله عليه امره وفرق عليه ضيعته وجعل فقره بين عينيه و ولم ياتيه من الدنيا الا ما كتب الله له ١٢ يا الله

چه مشغول بیګاه سحار وي | په تسبیح په اذکار وي
تر هغه په ثواب زیات وي | چه تل خیر خیرات وي
تل په جود تل سخاوي | په زرګونو په لګاوي
تل وزلیه توره وهینه | لجنګ ریزه اي مؤمنه

في الحديث الذكر لله بالغداة والعشي افضل من حطم السيف في سبيل الله واعطاء المال سخاء وسعاء

بامی بوند

یا مړی ونه څوک آزاد که — چه خسته زړونه پښاد که
چه اولاد ده اسماعیل وي — په بندګی کښ خوار ذلیل وي

في الحديث الاشتغال فيهما احب من اعتق اربعة رقاب

من ولد اسمعيل عليه السلام

په سحر چه تحیه دي — ده اوراد فتحیه دي
بل مسبع العشر دي — په بیګاه په سحر دي
چه لخضره یه تعلیم دي — روایت چه ده تمیم دي
بل کبریت دي دلپذیره — چه منقول دي له دستګیره
بل هم دا آیات دري خله — ته هرګز مشه غافله

فسبحان الله حين تمسون وحين تصبحون وله الحمد
في السموت والارض وعشيا وحين تظهرون
يخرج الحي من الميت ويخرج الميت من الحي ويحي
الارض بعد موتها وكذلك تخرجون
صاحب اين نسخه شريف عاليجاه آخونزاده سيد رحمت

تدارک ده هر نقصان دي — چه دو وقت پښیمان دي

في الحديث من قالها في الصبح تدارك ما فاته في الليل ومن قالها في المساء تدارك بما فاته في النهار

بيا چه خلاص شي له اوراده	ته اشراق کړه نيك نهاده
چه لدودي بيا تر لسه	کا ورکړي بو الهوسه
چه پد وه کښ مغفرت دي	ده خلوړ منزلت دي
چه به شپږ که اوابين دي	چه اته که فائزين دي
چه لس که سړي پوه وي	نيه خوف نيه اندوه وي

في الحديث من صلى الغداة وجلس في مصلاه حتى توضع الشمس مقدار الريح فقام وصلى ركعتين كتب في ديوان المغفورين وان جعلها اربعا كتب في ديوان القانتين وان جعلها ستا يكتب في ديوان اوابين وان جعلها ثمانية كتب في ديوان الغازيين وان جعلها عشرة كتب من الذين لا خوف عليهم ولا هم يحزنون

په اشراق پسي خوشخويه	تلاوت ده قرآن بويه
وړپسي مي بيا ضحي دي	چه سنت ده مصطفي دي

بند ضحى

نيك بختي و وسعادت دي هم غنا و هم دولت دي

في الحديث لا غنى مع الزنا و لا فقر مع الضحى

بيا پسي علم آدب دے چه تدريس يا مكتب دے

ده علم فضل جانانه پر عامي ده صد چندانه

لكه فضل ده نبي وے پر ادني چه امتي وے

في الحديث فضل العالم على الجاهل كفضلي على

ادنا ئكم

چه څلويښت حديثه يادكه عمارت ده دين بنيادكه

ته څلويښت زره درمه دا بهتر دي اي صنمه

چه خيرات يې كه اي ياره خاصه ته خداي ده پاره

هم بنا بكه دلبره څلويښت كو ته زيبا غوره

ده دغه بنده ده پاره جنت كښ اي دلداره

هر حديث به جدا نور وي بقيامت چه پر حضور وي

في الحديث اربعون حديثا يظهر العبد حين من

اربعين الفا يتصدق به و اعطاه الله بكل حديث مدينة

في الجنة وله بكل حديث نور يوم القيمة ١٢

چه نه ملا وي نه طالب وي ... وبل کسب ته راغب وي
وي بي خيره پچهان کښ ... مکره شك پدا بيان کښ

في الحديث لا خير فيمن لا يكون عالما او متعلما ١٢

دي حساب وي لمګسه ... لنا بوده لنا کسه
سري ندي دل آرايه ... چه بتر دي لچار پايه

قال علي رضي الله تعالى عنه الناس رجلان عالم رباني
ومستعمل على سبيل النجاة وسائر الناس همج رعاع ابتداء ١٢

که پر زرو رنځورانو ... خوك پښتنه که يارانو
يا داهومبره رکعتونه ... نمونځ کوي پزحمتونه
يا حاضر شي ومړده ته ... چه دعا وکه وده ته
تروا په وُدا بهتر وي ... چه لعلمه بهره ور وي
کوي ناسته پمکتب کښ ... پخپل علم په آدب کښ

في الحديث الاشتغال بالعلم افضل من صلوة الف
ركعة وشهود الف جنازة وعيادة الف مريض ١٢

خلاصه

خلاص به نشي لشیطانه ‌ ‌ ‌ کهر خوبندگي کړي جانانه
بي ده علم له صلاحه ‌ ‌ ‌ طمعه مکړه لفلاحه
چه داد رسته پلاس وي ‌ ‌ ‌ ده شیطان لمکره خلاص وي

في الحديث فقيه واحد اشدّ على الشيطان الف عابد

چه هلك ووزي لکوره ‌ ‌ ‌ ده مکتب ولورته وروړه
په طلب کښ ده قرآن وي ‌ ‌ ‌ لپدره یه احسان وي
یو دراهم چه پدر لاله ‌ ‌ ‌ واستاد ورکه خوشحاله
ده احد ده غره پخیر شي ‌ ‌ ‌ چه ثواب یه ترحد تیر شي
پدا کور کښ برکت وي ‌ ‌ ‌ لزیه شر شقاوت وي
لخاطر دي مضطرب شي ... چه غالب پر تا غضب شي
طهارت کوه خودرایه ... اعوذ بالله هم بخوله وایه
چدي مړ شي اور له آبه ... کیو هیڅري اي مهتابه

فی الحدیث ان الشیطان خلق من النار وانما تطفی من النار بالماء واذا غضب احدکم فلیتوضا "

نه ده دین بچار و یاره ... غیرت مه پریږده بکاره
چه ترشا ده دین غیرت که ... تل بخپك کبن همت که

په کبیره وګبن حساب دي — روایت چه ده کتاب دي

الاصل الرابع في الحسد

په حسد کبن سیاکرم سود دي — الحسود لا یسود دي

چه ده بل نعمت وویني — پسي خوري د زړګي ویني

تل مدام پسي نولیږي — په نیکي یه اور لګیږي

لکه اور لګي بي باکه — لګیا هه لخاشاکه

في الحديث دب اليكم داء الامم الماضية الحسد و البغضاء الحسد ياكل الحسنات كما ياكل النار الحطب

سود دي نشته بي لږ یانه — بحسد کبن اي نادانه

یو دي زیان پکبن ده دین دي — بل خاطر دي اندوهګین دي

پرده پروت وي نعمتونه — ستا پزړه کبن زحمتونه

که هر څو مایم پروه کړي — یو وبسته بیه خم نکړي

چه ورکړي پالله دي — ستا بي ځا افسوس اه دي

في الحديث حكاية عنه تعالى الحاسد عدو لنعمتي متسخط لقضائي غير راض بقسمتي التي

قسمت بین عبادی

حسد دا دی ای دلبره ... رب دی تا که بهروره
چه ده بل مال دولت وی ... یا به جاه یا عزت وی
یا وي ښوک خوشحال تابانه ... بخاطر ده دوي پنهانه
خالي لاس یا ته حیران وی ... یا غم جن هم پرېشان وی
سبب کبر عداوت وي ... یا خبیث دي طبیعت وي
ته ده خدای ده مال بخیل ئې ... په باطن رنځور علیل ئې
کسب ظلم هم عصیان دي ... په بل ځای کښې نمایان دي
چه غرور په جاه مال که ... پګاه کښې ځان پایمال که
دا ده دین غیرت ده کوره ... حسد ندي ښما ورورہ
هم که دا رنګ ستا رضا وی ... چه دا رنګ نعمت دي تا وی
ده الله لو د رباڼه ... ده ده حال وی برقراره
منافسه په بولي کوره ... دا حسد ندي ای ورورہ
نا روا ندي روا دي ... طبیعت محمول پر دا دي
چه رضا په شي و مال ته ... هم و جاه و منال ته

کد ښمن ده سرمال وي — دي ښمن ده جاه مال وي
بي اختياره دي زړه بد وي — ور ته پيش بغض حسد وي
خوشحالي کوه پر زوره — ده ده مدحه ثنا ور وي

في الحديث ثلثة لا تبجوا منهن احد الظن والطيرة و
الحسد وساجدتكم بالمخرج من ذلك اذا ظننت فلا
تحقق واذا اينظر فامض واذا احسدت فلا تبغ ۱۲

بل پر ده باندي احسان کړه — دي غلام په خپل احسان کړه
ورک بستا حسد بفضل شي — هر دښمن بدي اشنا شي

في الآية ادفع بالتي هي احسن فاذا الذي بينك و
بينه عداوة كانه ولي حميم ۲ وقال علي رض الانسان
عبيد الاحسان ايضا قال بالبر تعبد الحر ۱۲

الاصل الخامس في البخل ۱۲

چه لبخله سري خلاص وي — په سخا کښي په تل لاس وي
هغه خلاص لدرد سره — پدوه کونه اي دلبره

فی الایة ومن یوق شح نفسه فاولٓئك هم المفلحون

بد عنزه بد خصلت دی | طوق دغاري یقیامت دی
خلاص کړه ځان لدغه بنده | کیوهیږي اي هوښمنده

فی الایة بل هو شر لهم سیطوقون ما بخلوا به

یوم القیمة

سخاوت درخته رنګینه | پجنت کښی اي مؤمنه
چه ترلاندي یه سخیان وي | تل خوشحاله او تایان وي
داه دی بخل درخته وروره | ده دوزخ پمیان کښی ګوره
ده بخیل مقام د لداره | پناه غواړه لستاره

فی الحدیث السخاء شجرة تنبت فی الجنة فلا
یلج الجنة الا السخی والبخل شجرة تنبت فی النار فلا

یلج النار الا البخیل

تر بخیل چه ډیر زاهد وي | دي یاړساوي هم عابد وي
دا بهتر ګنه رائیسه | روایت دي لحدیثه
چه سخي وي او جهول وي | لطاعته یه ذهول وي

بمسلم کښ به هیڅ کله — داخو یونه نوي د له

چه بد خلقه وي بد غونه — هم ده بخل بد داغونه

چیه دا خصلت هیڅ زوي — په ایمان کښ یه ضرروي

فی الحدیث لا یجتمع فی مؤمن البخل و سوء الخلق

الاصل السادس فی حب الدنیا

چه مشغول که لخدایه — کله نیا دي دول آرایه

کدي مال وي کدي جاه وي — لحشم وي که سپاه وي

کدي آس وي کدي خر وي — کدي سیم وي کدي زر وي

کعور ته کفرزند وي — چه دي زړه پوري پیوند وي

فی الایة زین للناس حب الشهوات من النساء و البنین و القناطیر المقنطرة من الذهب و الفضة و الخیل المسومة و الانعام و الحرث ذلک متاع الحیوة الدنیا و الله عنده حسن المآب

بمذهب ده عارف لا له — ماسوی لذو الجلاله

چه پدار کښ ده دنیاوي — همگي واره دنیاوي

که عصیان وي که غفلت وي | که ثنا که عبادت وي
خکه پاك رسول گفتار کړ | پد نیا کښ یه شمار کړ
ده ډمانځه فیض ای دله | رب دي تانکه غافله

فی الحدیث حببت لی من دنیاکم ثلث الطیب و
النسآء وقرة عینی فی الصلوة

زنده کي ده دنیا کوره | مسخره بازي ده وروره
چه ده زړه ستر کي بیناشي | هغه پوه پد اوبیاشي

فی الآیة انما الحیوة الدنیا لعب ولهو وزینة
وتفاخر

رب ده مخلوق پر لوري | په نظر ده رحمت کوري
که دي سلك وي که خنزیر وي | که حبه وي که نقیر وي
لغه وقته چه پیدا دي | لنظر یه جدا دي

فی الحدیث ان الله تعالی لم یخلق خلق ابغض الیه
من الدنیا وانه لم ینظر الیها من خلقها

پظاهر شایسته زیبا دي | په باطن لویه وبا دي

لکه مار چه نقش نګار وي ... ډک له زهر به پرها روي

عن علي رض الى السلمان الفارسي مثل الدنيا
مثل الحية يلين مسها و تقتل سمها

سحر کره دي بي شماره ... چه دي ډوب نکه نګاره
خودي لبني رسيزي ز غله ... کوندي خلاص شي خماد له

في الحديث فاحذروا الدنيا فانه اسحر من هاروت
و ماروت ١٢

شوه پخپل صورت کره عيانه ... وعيسى و ته جانانه
وه بلهي پيرانه سره ... پور له زيب له زيوره
تر زيور ده لا ندي کوره ... دا بد شکله وه هر کوره
کړه عيسى پوښتنه باره ... ده بدي لکاره باره
چه ته خوک ئې راته وايه ... خپل احوال راته ونمايه
وي دنيا يم اي ماهره ... شوم پخپل صورت ظاهره
چه را کړي پاک مولى ده ... عالم کوره نابينا دي
بزيور خما غلط وي ... چه پر ما به محبت وي

بیا عیسی وي لن بانه — تا نکاح کړي بچانه
دي وي ډېر دي بې قیاسه — شماره نشي خما له لاسه
بیا عیسی ویل بیان کړه — کل احوال را ته عیان کړه
طلاق ونه یه در کړیې — که مرګ وني دي بیل کړیې
دي وي ټوله ماوژلي — پخپل لاس مي دي وژلي
ده عیسی پاته حیرت شه — دا یه پند هم عبرت شه

روي انه كشف الدنيا لعيسى عليه السلام فرءيها في صورة عجوز شوها عليها من كل زينة فقال لها كم نكحت فقالت لا احصيهم فقال القول ام ماتوا عليك قالت لا بل قتلت كلهم

ده دنیا مینه فاني دي — کل وسواس یه شیطاني دي
ترکبیر ګناه اکبر دیې — بحدیث کدي باور دیې
سرچشمه ده کل عصیان دیې — دا یه طور دایه شان دیې

في الحديث حب الدنيا من اكبر الكبائر ايضا فيه حب الدنيا راس كل خطيئة

چه دامینه پای بند وي ❀ ده دنیا پچال کښې بند وي
شب روز وي په عصیان کښې ❀ په ګناه په طغیان کښې
هغه کس ده خان غلیم وي ❀ عاقبت یه خاي جحیم وي

فی الایة واما من طغی وآثر الحیوة الدنیا فان
الجحیم هی الماوی

کده یر زهد پرهیزي که ❀ تل بیدار وي شب خیزي که
غرونه غرونه یه عمل وي ❀ چه حب ده دنیا مل وي
دي به ورولي نه اوره ❀ کبا ورډي کیږي ورور

فی الحدیث لیجیئن اقوام یوم القیمة اعمالهم کجبال
التهامة فیؤمر بهم الی النار قالوا یا رسول الله
مصلین قال نعم کانوا یصلون ویصومون ویاخذون
هنة من اللیل فاذا عرض علیهم شیء من الدنیا وثبوا علیه

چه عجب یه مبتلا شي ❀ تري بیدا به خو بلا شي
یو لخدایه بیګانه وي ❀ په ایمان کښې به رخنه وي
بل به تل په غم آلود وي ❀ ده دنیا په زیان سود وي

بل مشغول به روز شب وي | خلاصیده به یه پرب وي
بل پزره کښي به محتاج وي | که څښتن ده تخت تاج وي
بل مرګي ده سرړي هیڅ وي | چه ده ژوندا سید یه ډیر وي

في الحديث من اصبح الدنيا اكبر همه فليس من الله في
شئ والزم قلبه اربع خصال هما لا ينقطع ابدا و
شغلا لا يتفرغ منه ابدا وفقرا لا يبلغ غناه ابدا و لا منتها

ده دنیا مثال اي وروره | ده دریابا و به دي ګوره
څو یه ډیري څښي طالبه | هو مبره تنده که غالبه
څو پیدا تري استسقا شي | نه علاج نیه شفا شي
اخر دي مړ شي بي آبه | به اوبه نشي سیر آبه

قال عيسى عليه السلام مثل الدنيا مثل شارب ماء البحر
كلما ازداد شربا ازداد عطشا حتى تقتله

که سیلاب ده سیم زر وي | چه روان دي چا پر در وي
بل دوم غواړي بخله | مړ يه نشته اهوله
یاد یم ګوري بي صبره | سوړ به نشي بي لقبره

في الحديث

في الحديث لو وجد الانسان ولويا من الذهب لا تبتغى ثانيا وثالثا ولو وجد ثانيا لا تبتغى ثالثا فلا يملاء بطنه الا التراب ١٢

تو له وي په پړ وه لاسه ... که لکښي وي که لپاسه

ورته خیر کوري کوثر چشمه ... لکه سېي چه وي چار خيمه

ترې يه کله کېږي صبر ... څو بندي نشي لقبره

في الآية الهكم التكاثر حتى زرتم المقابر ١٢

صد لعنت پر دنيا باندي ... هر چه مينه که پري باندي

چه وجه خدائ نه وي ... ده دنيا وفايه نه وي

چه قدر ده خپل كفاف وي ... لسواله يه عفاف وي

في الحديث الدنيا ملعونة وملعون ما فيها الا ما كان لله ١٢ يا الله ١٢

په مثال د مخوند وړوړه ... دين دنيا کښه اي وروره

چه يوه پر بستر وي ... بله د مرومي د پر لد روي

چادا اوړ اوب کلي ... په يوه ځاي کښ چاليدلي

قال عیسی علیه السلام لا یستقیم حب الدنیا وحب الاخرة فی قلب مؤمن کما لا یستقیم الماء والنار فی

اناء واحد

دا دنیا ناویه لجانه	محبت کله که جانانه
خو یم هر کښ دین ورکه	بچان پوهږي دا زیورکه
هي توبه کړه شیر محمده (صاحب کتاب)	ویره خوف دې پر دي لحده
لداهسي رنګ نکاحه	چه بتر دي لصفاحه
پدنیا چه خوك آلودشي	بظاهر صورت وجود شي
داګمان مکړه مکاره	چه پزړه یم ترکناره
په اوبو کښ ګذر نشي	خو قدم دي پتر نشي

فی الحدیث مثل صاحب الدنیا کمثل الماشی فی الاهل

لا یستطیع الذی فی الما لا یبتل قدماه

چه ضرور قدر حاجت وي	که طعام وي که کسوت وي
دا سړي لره ضرور دے	ماسوی واړه محظور دے
زیات تر دي سم قاتل دي	چه حدیث پدا قایل دي

ذالحدیث

في الحديث من اخذ من الدنيا فوق ما يكفيه فقد
اخذ حتفه وهو لا يشعر ۱۲

ځکه پاک رسول اي دله | بدارنك دعا كوله
رب كفاف څموږه قوت كړي | تيه قوت لا يموت كړي

في الماثورة اللهم اجعل قوة آل محمد عليه السلام
كفافا ۱۲

سر يه دادي اي نادانه | ته خبر لخپله خانه
چه انسان يو بو العجب دي | روح تن تن يه مركب دي
دي پذات ده ملكوت دي | هند پنز كښې ده ناسوت دي
بيا به د رومي و مسكن ته | و داخپل اصلي وطن ته
چه ده بل وطن طلب كه | اول زيرمه ده مركب كه
هيڅوك نه رسيږي ياره | بي مركبه ته ديار ه
بيا توښه دلاري بويه | دي مركب لره خوشخويه
چه نه كاه نيه دانه وي | څوك سفر كه ديوانه وي
اخر دي پر لار حيران شه | چه مركب يه ناتوان شه

که مرکب پتو بنه ځار که ‌ دې پياده په پسې رفتار که
وريه دې شي ترمنزله ‌ خان بخوار که خما د له
سود يه نشته لمرکبه ‌ بې خوارۍ بې تعبه
چه پر سر به وي پنډونه ‌ هغه کله که پنډونه
وروزي دې لخپله کونه ‌ تخانه سيزې وروده
نه دلي شي نه هورې شي ‌ يا نه دې لقافلي شي
يخپل پنډ به پورې حيران وې ‌ اخر مرګ يه پر بيابان وې
اول خان خلاص کړه لبار ‌ بيا سفر کوه دلداره
خود به وير شي خوشحال له ‌ ته اصلي وطنه لا له

في الحديث حب الوطن من الايمان

کغنم وي بخوار وې ‌ که اوربشي نول تيار وې
چه ده لوزي اوربشينه ‌ دا بکار دي اي موءمنه
که شړي وي که کتان وې ‌ چه دې فرض په پهنان وې
که کليم وي که نمد وي ‌ چه ليخله که ناسد وي
دا توبنه ده ستاده لارې ‌ درته وايم کيه آورې

چه لدا قدره هم کم وي — مبتلا ده لس په غم وي

کله خلاص وي و طاعته — ده عقبی و صباحته

که پرزه کښې یې نولیږي — و مطلب ته نه رسیږي

فی الحدیث الدنیا مزرعة الآخرة ۱۲

زیاتي مال لدا قدره — عبث مال دي برادره

سود دي نشته بې لږ یا نه — بدا بار کښې اي نادانه

فی الحدیث لعایشة رضی الله تعالی عنها ان اردت اللحاق بي فلتکفي من الدنیا بزاد الراکب ولا تخلعي قمیصاً حتی ترقعیه ۱۲

که لاس آخلي نن دي وار دی — مرګ پغوټي وهي تلوار دي

ده ځواني عمر چه تیر شي — حرص لا ده زاره پیر شي

که څو سړي زړ پیر یې — دوه صفت ته یې ځوانیږي

بویه حرص هم بلا امل دی — بدکردار بد په عمل دی

فی الحدیث اذا شیب الانسان شاب فیه خصلتان الحرص وطول الامل ۱۲

بچواني کښې يو صورت وي | لجنجاله فراغت وي
ده تجريد عمر چه تير شي | آل اولاد ده سمې پېر شي
که حرص ده دوي ده پاره | وي وبخل ته لاچاره

في الحديث الولد مبخلة

پردي غم په صورت يار که | خپل وجود لايق ده نار که
په قيامت به بېزاري وي | په هر چا خپله خواري وي

في الاية يوم يفر المرء من اخيه وامه وابيه وصاحبته

که په صد هزار بيشتر وي | آخر عمر در گذر وي
که خښتن ده کل جهان شي | آخر پاته په ارمان شي
پلحد کښې چه په کښېږدي | او ژړوندي په تنها پرېږدي
لېاړ انو به جدا وي | خپل خانه به په ژړا وي
تاريک قبر به سراي وي | نه رفيق نه همساي وي
توري خاوري به بستر شي | کاڼي لوټي به ترسر شي
يو کفن ده ده لباس وي | يا بافته وي يا کرباس وي
چه به پاته شي خوب رنګه | کښې بې بل ده دي لخنګه

پښان نان

پښان شان په خوشامند که ‌ ‌ ‌ آخر زړه ده دي خورسند که
پوچ باطل ده مړه احسان که ‌ ‌ ‌ چه سینه یه پرخان که
هلکان یه یتیمان وي ‌ ‌ ‌ خپل پره دي یه غلمان وي

قال علی رضی الله تعالی عنه الاقارب کالعقارب

فی اذآئها

د ریدر کوزي ترتلي ‌ ‌ ‌ نا امیده وي رتلي
مال ملك چه یه پاتیږي ‌ ‌ ‌ میراث خور یه پنا زیږي
یه نفاق ده ده ماتم وي ‌ ‌ ‌ یه باطن کښې خوش خورم وي
بت یه فکر ده وېش وینه ‌ ‌ ‌ ظاهر او ښیه خه خوینه
مال ملك یه ده خپل خان که ‌ ‌ ‌ نام ده قرض باندي روان که
همه واړه تار پتار شي ‌ ‌ ‌ وعمل ته لاچار شي
بحلال کښې حساب وي ‌ ‌ ‌ بحرام کښې عذاب وي
هر سړي چه پر جهان دي ‌ ‌ ‌ دا یه طور دا یه شان دي
چه ده تن حجاب پاره شي ‌ ‌ ‌ پوشیده اسرار ښکاره شي
وېښ شي دي ملسته خوابه ‌ ‌ ‌ شرمنده وي لاجوابه

في الحديث يناموا فاذا ماتوا انتبهوا ١٢ كاتبه رسول بابا

قصه شاه زاده ١٢

کهر څوک دي پښیمانه — سود یه نوي له ارمانه
لکه څوک چه شاه زاده وه — بد عمله بي هوده وه
ونکاح وته راغب وه — ده خوبانو د پر طالب وه
لهر چا یه تفحص کړ — لور پر لور یه تجسس کړ
څو پیدا یه کړه دلبره — ښایسته ئه زیبا دختره
وه لا مثله لا نظیره — یجمال ډیره شهیره
په نسب حسب شریفه — په صورت کښې هم ظریفه
پر جمال ده دي شیدا وه — محبت یه هویدا وه
چه راوسته ته کوره — پد یر ناز عزت و زوره
پر فالنکیه کښینو له — ده شراب و جښنه اي دله
بیا وتلي بیرونه وه — لخماره مستانه وه
ده کور لا ریه کړه غلطه — کیو هیزی نیک خصلته
ده مجوس مقبره وه — چه نامي یکښې ښکاره وه

یکښې

پکښې بل تازه تابانه   مشعلونه وه جانانه
چه عادت ده ولایت وه   ده مجوس طریقت وه
پری گمان یه ده خپل کور کړه   ده رفتار پر هغه لور کړه
چه داخل په هغه دړ شه   پطلب ده خپل دلبر شه
سپین کفن وه خلیده لی   پر عورت وه غوړیده لی
دابد شکله پیرانه وه   پنظر یه جانانه وه
پدیر ناز یه زغ پری وکړ   هیڅ سرور پورته نکړ
ده وی داتللی پځواب ده   خکه ساته لا جواب ده
پالمانه دا شرمیږی   لکه موم هسی ویلیږی
خکه نکا ندی خبری   چه خوزی وی ترشکری
په کفن یه درون سر کړ   چه وصال یه ده دلبر کړ
گاهی پوس گاه کنار وه   ده وصال یه طلبگار وه
کده لار یه بدخوند وه   پنظر یه شکرقند وه
که بدبوی ده دی بشر وه   ترگلاب معطر وه
درسته شپه وه پخوښی کښې   پجنون په بی هوښی کښې

شه بیدار لسته خوابه　　وسحر ته ای احبابه
دیر حیران او درمانده وه　　بخیل څان کښ شرمنده وه

حکایت فقیر ۱۲

حکایت واوره ای دوسته　　یو فقیر وه خدا دوسته
ده لنفسه تخالف کړ　　پدا رنګیه تخالف کړ
چه سؤال به لیجا نکړم　　ده بنده التجا نکړم
وه للوږي بي طاقته　　توان یه نوه تر ساعته
ناګاه راغي تر پالیږه　　شه خبر ده ده لریږه
چه پر ناست بخیل شوم وه　　فقیران ځیني محروم وه
ور ته نفس وویل سؤال کړه　　ویره خوف ده ذوالجلال کړه
هلاکیږم ده م ترد مه　　خلاص کړه ما لدي ماتمه
سنا هم پکښ عصیان وي　　چه هلاک پکښ ده ځان وي
ده وي چه وای مکاره　　خما توبه شه لدا کاره
چه زه کړي قسمات کړم　　وسؤال ته التفات کړم
فقیر جوړه نندار کړه　　ده په نفس مسخره کړه

وي په غلا کړه ستا ده پاره　　کته عهد کوي یاره

که بیا رده سال ځښتن وه　　بیا دي تا د شنام زدن وه

پري به صبر کوي کوره　　که هر څو دي که خمسوره

نفس قبول کړه د اقید و نه　　ده مضبوط وکړه عهد و نه

فقیر ګډ په ذراعت شه　　ده خپل خان په فضیحت شه

کاني لوټي په چنده کړي　　پدامن یه پوښیده کړي

ده پالیز ځښتن اي ورو ره　　پري ګمان کړ د غله ګوزه

په فقیر پسي یه رو کړه　　ګاه د شنام ګاه بیه دوکړه

ده ده تن یه رنجیده کړ　　خو دامن یه کشیده کړ

چه تري خواوړي توني دي　　ده پالیز ځښتن لید میلے

دي پر خپل عمل پښیمان و　　چه ناحق ده ده ګمان وه

راغي دي وخپل مسکن ته　　فقیر ولاړ وبل وطن ته

کل پالیز ده ده بدرنګ وه　　ده سرګ ده سر پرنګ وه

شه بې هوشه لحیر ته　　کوم یه سود لنداته

چه خبر ځان جهان شه　　په فقیر پسي روان شه

یو یر خپل ګناه تائب وه — بل پرسش ده عجائب وه
ده سوال کړه لفقیره — فقیر داو یل امیره
کړه پو ښتنه لغه سره — چه یه زیره وي دلبره
ده نظر کړه لور پر لوري — زیره نوه بسر پوري
ده ګردش پر زیر و زبر کړه — خوپیدا یه هغه سر کړه
چه لسره یه سوال و کړ — هغه دا رنګ مقال و کړ
خربوزي چه ده پالیز دي — پکثرت پخه ریزدي
هزاران هزار کوڼي دي — خاوندان ده دیه پټي دي
پاکي زیري لجهانه — واړه تللي له ارمانه
چه دا پټي مرغوب وه — مال ملک یه تري مرغوب وه
چه مطلوب یه خاص الله وه — دا پټي وقف خما وه
چه کفاف خما بسیر وه — مال ملک مي ده فقیر وه
شوه وماته زیره پاته — دامي سود وه لخیراته
حکایت دي لحدیثه — کباور کوي رائیسه
ده دنیا لکار و باره — هر یره وته دلداره

هغه پاک حضرت بیان کړ — دا احوال یې وړ عیان کړ
چې راوُست ویرانه ته — ده دنیا ونښانه ته
ده سړ که کړي ګوره — پکښې پروت دي نسکوره
بل هډونه ده حیوان وه — پغه ځای کښې نمایان وه
پلیتي هم ښکاریده له — پغه ځای کښې ځلیده له
بل جامه پروت کهنه وه — نه لباس وه نه پیسه وه
پاک رسول ویل نظر کړه — په ویل ځما باور کړه
دا هډوکي بي لپوسته — آخر خواوري بشي دوسته
هغه حرص ده غلګي شه — هغه طول دا اسل ګي شه
ده دنیا شیدا یه چړي — بي وفا آشنا یه چړي
بیا هډو تیه نظر کړه — هر یره تیه خبر کړه
څه شه دا ده خیال خیل — چه پر دیرم کیږي میل
بیا ګو یا هغه پاک سرور شه — په لیتي تیه نظر شه
دا هغه خوب رنګ طعام وه — په لذیذ دي تاسو کام وه
بیا یه دا رنګ حکایت کړ — ده کهنه نه اشارت کړ

دا هغه زیبا لباس دي — [illegible] وسواس دي
په لباس چه سرور که — کبر یا وهم غرور که
کلي ښال ده دنیا دادي — په دنیا چه خوک شیدا دي
ده دنیا مینه بلا دي — چه عالم په مبتلا دي
نه علاج نیه دوا شته — نه طبیب نیه شفا شته
سر یه دادي که پوهیږي — په ویل دي بیا کړ وهیږي
طبیبان یه عالمان دي — دوي بخپله رنځوران دي
تېښتي دوي لنصیحته — ده خپل خان لفضیحته
ډیر عجب یه دا هنر دي — هر عالم لکه کمر دي
پر چشمه باندي لښکور دي — تر الله پوري مخ تور دي
نه اوبه پریږدي وچا ته — نه ده ده کیږي وخوا ته
عالم دوي واړه ګمراه کړ — چه ده دین کار یه تباه کړ

في الحديث ذل العالم ذل العالم

مګر خوک چه خان ښکاره که — ده حیا قمیص پاره که
نه وي ریږي لغیبته — ده اولس لملامته

بخیل خان

بخیل خان د [illegible] کړ … وجهان تیه هي وي

فی [illegible] الدنیا جیفة وطالبها کلاب

لکه ته ئي شیر محمده … وه ویریږه له احده

نصیحت کړه وخپل خان ته … څه بوائي وجهان ته

چه پیتا کښ اثر نکئ … عالم څکه باور نکه

ته پر نفس قدم کښیږده … زیب زینت ده دنیا پریږده

ستر کي پټي لکه باز کړه … ده مولي پر لور پرواز کړه

تبه ښکار کړي خما دله … ده عقبی صید پخپله

فی الایة ولا تمدن عینیك الی ما متعنا بهٖ ازواجًا منهم زهرة الحیوة الدنیا ‌‌وفی الحدیث لا تنظروا الی بریق احوال اهل الدنیا فانه یذهب بحلاوة

ایمانکم

چه بیدار شي وسحر ته … که نظر وسیم وزر ته

ده دنیا پطلب شوري … سود زیان ده دنیا گوري

بي پرواوي خما جانه … ده عقبی لسود زیانه

ده دنیا کار یه ویران وي خوار زار و پریشان وي

هم لفقر یه حذر وي که هر چند یه سیم و زر وي

فی الآیة ومن اعرض عن ذکر ربه فان له معیشه

ضنکا

کغم جن ده دین پچار وي برابر یه کار و بار وي

بې لسیم بې لرزه وي پزړه کښې دلاوره

هم دنیا به لور ده لوره آخر و ریه شي ای وروره

فی الحدیث من اصبح وهمه الدنیا شتت الله علیه امره وفرق علیه ضیعته وجعل فقره بین عینیه ولم یاته من الدنیا الا ما کتب الله له ومن اصبح و همه الاخرة جمع الله همه وحفظ علیه ضیعته وجعل غناه فی قلبه واتته الدنیا وهی راغمة

که ده زړه پسترگو گوري دا دنیا دي ده تن سیوري

ته هغو یه وړاندي کوي خو چه ستا و پسي روي

پهغو پسي رفتار که لدنیا چه خوك فرار که

سره

سر به دا چه بشایسته وي — طلب کار به خوار خسته وي
بر هغو که ډیره مینه — چه شاوړته که مؤمینه

في الحديث خلق الله تعالى الدنيا فقال لها خالفي من وافقك ووافقي من خالفك

کمخه ډیر شي ته لاسه — سود دي ډیر دي بي قیاسه
مبتلا چه په افلاس وي — لدنیا په کښلي لاس وي
ده ده طمعه ده ثواب وي — خوف ویره ده عذاب وي
دا عجب سود سودا دي — ده هغه جهان پدا دي
پسودا کښ دي بهبود دي — زیان په نښته واړه سود دي
که نسیه دي خما وروره — هم سودمند دي هرګوره
یو مثال په درته وایم — چه وتاته په ونمایم
باد شادي ده کشور وي — چه په سپي ولاړ پر سر وي
دي خرې بد عمل وي — بل سګان ورسره مل وي
بي لقمې سرې لذو یه — تیري دا به نښي خوخو یه

بمحل کښې د شاه یاره نعمتونه وي بې شماره

څوک یوه لقمه د نان که پر راضي سګ سګبان که

و محل ته چه داخل شي و پادشاو ته واصل شي

بنه لباس وي بنه طعام وي بنایسته څونه انعام وي

بنه سودا و تجارت دي دا نظیر د آخرت دي

هر چه نفس او شیطان دي د هر چا سګ سګبان دي

کله څوک پرېږدي دلبره چه ورځي د رب ته دره

که دنیا یوه لقمه کړي چه سګ وته طعمه کړي

چه مدام وتا ته رام وي لسګبانه دا آرام وي

تبه ورشي ته خدایه بې لشکه د دل آرایه

که وځان ته یې راکاږي چه د سپي له خولې یې کاږي

یو د سپي لتا جدل وي بل سګبان ورسره مل وي

تبه ورنشي طالبه آخر دوي بشي غالبه

چه د دوکونو شاهانو دایه طور دایه شان وه

لدنیا د دوي نفرت وه چه یوه بحقیقت وه

داحدیث دی د ل افروزه ــ چه خلو یشت شبانه روزه
کاهي کاهي تیري دي لي ــ اهل بیت به لید لي
نه چراغ وي لګیده لي ــ بنه اور وه چالیده لي

عن عایشة رضی الله تعالی عنها کان یأتی
اربعون لیلة ومایوقدون فی بیت رسول الله
صلی الله علیه وسلم لامصباح
ولانار ۱۲

هم للوزي تندي وزوره ــ پیر نبیان شهیدان ګوره
ده طایف مکي لمیانه ــ دي اویا کسه جانانه
په غلمینه روتي د له ــ سور حضرت نشه دي خله
وه ساکن یو لس کاله ــ په بشرب کښ نماالا له
یالس کاله اقامت دي ــ اختلاف ده روایت دي

روی انه ماشبع رسول الله صلی الله علیه وسلم
منذ قدم المدینة ثلثة ایام من
خبز السنة ۱۲

یوه روځ حضرت گشنه وو	پخپل کور کښې درونه وه
ده اظهار ده خپل احوال کړ	لطعامه یه سوال کړ
هیڅ حاضر نوه پکور کښې	نه غوندي نه اوړ کښې
ده علي رض کره روان شه	پطلب ده آب نان شه
پر دیگدان وه کټوي باندي	چیه اوږ لبني د لاندي
چه پکښې ده او بو جوش وه	پري بالا یې سرپوش وه
لزهرا رض رسول صلی الله علیه وسلم سوال کړ	ده طعام یه قیل قال کړ
فاطمي رض وېل سروره صلی الله علیه وسلم	ستا قربان شم خما پدره
رنګ دي زېړ لک زعفران دي	لچهري دي حال عیان دي
نه طعام حاضر خپل کور ښته	نمي طمعه پر بل لور ښته
بي ده رب للو دربار ه	اي رسول نیکوکاره
دي تیر شوي خوا یامه	چه محروم یو لطعامه
چه حسین رض واو یلا که	یا حسن ډیره بلا که
تسلي کړه ده دوي کوره	کټوي باندي تشه توره
هغه کوره چه دنیا ئي وه	بي بي وري لبني وه

یو نعلین بل خادر وه چه حجاب ده هغه نمر وه

دي او وه خایه پیوند وه چه پري کړي پند پر پند و

بل هیڅ نه ده دوی عادت وه پاس پر غاړه د حضرت وه

چه وفات ده پاک رسول و ومولي تیه وصول وه

لیو شاکه ده ده جانه عایشي کړه نمایانه

یو خادر چه ملبد وه په پښتو لکه نمد وه

بل په لنګ وه چه غلیظ و لرحمته مستفیض وه

چه پدا یو بس کښي وفات شه لمولی یه ملاقات شه

عن ابي بردة اخرجت عايشة رضى الله تعالى عنها

كسائه ملبدا وازارا غليظا فقالت قبض رسول

الله هذين الثوبين ١٢

چه سرو بر ده پاک سرور ه نه پښه وه نه ده پر وه

پور لخسه لخا شاکه ده خرما وه ذو الادراکه

هم یه روی یه وه لیوسته روایت دي اي خدا دوسته

چه خرقه ده پاک نبي وه | طلب کړیه یهودي وه
ده زیارت ده پاره کوره (صلی الله علیه وسلم) | چه سلمان راوړه لکوره
بېنه کړیه وه بي شماره | کاوړ کوي دلداره
چه پکښې اوه پوندده | ده خرما وه ارجمنده
ده خرما یه پا بېو دله | تل رسول جامه کنډله
حضرت نبوه هیڅ کله | پاس یوه خښته پر بله
نه لرګي پر بل ده پاسه | رسول شو لځیله لاسه
چه به کنج ویرانه وه | ده ده کور هم آشیانه وه
څویه عمر در ګذروه | وعقبی ته سفر وه
حضرت نوح لحسه خاره | ګډ تي کړه له تیاره
ورته چا ویل سروره | وه بنا ده کوني غوره
دوي د ابینا بسیاردي | چه پسي ده مرګ ناتاردي
زر پنځوس کاله اي لاله | ده ده عمر باکماله
خلافت چه ده عمر (رض) وه | دیریه ملک دیریه کشوروه
زر اوه ښهره اي یاره | تول ده کفر لد یاره

رعیت

رعیت ده ده پتو ره ‎— ای ځماده ستر ګو نوره

بینه کړي دولس خایه ‎— ده قمیص وه دل آرایه

چه پینه پکښ ده پوست وه ‎— پر ګنډلیه خدا دوست وه

بیا علي رض چه خلافت کړ ‎— نیه زیب نیه زینت کړ

راټولیه پدي درمه ‎— ده جامه وه ای صنمه

بیا الستونیه لبنده ‎— دواړه غوڅ کړه ای هوښمنده

چیه زیب زینت کم شي ‎— پند عبرت ده نور عالم شي

هسې نخیه دوي مال دارو ‎— له افلاسه دوي وزګارو

لویو غزو نوا لتجا کړه ‎— و رسول صلی الله علیه وسلم تیه ژړا کړه

یا بسیم یا به زر شو ‎— په نظر که بهره ور شو

نهایت عالي همت وه ‎— عجائب ده ده فطرت وه

دوي ده پاک الله عاشق وه ‎— په امینه کښ صادق وه

بوه روځ عمر رض شادانه ‎— په مجلس کښ ناست خندانه

چه ده ده دخنو ده پاره ‎— او به راوړي لدیاره

چیه جامیه پوره تیه پلاس کړه ‎— لدا جامه یه هراس کړه

پژړاوي په فغان شه ۔ لکه بید هسي لړزان شه
چاپښتنه کړه لحاله ۔ عمر داویل اي لاله
یوه روح پداوطن کښ ۔ نا ست و مزه پدا مسکن کښ
پاك حضرت لمانه دور ۔ کم بنیش یه حال لحضور
چه یلاس ده ده عصا و ۔ لد ښمنه یه غوغا و
بیا زه را غلم لشتابه ۔ هیڅ ښکاره نوه احبابه
شوخما خاطر ملوله ۔ دامي راز کړ لرسوله
خداي دښمن دي تا عیان کړ ۔ چه مي سر دي تا قربان کړ
پاك رسول و یل که کوري ۔ دا چه ښلي ما یوري
ښایسته ناویه دنیا دي ۔ لما توبه ده نصوحا دي
پري کړه ما لحیله خانه ۔ پلیر جنګ جدل جانه
بیا اوس دا وائي عمره ۔ تا طلاقه کړه سروره
دا خیل خان به آراسته کړم ۔ ستا امت بخوا رخسته کړم
رب روي ده پاك الله دي ۔ شیر محمد یو خوار غا دي
ده دنیا پجال کښ بند دي ۔ دپر پدا مینه خورسند دي

خلامي

خلاص غریب کړي لدا جاهه ای ده دو کونو باد شاهه

الاصل السابع في الجاه

وي هغوجنت مونده لي چه بجاه نوي پسنده لي
دوي وي خوښ په بي عمي کښ په عزلت پکم نامي کښ

في الاية تلك الدار الاخرة نجعلها للذين لا
يريدون علوا في الارض ولا فسادا

قصه جاه جلال

حب ده مال دي کده جاه دي لوي عصيان لوي ګناه دي
که زرغون پرزره کښ جانه بي اوريځو بي باران

ده نفاق بدي خزلي چه ولاړي ځلي ځلي

في الحديث حب المال والجاه ينبتان النفاق في
القلب كما ينبت الماء البقل

که ليوان په ګډ نا تار که چه رمه په تار پتار که
خوک مردار که څوک زخمي که چيه پوري په رحمي که
حب ده مال ده جا ليوان دي ګډ پدين ده مسلمان دي

دین خراب کاندي یکسره | چه یکه شي اي دلبره

في الحديث ما ذئبان ضاریان ارسلا فی روایة
غنم باکثر فساد فیها حب المال والجاه فی دین

الرجل المسلم

څکه پاک رسول اي دله | ده کوم نام مدحه کوله
هر چه ده اهل جنت وي | نه زیب نه زینت وي
سر څڅولي گرد آلود وي | کهنه پوش بخپل وجود وي
نه عزت نه وقار وي | نه غریب دي چا پکار وي
چه نظر پر خپل زینت که | لنکاحه یه نفرت که
پټ وي دي عالي مقامه | والله ته دل آرامه
په سینه کښ ده ده نور وي | وخپل رب وته حضور وي
کجاوه و پیشلوي جانه | شه بدرست جهان روښانه

في الحديث ان اهل الجنة كل اشعث اغبر ذي طریق
لا یوبه الذین اذا استاذنوا علی الامراء لا یوذن
لهم واذا خطبوا النساء لم ینکحوا واذا قالوا

لم ينصت لهم حوائج احدهم يتجاهل في صدره
نور لو قسم نوره يوم القيمة على الناس على و

مستعهم

حب د جاه لوی بلا دی	چه عالم پری مبتلا دی
سر یه دادی ای دلبره	رب دی تا که بهروره
چه د جاه پر براق سپور شی	مخ د سال د ده پلور شی
پیدا کیږی بی کسبه	بی خواری بی تعبه
نه غضب نه غلا شی	چه پجاه سری والا شی
اصل نلری تباه دی	څه پکار د دنیا جاه دی
پادشاه د کل جهان وی	تول عالم په فرمان وی
سرنگونه پسجده وی	نه سود نه فائده وی
خالی لاس ورځینی درومی	چه د مرگ پیاله وڅومی
هرچه تخت یه پهوا ته	پهوا لکه پرښنا ته
باد یه لاندی تر فرمان و	پهوا کښ یه مرغان وه
که دیوان وه که پیری وه	تول د ده پچاکری وه

دي نبي صلی الله علیه وسلم صاحب کمال وه	مقرب ده ذوالجلال وه
شه بندي ده کور بخوه نه	نشته خلاص لځکر خو نه

الموت قدح كل ناس شاربوها والقبر باب كل

ناس داخلوها ١٢

ده دنيا لجاهه بخته	ده ده لاس وه خوت يکلخته
خپل عمل بيه پکاروي	چه حساب ده کرد کاروي

الاصل الثالث من في الکبر ١٢

چه ده بل مؤمن پرلوري	خوك پسيك نظر وكوري
دي كمتر كيني لځانه	دغه كبر بولي جانه
يعقبي بيه مخ توروي	چه ده كبر پر بناخ سيوروي

في الاية فبئس مثوى المتكبرين ١٢ قصه كبر ١٢

كره حيا لكرد كاره	كبريا مشه اي ياره
ده ابليس وحال ته كوره	ديربخه وايراى ورور
چه وكبر ته هيم شه	پهغه لحظه رجيم شه

في الاية قال خلقتني من نار وخلقته من طين

قال فاخرج منها فانك رجيم ۞ وفي الحديث
القدسي العظمة ازاري والكبرياء ردائي
فمن نازعني فيهما قصمته ۞
اي هلكه ۞

چه ده کبر زره وروره ۞ څوك پزره کښي لري کوره
پرحرام ده جنت بوي دي ۞ کبريا ده شيطان خوي دي

في الحديث لا يدخل الجنة من كان في قلبه
مثقال ذرة من خردل من كبر ۞

پدوزخ کښي بد مقام دي ۞ چه هبهب ده هغه نام دي
کبريا به ورنجي کوره ۞ پاك الله دي ځيني زغوره

في الحديث ان في جهنم واديا يقال لها هبهب حق على
الله ان يسكنه كل جبار ۞

هرچه کبر که پخان کښي ۞ څوك پخپل شوکت شان کښي
که گفتار کيه رفتار وي ۞ پرغضب ده کرد کار وي

في الحديث من تعظم في نفسه او اختال في مشيه

لقی الله وهو علیه غضبان ۱۳

ینظر د رحمت د لـه | الله نکوري هیڅ کله
چه پونباك یه آویزان وي | کبر یاد سري شان وي

فی الحدیث لا ینظر الله تعالی الی من جر ثوبه

خیلاء ۱۲٤

مکره کبر غرور لا له | چه هوري نشي پامال له
په هیژده هزار عالم کښ | ده قیامت پد ماده م کښ
هغه لاندي تر قدم وي | چه ده کبر پر لوړ رخم وي
ده میږ تصورت پاخي | ده حضرت او نبي په خاخي

فی الحدیث یحشر الجارون یوم القیمة فی صورة

الذر یطاهم الناس لهوانهم علی الصور ۱۲٥

شه خبر لخپله ذاته | که احمق نه ئي کم ذاته
چه لبول په وجود وي | ده هغو به څه بهبود وي
چه په اصل کښ مني وي | څپه کبر څه مني وي
خصوصا په آخر یاره | وي بد بوي لکه مرداره

پوروي دي لېجاسته | پهٔ پاميان کښې نيك خصلته
فى الحديث من جوي فجرا كبو لين فكيف له و

صفه التكبر

چه پهٔ هنر والا وي | ده هغو رتبه بالا وي
فى الحديث اذا توضع العبد رفعه الله إلى
السماء السابعة ايضا التواضع لا يزيد العبد الى

رفعة فوضعوا ارحمكم الله

سر به دادي اي اميره | روايت دي لتيسيره
دوه خنځيره پټ پنهان دي | پيدا کړي پاك سبحان دي
پهٔ تندي کښې ده هر چاوي | کفاسق وي کفارساوي
پورته يو تلهٔ لي تهٔ عرشه | کښتهٔ بل کوره تهٔ فرشه
کهٔ وچاته سرکوزي کهٔ | تواضعه عاجزي کهٔ
داده عرش ملك دلداره | پهٔ احوال شي خبرداره
چه خنځير ده ده لدسته | کښتهٔ زور که خود فرسته
خنځير را کاږي هوښمنده | هغه کس که سربلنده

چه سري وي گردن کشه | دغه بل څخه تر لکشه
مرتبه د ده پائین دي | تر اسفله سافلین دي
تواضع ده هر چا کړه | د اعلیٰ و د ادنیٰ کړه
کوره کوم هغه ته ته وي | چه د رب پابندي نظر وي
کړه نظر په گنجینه کښې | تل وي گنج په ویرانه کښې

قیل ان الله خبا الولایة فی عباده فلا تحقرن احدا فلعله ولي والله

چه د کبر نښاني دي | بو په علم دانائي دي
په تقوی وو په ادب دي | در یم فخر په نسب دي
خلورم کبر په مال دي | پنځم یې په جمال دي
دواړه و علاج یاره | کو ته زده کړې لخاکسار
اول دا رنگ تصور مکړه | بیا په علم ته کبر مکړه
چه عالم تر تا شیطان وه | په زبور په فرقان وه
په توریة په انجیل وه | واړه یاد ده عزرائیل وه
حال یې څه شه اي جانانه | فناه غواړه لسبحانه

بي میوي شجر (درخت) وي کوره ۔۔ بي عمله علم وروره
یا لنده ده بي وتره ۔۔ کباور کوي دلبره
څه شي علم ده خان لوه ۔۔ سو ده بیا مومي لکومه
یو ګناه یه یه او یا دي ۔۔ چه حدیث پدا کویادي

في الحدیث ویل للجاهل مرة وللعالم سبعین ۱۲

قصه عالم ۱۲

بي عمله عالم خروی ۔۔ بار پر شاده ده دفتر وي
سو دیه نوي بي لباره ۔۔ چه عمل نوي دلداره

في الآیة مثلهم کمثل الحمار یحمل اسفارا ۱۲

۱۲

چه پلهیر علم مشهوروه ۔۔ دا بل عام بن باعوروه
شه مثل ده ده اي وروره ۔۔ لسکا نو سره کوره

في الآیة فمثله کمثل الکلب ان تحمل علیه یلهث

او تترکه یلهث ۱۲

بعمل بیا کوم غرور دي ۔۔ چه آخر ده کار رستور دي

ابلیس پروت وه خوځوکاله پریوه سجده ای لا له
خلو رزره روایت دي بل ګمان مکړه غلط دي
شه رجیم ده خدای لدره په یوه ګناه دلبره
کهزار ساله طاعت که وجنت و ته قربت که
آخر خای ده سري اور دي ده ازل تکي چه تور دي

فی الحدیث ان العبد یعمل بعمل اهل الجنة وانه

من اهل النار وانما الاعمال

بالخواتیم

حکایت کوره بدیعه وه فاسق نام یه خلیعه
دي په فسق انګشت نما وه بل زاهد وه پرفارسا وه
ده زیارت ده پاره یاره فاسق راغي لدیاره
کوندي رب ده ده لرویه مغفرت وکه خوشخویه
شه زاهد په پرحیرت کښ ده خلیعه په صحبت کښ
چه داخه غواړي لمانه زه عالم یم دي نادانه
زه پارسا زاهد یم کوره دي فاسق فاجر دي وګوره

وحیه راغله له اکبره | دغه وقته پیغمبره
ده زاهد عمل باطل شه | چه و کبر ته مایل شه
ده خلیع هم مغفرت دي | چه اقرار په معصیت دي
په نسب هم غرور مکړه | زړه پچاه هم مسرور مکړه
که نیکه ده کدي پلار ده | پروت پخوا وړ کښن خاکسار ده
چه پرخوا وړ بربسه که | تشه دي خپله کاسه که
ده نسب وړ که پائده شي | چه پصوړ کښن دمیده شي

في الاية يوم ينفخ في الصور فلا انساب بينهم ١٢

غه پکار مال نسب دي | ستا پکار علم ادب دي
چه به علم ادب نه وي | هیڅ وفا ده نسب نه وي

في الحديث شرف الانسان بالعلم والادب لا بالمال والنسب ١٢

کوم دي سود دي لجماله | خپل باطن کوره ای لاله
په باطن کښن چه مردار وي | کهر څو نقش نګار وي

ښوک په ښکلره صفت که ‌ صفت نلدي فضيحت که
ده اوريږ به ښو کمال وي ‌ کهرښو په ډير جمال وي
زيب زينت واړه برباد شي ‌ چه باطن واړه کساد شي
بيا رته راشي لطرفه ‌ کهرښو په کيږي لا فه
ابو لهب ګوره اي ياره ‌ چيه حسن وه بي شماره
چه باطن په مکدر دي ‌ جهنم ده ده مقر دي
که بلال هر چند سياه وه ‌ لدوستانو ده الله وه
چه باطن په مصفى شه ‌ ده محب د ده مصطفى شه

في الحديث ان الله لا ينظر الى صوركم واعمالكم و
لكن ينظر الى قلوبكم ونياتكم ۱۲ الاصل التاسع

في العجب ۱۲
قصه عجائب ۱۲

چيه بل پخاطر نه وي ‌ ښوک وده ته حاضر نه وي
راشه خان ته عجب مه شه ‌ ده لوئي پطلب مه شه
وي پخپل کمال خوشحاله ‌ دا عجب بولي اي لاله

هر صفت

هر صفت چه ده کمال دي | پر فرمان ده ذو الجلال دي
توفيق نوي لخدايه | بنده څکه دل آرايه
څه بنده څيه اختيار دي | چه اختيار يه لا اختيار دي
هرگز نخوځي لځايه | خو ځي امور نشي لخدايه

في الاية وما تشاؤن الا ان يشاء الله ١٢

مه يخوله ثنا گوئي کره | مه پزره ده ځان لوئي کره
رب خبر دي په پاکانو | په باطن ده ناپاکانو

في الاية فلا تزكوا انفسكم هو اعلم بمن اتقى ١٢

که پزره کښروي خاکساره | ده نعمت اظهار که ياره
دي لشکره بهره وره | عجب ندي اي دلبره

في الاية واما بنعمة ربك فحدث ١٢

چه غره يخپل کمال وي | کيه جاه وي کيه مال وي
کيه علم که فتوي وي | کيه زهد که تقوي وي

لوي گناه دي اي مهتابه | که خبر ئي لکتابه

قال فی الحدیث ثلث مهلکات شح مطاع وهو متبع واعجاب المرء بنفسه

ده طاعت سیه څه بروي | بو العجبه یه ثمر وي
طاعت ندي جور عصیان دي | تر گناه بتر چندان دي

فی الحدیث لو لم تذنبوا الخفة علیکم ما هو اعظم من ذلك العجب تعجب

عایشي څخه سؤال شه | په عصیان کښي قیل قال شه
کوم عمل کوم یه کردار دي | چه سړي په گناه کار وي
عایشي وي لجوابه | چه گناه وه انتخابه
چه پرځان سړي گمان که | ده نیکي ده احسان که
دي حاله شي گناه کاره | که څو وي نیکو کاره

قیل لعایشة رضی الله تعالی عنه متی یکون المرء مسیئا فقالت اذا ظن الله محسن

یو عارف وه اي دلخواسته | ده پر بول کړه له ناسته

پر بوځاي

پریوځای چه وچ ډکروه ‌ ‌ نه مرقد نیه اثروه
ناګاه پروت وه صاحب حاله ‌ ‌ پړې یه زغ وکړای لاله
لزحیا دړلره بویه ‌ ‌ پرما بول مکړه تویه
دوی پڼ شه پرتا باندي ‌ ‌ پردا نفس کبریا باندي
خوخواري ځودي لذت دي ‌ ‌ لا دي خوا نانیت دي
چه نظر بخپل کمال که ‌ ‌ هیر احسان ده ذو الجلال که
نه وېرېږې لزواله ‌ ‌ شي غره لدا کماله
عاقبت زیروزبر شي ‌ ‌ توري خواوري په سر شي

في الاية وفتحنا عليهم ابواب كل شئ اذا فرحوا
بما اوتوا اخذناهم بغتة فاذاهم

مبلسون ۱۲

لځان بولي قلړدانه ‌ ‌ ده مولی پډر کښ جانه
وکه سؤال لذو الجلاله ‌ ‌ دي قبول نشي اي لاله
یا خاطر یه ځوك آزار که ‌ ‌ ده دعا غشي ګذار که
دي غلط شي لنښانه ‌ ‌ په خفه شي پاګرانه

چه دعا یه مستجاب وي — تل تازه لکه ګلاب وي
وائي دامي کرامت دي — پر مولی څما عزت دي
عجب ندي دا ادلال دی — لوي ګناه لوي ضلال دي
عبادت یه ناقبول دي — چه حدیث ده پاک رسول دي

في الحديث ان المدل لا ترفع فوق راسه

صوفیان چه ده زمان دي — مبتلا په دا عصیان دي
مګر رب دي بچا عصمت که — په نصیب یه سعادت که
سر به دا دي اي دلداره — پناه غواړي لستاره
چه دا خصلت شان وي — پټ بزره کښن یه نهان وي
چه بهتر ترپیغمبر دي — تر رسول خیر البشر دي
غوخواري لکافرانو — پرده تیري شوي یارانو
دیر تر یاته سلامت وه — په نصیب یه سعادت وه
مشرف چه په ایمان شوه — مقرب ده پاک سبحان شوه
که نعمت کښني لخدایه — دي شاکر وي دل آرایه

هم ویریږي لزواله | عجب ندي څما لا له

دا نعمت به یه دوام وي | بري به فضل ده علام وي

في الحديث النعمة صيد والشكر قيد ۱۲ الاصل

التاسع في الرياء

چه ده خپل طاعت ظهور که | په عالم کښ یه مشهور که

وي غرض لدا اظهاره | دلجوئي ده عالم یاره

چه پر ماده دوي گمان وي | ده تقوی و ده احسان وي

په نظر ده عالم لوي وای | په تقوی و پښه خوي وای

شي مقام ده هغو ویل | چه ریا ته کاندي میل

دي وادي په جهنم کښ | په ظلمت په تور تم کښ

في الاية فويل للمصلين الذين هم عن صلوتهم

ساهون الذين هم يراؤن و

يمنعون الماعون ۱۲

عبادت ده رب تنها کړه | لشریکه یه رها کړه

پر سجده چه بښي سر وي | و مخلوق ته یه نظر وي

بنده گي ندي مسخره وي　　والله تيه بنكاره وي

في الاية ولا يشرك بعبادة ربه احداً ١٢ وفي

الحديث اذا ال العبد يقوله الله تعالى انظروا

الى من يستهزئ ١٢

كه بندونه عبادت وي　　چه ده بل شراكت وي

پاك الله ځيني ويزار وي　　د اطاعت يه ناپكار وي

في الحديث حكاية عن عمل لي عملاً اشرك فيه

غيره فهو له كله وانا منه برئ وانا

اغنى الاغنياء

سوديه نشته بي نقصانه　　پر رياكښ اي نادانه

يو مال كه ډېلا كري　　سخاوت چه پر ريا كري

يا زهير داخيل صورت كري　　چه بندگي عبادت كري

بل شريك ده خداي پيدا كري　　ځان په كفر مبتلا كري

پر الله كله مخفي دي　　كه ريا شرك خفي دي

في الحديث ان اخوف ما اخاف عليكم الشرك

الاصغر قيل وما هو قال صلى الله
عليه وسلم الرّياء

دریاخښتن بشومروي — لثوابه به محروم روي
چه دي طمعه ده ثواب که — ملايك بد اعتاب که
اي فاجره رياكاره — اي خاسره زناكاره
خه محروم لدا دربار ه — جزاغواړه لغه ياره
چه ده ده د پاره د له — تا عمل کړ تل ته تله

في الحديث ان المرئي ينادي يوم القيمة باربعة
اسماء يا مرائي يا غاوي يا فاجر يا خاسر اذهب فخذ
اجرك ممن عملت له فلا اجرلك عندنا

وريا ته چه ميلان وي — حب الخزن يه مکان وي
چه عذاب ده ده ممتاز دی — العياذ العياذ دی

في الحديث لا يقبل الله عملا فيه مقدار ذرة
من رياء وادنى الرياء الشرك

لو

چه ریا پکښ وي ګوره — ده دریغ قدر وروره
دا عمل په نا قبول وي — پاك الله لده ملول وي
ریا شرك دي اي دلیره — ځکه لږ وي ګڼه ډیره
همه واړه شي بې خصاله — چه ریا پکښ وي لا له
څوك ریا پخپل صورت که — چه اظهار په عبادت که
وېې شونډې تار و نار وي — چه شب خیزه روژه دار وي
کاهي نخوري لطعامه — چه حرام وي دل آرامه
لعالمه چه پنهان خوري — وخ لامده سره یکسان خوري
څوك ریا که په هیئت کښ — په رفتار په مشیت کښ
ده خریلي پاك سنت وي — پټ پرزه کښ په بدعت وي
پرفتن کښ کښاته سرکه — پوشیده داخپل بصر که
پري ګمان کیږي ده وجد — نیه کشف نه مجد
وعالم ته کاندي مکر — نیه ذکر وي نه فکر
پظاهر که صوفي وي — په باطن بتر ترسپي وي
څوك ریا پخپل لباس که — دوي لښو جامه حراس که

بنکاره

ښکاره آغوندي ګندونه   په باطن مکر ښېدونه
بظاهر پشمینه پوش وي   په حریرسیي مد هوش وي
بصورت لکه ملنګ وي   پټ پرزه کښ په فلنګ وي
خوګ ریا که بګفتار ره   لتسبیحه له اذکار ره
تل قصي که ده نبیانو   حکایت که ده ولیانو
نه خبر پو لایت وي   نه زهد ریاضت وي
خوګ ریا که بصلوة کښ   پسخاو بخیرات کښ
چه بل خوګ ورته ناظر وي   ونمانځه ورته حاضر وي
نه رکوعه نه قیام که   پسجده کښ ډیر آرام که
چه عالم نوي اي لاله   په نمانځه کښ وي کهاله
مال ملک نښندي اي وروره   ده عالم دوراندي ګوره
یو درهم کو نه مه غواړه   په تیغ پریکره ده ده غاړه
خوګ سریا بخپل عزلت که   چه پیدا کنج خلوت که
په صورت ګوښه ګنا روي   پټ په شغل ده بازار وي
ده ده دوي سترګي خلوت وي   ده امیر سلطان پر لور وي

ده شیطان په جال کښې بند وي — دا یه واره مکر پند وي

بیار یاده پخو رنګه — دا هم زده کړه اې ملنګه

یو جلي دي بل خفي دي — په ګناه کښې یه کافي دي

په خفي پسې اخفا دي — ده مولي پخو جفا دي

جلي دادي په خلوت کښې — ته سحاره په غفلت کښې

نیه نفل شب خیزي وي — نیه زهد پرهیزي وي

چه میلمه ده بل پکور وي — بیداري که مخ یه تور وي

کاهي نفل ګاه اوراد که — عمارت ده دین برباد که

خفي دادي تما د له — نفل نه پریږدي هیڅکله

شب خیزي یه تل عادت وي — پسخیتي مشقت وي

چه بل خوک یه نګران وي — بیا طاعت پرده آسان وي

وي چابکه هم چالاکه — ده طاعت پرلور بلا که

اخفي دادي تماجانه — تل یه راز وي لسبحانه

وي خوش حاله په طاعت کښې — ده مولي په عبادت کښې

که کتاب کنج خلوت وي — که بسیار عالم جلوت وي

اثاهو

اتّا هو مبره په خامي وي	داده ده ناتمامي وي
چه خبر په څوك بحال شي	بري خاطر ده د خوش حال شي
ده ريا او ريه نشان وي	بخاطر کښ په پنهان وي
په ورور په وژنه جانه	چه دي خوته نکه ورانه
يو بخيري شراره شي	وکياه ته څه ښکاره شي
عمل سه پريږده هيڅ کاله	بخفي اخفي کښ دخله
چه ډير زهد رياضت شي	خود غالب پر معصيت شي
آخر مړ شي او رله آبه	چه بري توبه شي سيرآبه

في الاية ان الحسنات يذهبن السيئات

په جلي کښ نيك خصلته	والحله لاس لعبادته
شرك هم بويه دست وکړي	ده ريا پنام نو مړي
چيه ويره لر يا وي	عمل نکه دا ريا وي
کښکاره ده بل ده پاره	څوك عمل کوي نکاره
ريا نډي دغه شرك دي	آهينه په د زړه چرك دي

که عالم یې ثنا خوان وي | په هزار هزار لسان وي
چه و خدای ته بې مخ توره | یا به خلاص نکه له اوره

قال عیسی علیه السلام الثناء یقسم کما یقسم الارزاق ۱۲

که غرض یې له اظهاره | ده طاعت له اشتهاره
اقتدا ده عام خاص وي | په باطن کښ یې اخلاص وي
په اظهار کښ یې ثواب دي | روایت چه پیدا باب دي
علامه ده هغو دا دي | و دانا ته هویدا دي
چه ده ده مثل پیدا شواي | په جهان کښ مقتدا شواي
خوښ بدي یکوم نامي وي | په عزلت په بې غمي وي
که نه دین نه عبادت وي | دي چا بد خوی خصلت وي
دي اظهار د خپل هنر که | دي چا رد و نه مسخر که
لکه طب حساب هیئت دي | یا منطق نجوم لغت دي
دا یو کسب د دنیائي دي | نه د ریا نه بې دیني دي

القسم الثالث في الاخلاق الحميدة وفيه ايضا اصول

عشره

عشرة الاصل الاول فی التوبة

اوّل دا ز ده کړه طالبه ‌‌ ‌ شه پر خپل گناه تائبه

دا هم لوی رکن ده دین دے ‌ ‌ چه لازم پر هر مؤمن دے

ابتدا ؤ سلوك دا دي ‌ ‌ و دانا ته هویدا دي

فی الایة توبوا الی الله جمیعا

د عوامُ توبه گوره ‌ ‌ لگناهه تخنه وروره

ده صالح توبه خوشخوبه ‌ ‌ ده باطن لبده بویه

ده صدّیق توبه جانانه ‌ ‌ لغفلته لنسیانه

العارف ترك حظ فی الغفلة وذكر الغیب لنسیان معنی

ده عارف توبه مدام وي ‌ ‌ کهر خو عالی مقام وي

څکه پاك حضرت اي دله ‌ ‌ پښپه ورځ کښ او یا څله

په توبه په استغفار وه ‌ ‌ چه تیر شوي دا روزگار وه

فی الحدیث یغان علی قلبی حتی استغفر الله فی الیوم واللیلة سبعین مرة

پاك رسول چه عالیشان وه ‌ ‌ نه غفلت نه نسیان وه

ده توبه کړه دل آرامه | لدا هسې رنګ مقامه
چه تري پورته بل مُقام وي | و مخلوق و ته انعام وي
که بشر وي که ملک وي | چه مقام ده ده فلک وي
ده توبې دي خو شرطونه | واړه زده کړه اي میمونه
چه پر تیر په ندامت وي | تلافيٌ غرامت وي
کیه مال وي که غیبت وي | چه صادر له ده ذلت وي
یا آزار ده مُسلمان وي | پنا حقّه بد ګمان وي
هم پزړه کښ په نیت داوي | والله ته هُوَیدا وي
چه به بیا نکه هیڅ کله | دي هغه ګناه اي دله
چه پدا طور تایب وي | نفس شیطان پر چا غالب وي
تري هغه صادر ګناه شي | پرده عفوه ده الله شي

حدیث التائب من الذنب کمن لا ذنب له

کتوبه لري بخوله کښ | پټ ګناه لري پزړه کښ
داتوبه ندی ګناه دي | دروغژن روي سیاه دي

حدیث من استغرق عن قلبه فهو نبه الذ

په اخلاص چه څوک تایب وي — وطاعت وته راغب وي
دی ده پاک الله محبوب وي — ینظر ده ورب مرغوب وي

فی الایة ان الله یحب التوابین ویحب المتطهرین

روایت دي لحدیثه — کباور کوی رائیسه
په به څوک روان وي — هغه لار لوط بیابان وي
منزل کا ده ده سیراب وي — پر شتر یه ناسته آب وي
شتر بند کا ندي مهتابه — دی آرام کوي لخوابه
بیا لخوا به که سر پورته — اوبښ تللي وي بل لور ته
وي بشو پر لشغب کښي — لور پر لور وي بطلب کښي
خیل نفس پر سر پي بار شي — دی وصبر ته لاچار شي
چه لمر که کړي نښته — هیڅ طاقت پرهیز نشته
خودغما اجل تمام دي — چه مي دا بیابان مقام دي
چه سر پورته که ناګاهه — ده حسرت لدوده آهه
بیا هغه شتر حاضر وي — دی وزاد وته ناظر وي
چیه دا دوزکا درو حال وي — څوک بخزکه خوشحال وي

الله زيات تر دا نا زيږي — توبه چه رب خوښيږي

صغيره ګناه هم وړوره — آهينه که د زړه توره

پر کاغذ چه ټکې د پر شي — د سپين والي وَاريه تېر شي

مخ يه تور لکه د زاغ شي — چيه ګډه ټکيو داغ شي

في الحديث من اذنب ذنبا يحدث في قلبه نقطه سوداء ثم و ثم حتى اسود كله ١٢

خودي ښني رسي ګريز کړه — له ګناهه د پرهيز کړه

في الاية فكان عاقبة الذين اساؤا السوء ان كذبوا باٰيات الله ١٢

صغيره هم کبيره شي — جوړه بله شراره شي

چه بتل پکښ دوام وي — صغيره په صبح شام وي

کبيره ګناه صغيره وي — چه تايب پر خپل تقصير وي

في الحديث لا صغيرة مع اصرار ولا كبيرة مع رجوع و استغفار ١٢

څوک فخر په ګناه که — بل سړي پخان آګاه که

بل ګناه چه څوک ښکاره که — دی ده دین حجاب پاره که
رب به ونه بخښي دلبره — روایت دی لخبره

فی الحدیث کل الناس معافی الا المجاهرون

بل عالم چه مقتدی وي — پسی شوي اقتدا وي
هر ګناه ده ده بلا شي — نور عالم مبتلا شي

فی الحدیث ذل العالم ذل العالم

تر کبیر ګناه اکبر وي — شرمنده به محشر وي
دی شریک وي تر قیامته — خلاص به نشي لبدعته

فی الحدیث من سن سنة سیئة فله وزرها ووزر من عمل بها

بختور هغه وي جانه — چه دي ولاړ شي لجهانه
څیني پاته نه هنر شي — چه عالم پري منور شي
ده ګناه به نه بخښله — وړي لځان سره ای دله

قیل طوبی لمن مات ومات معه ذنوبه

یو عالم وه ګناه کاره — شه تائب لبده کاره

په اخلاص په ندامت وه — ناست په اور کښې ده حسرت وه
وحیه راغله له اکبره — دغه وقت ته پیغمبره
چه عالم ته دا بیان کړه — دا احوال ورته عیان کړه
که ګناه دې پیداشان واېي — چه څما وستا پمیان واېي
ما به کړې مرحمت وه — ستا به عفوه مغفرت وه
ستا ګناه دې په عالم کښې — تل به او سې پیدا غم کښې
چه عالم دې ګډ په اور کړ — خود دې ځان پکښې خسوړ کړ
ستا توبه دې نا قبول له — شه عالم بیزره ملوله
پر ګناه د لاور مشه — پطلب ده سفر مشه
پر ګناه چه د لاور وي — یا احمق یا به کافر وي
که منکر وي لعذابه — دا یه کفر دې مهتابه
آیتونه پکښې پیر دې — ده حساب لحده تیر دې
که باور په پقرآن وې — بیاده ده ګناه عصیان وې
یا به نه ویریږي ګوره — ده دوزخ لسخته اوره
چه دا اور لطعه اوره — او یا مه بخره وروره

یالمتی

یا کمتر دی ای دلبره | روایت دی لسیزه

فی الحدیث ان نارکم هذه جزء من نار جهنم وفی

روایة من تسعة وتسعین

اوس بیا به آزمودن کړم | دی تا حال به سبرهن کړم

کړه تر پښو لاندی سکروته | کته نشوی لټ پېته

نه به هلته مردانه ئی | په قیامت به رندانه ئی

چه قدم ور باندی کښیږدې | لعذابه تمام ریږدې

چه دي ډوب شي پښروانه | حال بخه وي بخان غواړه

یا به داوائي دلداره | چه توبه کړمه اظهاره

چه خما عمر آخر شي | ده پیري آثار ظاهر شي

نه بیان وکړه ای لاله | ده دیه خیل عمر لحاله

چه کالو نه گناعات دي | کوم حدیث دي کوم آیات دي

کوندي ځادي آخر دم وي | چه اجل دي دم پدم وي

شوه بندي ده گور ځونه | دیر ځوانان دپري ځونه

واړه تللي له ارمانه | سود یه نمونده بي زیانه

باپه داوائي جانانه چه الله دې مهربانه
که مې ډېر ګناه عصيان وي زيات يه فضل صد چندان وي
ستا چه صبح شام ګناه وي اعتماد دې تا پر داوي
په کرم ده رب غرور کړې تل مدام ده زړه سرور کړې
خبر نيئ لقرآن نه اې ظلوم جهول نادانه

في الاية لايغرنكم بالله الغرور

نه خبر ئې لحديثه که دنيا وا پرد ائيسه

في الحديث الاحمق من اتبع نفسه هواه وتمنى على

الله المغفرة

واخله لاس لتجارته لسودا لذ راعته
پاک الله دې مهربانه کوندې تا کاندې عيانه
پنهان ګنج ليوه سرايه چه نمونشي دل آرايه
پدنيا بسې کړې خله واخلې لاس لتو کله
کنازل پر تا قرآن شي چه ضامن دې پاک سبحان شي

وما من دابة في الارض الا على الله رزقها

دې تا کله

دي تا ګله پباور نوي | چه ګردش په دا نړه روي

کړي نظر وخپل بازو ته | وکچ کول وترازو ته

چه وړپسنه ده دین چارشي | توکل دي تا بسیار شي

نه وعده وي نه ضمان وي | نه حدیث وي نه قرآن وي

دادي وایه حماقت دي | ګمراهي ضلالت دي

وایه لومي ده شیطان دي | پقدم کښ یه پنهان دي

په احتیاط زده قدمونه | شیطان ډوب کړه عالمونه

الاصل الثاني في الخوف والرجاء ۱۲

قصه خوف ورجا ۱۲

چه خوف نوي لخدایه | امید نکه دل آرایه

ده الله لپره فضله | مسلم ندي لی ذو الفضله

چه لخدایه ډیره ویریږي | پغفور رحمت ودیږي

دوی منده لي هدایت وي | ده مولی بعنایت وي

في الاية هدى ورحمة للذين يرهبون ۱۲

ډېر لخدا لخه ویریږي	لکه موم هسي ویلیږي

في الحديث رأس الحكمة مخافة الله تعالى

چه لخدایه ډېر ترسان وي	کل عالم ځني لړزان وي
وي ترسان لهره څیزه	چیه خوف نوي عزیزه

في الحديث من خاف الله خاف كل شئ ومن خاف غير الله

خوفه الله تعالى من كل شئ

قسم کړی ذو الجلال دی	بعزت بجمیل جلال دی
نه جمعه وي اي جانه	په بنده کښ دوه امانه
هم به داویره هیڅکله	په بنده کښ نوي د له
چه ویریږي پدنیا کښ	په امان وي په عقبی کښ
پدنیا کښ چه امان وي	ده قیامت یو ورځ ترسان وي

قال الله تعالى عزتي وجلالي لا اجمع على عبدي خوفين ولا امنين فان امني في الدنيا اخفته يوم القيمة فان خافني في الدنيا امنته يوم القيمة انشاء الله تعالى

چیه علم با کمال وي	په صفات ده جلال وي

که عالم زیر زبر که ده واړه و ځانې سفر که
نه پرواو نیه بال شته نه ګناه نیه وبال شته

في الاية انك ان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفر لهم
فانك انت العزيز الحكيم

بې اختیاره به لړزان وې کنه جرم نه عصیان وې
چه عاصي و ګناه کار وې صبح شام به پکو کاروي
ځکه پاك حضرت ترسان وه لکه بید مدام لړزان وه

في الحديث انا اخوفكم بالله تعالى

پسې ترس ویره دلبره ده ملك لبشره
جبریل نه راته دلبره دغه پاك رسول ته دره
چه صورت یه لړزان نوه دي لخدایه ترسان نوه

في الحديث ما جاءني جبريل عليه السلام قط الا
وهو يرتعد خوفا من الجبار

چه ابلیس الله مردود کړ لجنته یه مطرود کړ
ملایك چه مقرب وه ډیر لخوفه مضطرب وه

پاك الله چيني سوال كړ   ده ژړا يه قيل قال كړ
دوي جواب وكړ سبحانه   موږ لنا يو ډير ترسانه
پاك الله وي امان مه شي   بي له آه فغان مه شي
شه لخا څخه بي ځايه   ده ملك زړه خود رايه
لهيبه جگر خونه   چه پيدا شوه دوزخونه
چه پيدا بنى آدم شه   سزاوار ده جهنم شه
بيارته راغله وه مقرته   شه پيدا دوزخ بشرته

في الاية لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين

چه ده رب ودرته نيروي   ده هغو ترسون ډيروي
چه خبر يه پشوكت وي   پر هغو يه ډير هيبت وي
كهر څو محرم محرم شي   پيوه تكي مجرم شي
وركي نه وبريزي يا ره   له لړمه يا لما ره
په نيو يه دلاوروي   چه پزوريه ناجبروي
چه خبر يه شي لزوره   ډيرو يريزي ځما وروره

في الاية انما يخشى الله من عباده العلماء

ده ابراهیم دزړه طغاروه | چه لخدا نحه لرزان وه
آوریده بشه لمیله | بي لقاله بي لقیله
هم داود پری وُت ملاله | پریوه سجده ای لاله
څلویښت ورځ پرژړاوه | په افسوس پواویلاوه
ځوده اوښو لبارانه | زرغونه شوه وابنه جانه
هم صدّیق عجز نیاز کړ | لمرغه سره یه راز کړ
کشکی ستا پرنك یېغم وای | یا مخلوق مه وای عدم وای
عایشې ویل ای دوسته | کښمرداخبره دوسته
چه نه نام نمی نښان وای | نه وجود مي پرجهان وای
ابتدا چه ده طالب وي | بهتر خوف ده چه غالب وي
لعذابه چه لرزان وي | لګاهه ګریزان وي
چه سالك وي پخته کاره | لګاهه ځی کاره
خوف رجاده یکسان وي | چه کمال یه ده ایمان وي
حکایت دي لعمره | ای ځما نورُ البصره
که رب فضل مرحمت که | عالم وارِه بجنت که

بوسړي عاصي و شوم روي   چه له دا فضله محروم وي
زه به دا زيري نو لېږم   بخپل ځان باندې وېرېږم
بيا که دا رنګه ګفتار که   دا احوال را ته اظهار که
تول بد رومي ته دوزخه   يا ته ګرمه يا ته يخه
يو به ورشي ته جنته   ده الله لمرحمته
څما دا اميد پيدا شي   کوندي دا فضل پرما شي
دا هم زده کړه اي طالبه   چه رجا بويه غالبه
که آخر دي چا حيات وي   ور ښکاره يه علامات وي

في الحديث لا يموتن احدكم الا وهو حسن الظن بربه

هر چه ستا په رب ګمان وي   تعامل پهغه شان وي
کيه فضل که کرم وي   که عذاب وي که ماتم وي

في الحديث انا عند ظن عبدي وانا معه متى ذكرني آه

رجا دا دي کيو هيبزي   پو يل څما ګرو هيبزي
چه بندګي په شام سحر وي   لګناهه يه حذر وي
وطاعت و ته راغب وي   پر ګناه باندي تائب وي

دي امید

دي اميد کوي د لداره — لجنته لدينداره
کڅوك ډوب وي پګناکښ — پعصيان په تباه کښ
لطاعته وي ملو له — دارجانده جهو له
تمنّي او غرور دي — لوي عصيان لوي مخطور دي

فى الاية ومن كان يرجوا لقاء ربه فليعمل عملا صالحا ۔

چه دا طور دا شان وي — ډېر احمق ډېر نادان وي
چه تل ګناه بدعت وي — پکرم ده رب غلط وي

فى الحديث الاحمق من اتبع نفسه هواها وتمنى على الله تعالى المغفرة ۔

چه ځنا يه خوك ترسان وي — لګناهه ګرېزان وي
لدنيا به روي ګردان وي — نه ايمن وي نه آن وي
چه ادنى ده خوف ثمر دي — که دانه وي نور خطر دي
خوف يه نښه له الله — روايت دي اي دلخواه

الاصل الثالث فى الزهد ۔

زهد دا دي څما لا له — چه دولت لري لما له

دي قادر زيب زينت وي — رب ورکړي هدايت وي

لاس به کښلي لدنياوي — دي طالب ده پاک مولى وي

که تکليف کوي لګانه — پدنيا پسي بي شانه

زهد ندي ترهد دي — هرسالك لره لابد دي

که زهد تري پيدا شي — چه کرم ده پاک مولى شي

که نيستکاره خالي لاس دي — خوار زار کهنه لباس دي

ترهد ندي افلاس دي — دي لزهده خالي لاس دي

خالي نده لثوابه — ګاور کوي مهتابه

في الحديث ومن العصمة ان لا تقدر

دي به ورشي ته جنته — ده نيستي لبرکته

ترغنيان پونسوکاله — ګاور کوي اى لا له

في الحديث يدخل فقراء امتي الجنة قبل اغنيائها بخمسمائة عام

چيه زهد لدنياوي — دي محبوب ده پاک الله وي

چه لسوال ﻪ روی گرځان وي | همم مرغوب دکل جهان وي

فی الحدیث ازهد فی الدنیا یحبک الله وازهد فیما ایدی الناس یحبک الله الناس

چه معاش ئې کفاف وي | لسوال ﻪ یه عفاف وي
ناست ده صبر پر مقام وي | خوله پدین کښ ده اسلام وي
تل به اوسی په عشرت کښ | په دنیا په آخرت کښ

فی الحدیث طوبی لمن هدی الی الاسلام وکان عیشه وکفافا وقنع به

چه موسی وُیل مولی ته | دوستان وښیه وما ته
چه دوست کرم ستا ده پاک | وحیه راغله لستاره
چه فقر کاروبار وي | په نیستی کښ په وقار وي
نه شکوه و نه سوال که | مدام صبر پر خپل حال که
چه فقر کښ صابر وي | پاک الله ورته حاضر وي
همنشین ده پاک سبحان وي | والله ته عالی شان وي

فی الحدیث الفقراء ابصرهم جلساء الله تعالی

چه محب ده پاک سرور وي | هغه خوښ پدا هنر وي

چه لفقره روی گرځان وي | لرسوله گرځان وي

في الحديث لكل شئ حرفة وحرفتي الفقر والجهاد فمن احبهما فقد احبني ومن ابغضهما فقد ابغضني

چه زېږه جامه پرتن وي | لګي ښې ولځ بدن وي
خدای به ووينی عيانه | لځول صبر که جانانه
معرفت بيه کامل وي | والله ته به واصل وي

قال علي رضي الله تعالى عنه اخشوا اشنوا وامشوا

صفات عوان ترون الله حمده

مال هم بد ندي ای لاله | چه وجه وي حلاله
چاخرچ که پحاجت کښ | پخيرات سخاوت کښ

في الحديث الدنيا مزرع الآخرة ايضا فيه نعم المال الصالح للرجل الصالح

چه په فقر مبتلا وي | خوار زار بې نوا وي
دی غريب وي پوطن کښ | پخپل کوره پخپل مسکن کښ
پغربت کښ په وطن وي | چه سري ده مال خښتن وي

قال الحكماء المال وطن في الغربة والفقر غربة في الوطن

وی شرف ده سري لا ۱۱ لد ولته هم لما ۱۲

ده دوکون زیبائی وی چه وجه خدائی وري

قال عمر رضي الله تعالی عنه کرمکم وشرفکم وغناکم واحسانکم اخلاقکم ۱۲ الاصل الرابع في الصبر

چه صابر وی په طاعت کښې په بلا په معصیت کښې

پاک الله به یې رفیق وی که هر څو په غم غریق وي

في الآیة واصبروا ان الله مع الصابرین

هر سړی چه مبتلا ویه ده ده صبر په بلا ویه

بي حسابه بي میزانه به جزا مومي جانانه

في الآیة انما یوفی الصابرون اجرهم بغیر حساب ۱۲

چه روغ تن صورت وی ده هغو به ندامت ویه

کشکی تن څموږ هم راز به یده وای لمقراضه

چه شریك په ثواب وای د دیر څموږ ه قدر آب وای

في الحدیث لا تنصب المیزان لاهل البلاء بل یصب علیهم الاجر صبا حتی اهل العافیة ان اجسادهم تقرض بالمقاریض ۱۲

اول صبر پر طاعت کره — خپل صورت په مشقت کره
په نمانځه کښې کهال مشه — لږ کوه ملال مشه
پیاده حج اسباب تیار کره — پر وړه سره ځان خوار کره
لکفار جنګ جدل کره — اوږده غم پر تندی بل کره
ستا به تیر سو درجات وی — کدی دا صبر ثبات وی
دوم صبر کره جانانه — لګناهه لعصیانه
ده خپل زړه پر رضا مخه — ده جنت ولوړ نه خوخه
چه دا صبر هنر وی — درجات یه مکرر وی
دریم صبر پر جفا دی — یعوض کښې یه وفا دی
چه هنر دی د خاصانو — ده کامل خواصانو

فی الایة ولنصبرن علی ما اذیتمونا

بل هم صبر پر نقصان دی — کده مال دی که ځان دی
پر بلا پر معصیت دی — چه ثواب یه نهایت دی

عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه الصبر فی القرآن
علی ثلاث مقامات صبر علی اداء الفرایض فله ثلاث
مائة درجة وصبر عن محارم الله وله ستة مائة درجة

وصبر

وصبر فی المصیبة عند الصدمة الاولی وله تسعمائة عُشر حجة

چه صبور شی و بلا ته ... شکوه نکاندی و چا ته
یو به خلاص شی لکا هه ... بل به ورشی ته الله
نبه صورت تازه تابانه ... ترهغه چه شی ویرانه
لمرضه لعلته ... کاورکری نیک خصلته
کدی مور شی یغه لوری ... یری به رحم د خدای وری

فی الحدیث قال اذا ابتلیت عبدی ببلاء فصبر ولم یشکنی
الی عواده بدلته لحما وما خیرا من لحمه ووجه فان ما ابرئته
ولا ذنب له وان ترضیه فالی رحمة

چه صابر پر مصیبت وی ... کده مال کده صورت وی
یا ک الله به تری شرمیږی ... چه میزان د ده دریږی
یا چه خور د ده دیوان که ... شرمنده به یعصیان که
ځی جنت لره مهتا به ... بی حسابه بی کتابه

فی الحدیث قال الله اذا وجهت الی عبدی من عبیدی مصیبة
فی بدنه او ماله او ولده ثم استقبل ذلک بصبر جمیل
منه یوم القیمة ان انصب له میزانا وانشر له دیوانا

که څه سخته وی دشواره ‏ شه وصبر ته لاچاره
داکلی ده هر مشکل دی ‏ هر مشکل اصبره حل دی

فی الحدیث الصبر مفتاح الفرج

چه اول افسوس اه وی ‏ آخر صبر که تباه وی
وی وصبر ته لاچاره ‏ کهر څو وی غم کساره
چه ده مړی کفن نور شی ‏ ده ژوندی زړون سوتړ شی

فی الحدیث الصبر عند الصدمة الاولی

که په ته خوله ژړا که ‏ نه آواز نه غوغا که
چه اختیار یه ده ځان نوی ‏ په ثواب کښ نقصان نوی
چه ژړا کوی پیزوره ‏ لعنتونه لوړه ده لوړه
پر هغو باندی باران وی ‏ چه غضب ده پاک سبحان وی

حدیث یعذب المیت ببکاء اهله الاصل الخامس فی الشکر

نعمتونه د خدای پیر دی ‏ ده حساب لحذه تیر دی
کدی هر و بسته جانانه ‏ په هزار هزار لسانه
که ثنا یخو لغته ‏ واړه لر دی نیک خصلته
پدا شکر ده خدای کله ‏ پر ځای کیږی خما دله

في الاية وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها

په اخلاص خوک شاکر وی — ده هغو نعمت وافر دی
بل ثواب دی بی پایانه — بل به خلاص وی له نیرانه

في الاية ولئن شكرتم لازيدنكم ايضا فيه ما يفعل الله
بعذابكم وان شكرتم وامنتم

که لذیذ طعام وشومی — ده روژی ثواب به بومی
که حلوا له شکر قند دی — چه له شکره بهره مند وی

الطاعم الشاكر بمنزلة الصايم الصابر

شکر لوی عالی مقام وی — په جنت کښ یه مقام وی
چه بل هیڅ نوی ای یاره — ده بندګی لو قاره

في الاية واخر دعوٰيهم ان الحمد لله رب العلمين

شکر دادی دل آرامه — شه خبر له دا مقامه
یو نعمت ګنه له خدایه — بل ګمان مکړه بی خایه
چه له تا سره احسان که — که امیر کیه سلطان که
وی بغاره ده ده پرسے — بی اختیاره لګه مرسے
مسخر ده پاک ستار وی — نیه وال نیه اختیار وی

حدیث قلوب الخلائق بین اصبعین من اصابع الرحمن

بل خوشحاله په نعمت وي — لمنعمه په غفلت وي
شه لشکره روی گردانه — که حمد وائی لز بانه
بل ده هر نعمت لقدره — خان خبر کړه ده دین بلده
کدی مال دی کدی جاه دی — که حشم دی که سپاه دی
کدی زبه کدی گوش دی — کدی عقل کدی هوش دی
هر نعمت چه وي لخدایه — عبث ندی دل آرایه
وار ه صرف کړه وطاعت ته — ده خیل رب وعبادت ته
که بخوله دوو دشنام کړي — لایعني پوچ کلام کړي
آرویده ده چنګ دف کړي — په قمار ده مال تلف کړي
پت پزړه کښ هم حیل وي — یادي مکر یادي غل وي
مظلومان د شي برهمه — لسپاهه لحشمه
هرچند بخوله شاکر وي — دي پشکر کښ قاصر وي
دي لشکر شه لشیطانه — مخ یه تور بدو وجهانه
یومثال دي بي نظیره — شیه وار وه دلپذیره
که غریب بي چاره وي — چري پروت پر کناره وي

تل لګا خته لتا را جه ◦ ده دښمن وی بی رواجه

نه درست وی نیه اس وی ◦ لدښمنه یه هراس ویے

بیلخبر یه پادشاه شی ◦ پخواری ده ده اګاه شی

شاه وده ته پیغام که ◦ سرفراز یه یه انعام که

نه براق نه یه صلاح وی ◦ چه سبب یه ده فلاح وی

زیبا تاج ده ده پر سر که ◦ مصری توره ترکمن که

پر براق یه سپور شی جانه ◦ شی لشاهه روی ګردانه

لدښمنه سره مل شے ◦ لبادشاه یه جدل شے

چیه د اعمل کړی ده وی ◦ په قیامت به شرمنده وی

نسکاره جنګ دی ای فضوله ◦ له الله له رسوله

فی الایة انما یحاربون الله ورسوله

هم لده بشی بیزاره ◦ دغه خیل رفیق دلداره

چه میدان شی ده راستانه ◦ دښمنی شی ده دوستانه

فی الایة اذ قال الشیطان للانسان کفر قال انی بریٔ منك انی اخاف الله رب العالمین الاصل السادس

فی الاخلاص والصدق

نیت عطاده کردګار دی	نه یکسب په اختیار دی
چه زړه کښ هویدا شی	لاچار فعل تری پیدا شی
که مقصود په خاصه رب وی	فراموش په بل مطلب وی
دا اخلاص دی ای د لبره	رب دی تا که بهره وره
یو مثال دی سالیده لی	چه اخلاص لره راغلی
که وران کړی دیر طعام وی	وروژه نه سری رام وی
چه صحت می د صورت وی	وا ودس تیه رغبت وی
چه څنګ به بصورت کرم	بل به نیت د عبادت کرم
نیت موجود شه لم الخلاصه	زړه خالی کړه لوسواسه
په بندګی کښ بهبود نوی	چه اخلاص په موجود نوی

فی الآیة وما امروا الا لیعبدوا الله مخلصین له الدین

خو موندی کران دی وړه	عجب سر دی د خدای کوره
په هغو کښ په اظهار وی	چه محبوب ده کردګار وی

فی الحدیث الاخلاص سر من اسراری استودعته

قلب من احببته من عبادی

چه څوک له وائی خناسه	نیت می وکړه له اخلاصه

بدباطن

په باطن کښې په شرکت وي | چه ریاؤ یا سمعت وي
دروغ ژن دي و مولی ته | چه اخلاص شه لتا یا ته
لږ عمل ده سړي بس وي | واخلاص ته چه ړښتې وي

في الحديث اخلص العمل يجزك القليل

چه صراف کړه دانا وي | قلب به ېر ولي نابینا وي
په عمل کښې اخلاص بو یه | که ثواب غواړې خوښ خو یه

في الحديث اخلص العمل فان ناقد بصير

تل معروف کرخي د له | داخیل ځان واهه پخیله
چه اخلاص کوه صوړ ته | خلاص کړه ځان لغرامته
چه حسن بصري وفات شه | آه افسوس پر مخلوقات شه
عالمونه لوړ ده لوړ ه | جنازې لره تله وړ وړه
فراست ابن سیرین وه | داجوابه دایه تلقین وه
چه پما مشقت سي نشي | چه خلوص مې ده نیت نشي
لطاؤس چا سؤال کړ | ده دعا په قیل قال کړ
ده دعا نکړه مستجابه | وه ساکت لدا جوابه
وی یه هلته بدعا کړم | چه خلوص نیت یه سیدا کړم

ده فقیر چه صاحب حال وه | همسایه یې ښن ملال وه
دیر مُدّت وشه ای یاره | ده پرسش نکړ لچاره
وړته ځاوېل صاحبه | اعاده یه داه واجبه
ده وی تل می پخاطر دی | یالک الله رانه حاضر دی
چه خلوص می ده نیت نشته | په رفتن کښې قربت نشته
چه اخلاص پیداشی کوره | اعاده به کوم وړوره
که مباح وی عبادت شی | چه خلوص پکښې ده نیت شی
لکه خوک چه مسخره که | ده بل غم په آواره که
یا ماکول بعبادت شی | پر مرده یه طبیعت شی
په مزاح که خان خوشحاله | ده طاعت ده یاره لاله

قال ابو الدرداء ایضا فیه انی لا یستحیی نفسی بشیء من
اللهو فیکون ذلک عونا لی علی الحق ۱۲

چه اخلاص یه نوی کوره | خوله طاعت کوی پزوره
ترګناه طاعت بتر دی | چه یه زوره دی ده سر دی

فی الحدیث لا تبغض الیک عبادة الله ۱۲

چه فاسد ده سړی نیت وی | داهر کوره لوی قیامت وی

نیت روح عمل یه تن دی وداناته مبرهن دی
بی لروحه تن مرده وی نه سود نه فایده وی

فی الحدیث انما الاعمال بالنیات

سود یه نشته ای هوشمند بی ده اوبس لژ انو بنده
چه غزا ید غه نیت که که درست کفر هزیمت که

فی الحدیث من غزا وهو لا ینوی الا عقالا فله ما نوی ١٢

که سری لمکره پنده خوره لوره که دیچا بنده
چه قبول مال دولت که بیا اظهار ده ندامت که
که صورت یه ده نکاح دی دا زنا دی هم سفاح دی
که څوك قرض وكه پچانه پټ پزره لری پنهانه
چه انکار یه له ادا وی دغه قرض بتر تر غلا وی

فی الحدیث من تزوج امرءة علی صداق وهو لا ینوی اداءه
فهو عاهر ومن ادان شیئا وهو لا ینوی اداءه فهو

سارق ١٢

ده عمل خیری به یاره بیارته راشی لستاره
هر عمل به تباه وی چه نیت لغیر الله وی

که قراربي غم خواب که ‎ ‎ بهره مند یه ثواب که

چه نیت ده نیك عمل وي ‎ ‎ بري چراغ ده اخلاص بلوي

في الحدیث ان الله لملائکة ترفع صحیفة عمل العبد فیقول الله تعالی القوها فانه لم یرد بها وجهی وان الملائکة ترفع صحیفة عمل العبد فیقول اکتبوه له کذا وکذا فیقول الملئکة انه لم یعمل شیئا منه فیقول انه نواه

یو سخي وه دلا وروه ‎ ‎ پري ریکوده ده گذروه

پر جهان باندي قحطي وه ‎ ‎ دیر ضرور دیر سختي وه

که فقیر وه خالي لاسه ‎ ‎ زړه یه ډك وه لا خلاصه

دا یه راوز کاوه لځانه ‎ ‎ پنهان نوه لسبحانه

کدا ریك واړه طعام وای ‎ ‎ چه خیرات می کړي عام واي

وچه راغله له اکبره ‎ ‎ دغه وقت ته پیغمبره

چه قبول څما یك رشه ‎ ‎ لثوا به بهره ور شه

چه اخلاص دي زده کړیاڼ ‎ ‎ وارو ه صدق لځا کساره

اول صدق ده مقال دي ‎ ‎ چه هر بند لره کمال دي

پگفتار کښ چه صادق وي ‎ ‎ په امر ولیو کښ فایق وي

هم د پاک الله صدیق وی — په اخلاص په تحقیق وی

فی الحدیث ان الرجل یتصدق و یتحری الصدق حتی

یکتب الله عند الله صدیقا

پدروغ چې گفتار وی — عاقبت به شرمسار وی

خصوصا لذوالجلال له — دروغ مه وایه ای لاله

چه رزاق یه بولی یاره — طمعه مکره له اغیاره

چې طمعه د سلطان ویے — رب رزاق بولی نادان ویے

د وه صدیق ده نیت وروه — غیر دور کړه لر زړه گوره

بنده کی د رب تنها کړه — لعذابه ځان رها کړه

د رهم صدق دی د عزم — چه پرزړ کښې کاندی جزم

که رب راکړه دولتونه — زه به کړم سخاوتونه

که لر نخه می صحت وی — خما شغل به طاعت وی

بل هم صدق د وفا دے — د دیه عزم چه خفا دے

چې دیر مال دولت شی — بهره مند بسخاوت شی

چه لر نخه شفا مو مے — د طاعت ولوړته د رومے

فی الایه رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه

کیه ډیر مال ومنال وي پسیخا سري ملال شي
یا لرنځه شفا موي ده ګناه کوټ وشوي
دروغ ژن دي په وفا کښي دي قدم زدي په جفا کښي

فی الایة ومنهم من عاهد الله لئن اتانا من فضله لنصدقن ولنکونن من الصالحین فلما اتٰهم من فضله بخلوا به و تولوا وهم معرضون

تخم صدق ده عمل وي چه ده سخت لارمل وي
کړه ظاهر باطن یکسانه ډیر کار کښي ای جانانه
ته لګ فاقه عادت کړه بیا لقافه قناعت کړه
هم لږ ریاضت کوره تل مدام کوه ای وروره
بیا هله لباس ده صوف کړه ته په فقرخان موصوف کړه
چه لباس یه ده فقیر وي په دنیا بیي زهیر وي
مدام سیر وي لطعام متا زنوي دل آرامه
دروغ ژن دي ای جانانه پناه غواړه لسبحانه
څکه یاک رسول ای دله پد ارنګ دعا کوله
په نصیب خما فلاح کړي خما ظاهر عمل صلاح کړي

بیا باطن کړی څما غوره ظاهره ای اکبره

فی المأثوره اللهم اجعل سریرتی خیرا من نیتی واجعل علی نیتی صالحة

سپین زم صدق ده مقلم دی چه ده پاك الله انعام دی
هر مقام چه ده سالك وی خوف رجا غیر ذلك وی
په اخلاص په تحقیق وی همغه کس ده خدای صدیق وی

الاصل السابع فی التوکل

که اوس لنبه شی بله د ښه خدای لتوکله
پر بنده باندی ګلزار وی چیه پاك الله پر چار وی
سمندر اوسی په اور کښ تل ده سر لنبو په کور کښ
بسر یه نخوخی لخدایه چه فرمان نشته لخدایه
پاك الله د سړی بس وی سر کوزی ده بل عبس وی

فی الایه ومن یتوکل علی الله فهو حسبه

هوا کښ ده مرغانو پلر یاب کښ ده مهیانو
روزی ور شی لو یاشه بی تدبیره بی تلاشه
ستا پچه دی ډیره حله اخلی لاس لتوکله

د هر غه بخیر به لاله ‏ ‏ روزی مومی بی جنجاله
که تدبیر تلاش پریږدی ‏ ‏ و تقدیر ته غاړه کښیږدی

فی الحدیث لو انکم تتوکلون علی الله حق توکله لرزقکم کما
یرزق تغدو اخماصا وتروح بطانا ۱۲

که غم جن د دین په غم وی ‏ ‏ لد دنیا له کاره خم وی
غم خوړی به یې سبحان که ‏ ‏ هر مشکل به یې آسان که
وړته خلاص په هغه دروی ‏ ‏ چه نه طمعه نباوروی

فی الایة ومن یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث
لا یحتسب وفی الحدیث من انقطع الی الله تعالی کفاه
الله کل مؤنة ورزقه من حیث لا یحتسب ۱۲

هغه خوار په دوه جهانه ‏ ‏ چه کوته که د دین ورانه
د دنیا په عمارت وی ‏ ‏ که ډیر مال دولت وی

فی الحدیث من انقطع الی الدنیا وکله الله الیها ۱۲

دی تا کوم بازو د زور دی ‏ ‏ چه و کسب ته دی زور دی
صبح دم روان شی کوره ‏ ‏ د قولبی ولو ته کوره
په طاعت دی ملا شی ماته ‏ ‏ کهسان وی گران نی تاته

یو فقیر چه عیال مند وه — پښو به ده عیال بند وه
نیه قوت ده شام سحر وه — نه لباس دیخاده بر وه
وه بی صبره بې طاقته — ورک شه دی لولا یته
یو کوهی چرته پلار وه — چه دولچه رسی تیار وه
فقیر ډیر وه تشنه لبه — راغی دی د چاه ته لبه
پری مرغه هلته پرش کړ — پد ولچه بیه گردش کړ
فقیر یوه شه لداشانه — ده مرغی تشنه لبانه
ده دولچه کړ له پر آبه — چه مرغی یکړم سیر آبه
بیایه بله کشیده کړه — دم پدم یه چشیده کړه
که او به یه کښ چندانه — وه مرغه تشنه لبانه
څوک به سیر پد یې قوت کړی — پر عیال چه نه منت کړی
چه دی زه نکړم سیر آبه — ده پردې کوهی له آبه
ستا عبث لدوی فرادی — چه رزاق یه پاک ستار دی
بل فقیر چه سیاحت کړ — ده گردش ده ولایت کړ
پر مقام ده توکل وه — نه همراز نیه مل وه
ده رسی دولچه جانانه — گرزول لخپله خانه

پر بیابان یه اقامت وه   دیر لتندی بی طاقت وه
ده نظر کړه لوړ پر لوړ یې   یو کوهی ده کیه کوړ یې
چه پر تول څه اهووان وه   لکه دوی تشنه لبان وه
دا کوهی پخیله جوش که   اهووان یه شرب نوش که
چه سیاح راغی ته چاهه   هوسی ولاړی راه براهه
او به بیا ته ولاړی دله   ده چاه بیخ لره پخپله
ده دوڅه کړله گذاره   رسی وه شلیده لواره
چاه هر کوره دیر عمیق وه   دی یفکر کښ غریق وه
ورته ناست وه تشنه لبه   دایه راز کاوه لربه
اهووان دی کړه سیرابه   بی سامانه بی اسبابه
څما دی خپل سبب ویران کړ   چه قدرت دی نمایان کړ
بریده چه می رهمان شه   ستا پحکم په فرهان شه
دا حکمت راته راظهار کړه   پدا حال می خبردار کړه
وسیاح وته الهام شه   پر ده فضل ده علام شه
توکل ته چه دی شا کړه   تا رهی دولچه پښا کړه
څکه ما کړی سرگردانه   کاوړ کوی نادانه

توکل ده عامی د له   رب دی تا نکه غافله
پدا طور پادشان وی   لکه څوک بوله نادان وی
کړی پخاسره چکره   وی بلنده ده په اړه
څوک وکیل ده خصومت که   دی آرام وی فراغت که
پوکیل ده ده باور وی   چه دانا وی هم رهبر وی
مهربانه ډیر فهیم وی   په الزام ده هر غلیم وی
ده وکیل چه فرمودن وی   ور ته نبی په گردن وی
نه وچاته سرکوزی که   نه ځان سرفرازی که
وی پدا طور یارانو   توکل ده زاهدانو
لاس په کښلی لهر چانه   هم ځانه بجهانه
لکه ورکی چه نادان وی   نیه عقل نه گمان وی
په لمن ده مور نښلی   بجهانه په لاس کښلی
اه فغان په وی طوره   ناامید لبله لوره
کیه داشری پخانه   وی پدی پسی یو یانه
وی فنا یوکالت کښ   پدا مهر محبت کښ
څو یغم کښ په ده گوره   اخر موړ فناشی وروره

توکل ده کامل جانه ‌ ‌ کل اختیار ورکه لخانه
بی نفس لکه مړده وی ‌ ‌ کل اختیار به ده زنده وی
نیه آه نیه فغان وی ‌ ‌ فراموش به خان جهان وی
چه ورپېښه شی لخدایه ‌ ‌ پنا زیږی دل آرایه
دامقام دی ډیر دشواره ‌ ‌ میانه رواوسه ای یاره
ته تروړکی بتر مشه ‌ ‌ ډیر نادان ابتر مشه
ده مولی ولوړ ته زغله ‌ ‌ پلمن ده کرم نسله
تر شهرګ نژدی وتا ته ‌ ‌ چرته زغلی ناکجا ته
مهربان تر موږ پلار دی ‌ ‌ څه بنده څیه وقار دی
کدا نکیږی خوش خویه ‌ ‌ توکل ده عامی بویه
هرچه امر وی لخدایه ‌ ‌ هغه کړه دل آرایه
هم لنهی شه بیزاره ‌ ‌ کیو هیږی ایمان داره
سرکوزی مکړه وجاته ‌ ‌ وبادشاه وګدا ته
چه وکیل یه ده خپل خان که ‌ ‌ رب به هر مشکل آسان که
داهم زده کړه ای دلداره ‌ ‌ څو چه نشی پخته کاره
رزق روزی کنه لخدایه ‌ ‌ کسب مه پریږده خودرایه

فی الحدیث کل من کد یمنک ولا تاکل عن دینک ١٢ :

هم توښه ده لاری بویه — چه سفر کوی خوشخویه

فی الایة وتزودوا فان خیر الزاد التقوی ١٢

هم دارو کوه ای یاره — ته ده خپل مرض ده یاره

فی الحدیث تداووا عباد الله ما من داء الا وله دواء الا السام فقیل هل یرد قضاء الله قال هو من قضاء الله ١٢

دا ده پاک الله سنت دی — چه سبب د معشیت دی

دا سنت په بدل مکړه — ته بی ځا توکل مکړه

فی الایة ولن تجد لسنة الله تبدیلا ١٢

یو نبی وه ډیر پریشانه — بصورت ملول بی شانه

کړه حکیم دارو دلبره — نبی نه خواړه لسره

توکل په پرستار وه — له اسبابه په فرار وه

وحیه راغله له الله — پیغامبر لره د لخواهه

کشفا غواړی رویداره — و دارو ته ئی لاچاره

هر مرض لره دوا دیے — دا حکمت ده پاک مولی دیے

چه لکسبه خوک حذر که — یا بی زاده خوک سفر که

چه پر خدای می توکل دی … رب ئې ماده لاری ملی دی
توکل ندی غرور دی … والله ته نا منظور دی
چه باید یه په یقین وی … نه گمان یا ظنین وی
که باید یه وی موهومه … توکل ندی مغمومه
واخله لاس لهغه کاره … توکل کوه دل داره
لکه څوک چه زی داغونه … یا به یار که تعویضونه

فی الحدیث المتوکلون یکسبون ولا یسترقون ۱۲

توکل چه پر ښتیا وی … نبا نی د هغو دا وی
چه دا حال خوړ الئ نوش وی … غم ده شام یه فراموش وی
چه انعام وکړه صنمه … بوره سل زده درهمه
عایشی ته دل آرایه … بویه وانخست لخایه
چه خیرات یه کړه ته شامه … ورته چاوی لخدامه
یو درم دوای ستا تلے … چه افطار دی وای پریکړے
ئی بوره چ کښ روژه داره … ما شام هیڅ نشته تیاره
عایشی وی لجوابه … کباوه کوی مهتابه
توکل پر پاک الله دے … د بیگاه روزی بیگاه دے

زخیره چه کوی یاره — ده څلو یښت شپو ده پاره
توکل ځنځه پری دی — روایت دستری دی
لځلو یښت چه بیشتره — زخیره کوی دلبره
توکل ندی نفاق دی — دواړه واتفاق دی
که حرص دیچا بسیار وی — خالی لاس وړ ته دشوار وی
وزی دی لعبادته — که ځان باسی لدولته
یا سړی وی عیال منده — کپوهیږی ای هوشمنده
زخیره کوی ترکاله — ده عیال ده پاره لاله
نه ګناه نه بدعت دی — چه ده پاک نبی سنت دی

فی الحدیث هو اغنی واقنی

توکل چه کستر وی — زخیره به بیشتر وی
په ثواب کښی یه نقصان وی — چه حرص دیچا عیان وی
روایت دی لحدیثه — کاوړ کوی رائیسه
پاک رسول چه ته بدړوه — پر فقیر ده ده ګذروه
دی په قبر کښی نهان وه — وړ رسول ته حال عیان وه
دی فقیر لکاروباره — حضرت داویل دلداره

چه لقبره پاڅیده کړ ده ده مخ به ځلیده کړ
پر یه حسن پر جمال دی چه او زمیه مثال دی
زیبا مخ به ده ده نمر وه تر سپوږمی به منور وه
که ده ږمی خرقه یاره ده ده بل ږمی ده یاره
بخیل کور کښ نه ساتلای لحرصه یه لاس کښلای
وه فقیر خدای فرسته توکل یه وه همدسته
ناست وه دی یو خوا یا مه بخلوت کښ دل آرامه
لفاقی وه دیر بی تابه دی بیرون شه ای مهتابه
دری دلی پده باره وه چه ده کبر یه وقار وه
چه تکړی راغلی ای فقره وفقیر ته لدا کوره
بیا فقیر څینی روان شه ورستو سپی پسی روان شه
ده یوه تکره ای یاره وداسپی ته کره گذاره
هغه سپی هغه جدل وه لفقیره سره مل وه
بیا یه بله بیا بله وغه یسی ته واچه وله
چه روتی یه کره تمامه فقیر داوی دل آرامه
چه راغلی ستا لکوره توکل دراینوه پرزوره

ندا وس

ته اوس څه غواړي نادانه — چه دي نه کړم سر ګردانه
څو دي حرص شو دي هوادي — بيا ته کوم دي غوغا دي
وفقير ته سپي جواب که — ډير يه قهر ډير عتاب که
چه ده خداي دربار دي پر بسو — په بيرون دي قدم کښېښو
ده دشمن ته ده وړ لاړي — چه لګيږه روزي غواړي
داهمت دادي مړانه — ځان مسلم بولي نادانه
ماتير کړي دي څو کاله — پاڅ کښ بي جنجا له
لوزي تندي لاندي باندي — تيري شوي پرما باندي
تله لي نه يم لدا دره — نه ولاړ شم بهر ور ته
زه چه سپي دامي همت دي — ځکه ډير خما قيمت دي

الاصل الثامن في المحبة

محبت بو يه لخدايه — لرسوله دل آرايه
تير تر ځان يه کړه وځان ته — نظر مکړه نوره جهان ته
ده هغو ايمان کامل وي — چه تر ځان وره ته مايل وي
نيه دين نيه ايمان وي — چه عجب کښ يه نقصان وي

في الحديث لا يؤمن احدكم حتى يلوا الله ورسوله

أحب اليه عما سواهما ١٢

ده عارف محبت لا له	وی پدا لذوا الجلال له
چه خبر په پکمال وي	په جلال په جمال وي
نيه خوف وي لنيرانه	نيه طمعه لجنانه
عبادت يه په اخلاص وي	لرجا لخوفه خلاص وي

في الحديث القدسي ان اود الاود لمن عبدني لغير النوال ولكن ليعطي الربوبية ١٢

چيه ويره شي له اوره	ده جنت ده پاره وروره
محبت کوي لخدايه	داسودادي دل آرايه
دير ظلوم جهول نادان وي	چه يجب كبش په نقصان وي

في الزبور من اظلم ممن عبدني الجنة او نار لو لم اخلق جنة ولا نارا الم اكن اهلا ان اطاع ١٢

كه غافل وي لجنانه	لدوزخه اى جانانه
واحسان ته ده رب گوره	محبت كوه اى وروره
ته لسيتى بتر مشه	ديو نادان ابتر مشه
پرجنتن كه ديره مينه	چه احسان وره كرينه

شپ و روز وی پله یار کښی	ده خلمت به انتظار کښی
ته یو دم لروزه شبه	حاضر نه یی بی ادبه
چه ترسیبی سری بتروی	دا هر کوره بد هنروی

قال فی الحدیث احبوا الله بما نفذ و کم به من نعمة و احبونی

یحب الله من جمیع الشر

چه محب ده پاک سبحان وی	لدنیا به روی گرځان وی
لهر چابیه وحدت وی	چه آلوده پمحبت وی

قال ابو بکر رضی الله تعالی عنه من اذاق من خالص
محبة الله تعالی منعه ذلك من طلب الدنیا و وحشة

پمرگی بوی خشنوده	چه رسیږی ته مقصود ده
خوصورت یه پنا نشی	ملاقات ده الله نشی
که موسی وه له احابه	لن تراوه لجوابه
خپل صورت ده ده حجابه	چه زهیر پدا جواب شه
بل هواده نفس پیږدی	وفرمان ته غاره کښیږدی
چه محبوب وته فرمائی	هغه کاندی هغه وائی
چه خاطر یه آزاد نشی	ده ده خونه ناتار نشی

کدا نخبه نوی جانه	محبت نشته پنهانه
چه اثر یه ښکاره نوی	پټ ده حب شراره نوی

الاصل التاسع فی الرضاء بالقضاء

بنده راشه رضا پریږده	وقضا ته رضا کښیږده
اعتراض مکړه لسره	په هیڅ کار ده رب دلبره
مه پرزه کښ مه پڅبه	دا رضا بولی طالبه
که ساکت وی له لسانه	په پخسیږی پټ پنهانه
دایه صبر دی دلبره	رضا نشته بهره وره
چه صابر یه بلا نه وی	خوک رضا بقضا نه وی
ده خپل ځان پر رضا تله که	ده بل خدای طلب دی وکه
چه پرده وی مهربانه	شه لخدایه روی گرځانه

فی الحدیث القدسی ان الله لا اله الا انا فمن لم یصبر علی بلائی ولم یشکر علی نعمایه ولم یرض بقضائی فلیطلب

رباسوائی

چه ده خدای پر محبت وی	په نصیب یه سعادت وی
ښنانی ده هغو داوی	مبتلا یدره ده داوی

هرګز سود نکه لباره چه پیوند نشی ای یاره
بل چه چراغ سی یولبله بی جنجا له خما دِ له
چه تنها یه بله وینه پسی خوری ده زړګی وینه
کوم رنځور دی ای حبیبه چه رغیږی بی طبیبه
که هر څو حاذق وی ګوره دارو نکړده خان وروره
ده رنځور فکر رنځور وی بحکمت کښ دادستور وی

قال الحکماء رای العلیل علیل

ده باطن هم داو قاروی چه پیر شوی داروزګاروی
که وصال غواړی الخدایه مرشد ګوره دل آرایه
تا به بوزی دست پدسته ته الله خود پرسته
چه خبر وی له ایمانه عقاید ده خماجانه
لتفسیره لحدیثه له اخلاقه ای رائیسه
که خبر نوی شیطان دی تر شیطان بتر چندان دی
هرچه کاندی استدراج دی پوچ باطل ده ده رواج دی

قال الجنید اذ ارایت صوفیا ولم یکن بین یدیه تفسیره وعلی یمینه احادیث وعلی شماله کتب الفقه والاخلاق هو

شیطان و ماضد رهنه استدراج

هر باطن چه لظاهره	مخالف وی ای ماهره
رواج نلری باطل دی	ده قیامت یورح عاطل دی

قال ابو سعید کل باطن یخالف الظاهر فهو باطل

ده مرید یحال خبروی	لحه خیر لحه شروی
ده باطن لفراسته	یا ده علم لقوته
ده هرچا لخپله شانه	دی ارشاد کوی جانانه
چه جاهل په عقایدوی	وایمان تیه فایدوی
که په شرع ناخبروی	بیاده دی لاری رهبروی
که غنا یکښ دیروی	ده کفاف لحده تیروی
لاس په وکا بزی لما له	غریب خلاص که لوباله
که لوئی کوی خودبین وی	وسوال تیه تلقین وی
په سوال په مبتلا که	دی ده ربکداکه
چه یښوجام شیداوی	دایه شغل دا سوداوی
سودیه نشته لدی حاله	ای خماوروره جماله
دی مشغول کاندی مهتاب	لمطبخه لسردآبه

بم برهر

بیا په صبر کښې خوشنود وی — چې زړه یې غم آلود وي
په قضاء ده رب رضا شي — مجتبی وی مصطفی شي

فی الحدیث اذا احب الله عبدا ابتلاه فان صبر اجتباه وان
رضی اصطفی

خوک چه خپله رضا پریږدي — وقضاء ته رضا کښېږدي
پاک الله ده دوی رضا که — پر رضا ده دوی قضا که
لقضا چه روی گرځان وی — خوار زار پریشان وی
خلاصیده په نوی کوره — ده قضا لبنده وروره

قال الله تعالی یا داؤد ترید وارید وانما یکون ما ارید
فان اسلمت لما ارید کفیتک ما تریدون وان لم تسلم اتعبتک
فیما ترید ثم لا یکون الا ما ارید

په هیڅ کار په غمگین مشه — لخدا غوټه جبین مشه
چه یې پر غم کښې خوشحال وي — هغه دوست ده ذوالجلال وي

فی الحدیث القدسی ان المحبین من اولیائی ان یکونوا
روحانین لا یقیمون

چه اصبر کاندي منل — وي مقام ده هغو قیل

که شکوه کاندې لخدایه | دا ژړا وائي دل آرایه
نه دې ولې خوار و زار کړم | په بلا دې گرفتار کړم
دا مې کوم گناه تقصیر دی | چه حماده پښو خنځیر دی

في الحديث ويل لمن قال لم و كيف

که د غم لښکر فوجونه | تل پرتا کوي تاختونه
زړه خالي کړه له اندوهه | خه سړي دي ځيه پوهه

في الآية وما اوتيتم من العلم الا قليلا

ډېر کارونه د بشر وي | په ظاهر بدي شر وي
پټ خالي نوي لخيره | کيو هيز ده دين نبيره

في الآية وعسى ان تكرهوا شيئا وهو خير لكم

يو فقير چه مصطفى وه | په مقام کښې د رضا وه
دا يه راز کاوه لکوره | ده به دا ويل اى وروره
هر چاره چه د سبحان وې | پکښې خير پنهان وې
ته خاطر مکړه ملاله | په هر کار اوسه خوشحاله
پروت وه دی په باديه کښې | ده اولس نږاو يه کښې
يو يه خروه اى نگاره | خلاص بيده فقير لباره

چه ده کوږ په څه وکړوه — په بار کړی فقیر خر وه
بل په سپی د حراست وه — د فقیر د فراغت وه
چه فقیر به قراری کړه — هغه سپی به بیداری کړه
بل په چرګ وه ای مهتابه — پاڅه وُل په دوی لخوابه
دا یه مال دا یه دولت وه — باقی صبر قناعت وه
یو شپه د رب قضا وه — د فقیر په کور غزا وه
ګیدړی راغله ای یاره — هغه چرګ به یو لوا ده
پسی شر مښ ځان ښکاره کړه — د فقیر خر یه پاره کړ
بیا یه سپی پتن بیمار شه — لنا بوده یه رفتار شه
که فقیر ناست وه خوشحاله — کوږ یه ډیر یزره ملاله
چه پر راغله یه یو ځله — داغمونه څماد له
څو چه وقت د صبح دم وه — ته هغوده دی ماتم کړه
که فقیر یه تسلی کړه — دی افسوس واویلا کړه
چه سحر ویښ شه لخوابه — ګردا کر د ده دوی احبابه
چه پراته وه هغه کلی — یه تاراج ده دښمن تللی
که قلیل وه که کثیر وه — پکښ ډیر بندی اسیر وه

چه به غره پورته آواز کړ وهغه لوړته يه فرواز کړ

چه ده چرګ چرته کوکاړ وه وهغه ته يه شبګير وه

ده اخيل مال ده دوی غم او يه ښکاره چه ده دوی ناز و

فقير پاته سلامت شه چه ده مال يه غرامت شه

بل نبی وه ای همدمه ګوښه تللی لعا لمه

پاس پغره کښې يه مقام و عبادت يه صبح شام وه

همغه ځای چه يه خوابګاه و وزړدی چرته ابګاه وه

راغی سپوږ لېوه ځايه پر چشمه باندی خود رايه

ځينی پاته شوه د لبره هميانی چه وه پېر زره

بل خوک راغی ځماد له هميانی يه واخستله

دوړ شه دی لهغه ځايه بل غريب راغی خود رايه

دپير زاهد دپير پارسا وه ده لږ کوغوځی پښا وه

په اوبو يه طهارت کړ ده آرام هغه ساعت کړ

ناګاه سپوږ شتاب راغی پدپر قهر عتاب راغی

لفقيره يه طلب کړ ده جواب پدپر ادب کړ

کوم يه سود وه له ادبه چه پر پښ شه بی ادبه

د ده تن په رنځیده کړ شهادت یې چشیده کړ
نبي ناست پر خپل مکان و وحکمت ته حیران وه
مناجات یې کړ لخدایه ای قادره رهنمایه
ته عادل هم داناوې په احوال یې ته بینایې
چه ورته همیانی دی لتا کله نهانی دی
دا ظالم دی مسلط کړ چه فقیر یې فضیحت کړ
وحي راغله له اکبره پیغمبر لره دلبره
چه ده دی قاتل پدر وه نه گناه وه نه شر وه
مړ ده دی فقیر پتیغ شه په افسوس په دریغ شه
چه پوهي په قصاص دی څکه پوهه ته ده دلاس دی
هم پدر چه ده قاتل وه دیر وظلم ته مایل وه
دا مبلغ ده ده لګور وه دی ظالم وړی پزور
چه پلاس ده همیانی ده کوره ته تللی نهانی ده
دغه مال یې ده پدر وه چه پلاس کښې ده پسر وه
اوس می عدل نمایان کړ ده حق داحق می عیان کړ
پیغامبر په استغفار شه چه احوال ورته اظهار شه

رضا دا دی ای دلبره   په زحمت وی ناخبره
که بلا وی که ماتم ری   نیه درد وی نیه غم وی
دی مدهوش لمحبته   بی پروا وی لزحمته

قال الجنید لسری سقطی هل یجد المحب الم البلاء قال قلت
لا وان ضرب بالسیف بسیفین ضربة

که خبر پره غم وی   په اندوه پماتم وی
ده ثواب ده پاره گوره   دی رضا کوی پزوره
دا رضا ندی سودا دی   ده هغه جهان پدا دی
لکه او ره پرضا پریږدی   خول وداغ ته رضا کنبیردی
ده صورت نفع ملحوظ که   چه ده سر لنبو حظوظ که
یو فقیر چه ډیر هوشمند و   چیره لحری فرزند و
چاوده ته ویل یاره   وکره سوال لکرد کاره
چه پیدا دی تا فرزند شی   تور لمه دی ارجمند شی
فقیر داویل دخواهه   زه شرمیږم له الله
چه پر کره یه اعتراض وکړم   ده ولد عجز و نیاز وکرم
چه فرزند پریږدم جانه   دا لواړه دی اسانه

په ده

چه دَ پاك الله قضا دي ۰ ځما خوښي و ځما رضا دي
بل هم سعد ده وقاس وه ۰ ده نبي ده دَرِ خواص وه
چه دعا ده ده مستابه ۰ په هر كار كښې مُستجابه
دا دُعا ده پاك حضرت وه ۰ چه موند ليه نيكخصلت وه
نظر كم شه ده ده كوړه ۰ په اخِر عمر اي وړوره
وړته چا وئيل دعا كړه ۰ اِلتماس ده پاك مَولىٰ كړه
چه دي كوړ چشمان بينا شي ۰ تاريك ملك دړته روڼا شي
ده وي شرم حيا بويه ۰ لمولى څخه خوشحُويه
چه مي كوړ الله چشمان كړه ۰ ده پحُكم به فرمان كړه
زه به څرنگه دو بارَه ۰ كړم سوال لكِرد كاره
بل هم څوك وه خدا دوسته ۰ ده پلا ويل اى دوسته
كه رضا ده پاك سُبحان وي ۰ چه دوزخ ځما مكان وي
دا دوزخ مي ده سرتاج دي ۰ ځما فخر ابتهاج دي
كله ير غم شي درد و چاره ۰ دا آيات لوله سل واره
تشپه ورځ كښې ځما دله ۰ تبه خوش ئي تل ته تله

في الاية ونجينا من الغم وَكذلك ننجي المومنين لا اله

الا انت سُبحانك انی کنت من الظلمین ۔ الاصلُ

العاشرُ فی ذکر المَوت ۔

عُمر تیر شه د ږگنډ ری ۔ پحدیث کدی باور دی
د هفتاد و شصت بمیان دی ۔ چه غفلت کوی نادان دی

فی الحدیث اعمارُ اُمتی ما ستین و سبعین

کمځوك تیر شی لدا یاره ۔ تل وی شاذ بي اعتباره
که هر چند عمر بسیار وی ۔ پسل کونی پهزار وی
اٰخر نوش به کړی لاچاره ۔ ده مرگی پیاله د لدا ره

فی الایة کُل نفسٍ ذایقة الموت ۔

که ده او سپنو د ږبند وی ۔ څوك ده نه پکښ بند وی
خلاصیده نشته همه ۔ ده مرگی لد ما د مه

فی الایة اینما کنتم یدرککم الموت ولو کنتم فی بروج مشیدة

که جنت غواړی خود ږایه ۔ یو حیا کوه لخدایه
بدکردار عمل مکړه ۔ بل هم طول ده امل مکړه
یو ساعت مشه غافله ۔ واجل ته کوره دِ له

فی الحدیث اکلکم یحب ان یدخل الجنة قالوا نعم قال

قعروا ما لكم واجعلوا اجالكم بين ابصارهم واستحيون

الله حق الحياء

چه لر که یه غفلت وی | سپی هنر سپی یه خصلت وی
چه ده زړه یرضا تله که | ودوزخ ته کښن واته که

فی الحدیث اخوف ما اخاف علی امتی خصلتان اتباع

الهوی وطول الامل

چیه مرګ یرښتیا یاد وی | هغه زړونه کله بنادی
تل یه اه افسوس غم وي | لذتونه یه برهم وي
نه خوش حال نه تابان وی | بي لتيغه شهيدان وي
چه شل واره شب روزه | مرګی یاد که دل افروزه
وی حساب لشهادته | شه خبر لو وا یته

فی الحدیث حین سألت عایشة رضی الله تعالی عنها هل

یحشر مع الشهداء احد فقر نعم یذکر الموت فی الیوم

واللیل عشرین مرة

پس لهر نمانځه دِ له | دا دعا لوله کامله

اللهم تب علینا قبل الموت وارحمنا عند الموت وسهل

علینا سکرات الموت ولا تعذبنا بعد الموت

غافل مه اوسه ای یاره ده مرګو تی لنا تاره
تر هوس بل هو نوی چیه واک ده نفس نوی
ده امید د میاشت کال که دګناه اشتغال که
پاک رسول کړی قسم دی دا قسم په مستحکم دی
زه چه خلاص دواړه چشمان کړم مدام دارنګه ګمان کړم
بیا به ضم نشی دو باره ده مرګو تی لنا تاره
که لقمه کړم په دهان کښ یم په دارنګه ګمان کښ
به ګلو کښ بشی بنده ای خماد زړه پیونده

فی الحدیث والذی نفسی بیده ما طرفت بینه الا ضننت ان شفرتی لا یلتقیان حتی یقبض الله روحی ولا لقمة لقمة الا ضننت انی لما اسبقها حتی عطو

بها من المنوءة

خلاصیده دی نشته کوره ده مرګی لسخته پوره
خان په ژوندو کړه لکه مری پرګردن ده طاعت پړی
کوندی خلاص شی لعذابه کیوهیزی ای مهتابه

فی الحدیث

فی الحدیث موتوا قبل ان تموتوا

ده مرګی ترخه پیاله دی | که غفلت که باهاله دی
یو نبی چرته بدرو | په قبر یې ده ګذرو
سر یې دادی ای میمونه | پکښې پروت وه دوه خموږنه
چه به دوی کړه چاسیرابه | ده یوه ګوهی له آبه
دا یو خم به مبدل شه | جوړ به زهر هلاهل شه
هغه بل وه خوش ګوارډ | کباور کوی دلداره
عالمونه به حیران وه | پیا سر کښې چه نادان وه
پیغمبر عجز نیاز کړ | لمولی سره یې راز کړ
چه سِر څه دی یا الله | پیا حال مې کړه آګاه
وحیه راغله لسبحانه | پیغمبر ته لپاشانه
ته لګحمه داسوال کړ | ده جواب پیا مقال کړ ٧
چه څماده خوارې کان و | پیا ځای کښې قبرستان و
ډیر یه عمر بی پایان شه | اثر ورک ده قبرستان شه
بیا تری خښتې جوړ عمارتونه | شوه پېرېب په زینتونه
عمارت آخر خراب شه | لکه د ښتی پاسیراب شه

بیاره زړه لسیکلا به | ځوکاله ای مهتاب به
اوس چه کان د کوڼره کړدی | بکبن خاوره ده بشر دی
دا تلخی ده خنکندن دی | چه وتاته مبرهن دی
پاهو مبره تغیر جانه | تلخی نوه لاره لمانه

الرکن الرابع فی الحقیقة والسلوک وفیه عشرة اصول

الاصل الاول فی حاجة الی المرشد

بی رهبره بی رېباره | رسیده نشته په یاره

فی الایة وابتغوا الیه الوسیلة

مکر بوزی شهاد له | څواک نکړلره پخپله
سیالی مکوه ای وروره | ده هغو لبخته کوره
عجب لوی مرتبه دی | جذبه دیے جذبه دی
خوبان کله وی همرازه | بی رقیبه بی نیازه
چه دی لاره که غلطه | بی رهبره نیک خصلته

قال الشیخ فی الرسالة الملکیة لا شیخ له فشیخه الشیطان

من لم یکن له استاد فامامه الشیطان

نهال هله وه شی خود رایه | چیه وکا نری لحایه

سلوک
قصة حقیقت

تو

چه پر دیر خوراک بلا که | په فاقه یه مبتلا که
میل مه خواسته مهمان ارزانی | بیا یې خپله روژه داروی
چه ظاهر یې بنایسته وی | په باطل کښې آراسته وی
ده باطن پند کړیاره | دی مشغول کاندی لواړه

فی الحدیث اکلم الناس علی قدر عقولهم

چه تلقین کوی بی فکره | څوک ده هر مرید لذکره
په احوال یه خبر نوی | هغه پیر یه رهبر نوی
سهو لار یه کړه غلطه | شه خاین له امانته

فی الایة وتؤدوا الامانات لاهلها

چه داد رساتی ای وروره | ده هر سپی خوله کښې کوره
خلاص به نشی لو باله | کباوره کوی ای لاله

فی الحدیث لا تطرحوا الدر فی افواه الکلاب

ده دین لار یه ووهله | دی بدیر که که مرده دله
چه دزره دوا که جانه | ده هرچا لیوه شانه
فایده نکه بی تشخیصه | دحکیم داروائیه
زیات پسی د دوی خلل شی | کړ تریاق وی هلاهل شی

ده ارشاد سنت هم کوړه پر تعلیم قیاس دی کړه
دا هم زده کړه ای خوشنکه دی پیران بڅلوړ رنګه
یو سالکی مجرّد دی چه دی دوست دپاک احد دی
دی مشغول لعبادته تل لزهده ریاضته
جذبی نوی نیوی لی څیه ځان وی فنا کړی
بشری صفات وی لاله پټول پده کښی ملا ماله
واره وارز دی قدمونه پرخپل ځان باندی میمونه
بل مجذوب مجرّد لاله رب دی تانکه ملا له
نیه شغل ده طاعت وی نیه زهد ریاضت وی
بی لفرض لواجبه طاعت نکوی طالبه
ده یقین لمسته جامه پیاله نوش که دل آرامه
وی غافله هم مدهوشه لکه مست بی میو نوشه
دوی لایق ندی دلداره ده ارشاد لکار وباره
بل سالک متدارک کوره جذبی نیولی وروره
اخر نوش که نیک خصلته شیرین جام لمحبّته
اول شغل ده طاعت که مدام زهد ریاضت که

شی فنا لخپله ځانه — پخپل یار پسې نادانه

بل مجذوب مُتدارک لاله — رب دی تا نکه ملا له

چه اوّل لمحبّته — شراب وڅښی پلک خصلته

ده هسی حجاب پاره که — ښها کوږی ننداره که

تل کډ لولی لو حدته — خبر نوی لکثرته

بیا چه دی شی پخته کاره — ده طاعت لکاروباره

اشتغال کړه په خونبیږي — پخواړی ده ځان نازیږی

ده کثرت پرمیدان بنوږی — ده وحدت ګلونه ګوړی

ده پیری لایق دی دواړه — کدی بیا مونده پو یاړه

شاه سُوار ده دوئی کوړه — دا آخر دی څما وروره

ده مرید دی څو هنره — واړه نږده کړه ای دلبره

چه ده دُوی اصل بُنیاد دی — پو صُحبت ده اعتقاد دی

دا باور کړه هم داوایه — ما به ورولی ته خُدایه

بل ځان وسپاره ای لاله — لکه مړی لعیا له

هغه کاندی هغه وایه — چه پیر ورته فرمایه

بل عزتُ ادب بُویه — پدا لار کښی ای خوش خُویه

في الحديث ادبني ربي فاحسن تادبي وقال لا شرف مع سوء الادب

پلادر کښې څو څوک اله ... مګټ به وکړي خما لاله
تربيت ده معنی ګران دی ... ترصورت چندان چندان دی
هفته يميا شتی کله ... ور کی رهی ترمنز له

قال الشيخ يلازم المريد شيخه سنين فمن كان عنده اسبوعا او شهرا كان زائر الامريدا

بل رجوع فتورت دی ... بد هنره بد خصلت دی
چه په لاری کښې نی دله ... وربه نشی ترمنز له
څره روژه پلار کښې ... سنتی مکره پلار کښې
اورادپربزده نيک خصلت ... بي لفرض لسنته
شغل مکره بي لذکره ... به باطن کښې بي لفکره
چه دی زره نشی دوه ځایه ... کپو هيزی دل آرايه
مکرته شي دير ملا له ... کره لورد خان خوشحاله

قال في الاية وما جعل الله لرجل من قلبين في جوفه

بل صحبت مکره هيڅ کاله ... لغافله مرده دله

کښې

هر مجلس

هر مجلس لره اثر دی بحدیث کدی باور دی

فی الحدیث لکل مجلس تاثر

بل گمان مکره دلخواهه چه پیر خلاص وی لگناهه
لگناه چه عصمت دی دا مقام ده نبوت دی
البته چه لکبیره احتراز کوه امیره
مه دوام پر صغیره بویه چه کبیر شی ای خوشخویه

الاصل الثانی فی انواع الذکر

دی ده ذکر څو اقسامه کپو هیږی دل آرامه
وراندی نی لنقش بنده دا بنځه بولی هوشمنده
اول ذکر ده زبان دی پدا هر سړی پوهان دی
چه ثنا کوی په ژبه اسم ذات وای طالبه
یا چه نفیه اثبات کوره دی ژبه وائی وروره

الله الله الله یا لا اله الا الله

دوم ذکر قلبی لا له چه ساکت وی لمقاله
بیته زړه په اسم ذات وی یا یه نفی یا اثبات وی
دوی تکلیف کوی لځانه ماسوی دوره که لمیانه

چه پرېږدي و رضا ته — زړه یه ولاړ شي بله خواته

فی الآیة فویل المقاسیة قلوبهم عن ذکر الله تعالی

بل دریم ذکر روحي دی — تکلیف نلري طبعي دی

زړه یه ذکر وته رام وي — دا یه ځای دا یه مقام وي

مګر دي پرور غفلت که — په تکلیف ده زړه رجعت که

فی الآیة وتطمئن قلوبهم لذکر الله

څلورم ذکر لسره — که پوهیږي ای ماهره

ملکه شي ذکر دِ له — غفلت نکوي هیڅ کله

که تکلیف کوي ځانه — ذکر نه پرېږدي جانانه

فی الآیة رجال لا تلهیهم تجارة ولا بیع عن ذکر الله

بل پنځم ذکر خفي دی — پر عاقل کله مخفي دی

چه لذکر یه ذهول وي — و مذکور تیه وصول وي

چه نظر یه وي پر ذکر — یا پر زړه وي غیر فکر

که پر نور عالم پنهان وي — و ملک تیه عیان وي

دا خفي ندی دلبره — رب دی تا که بهره وره

په مذکور کښي چه فنا شي — ملک هلته نابینا شي

استغراق وی بېنکو کښې — په شهود پحضور کښې
ثمینی محو څان جهان وی — ومذکور ته نګران وی

فی الایة واذکر ربک اذا نسیت

دغه حال پهدایت کښې — ده سلوک په بدایت کښې
کاهی وی کاهی ورکیږی — لکه برق چه وه ځلیږی
چه دوام یه دا روزګار وی — پرچا فضل ده ستار وی
دا مقام یه ده فنا وی — چه فنا ده ده فی الله دی
دا تر هر ذکر بهتر دی — ولذکر الله اکبر دی

حدیث یفضل الذکر الخفی علی الذی یسمعه الحفظة بسبعین ضعف

ده سالک مقصود هم دا دی — بل ګمان مکر خطا دی

فی الایة واذکر ربک تضرعا وخفیة وفی الحدیث ذکر اللسان تعلقة وذکر القلب

دغه نور اقسام د لبره — وسیله کنه یک سره
چه سری خیږی تبامه — زینه بویه دل آرامه
چه سالک رښتیا فنا شی — زیږ مه خواره په پاک مولی شی
له اختیاره وی وتلی — نیه کوه وی نیه کلی

قالوا الصوفی کابن بابن

لکه طفل چه شیر خوړوی | نه وطن وی نیه کوروی
نیه آب وی نیه خوړوی | نه لباس وی نیه بروی
چه د مخلای باندی ربت لیږی | هغه چار پکښ کیږی
په الله ده ده لیده وی | هم په ده یه آوړیده وی
په ه ږږدی پد نښی | غافلاندی وخوړی کښی

في الحديث حكاية لا زال العبد يتقرب بالنوافل حتى احبه فاذا احببته فكنت سمعه بي لسمعه وتضرب ببصره ويد لي يبطش

لعبد الحمید چه منقول دی | اته ذکره چه مقبول دی
تنزیهات لفیضوتحات دی | له الحافظه له حجبات دی
چه مرشد ده قندهار وه | عالیشان عالی دربار وه
راوړه ده لنوړ محمده | ته غریب شیر محمده
نوړ محمد لعبد الحکیمه | کیوهیږی ای فهیمه
ده راوړی دی ای وړوره | ده میر لعل صاحب لکوره
خوک یه راوړه خمیاره | لحافظه الهیاره

چه دوی دواړه لښوره ده عاصی ده ستړګو نوره

في الحديث في جسد بني آدم مضغة وفي المضغة قلب وفي القلب فؤاد وفي الفؤاد روح وفي الروح سر وفي السر خفي وفي الخفي اخفى وفي الاخفى انا من حيث الغناء والشهود لا من حيث التمكن والحلول فان

الحاد اول

اول ذکر ده لسان دیے چه تیر شوی په بیان دیے
بل قلبی دی څماوروره ترڅپ تی لاندی په کوره
چه لراسته بالاتر دی د روحی یکښ مقرر دی
ترنامه د لاندی د له لنفسی مشه غافله
پرتندی باندی خفادی پاس پرسر باندی اخفادی
لطایفی سته دا دیے وسالك ته هویدا دیے
اوم ذکر سلطان کوره پتما موجود کښ وروره
چه لسره ترقدمه ذکر ونښی همه مه
کیږ رلروی کیه پی وی یکښ ذکر پیاپی وی

الاصل الثالث في كيفية الذكر

ده لسان لکیفیته ‌ ‌ ‌ هومبر زده کړه نیکخصلته
چه د ظلم پروکه یاره ‌ ‌ ‌ بوڅه ته کیږي واره واره
پڼ تاق تاق باندي قرار وي ‌ ‌ ‌ که سِل گوني که هزار وي
په حضور په طهارت وي ‌ ‌ ‌ ده کامل په اشارت وي
په اخلاص لرب راز وي ‌ ‌ ‌ معنی کښ یه الحاظ وي
چه او یار زړه کړته ‌ ‌ ‌ شب روز شي نیکخصلته
سرایت وکه پرزړه کښ ‌ ‌ ‌ چه اثر یه وي پخوله کښ
بیا لزړه ولاړ شي ته روحه ‌ ‌ ‌ چه نصیب وي لفتوحه
بیا ته سر ته اخفی دی ‌ ‌ ‌ چه مقام یه ده فنا دي
سالك وروليّ ته خدایه ‌ ‌ ‌ لساني ذکر خود را یه
سر یه دادي کیوهیږي ‌ ‌ ‌ په اندك رموز کروهیږي
شهادت لملکوته ‌ ‌ ‌ علاقه لري مضبوطه
آخلي فیض یو لبله ‌ ‌ ‌ بیا ورډي کیږي دله
بطهارت کښ یه وکوړه ‌ ‌ ‌ که تفصیل یه غواړي وړه
ده قلبي کیفیت جانه ‌ ‌ ‌ په پښتو واوره لمانه
مرید ورشي ته کامله ‌ ‌ ‌ بیا بیعت وکه عاقله

کښین

کښېږدی لاس پر بل د پاره — توبه وکه له اخلاصه

طیبه و تمجید د پاره — مکرّر لوله څو واره

چه بیعت کوم لخدایه — واسطه پیر دل آرایه

پر ده دا لوی امیره — چه بیعت کوم لپیره

سلسله پوره ته بالا ځي — ته رسوله ته الله ځي

مابه وروولی فضوله — ته الله ته رسوله

في الاية ان الذين يبايعونك انما يبايعون الله يد الله فوق ايديهم

که لسترګو پوشیده وی — په قبر کښې ناست زنده وی

د ده دوی فیض به لا جاری — تماو رسیږی یاره

في الحديث لا المؤمنون لا يموتون بل ينقلون من دار الى دار

بیا مرشد دی لاس چا پیر کړ — پر سینه د ده دی تیر که

بیا دعا لولی ای وروره — د پراثر لری هر کوره

الهی بحرمت ذاتك وقدس صفاتك وبحرمة جميع
انبيائك خصوصا بحرمت محمد صلى الله عليه وسلم

وبحرمت اولياء امته لاسيما السادات النقشبندية
احيي قلبه بذكرك بالغا مبلغ الغناء والشهود واحفظ
من الرجوع والفتور ياحي ياقيوم ياحي ياقيوم ياحي
ياقيوم وان يشا يذهبكم ويات بخلق جديد وماذلك
على الله بعزيز

اسم ذات لره پزړه كښ — چه اثر وشي پده كښ
بيا دي زړه كښېږدي عيلنه — ده سالك پزړه كښ جانه
دي غافل نوي د لبره — ده سالك ده زړه لسره
اسم ذات پزړه كښ نهال كه — قال يه نوي داپحال كه
ډېر كوشش مكړه لواره — چه خراب نشي دلداره
زړه لله كړه بيگانه وي — پردي ځاى يه اشيانه وي
چه الفت پيدا كه كوره — هاله سعيه كوي وروره
ده معنى الحاظ هم بويه — چيه وكاندي خوشخويه
بي لكيفه بي مثاله — كيوهيږي څما لاله
ماسوى هم لخاطره — واړه محوه كړه ماهره
هم حجاب دور كړه جانانه — ده خيل ځان ده رب لميانه

بیا ساکت شي بي مقاله تصوُر که لدا حاله
والله ته حاضر او ﷺ وخپل زړه ته ناظر او ﷺ
الله الله وایه طالبه تل مدام ده زړه پر به
لمولي سر یه راز دی ‌‌بمعنی کښ یه الحاظ دی
غفلت مکوه هیځ کاله یو هیځ ان لحظه دله
کیه خوړ وی کیه آب وی کیه ناست وی کیه خواب وی
که سکون که حرکت وی که تجرید وی که صحبت وی
خانا خایه مومي ور ورځ یو اثر پر زړه کښ کوړ
یا به قبض حرکت وی یا به سبط حرارت وی
یا به بل اثر وی جانه پټ و ده ته نمایان که
چیه ذکر ملکه سی شي ده زړه صافه آهینه شي
خود حرم ده زړه کی پاک که لوی خس هم خاشاک که

في الحديث قلب المؤمن حرم الله وحرام ان يلج الغير فيه

غیر دوړ که لدا میانه ربوبي غیرت جانانه

في الحديث انا غيور والله اغير مني

بي حجابه تماشکاره وی کیه خو کیه نندار وی

سر یه دادی نور العینه   اسم پاک لغیر عینه
دی برزخ دی لدامیانه   چه پیده شنواوی جانه
سالک ورولی ته خدایه   چه کرم وی دل آرایه
هم چه قلب صنوبری دی   دی نه عین نه غیری دی
لغه زړه چه ده معنی دی   په عرفان ده رب بینا دی
چه سالک نظر پرده که   ذکر نور ته عروج وکه
ته خفی ته اخفی شی   چه سالک واړه فنا شی
لجسده هم لروحه   څو رسیږی ته فتوحه
بعض داوای هوشمنده   لوی پیران لنقشبنده
که الحاظ ده معنی گران وی   چه سالک پکښی حیران وی
وخپل زړه ته دی نظر که   بیا یو نور دی مصور که
چه محیط پر کل جهان وی   چه ډیر روښن ډیر تابان وی
یو ساعت بدی لخیاله   دی بیرون نکړای لاله
هم وزر ته دی تل گوری   چه پیدا روش کښی نوری
خود به ورشی ته مراده   کیوهیزی نیک نهاده

فی الحدیث رایت ربی نورانیا

بیا

بیا روحي ته خفي جانه ته اخفي وو ته سلطانه

په قلبي باندې قیاس کړه لوی هم ډیر وسواس کړه

په اول مذهب ای وروره کړه اظهار پرده کښې کوره

اتحادیه دي په ذات کښې تغایر په کیفیات کښې

که قلبي دی که روحي دی که د سر دی که نفسي دی

هم خفي اخفي جانه په عالم دي پټ پنهانه

ماده نلري لطیف دی نه مرئي نه کثیف دی

چه فراغ ده اسم ذات وي ورپسې نفي اثبات وي

که جزئي که سلسلي دی که حلقي دی که کلي دی

بیا جزئي ده څو رنګه دا هم زده کړه ای خوشرنګه

اول نفیه کړه کشانه لنفسي ځنه جانانه

دا ممدوده یوسه دله بیا اوږدې لره عاقله

ځان فارغ کړه له آله پراوزه باندې دلخواهه

ده سلوک لبدایته چه کړې نفیه نیکخصلته

فکر داه کړه دل آرایه لا معبود پرده کښې وایه

په وسط کښې لا مقصود دے انتهایه لا موجود دے

بیا اثبات و هر یو وره ته پرته باندی ای ورور
ده معنی الحافظ هم بویه پد غر ترتیب خوشخویه
هم لابد لحد [illegible] ه دمه پر تاق تاق باندی همدمه
چه مدار یه پر فاقد دی عجب لوی مرتبه دی
یو صفات دی د ذره جانه بل خاطر سبحی بی شانه
هر سالک چه یو ویشت واره دا گردان وکه دلداره
په یوه نفس کښ دله فیض بیا مومی یخیله
په نصیب یه سعادت وی اول سکر یا غیبت وی
په آخر سالک فنا شی مرتبه ده ده بالا شی
سر یه دادی ای دلبره رب دی تا که بهره وره
چه اثبات ده غیر جانه لوی حجاب ده لدامیانه
چه یکبن ده حق نفی دی یا جلی دی یا خفی دی

كما قالوا الغفلة كفر خفى وذكر الغير شرك معنوى

چه غیر و باسی له دله کړی اثبات ده حق عاقله
شابه وه وینی عیانه چه تا و بولی خندانه
دار و کبری له اضداد کیو هیر زی نیک نهاده

قالوا الحکماء المعالجة بالاضداد ، صاحبه سید رحمت

څکه سر ده ذکر دا دی　　لا اله الا الله دی

فی الحدیث افضل الذکر لا اله الا الله ایضا فیه من قال لا اله الا الله مدها متان هدمت له اربعة الاف من الکبائر ایضا فیه وعزتی وجلالی ورحمتی لا داع فی النار من قال لا اله الا الله ١٢

که اثر نوی پیدا کښی　　مکروه شك پیدا وینا کښی
کل پذکر کښی نقصان دی　　سود یه شته واره زیان دی
له اخلاصه لحضوره　　یا معنی نوی منظوره
ابتدا بویه لسره　　پر تاق تاق باندی دلبره
چیوره ولی تعده　　سر به بیاموی لا حده
دغه دی دغه یه چر دی　　خو وجود یه دا اثر دی
حسن دم نشی مهتابه　　چه څان موره لری سیرابه
حکایت کوی عجیبه　　یوه ښځه وه نجیبه
بصورت ډیره ظریفه　　په نسب حسب شریفه
شوه عاشقه له ازاره　　لخسیسه لسپا له

لاره یې نکیده هیڅ کله — په تدبیره یې حیلو د له
اخر کښېناسته لا چاره — داغ یې په دل افګاره
لفاقه یې صورت خم کړ — چه مدام یې حبس دم کړ
الف قد لکه دال شوه — په صورت ډیره ملال شوه
حبس دم یې ورته شامه — چه فاقه شوه دل آرامه
روغ عالم ویل سکته دی — په صورت خواره خسته دی
بیا یې نخوړ یه د اخیل ځان کړ — چه عالم یې ودی ګمان کړ
ولاړه د اتر قبرستانه — په ګمان ده مړی ځانه
خبر نوه له اسرانه — بی یوه خیله همرازه
چه عالم روان شه کوره — تیر شه دی و هغه لوړته
چیه ده قبر پاره کړ — دی نازک بدن ښکاره کړ
په هوښ بخندا شوه — ده وصال په تمنا شوه
که د اښځه زنانه وه — په همت کښ مردانه وه
ده خلق لار ډیره مشکله — په همت غوڅیږی دله
ګیاره غواړی شیر محمد — ډیر همت بویه بی حده

فی الحدیث ان الله یحب معالی الهمم و یبغض سفسافها

دوم

دوم نفیه وړه محبّه ته لقلبه ته منکبه
بیا اثبات وهه دلبره ته پوره لصنوبره
دریم نفیه کړه چرانه لقلبی ته روحی جانه
بیا اثبات وهه لدله کپو هیڅ ای عاقله
څلورم نفیه وړه ته کوره لنفسی ته اخفی وروره
بیا منفی وړی ته منکبه کباوره کوی مِحبّه
بیا اثبات ته قلب اوسه تل پیدا جزبی کښ اوسه
سِلسلی دادی دلبره نفیه وړه د زړه لسره
ته کړدن یوړی یاره بیا اثبات را اوړه دوباره
تیه وهه پښ وره پر قلبی باندی هر کوره
چه تری جوړ لکه ختخر شه چه ده دیه ذکر تکړیر شه
یالنفسی نفی اخله ته اخفی یه یوسه دله
بیا اثبات وهه لنفسه یائی حبس یائی حبسه
دریم نفی کړه چرانه لنفسی ته قلبی جانه
بیا اثبات وهه لروحه که خبرئی لفتوحه
محمد الرسول یوسه دلبره ته نفسی یوړی رهبره

حلقي نفيه وره دلدانه | ليمينه تريا ره
ده سيني پقدم كښي | رب دي مه بيخه بغم كښي
بيا اثبات وره يمينه | ته پنا كښ اي مؤمينه
چه حلقي غوندي شي سانه | كبو هيڅري اي همرازه
كلي دادي اي همدمه | چه لسره تر قدمه
په تمام وجودكښ كوره | كوي نفي اثبات وروره
بل غافل مشه مليكه | لدا نقشه لدا ليكه
ده لا سر واخله لد له | بيا ته تيه خه عاقله
يري حلقه دلام چاريري كه | دي ده ننه پكښ نيكه
دابل سر بكر حيرانه | ته نمه يوري جانانه
ده حلقي ځنكه كوره | ته الله كښيږده اي وروره
بيا اثبات چه الا الله دي | محمد الرسول الله دي
كره يري بادي مرقومه | تل هوس كوه مغمومه

الاصل الرابع في شرايط اجراء الذكر و ترقيه

ترقي ده ذكر كوره | شي به خوخصلت وروره

قال صوفي ابن الوقت ايضا قالوا الوقت سيف قاطع

تكو

بلنظ

بل نظر پر قدم بويه | كيږده ای خوشحو نيه
ده سلوك لار ده دشواره | منزلونه يه بي شماره
مه تعجيل كوه د لبره | چه به تير شي بي خبره
تل خاته كيږدی تمامه | په زينو كښ دل آرامه

قال رويم داب المسافران لا يجاوز همه قدمه

مه قرار كښ نه بي غمه | پدا لار كښ ای همدمه
چه پر لار كوی خوبونه | هغه كله كه پيندونه
يا نظر پر قدم دا ديے | ودانا ته هويدا ديے
چه سالك وپښوته كوري | نظر نكه لور پر لوري
بل ده ستر كو لذيداره | وی پرړه كښ صورت ياره
څو خاطر ده پريشان شي | كوټ ده ذكر به ويران شي

فى الاية ولا تمدن عينك الى ما متعنا منهم زهرة الحيوة
وفى الحديث لا تنظروا الا بريق اموال الدنيا فانه

يذهب بحلاوة ايمانكم

بل سفر دی پوطن كښ | پخپل كور پخپل مسكن كښ
ده سالك مدام سفر ويے | لصفاته ده بشر ويے

دی عروج که و بالا ته — ده ملک ته صفا ته
پسی سیر کوی وروره — ته صفات ده رب کوره

قالوا التصوف هو التخلق بالاخلاق الربوبیة

بل خلوت وی په عالم کښ — غافل نوی په هیڅ دم کښ
ناست په خلق په بازار کښ — ده زړه شغل وی په یار کښ
زړه په چوی لشهرته — ده ریا له لو آفته
خوښ وی دی په بی غمی کښ — بغفلت په کم نامی کښ
یا خلوت له انجمنه — معنی دادی ای گلشنه
چه ذکر مستولی شی — دیر په زړه باندی عالی شی
پکښ پروب شی تدا حده — خبر نوی له احده
وی بخلق کښ جانانه — آوازه نه آوری لچانه
که کاته په لر بر وی — لعالمه ناخبر وی
لکه خولی چه سخت ښخوړ وی — تمام تن ده ده چوړ چوړ وی
طبیعت په غرق شی کوره — بجدل ده مرض وزوره
کوړ کړ نوی ای دله — آوازه نه آوری لسبله
په روغی سترگی اشیاره — دی محروم وی لدیداره

کدا چاری نیك خصلته ده بدن لمحبته
پر هغو به څه گمان وی چه محب ده پاك سبحان وی
بل وقوف یه پر زمان دی پهرچین پهران دی
چه سالك لخپله حاله تل خبرا آخلی ای لاله
کیه شرب وی کیه تمکین وی کیه ذوق وی که تلوین وی
که اثبات وی کیه محوه کیه سکر وی که صحوه
که سبط وی که لامعه کیه فیض که طالعه
مطابق لخپله حاله دی روزگاره وی ای لاله
دی پسبط شکرگذار وی بیا په قبض استغفار وی
باقی هم قیاس کړه وروره خاتمه ده کتاب گوره
بل وقوف عددی دی چه سالك ته لابدی دی
دی غافل نوی دلداره ده دیه خیل ذکر شماره
تل مدام یه حبس دم وی ترقی یه دم پدم وی
پر تاق تاق باندی بالاځی ځو مقام ته ده فنا ځی

فی الحدیث ان الله تعالی وتر یحب الوتر

بل وقوف قلبی لاله رب دی تا لری خوشحاله

وخیل زړه ته تل ناظر وي — چه و ذکر ته حاضر وي
پرهم کښ ده رب د له — غیر نه پریږدي هیڅکله
چه ور پېښ فاسد افکار شي — پتوبه په استغفار شي
که یې دفعه نشي یاره — لتوبې له استغفاره
حبس دم ورلره بویه — چه پراوړ که او به تویه
که اوړ مړ نشه له آبه — بیرونه دې ځي مهتابه
بیا دې غسل وکه وړونه — په سراو بو کښ کوره
یا توګ دې او به دلبره — که وي پرینږي لضرره
بیا چه راشي ته خلوته — نفل وکه دوه رکعته
لحضور له اخلاصه — دي به خلاص شي لوسواسه
کدي خلاص نشي هنوز — دي آلود لده د سوزه
ملاحظه ده پیر دي وکه — چه خطر دفع ده ده که
که پیدا هم نشي یاره — پا فعال وایه څو واره
که داواره فائده نکه — ذي دې دا الحاظ پر زړه که
تفرقه می رحماني دي — نه لنفسه شیطاني دي:
دي به جمعه مو می دله — لد غرفرق بخیله

یا الحافظ دی کوی کوره | په طوره خماوره وره
چه کیسه روغ ده نور دی | خمانره په کښی مستور دی
بل هم فیض ده فاطمی دی | چه زوال ده خطری دی
بل هم فیض ده حضرت کلام دی | چه مفید په کلام دی

الاصل الخامس فیما یتضرع علی الذکر من التنزیهات و المعوضات والملاحظات

چه تیر شوی د اذکار دی | ده هر چا دا انوار دی
هم انوار لری تابانه | غافل مه اوسه نادانه
نبوت که ولایت دی | که کعبه دی که طاعت دی
ښکاره کیږی لکه مه | وسالك وته همه مه
آئینه چه صفا وی | په باطن کښی مصفا وی
بشری صفات لحانه | سالك محو که یکسانه
چه هر نور لره خیل ذوق دی | خیل په رنګ دی خیل شوق دی
لبیاضه لحمرته | لسواده لخضرته
چه حضور په شی لمیانه | صفا دیرشی جانانه
بی لکیفه ښکاره کیږی | سالکان چه پوهیږی

ده لطیف تنزیه ده خوشرنګه — زیبا نور وینی شش رنګه
په عدد ده دوئی جانه — بوره ته دړومی تر آسمانه
نهایت یه نوی ګوره — چه لته کومه دړومی وړو
بل تنزیه عروجی دی — ده اثبات ده نفی دی
سالك نفیه که کشانه — لنفسی ته اخفی جانه
الاهو وړی ته آسمانه — لکه نور چه وی تابانه
نهایت یه مونده نشی — چه کومه ده ده تله شی
کیفیت ده ده معلوم وی — بیا مجهول وی بیا معدوم وی
بل تنزیه دی شش جهته — کیو هیری نیك خصلته
چه سالك اثبات عاقله — پړوره وهی لږ له
لکه نور چه تاره پیدا شی — شش جهته یه رفتار شی
دی بالا دړومی لعرشه — هم نازل پائین لفرشه
هم تر قاف تیر وی ای لاله — لیمینه تر شماله
بل تنزیه کله دلبره — رب دی تا که بهره وره
چه سالك وینی ای وروره — ده انوار غوته کوره
چه کندون وی یولبله — لسینی دړومی عاقله

پورته ځي ته لامکانه ⁂ انتهایه نوی جانه
بل حلقي تنزیه ای لاله ⁂ رب دی تانکه ملاله
چه حلقي وینی لنوره ⁂ رب دی تاکه نمسوره
چه خاته ده دوی بالاوی ⁂ نیه حد نه انتهاوی
بل تنزیه قمري دی ⁂ چه په فضل ده باری دی
پرسینه چه سالك جانه ⁂ سپوږمی وه وینی تابانه
گاه ناقص وی گاه کامله ⁂ پقدر ده ذکر دله
هم ده ذکر چه صفاوی ⁂ ده ده هو مبره په ضیاوی
بل تنزیه شمسي لاله ⁂ چیه نمر وی لمثاله
نسکاره کیږی پسینه کښ ⁂ ده عرفان پگنجینه کښ
بیا خلق تنزیه گوره ⁂ پتنزیه پسی ای وروره
عنان سلوك چه ده نام دی ⁂ لوی وطن لوی مقام دی
چیه سیك صورت بدن وی ⁂ لکه برد چه ده یمن وی
بلزباد خوځی لخایه ⁂ کبو هیږی دل آرایه
پسی صرف تنزیه دی له ⁂ رب دی تانکه غافله
سالك نور وینی تابانه ⁂ پسینه کښ بیت پنهانه

کیفیت ده ده معلوم وي ‌ ‌ بیا مجهول وي بیا معدوم وي

آخر محوه شي دلبره ‌ ‌ رب دي تا که بهره وره

انشراح وینې لصدره ‌ ‌ په بدن کښې خفت بدره

بیا پسې مې فیوضات دي ‌ ‌ لوی اسرار مقامات دي

چه ده ذکر اثر نوې ‌ ‌ الخارجه خبر نه وې

اول فیض ده شادر دی ‌ ‌ چه ده پاك نبي سرور دي

پر سالك چه نازلیږي ‌ ‌ ده باران پد ودوریږي

پر خوشحال تازه تابان کي ‌ ‌ نه اوریځ وي نه باران وي

روی انه سکت عایشة رضی الله تعالی عنها وفی روایة
فاطمة رضی الله تعالی ردائه صلی الله علیه وسلم فقالت
یا رسول الله یمطر والارض یابسة قال فنض ردائی

بل ده فیض نیك خصلت ‌ ‌ ده رسول لوی لایته

ده مرغلر بخیر وړی ‌ ‌ چه سالك وځان ته کوري

بصورت کښې یه دړو شي ‌ ‌ په خنك ده ده لړمون شي

یا زرغون خیمه وي کوره ‌ ‌ پر سالك ولاړه وروره

پری باران وری ده پاسه — مرغلری بی قیاسه
همکی د یتیم و ویے — چه حیران پکښی فهیم ویے
یا تر تی لاندی محبته — پو سپین تورو یی ذاهبه
پورته ځی ته لامکانه — کپو هیږی ځما جانه
بل یه فیض د قدمو دی — ده یوه ندی ده دوو دی
ده سالک پردا نظر ویے — څوک ولاړ ده د پرسرو ویے
بنی یه ینی نور العینه — پاس ده د پردوه قرینه
یه سنګین ده د صورت ویے — زیات یه پورته ثقالت ویے
بل هم فیض ځما وروره — ده د قاب قوسین کوره
دوه نورونه وی تابانه — لد ووړو ځیو ته اسمانه
چه تر عرش پورته پیږی — هله دوه سره یو کیږی
انتهایه مو نده نشی — کا وړدی ځما یخو له نشی
بل هم فیض ده معراج دے — ده نبی چه ابتهاج دی
کاینات وینی ای وروره — لکه برق ضایع ینګوره
یا انوار وینی تابانه — لزمینه ته آسمانه
څوک داله ته نشی تریاته — ځوک عروج که و بالاته

تر څلورم آسمان دلبره — بوره ته نځی بالاتره
څوک وعرش وته وصول که — لعروجه په انزول که
لکه انوار چه د ولیانو — بوره ته تللی وه یارانو
چه معراج د پاک رسول وه — بو فلک ده دوی نزول وه
د ملک انوار تللی — بر څلورم آسمان ختلی
هم انوار وه د نبیانو — پاس په عرش کښی مؤمنانو
څی بو نور ته لامکانه — رب عالم ده د لشانه
کیفیت د ده معلوم وي — بیا مجهول وي بیا معدوم وي
لکه تللی چه رسول وه — والله تیه وصول وه
بل هم فیض صمدی دی — چه دی نور محمدی دی
د رضایح د بر فایق دی — حقیقة الحقایق دی
وسالک ته نور عیان وي — چه محیط پر کل جهان وي
له ان له ترا بده — واوره داشیر محمده

فی الحدیث انا من نور الله والخلق من نوری

یا نور وه وینی جانانه — سبیط راشی له آسمانه
چه محیط شی څما دله — پیدا کیږی بو بر بله

وسالك ته چه حضور وي — واړه نور علی نور وي
معلوم الكيف وي ماهره — بيا مجهول معدوم آخره
بل هم فيض ده بيت الله دي — چه شرف يه په الله دي
ده كعبې صورت جانانه — سالك وه وينې عيانه
بيا نور چه تصاعد كړ — وفلك ته تباعد كړ
ظل د ظل يه بولې كوره — پسلوك كښ خما وروره
بيا بل نور پيدا شي جانه — لمعه نوره تابانه
چه لويه مرتبه دي — دي حقيقة الكعبه دي
پاس لعرشه يه كذ وي — لامكان ده ده مقر وي
كيفيت ده ده معلوم وي — بيا مجهول وي بيا معدوم وي
بل هم فيض ده صراط دي — چه ممر ده مخلوقات دي
باريك نور وينې بي حده — پورته ځي ته يوه حده
لغه پسه روبرو شي — بيا نزول كه مخ پرښو شي
بل هم فيض ده جنتو دي — چه لحاظ ده نعمتو دي
سالك مومي لذتونه — خوشحالي فرحتونه
بل هم فيض ده قرآن دي — باريك نور لكه رسمان دي

چه راکوز شي له آسمانه ... په عالم کښې خپور شي جانه
بیا لدې نوره جدا شي ... ده سالك پر صورت راشي
نور انوار چه ډېر عجب وې ... چه مفرد د مرکب وې
لکه سورت یا آیات وي ... یا حروف چه مفردات وي
بل هم فیض ده خلیل دی ... چه په قدر کښې جلیل دی
مرغلري ورې جانه ... چه باریکي دي بې شانه
تر تانه و اسه ښکاریږي ... ده او بولښتي ښهیږي
بل هم فیض ده کلیم دی ... چه دانا و ډېر فهیم دی
چه ترښي کتف جانانه ... نور نازل شي له آسمانه
مالامال شي پسینه کښې ... ده باطن په خزانه کښې
یا په روح کښې ځلیده که ... لامکان لره چه تله که
ده عیسی فیض دلداره ... سالك وېني لیساره
یا په زړه کښې پیدا کیږي ... و سالك ته ښکاره کیږي
ده مهتر لام فیض ای بدره ... سالکان وېني لصدره
چه کومي نیك نهاده ... لکه روغه لیو لا ده
چه ثقیل وي هم صفا وي ... خطرات دفع به او ي

بچاړنه

چار طرفه راځي ګوره — پر بدن ده سالک وروره
پسینه کښ یه درون شي — انشراح دیر افزون شي
چه پرېښي وروځه جانانه — نور نازل شي له آسمانه
دغه فیض ده خدیجې دی — پر بساره دعایشې دی
چار طرفه یه نزول وي — اهل بیت چه ده رسول وي
بل هم فیض ده حسن دی — چه کمال یه مبرهن دی
تر ښي تخرګه دلاندې دله — راځي فیض تل ته تله
ده حسین پر بساره دیے — دادستور دایه وقار دیے
بل هم فیض ده ظهرا دی — لتندیه چه بالا دی
لېښي هم پورته کېږ دیے — هم عروج کوي تېرېږ دیے
کیفیت ده ده مجهول وي — چه رنګ وائي جهول وي
چه الحاظ کوي جانانه — خطرات سیځي بې شانه
بل هم فیض ده ولیانو — کپو هیږي ای یارانو
چه جدا وي نیک خصلته — ده دوي فیض شش جهته
پر ښالک باندې وریږي — چه انوار پر ده تویږي
چه دوي جمع وي جانانه — دېر انوار وینې بې شانه

حرکت که لوړ و لوړ ته — ځینی کښنا ته ځینی پورته
بل هم فیض بدنی دی — حقیقت انسانی دی
سالك وه وینی د لبره — حوړ صورت وی لبشره
چه لسره ده ده جانه — پورته نوړ ځی ته آسمانه
لکه نوړ ده کعبی وړوره — وی کشف لمغه کوره
بل هم فیض ده موجودات — ده جهان ده کاینات
سبط نوړ وی غوړیدلی — ټر عالم وی جار وتلی
چه یکښ باریك انوار وی — نیه عد وی نیه شمار وی
لکه څوك چه وړانکه کوری — ذوات ځرنك پکښ ښوری
ظل الله یه بولی دله — پسلوك کښ تل ته تله
یا اِنابت صوری یه وائی — دی پنوړ شهود یه ستائی
بل هم فیض ده اودس دی — چیه نه منی ناکس دی
ده سری پصورت نوړ وی — و سالك ته چه حضور وی
ده اودس لکار یار ه — اشتغال کوی ای یاره
ده نمانځه فیض ای وړه — وی لنوړ سری کوره
پر رکوع پر قیام وی — پر سجده وو په آرام وی

گاه تنها وی څما دله گاهی جمعه یو لبله
دا یه فیض دا صورت دی ده معنی چیر خصلت دی
جوړ درخته شی لنوړ په بنا خوږه پانو کوړه
گاه یوه وی گاه باغونه که پړه لری داغونه
بل هم فیض ربوی دے دیره ذوق دیره خوبی دے
عالم وړک شی نیک خصلت ده سالک لبصیرت ته
وافق ته چه گوری لوی دریاب لنوړ شوی دے
ډوب شی دی لدا دریابه لکه خاشکی لحب [illegible] ه
وی پسکړ یعنا کښ دیدار نشته بدنیا کښ
بل هم فیض احدیت دی لوی مقام منزلت دی
سالک وینی لجهاته دیر انوار لکائناته
سر جمعه شی یکباره ده مرغه بخیر ذلداره
ده دیو شی آخستی جانه وی ده دوړ ملیانه
بیا بخپل صورت کښ کوره سالک قبض وینی وړوره
بل هم فیض چه صورت دی ده صورت ته خیلی دی
چه سالک نوی غافله لشهود ده څما دله

وهر څیز ته چه دی گوری ده حق نور په کښ ښوری
ځو شی محوه نیک خصلته هغه څیز لبصیرته
اوس که مرد و مردانه یې نه هلك نه زنانه یې
ده خیل زړه آهینه صیقل کړه اوړه ده ذکر پکښ بل کړه
چه صفا ده زړه مرآت وی تنزیهات که فیضونات وی
ښکاره کیږی بی الحاظه لخبر ئی لدا رازه
آهینه چه ناصفا وی تقابل یه بی وفا وی
صورت نه پکښ ښکاریږی کهرڅو یزړه نولیږی
کدا نکیږی لچانه الحاظ همشه دی جانانه
چه خالی ندی درونه دی لفیضه کړه بیشه
بالحاظ ده رسولانو په اذکار کښ ای یارانو
ده آدم صورت ملحوظ کړه بقلبی ذکر حظوظ کړه
په روحی کښ ابراهیم دی ده نفسی موسی کلیم دی
سیری کښ حضرت نوح دی چه سبب ده ده فتوح دی
ده خفی حضرت عیسی دی محمد لره اخفی دی
هیا عروج کړه تر آسمانه په رسول یسی جانانه

شه خبر لمن نزلته | ده نبیا نو لصحبته
ده حضرت لشما ئله | ثان خبر کړه ای عاقله
بیا الحاظ کوه جانانه | چه دی دروی ته آسمانه
بیا ته بله بیا ته بله | زه یی یم خما دله
تل مشغول ید غږوم | چه ده پاک حضرت پسړیم
په لمبړی آسمان کښ کوره | کړه صحبت ده آدم وروره
چه نامه یه اریقادی | زمرد ده بینا دی
په دوم کښ بیا عیسی دی | چه پکښ حضرت یحیی دی
چه نامه ده قیدوم دی | لسر زرویه شکوم دی
په دریم کښ یوسف جانه | لداود ده لسلیمانه
رئیلون نو می ای یاره | مرغلری دی آب دانه
نځلورم کښ موسی کوره | یا ادریس دی خما وروره
ازیلون ده ده نامه دی | چه بنایه ده نضه دی
په پنځم کښ اسمعیل دی | چه ذبیح ده پاک جلیل دی
له اسحاق لیعقوب به | چه صحبت کوی محبوبه
پسانیقون نو می ای لاله | رب دی تا نکه ملاله

چه بنا یه لیا قوته | اې څما ډېرې قوته
پښېږم کښ بیا ړائیسه | حضرت نوح دی له ادریسه
یا موسی دی نیک خصلته | اختلاف لري روایته
چه نامه یه عروس یاره | مرغلری دی آب داره
په اوم کښ ابراهیم دی | چه ډېر شان ده ده عظیم دی
اسحاقیل چه نومی کوره | دی لدغه بیضا وروره
بیا چه دوی شی پائین باته | پالے حضرت ډرومی بالا ته
ته ځده پلمن نښله | ته کرسی ورشه اې دله
بیا ته لوحه ته قلمه | کبو هیزی ای همدمه
ته یو سر ده لوحې کوره | پر کرسی باندی ای وروره
بل بعرش کښ نیک نهاده | تا به ورولی ته مراده
چه پاس پر لوحه ډرومې | بیا لعرش وصلت مومی
هم ده عرش لوی بسیاره | پر کرسی باندی دلداره
نغنهسی یو پر بله | آسمانونه کوره دِ له
مثقالی کوره لداله | بل کمان مکره ای لاله

فی الحدیث فی السموات السبع فی الکرسی الا کدراهم سبعة

فی ن س

في ترس وفي رواية لخلقه في فلان ١٢

بيا ده پاك بنې صحبت دى ۔ چه پر عرش يه منزلت دى
دا صحبت يه كړه كشا نه ۔ له اخفا ته ظهره جانه
پر خفي يه وهه يارة ۔ دا دوران كوره لس واره
بيا صحبت ده مرشد بويه ۔ يكښ محوه شه خوشخويه
بيا دى محوه كړه دلبره ۔ لحضرت نبى سروره
بيا ده ده محوه لخدايه ۔ نه ملحوظ كړه دل آرايه
بي تمكينه بي حلوله ۔ چه ملحد نشى فضوله
دا مقام ده ده فنا ديے ۔ چه فنا دى تا في الله ديے

الاصل السادس في رابط الشيخ والمقامات ١٢

چه سالك لخپله ذكره ۔ محروم پاته شى لفكره
دي خي تغه دربارة ۔ چه فنا في الله وى يارة
ملازم ده د صحبت شى ۔ چه سبب يه ده قربت شى

في الاية واصبر نفسك مع الذين يدعون ربهم ١٢

غانا خا به مومي ورو ره ۔ يو اثر پرزړه كښ كوره
بيا نگاه دى لري دله ۔ هغه فيض تل ته تله

في الاية الذين اذا راوا ية ذكروا الله

چه يو دم يه له لحاظه دی غافل نوی همرازه
که درزهول راغی دلبره ده سالك للّا اثره
بيا دی دروی ته صحبته ده اثر ته عبادته
څو اثر يه ملکه يسی ملکه يه راسخه يسی
دی به وړشی ته مذکوره چه خوشحاله وی مسروره

في الحديث المرء على دين خليله فلينظر من يخالل

ايضا فيه انت يا ابا ذر مع من احببت

سر يه دادی ای دلبره رب دی تا که بهره وره
چه ده روح يه خلط نوی بصورت کښی صحبت نوی
څبله لری څی گريز که يو لبله چه پرهيز که

في الحديث الارواح جنود مجندة فما تعارف منها

ائتلف وما تناکر منها اختلف

چه صحبت ده دوی پيدا شی بيا ده غم دليل پيدا شی
چه ده روح يه يو مکان دی کوصال دی کهجران دی
چه مرشد فنا وی وروره دی بو رولی ته کوره

دهمی

ده همنشین چه همنشین وي　　لخوبانو یه نشین وي

في الحديث الفقراء الصبر هم جلساء الله ١٢ ١٢٠

که اش نشي عیانه　　په باطن کښي ده ده جانه

چه صحبت یې په اخلاص وي　　محبت بیه پلاس وي

ده صورت الحاظ یه بویه　　پهر آن لحظه خوښخویه

څو فنا شي پخپل پیر کښ　　پمرشد دستګیر کښ

که فنا شي دل آرایه　　دي به ورولي ته خدایه

چه ده پیر صورت فنا شي　　صورت نوي کا معني شي

چه هغه فنا في الله وي　　مرید هم ده ده همتا وي

دا مضمون ده تیر حدیث دي　　چه انکار کوي خبیث دي

کبرا له نقشبنده　　بعض دا وائي هوشمنده

چه سالک دي له اخلاصه　　پاس پر نبي او ژده پاسه

ده خپل پیر صورت ملحوظ کړه　　چه پدید یه دي حفظ کړه

بیا یو نور دي ځما ورور　　له اوږي یه ممتد کوره

چیه ورولي ته دله　　دي درون ځي تل ته تله

بیا صورت یه دل آرامه　　تل ملحوظ لري مدامه

چه پر دا لاره په رفتار وي | دائما د اروزگار وي

دي بوره ولي ای لاله | نه فنا پوري خوشحاله

چه فنا شي بصورت کښ | پرفتار پیدا هیئت کښ

مقامات ناسوت جبروت وملکوت لاهوت هاهوت

ده سلوک دي څو مقامه | یو ناسوت دي دل آرامه

چه قانون ده شریعت دي | بیان کړي پاک حضرت دي

کیه فرض که واجب دي | که سنن که مستحب دي

اول امر عزیمت دي | نواهي دي که رخصت دي

بل دوم یه ملکوت دي | ده عارف ده زړګي قوت دي

دي روش ده طریقت دي | چه ده روح یه تجلت دي

چه مدار یه پر اخلاق دي | چه فرمان ده پاک خلاق دي

چه څوک بد خو یو نه دړه که | شه یه خان پوري زیوره که

بل دریم جبروت لاله | رب دي تا نکه ملا له

چه رفتار ده حقیقت دي | لوړ مقام منزلت دي

چه ده دیر ذکر له ادبه | خوک خبر شي ای مهتابه

ده مکاشفي یه نور تابان شي | کل روشن پر ده جهان شي

ده یقین لمسته جامه　　پیاله نوش که دل آرامه

تل بزوق محبت وي　　بمقام کښې ده خلت وي

نداره کوي تل لاله　　لجمال له له جلاله

بل لاهوت دی ای دلبره　　رب دی تا که بهره وره

حقیقة الحقیقت یه بولې دله　　رب دی تا نکه غافله

جبروت لکه شجر دی　　بیا لاهوت ده ده ثمر دی

مشاهده وي لا سلامه　　چه کرم وي لعلامه

تجلیات ربانی وي　　یا علوم لدنی وي

په سالك محوه فنا شي　　په مقام ده لاهوت راشي

بل بنجم ده ده هاهوت دی　　چه دی مغز ده لاهوت دی

چه لمحوی ته اثباته　　سالکان راشي په بیا رته

ده ارشاد ده پاره کوره　　بعالم کښې که شي ورووره

لصفاته یکذر سي شي　　خاص بذات کښې په نظر شي

بي حجابه لیده نشي　　زیات یسي تا خون ده ده شي

لکه خوك چه لن لا اله　　تشه دروي خما لا له

تل ده دوي عجز جبروت کې　　بیا حیرت اندر حیرت وي

في الاية وما قدروا الله حق قدره ** قال فاروق
العجز عن درك الادراك ادراك وقال المحققين
العلم في الذات جهل **

بل لعنت ناسوت عزيزه دي نامه لهغه څيزه
چه لشكله لصورته بهره مند وي نيك خصلته
زنده كي پده كښ گوره سرايت كوي اي وروره
ملكوت غه ملك وي جانه چه عظيم وي دير بي شانه
مبالغه ده ملك دي دله رب دي تا نكه غافله

في الاية وكذلك نري ابراهيم ملكوت السموت
اي فلكه **

داغا لم هم معاني دي بل غيبي چه رباني دي
لكه روح قلب دلبره رب دي تا كه بهروره

في الاية قل الروح من امر ربي **

جبروت داوي هوښمند چه هر كوره وي بلنده
مبالغه ده لجباره كيو هيڅي اي دلداره

يقال نخلة جبارة اي رفيقه غاية الرفعة ** **

بیا لاهوت زندګي وي ۞ په جسد کښې چه ساړې وي
هاهوت بعد یا جبروت دے ۞ چه مآل یه ده لغت دے
مقامات ده سلوك ګوره ۞ سمې شوي پد وئې وروره
سر یه دادي کیو هیږي ۞ په اندك رموز ګروهیږي
چه قانون ده شریعت دي ۞ جوړ جسد یا صورت دي
بې ده کله دل آرا یه ۞ سالکان رسي ته خدایه
طریقت هم نیك ښاده ۞ روح نفس دي لفؤاده
صفائی چه که ده دویه ۞ ریاضت کوي خوښویه
لوي عالم دي ډیر بې شانه ۞ چه فرمان دي لسبحانه
حقیقت عالي رفتار دي ۞ چه مدار یه پر انوار دي
یا جمال دئ لجلاله ۞ مدام دان لذوالجلاله
لاهوت روح ده شریعت دي ۞ هم میوه ده حقیقت دي
چه للوي خپنې مقصود دے ۞ تجلي وهم شهود دے
هاهوت مغز ده ای دوستہ ۞ چیه وکا زي لپوستہ
لز حجاب وي لدامیانه ۞ چه سالك حیران وي جانہ
پقیامت به پاره کیږي ۞ چه دیدار ده ستر ګو کیږي

الاصل السابع في المراقبة بانواعها ومراتب التوحيد قصه مراقبه

ده سالك چه څه روزګار وی — کیه قول که کردار وی

وسوسه که خطره دی — والله وته ښکاره دی

منتظر وی رب وتا ته — وحساب وجزا ته

في الاية وكان الله عليكم رقيبا

چه بنده هم منتظر شي — والله وته ناظر شي

سرایر که ضمایر وي — په ادب کښ تل ماهر وي

مراقبه ده شریعت دی — ده طاعت ده عبادت دی

چه رفع ده حجاب وي — ده بنده رب الارباب وي

تل به فکر ده حضور وی — یسختی بضرور وي

ملکه شي ښک خصلته — بي ضروره بي کلفته

کا هي پېښ شي لجلا له — لوی دهشت ود ته لا له

ما سوی دور شي لمیانه — چه فنا شي لسبحانه

بل دوم ده طریقت دی — چه دی خیل خوی خصلت دی

پر خیل خوی باندې فهیم وی — حمیده وي که ذمیم وي

بدلوی روز بروزه — خوځان پاك كړي دل افروزه
بل دریم چه څما وروره — مراقبه ذکر دی کوره
لطائف دی لسلطانه — لنفی اثباتی جانه
بل سالك لره نعمت دی — مراقبه ده معیت دی
ده رب لتنزیهاته — لواړه تقدسیاته
که ملحوظ لخپله خانه — لهه واړه جهانه
کلیات که جزئیات دی — که اجسام وی که ذرات دی
بی تمکین بی حلوله — بی وحدت ته بی دخوله
دا الحاظ یه ده جمال وی — ده تفصیل یه کوم مجال وی
په اخر چه ملکه شی — ملکه یه راسخه شی
لذت مومی لوصاله — معیت مومی ای لاله
ده توحید دی څو مقامه — داهم زده کړه دل آرامه
یو توحید افعالی دی — چه مقام ده لوی ولی دی
چه نظر کوی وخان ته — تر خان تیر شی جهان ته
همکی گنی یکسره — بی لفعله بی اثره
بی سکونه حرکته — بی اختیاره بی صفته

دی افعال د ده دوی خودرایه　　همگی کښی لخدایه
ده ایجاد لوجهی د له　　که صدور کیږی لبله
دائما یه دا الحاظ ویے　　دایه شغل د ایه رازق ویے
څو افعال ده سالک کوره　　همگی فنا شي وروره
یه افعال کښ ده رب ویے　　نیه شور نیه شغب ویے
اخلاس واخلی امیره　　له اختیاره لتد بیره
لکه مړی بجهان کښ　　ده ژوندی عالم میان کښ
بل توحید چه ده صفت دی　　نه هنر نه خصلت دی
کل صفات چه ده موجود ویے　　ده سالک ده خیل وجود ویے
کیه سمع که بصر وی　　کیه علم که هنر وی
همواره دل آرایه　　عاریت کښی لخدایه
اخر محوه شی ای وروره　　لنظره ده ده کوره
صفت نو بنی هیڅ کله　　بی صفات ده رب د له
لکه نمر چه شی تابانه　　ستوری ورک شی لدید بانه
بل توحید ذاتی د له　　رب دی تا نکه غافله
چه واره ممکن دلدا جه　　که ملحوظ لکر دکاره

بیا پرده یه دا باوری وی — لعرفانه بهره وری

چه وجود ده رب وجود دی — څه ممکن څیز بهبود دی

دوئی لری شی لمیانه — بل څه نوی بی سبحانه

کصر کبصیرت وی — ناست په بین کښ ده وحدت روی

سر په دادی ای دلبره — رب دی تاکه بهره وره

صفتونه ده رب کوره — کل قدیم دی څما وروره

له ابده تر ان له — الله فرد کښه اهو له

هم په فرد کښه آلانه — غلط مخه بد کمانه

څو سالک نشی ای یاره — پسلوک کښ پخته کاره

شغل نه وریله بویه — ده توحید داتی خونخویه

قال الاصل الثامن فی السیر والعروج ومراتب السیر والوصول

شه خبر لحیله څانه — پسلوک کښ ای نادانه

وی تار ولملکوته — ای څما ده زرکی قوته

ده هبوط وکره مهتابه — تر او یارزه حجابه

وقالب تیه فروازکر — چه مولی پخیله سازکر

فی الایة ونفخت فیه من روحی وفی الحدیث خمرة

طینة ادم بیدك اربعین صباحا

بیاده دوی له امتزاجه | لقربته ازدواجه
نفس زره پیدا شو جانه | چه فرمان وه لسبحانه
نفس منبع ده هر شر وردی | چه ده بنځو دا هنر دی

فی الحدیث النساء حبایل الشیطان

چه ده زره خوی خصلت وی | واړه خیر برکت دی

فی الایة وللرجال علیهن درجة

بیاده روح نفس لمیانه | محبت پیدا شه جانه
لکه حوا چه له آدمه | رب پیدا کړه همدمه
بیا یه دی پردی شیدا کړ | پداحب یه مبتلا کړه

فی الایة وجعل منها زوجها وجعل بینهما موده رحمة

خوك بی دین بی ایمان وی | بند ده مینی پزندان وی
خپل اصلی وتن یه هیر وی | پرگناه باندی دلیر وی
ده آشنا پرضا تله که | ودوزخ ته کښ وانه که
خوك رجوع وكه كوره | وخپل اصل ته ای وروره

څان بیروون که لر ندانه   تل جهاد کوی ای جانه
څو عروج کوی کلشنه   ته اصلی چل وطنه

فی الحدیث حب الوطن من الایمان ۱۲

لقلبی چه ته سلطانه   سالک وریشی جانانه
حجابونه چور چور وی   ده ظلمت وی کده نور وی
په ذکر یه لس زره   حجابونه څی ماهره

فی الحدیث ان الله تعالی سبعون الف حجاب من نور وظلمة ۱۲

دا یه سیر الی الله دی   بل کمان مکره کناه دی
چه د سیر منتهی شی   ده فنا مقام ته رسی

فی الآیة انی ذاهب الی ربی سیهدین ۱۲ قالوا من کان لله فله الکل ۱۲

آخر مومی دوه جهانه   ده مولی په فضل جانه
بل دوم سیر فی الله دی   بصفات کښ ده الله دی
یکښ فکر کوی جانه   څو طاقت لری لقانه
لجماله له جلاله   ده اسماء رتبه لا له

بل هم سیر من الله دے ‌ ‌ ‌ یکرم ده پاک الله دے
چه په بیا ره راشی کوره ‌ ‌ ‌ ده فنا لرتبی وروره
واره وار کوزیزی کښاته ‌ ‌ ‌ څو راځی ترممکناته
کډ وړ که ځان ای یاره ‌ ‌ ‌ ده ارشاد لکار وباره
پټ په ذکر ملکه وی ‌ ‌ ‌ تل حضور مشاهده وی

فی الایة قل هذه سبیلی ادعوا علی بصیرة و من اتبعنی

بل هم سیر چه بالله دی ‌ ‌ ‌ په اشیاو کښن لله دی
واره وار ور معلومیږے ‌ ‌ ‌ چه لدن پر فیض کیږے
ده هر حال خپله شانه ‌ ‌ ‌ لطاقته هم لتوانه
اشتغال که لتلقینه ‌ ‌ ‌ څو ته خدای رسوینه
وصال هم زده کړه دلبره ‌ ‌ ‌ غافل مځه بی خبره
چه مشغول وی نیکخصلته ‌ ‌ ‌ څوک لذوقه محبته
لطایف وی که سلطان وے ‌ ‌ ‌ داوصال ده پاک سبحان وے

فی الحدیث انا عند ظن عبدی بی وانا معه متی ذکرنی

چه پیدا فاسد افکار شی ‌ ‌ ‌ ور له په شغل ده ستار شی

دا یه وصل دی لخدایه — پناه غواړی د ل آرایه

فی الایه ومن یعش عن ذکر الرحمن تغیض له شیطانا

مرید اله قرینا

بیا وصال دی پخو ړنګه — وار په زده کړه ای خوشړنګه

یو وصال علی الدوام دی — لوی وطن لوی مقام دی

چه هرګز لذوا الجلاله — څوک غفلت نکه ای لاله

دائمی وصل ما هره — هرګز نه راځی بی سره

زړه ګردان دی څما د له — تقلب که تل ته تله

هم د روح داهسی داب دی — مجاور چه ده قلاب دی

دوم وصل ده لباس دی — ده سلوک ده کوټ اساس دی

چه تفیل ده زړه مرآت که — ځینی محوه کدورات که

انوار وری لوړ ده لوړ — له اذکار څما وروره

یا انوار وی څما له — لجماله له جلاله

بل هم وصل اجتبا دی — مرحبا دی مرحبا دی

چه حجاب ده نور پاره شی — پصفات کښی ښکاره شی

دریم وصل ده عریان دی — چه الحافظ ده پاک سبحان دی

خالص ذات چه بې صفته | دی الحاظ که نیک خصلة
چه مقام یه ده حیرت دي | هم حیرت اندر حیرت دی

الاصل التاسع المحاضرة والمشاهدة والتجلی قصه

محاضره ومشاهده وتجلی

معرفت چه لدنیه | شی حاصل بې قال وقیله
محاضره دی ای دلبره | رب دی تا که بهره وره
چه سالک فنا شی جانه | حجاب لری شی لمیانه
په مقام کښ ده حیرت وی | نه شک وی نه تهمت وي
وره ته کرانه شی طالبه | چه الله بولی په ژبه
لکه څوک چه همنشین وی | تل مدام ده ده قرین وي
نار که کله که پرزوره | چه وبولی ای وروره
مشاهده یه بولی لا له | رب دی تا نکه ملاله
چه شی نور ده حق تابانه | شها وینی بې گمانه
که د سر سترگو نوی | تل په پرده ده کاته وي
وی پکره په دهشت کښ | تل حیران پخپل وصلت کښ
سالک وسیتی بې اوره | تجلی یه بولی گوره

کاه وروح ته له اکبره — تجلی وشی انو ر ه

بیا ده روح تجلی جانه — وسالك ته شی عیانه

یقالب بصورت کښی — غریب پریوزی یغلط کښی

لکه سوړ کالی چه وینی — پمرئات کښی لکه وینی

ده سرحی کمان که د له — پمرئات باندی پخپله

دابی رنکه مصفی وی — ده مرئی پرنك خطاوی

دی پرخان ده حق کمان که — څو سبقت ده ده لسان که

انا الحق وائی ای دلـه — ده منصور بد ود عاقله

یا دی وائی سبحانی — ما اعظم الشانی

ده بازید پخیر د لداره — داهم واروه لخاکساره

فرق یه دادی ای دلبره — رب دی تا که بهروره

تجلی چه حقانی وی — بشری صفات فانی وی

پروحی کښی څماوه وره — داصفات باقی وی کوره

که ساعت وړلـ شی ای یاره — ژر کردش کوی دوباره

الاصل العاشر في الالهام والمكاشفة والفراسة

قصه الهام ومکاشفه وفراست

چه ده خیر لروز کاره — شی خبر ځما نکاره
پرچا فضل ده علام وی — داده هر سالک الهام وی
کاه لغیبه داجواب وی — کاه وبنی کاه پچواب وی
کاه دخلق لژ بانه — داالهام هم شی جانانه
کاه دخضر ملاقات وی — چه سبب یه ده نجات وی
چیه شغل وی لذکره — پاک که زړه لغیره فکره
حجاب لری شی ای وروره — ده سالک لمخه کوره
که پرده وی کدیوار وی — لعالمه خبردار وی
دایه کشف دصورت دی — چه ده پاک الله قدرت دی
ده معانی کشف بدله — شی بعقل تل ته تله
بقلبی چه خبردار وی — یکښی کشف ده انوار وی
ده روحی کشف فهیمه — لجنته لجحیمه
حجاب ذوړ شی لمیانه — لزمانه لمکانه
عالم واړه نمایان شی — مستقبل ماضی یکسان شی

فی الحدیث عرضت علی الجنة فرایت اکثر اهلها المساکین
وعرضت علی النار فرایت اکثر اهلها النساء

بیا په کښې نیك خصلته　　دی خبر شی لحکمته
ده واره وموجوداتو　　ده جهان ده کائناتو
ده عالم وجود چه کیږی　　یکایك وره معلومیږی
چه حکمت وی په جهان کښې　　یا په این یا په آن کښې
ده خفی کشف دا شان وی　　په صفاتو ده سبحان وی
چه کشف وی لعلمه　　لدن بیا مومی بی علمه
معنیات وینی دلبره　　چه وی کشف لبصره
هم کلام آوری لغیبه　　بی لشکه بی لریبه
چه وی کشف ای جانانه　　پر ده سمعه لسبحانه
ده اخفی کشف دلبره　　رب دی تا که بهره وره
په شیون کښې ده ذوات دی　　ذات لکنه مرآت دی

فی الایة کل یوم هو فی شان

چه صافه آهینه وی　　ده بل زره وره ښکاره وی
پاك الله یه لکرمه　　زره روښان کاندی صنمه
که لن روڼخه خبر یی　　ښایسته کښلی نادری
فراست دی ای رائیسه　　روایت دی لحدیثه

فی الحدیث اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله خاتمه فی

بیان الالفاظ المستعملة فی السلوك منها الفنا والبقا والخوف

چه ده خلق لغا ده ته — ځان بیرون که نیك خصلته
چه گفتار کیه کردار وی — تول ده شرع پر رفتار وی
فنا بقا ده شریعت دی — چه سالك لره عفت دی
چه خوك بد خوی پرېږدی — شه ځان پوری زیور که
ده طریقت فنا بقا دی — ودانا ته هویدا دی
چه وجود دوه شی لمیانه — بشری صفات لځانه
تل حضور تل شهود وی — ده سلوك فنا وجود وی
هم یه محو اثبات گوره — بل گمان مکړه ای وروره
چه فنا یه یدا شان وی — نه اثر نیه نښان وی
ور ته محو وائی ای دله — لدا هم مشه غافله

ومنها القبض والبسط

چه سالك وی پخوشی کښ — وی اذکار پتی کښی
وی رجا غالبه گوره — دایه بسط ده خما وروره
چیه خوف ویره ډیر شی — ده اذکار رفتار یه هیر شی
یا ضعیفه یږده مرده وی — دا ده قبض مرتبه ویه

ومنها اللوایح واللوامح والطوالع والحال والمقام

که پزړه ده سالك یاره ځه نزول وکه لوا ره
کیه قبض وی کذوق وی کیه سبط وی که شوق وی
که انیس کیه هیئت وی کیه جمعه که فرقت وی
لکه برق چه وځلیږی دم بدم په اوره کیږی
دالایح بولی دلبره ږب دی تا که بهره وره
بیالامع هم ځخوډیږوی طوالع هم ترده تیږوی
چه پسی ممتد شی کوره ده غه حال بولی ای وروره
چه بقایه وی ته ډیره دا مقام بولی دلیره
یا مقام قیام ده وروره چه سالك پر طاعت کوره

فی الایة وما منا الا له مقام معلوم ومنها الخواطر والوارد

چه لخیره یا لشره ده سالك پزړه دلبره
څه ورپیښ شی ناګهانه خواطر یه بولی جانه
بیا وشرع ته نظر دیے چه محك ده خیر وشر دیے
ظاهری فرق یه دلدا ره آوریده شی لخا کساره
چه پزړه ده یا سه وروره خطره لحقه کوره

پر یمین وی لملکه — د الهام کنه بی شکه
چه پزړه کښی پیدا کیږی — خطره لنفسه کیږی
هواجس یه بولی دله — رب دی تا نکه غافله
پر یسار وی لشیطانه — وسوسه یه بولی جانه

ومنها الوقت

چه سالك یکښ وی لاله — پر حاضر نفس لحاله
کیه حزن که سرور وی — دایه وقت دی چه حضور وی

ومنها الهیبة والانس

د سالك چه قبض پیروی — ده حساب لحده بیروی
داهیئت بولی ای ورور — پاك الله دی خپنی زعور
چه سبط دیر شی بی شانه — داوانس توی کشانه

ومنها الوجد والتواجد والوجود والخمود

چه ده ذکر لپر توره — پر سالك راشی لوره
چه لحزنه لطربه — بی کلفته بی شغبه
دغه وجد بولی دِ له — رب دی تا نکه غافله
چه په زور که ځان خوشحاله — یا خفقان کوی ای لاله

وجدانم

وجد نه دی توجد دی مبتدی لره لابد دی
اخر وجد تری پیدا شی چه کرم ده پاک مولی شی
لکه قرآن چه په پاکی وی هکا نوی پتکی وی
چه سلطان ده ذکر کوه شی ساکن پزده کښی ویره
دا مقام په ده وجود دی ده وجود فنا خمود دی

وَمِنهَا الجَمعُ وَالفَرقُ وَجَمعُ الجَمعِ وَالفَرقُ الثَّانِی

چه پزره ده سالک لا له یکرم لذوا الجلال له
چه وارد شی له اثره دا په جمعه دی دلبره
با بنده چه عجز نیاز که و دعا ته لاس پرواز که
په بندگی کښی ده ستاره وی لگناه شرمسار ویے
خان جدا کنی لخدایه ده گناه له آلایه
دا په فرق دی دلبره رب دی تا که لهره وره
پرسالک لازم دی واره کدا نوی مدبه ویاره

قَالُوا كُلُّ جَمعٍ بِلَا تَفرِقَةٍ زَندَقَةٌ وَكُلُّ تَفرِقَةٍ بِلَا
جَمعٍ تَعطِلٌ

چه سالك محوه فنا شي جمع الجمع لره را شي

بيا هبوط چه كوي كښاته دي لمحوي ته اثباته

دا ده فرق ثاني دي چه كرم يه سبحاني دي

ومنها السكر والصحو

پر عارف چه كشف لا له څه لصفات شي لجلاله

لحوښي وي دير بي تابه لكه مست بي ميوه نابه

دا يه سكر دي لذكره غير و باسه لفكره

بيا حجاب چه شي لميانه كشف نوي خما جانه

زړه يه را شي ته آرامه دا يه صحوه دل آرامه

ومنها الذوق والشرب والري

چه لكشف كرامته له اخلاصه محبته

څكه وكه دل آرامه دا ده شرع لمقامه

دا مقام كوره ده ذوق دي دير يه حب دير يه شوق دي

چه وڅښي ښك خصلته لجها ده طريقته

دغه شرب دي اي دلبره شرب دي تا كه بهره وره

چه سالك شي بسيرابه پسلوك كښي اي مهتابه

دا مقام گوره دگړی دی | چه نه سنی لا شی دی

ومنها الستر والتجلی

چه شی نور ده حق تابان | ده سالک پر زړه کښې جانه
سالک وسیځی بی اوره | تجلی یه بولی ورور ه
چه زایل شی بیا دلبره | سالک خلاص شی لضرره
دا یه ستر او کتمان دی | چه کرم ده پاک سبحان دی
لکه تجلی چه قربت دی | ده رب فضل مرحمت دی

ومنها التلوین والتمکین والقرب والبعد

چه ده ذکر ترقی وی | لقلبی ته روحی وی
ته خفی و ته اخفی وی | ته مقام ته فنا وی
شان پښان رنګیږی گوره | ده عرفان پخم کښې وروره

فی الآیة صبغة الله ومن احسن من الله صبغة

دا مقام یه ده تلوین دی | ده سالک حبل المتین دی
هم یه قرب دی خما وروره | ده الله ته دره گوره
چه حاصل ده ده مقصود دی | په مقام کښې ده شهود وی
مدام ناست پر دا مقام وی | بیا تمکین می ده ده نام وی

چه لذکره یه غفلت وي — ده ير ښي رياضت وي
تل ده نفس پرضا د رومي — ده شهوت شراب و شومي
دا یه بعد دي لحذا یه — کبو هيڅ ږي دل آرايه
چه سالك ده خداى بندگي كه — عاجزي سرافكندگي كه
ده شريعت لعزيمته — عبادت دي نيك خصلته
چه سختي كه پرخان جانه — رياضت كه دير بي شانه
شب خيزي كوي بيدا روي — په فاق كښ تاڼنا روي
په بندگي كښ يه تن راشي — دا يه ځاى دا يه مقام شي
عبوديت يه بولي لا له — رب دي تا نكه ملا له
چه دي راشي ته شهوده — اي حماده زره مقصوده
دا مقام ده عبوديت دى — لوي هنر لوى خصلت دى

ومنها السماع

چه سالك كوى همرازه — آو ريده لښه آوازه
كيه ذكر كه اشعار وي — چه خاطر يه ناقرار وي
بعض داوائي رخصت يي — نه گناه نه بدعت دي
پقرآن كښ چه روا دى — پدا نور كښ اولي دى

بلار

روایت دی لحدیثه — بل گمان مه کړه رائیسه
ځولکو مینځه خوش آوازه — آړه دالسازه بازه
ده عایشې دورانډې لاله — رب دی تانګه ملا له
پالے رسول ناګاه دوچاره — هغه وینځه هغه کاره
بیا عمر راغی دلداره — وینځه ولاړه لفراره
حضرت وخندل پزوره — پرادب ده وینځې ګوره
بیا عمر وی حال دی څه دے — داخندا دی تا رڅه دے
کړه قصه رسول بیانه — له اوله تر پایانه
بیا یه راوسته دوباره — دغه خپل مطلب ده پاره
بعض داوائی ګناه دی — لوی عصیان لوی بلا دی

فی الایة انما یشتری

چه آواز یه مستانه وی — نغمات ترانه وی
شیطانان کښی ای وړه — پراوږ ده هغه ګوره
په سینه یه وهی دله — پسینه کښی تل ته تله
څوده ده بزی له آوازه — ګباوړ کوی همرازه

فی الحدیث ما رفع احد صوته بالغناء الا بعث الیه شیطانین

علی منکبه یضربان باحقافها علی صدره حتی یمسک ١٢

چه سرود کوی جانانه بی او ریحی بی یارانه
منافقت زرغون که دله بیت پر ده کښی تل تر تله

فی الحدیث الغنا ینبت النفاق فی القلب کما ینبت

السیل البقل ١٢

تحقیق دادی ای دلبره ربّ دی تا که بهره وره
سرنده گدی لتا ده لطنبوره ملنرماره
چه ده فسق نښانه دی وبدی ته بهانه دی
یا به نشی هلکان وی یا مجلس کښی فاسقان وی
شك په نشته بحرمت کښی یعصیان پمذمت کښی
کدانه وی په آوازوی یا مجلس کښی تول همرازوی
هیڅ گناه نشته ثواب دی روایت چه ده کتاب دی

قال ذو النون السماع وارد حق یزعج القلوب الی
الحق فمن اصغی بحق تحقق ومن اصغی الیه بنفس

تزندق ومنها الاربعة والفتوح ١٢

چه خلوت شبانه روزه سالك کښی نی دل افروزه

لعالمه پخلوت کښې | تل پذکر طاعت کښې
خانا خا بمومی کوره | یوا ځې پرزه کښې ورو ره

فی الایة فتم میقات ربه اربعین یوما وفی الحدیث من اخلص لله تعالی اربعین ظهرا نا بیع الحکمة من قلبه علی لسانه

بیا اثر ده دل آرامه | دی نګاه لری دوا سه
چه ده ده خوی وخصلت ویے | تل په شغل د طاعت ویے
لځه خیر دی کشر دیے | لعادته بهره ور دیے

فی الحدیث الخیر عادت والشر عادت والنفس معتادة

سر په دادی کیو هیری | په اندک رموز کړو هیری
چه آدم لملکو ته | کښاته راغی لهبوطه
خلافت ده ده تعین شه | په تمام روی زمین شه

فی الایة انا جعلناک فی الارض خلیفة

خمیره کړی الله دله | پخپل ید سره پخپله
پخلوبنت شبانه روزه | ده ده خپی دل افروزه
پری باران کیده لغمه | چه برخ شی ای همه

دی لملکه لملکوته | ده سالک ده فؤاد قوته
بیا دغه تخمیر مهتابه | شی پوره ځلو ینت حجابه
چه سالک وکه رجوعه | پدغه شماره خضوعه
پاک الله بلدا میانه | دا حجاب واخلی جانانه
روح یه بیاره عروج وکه | چه اصلی وطن ته تله که
بیا خو شرطه ده خلوت دی | چه سالک لره عفت دی
یو دی تجرید بو یه لماله | چه خیرات یه که ای لاله
چه مال وی ترشا یاته | زړه یه کوز وهغه خواته
پریشانی د پروسواس وی | نه حضور نه اخلاص وی

فی الحدیث قلب الرجل عند ماله

بل همتن جامه کره پاکه | خلوت مکوه بی باکه
بل توبه یه اخلاص بویه | کیوهیزی ای خوشخویه
بیرون مخه نیک خصلته | بی نمنځه وجماعته
لز شراب لز طعام دی | مختصر کوتاه کلام دی
بیا یه ذکر دی ای یاره | تل مدام لیل نهاره
لحه کشف کرامت وی | واردات یه ده خلوت وی

دا فتوح

دافتوح بولی ای لاله | رب دی تانکه ملا له
یا چه رزق ورشی لربه | بی طلبه بی تغبه

ومنها الصوفی والمتصوف والمتشبه بالتصوف ۱۲

چه لباس یې پشمینه وی | وخواری ته بهانه وی
لاس یې کښلی لدنیا وی | خاص محب ده پاک مولی وی
تل یې زهد ریاضت وی | داصوفیان دایه خصلت وی
که یې زړه کښې پټ زهیر وی | پدنیا پسی دلګیر وی
په تکلیف سره لګیا نه | دنیا یې ګاندی جانانه
متصوف یې بولی دله | رب دی تانکه غافله
کتشبه کوی لدوه | چه ځان کښای نښی یکسوه
کله کړ کله کناروی | داتشبه دایه روزګاروی
داهم لوی خصلت دی لاله | رب دی تانکه ملا له
په صوفیان کښې حساب دی | روایت چه پدا باب دی

فی الحدیث من تشبه بقوم فهو منه ومن احب قوما فهو منه ومن کثر سواد القدم فهو منه ۱۲

رابطه ده شیخ وګوره | پداسر یې پوه شی وروره

ومنها الخادم والتشبه بالخادم

چه خدمت که د نیکانو — د ښتینو سالکانو
په اخلاص په ښتیا وی — نه طمعه نه ریا وی
په ظاهر که خدمتکار وی — په معنی ده دوی سردار وی

فی الحدیث سید القوم خادمه

ځکه وحی لسبحانه — و داؤد ته راغلی جانه
هر چه څوک څما طالب وی — څما ولوړ ته راغب وی
کړه خدمت ده دوی داؤد — تبه و رشی ته مقصود ده

فی الحدیث اوحی الله الی داود اذا رایت لی طالبا فکن له

خادم صاحبه سید رحمت

که خدمت غواړی لبله — کړه ده نوړ خدمت دله
پکښ مکړه شك رائیسه — کباوړ کړی لحدیثه

فی الحدیث من خدم خدم

چه تکلیف کوی لخانه — په خدمت کښ څما جانه
په اخلاص کښ یه خلل وی — لخادمه سره مل وی

ومنها الملامتی والقلندری

صبوره

چه پرزره دي چا ده پاسه جرعه توشي له لا خلاصه
رياضت يه پټ پنهم وي په کنارکښن ده عالم وي
ده عالم دوراندي گوره کم وده که ځان هر گوره
پهغوچا ره جانانه چه دي دوروي لعصيانه
لکه رب چه ده اناروي ده شراب يه وقاروي

قالوا الملامتي من لم يظهر خيرا ولم يضمر شرا

حکايت واروه دلبره رب دي تا که پهروره
سوداگر دولايت وه ډير يه مال ډير دولت وه
ده ده لوړه دلپذيره پينا يست کښن لا نظيره
دي ده حج پرلوړ روان شه پتدبير يه ډير حيران شه
چه ده ښهر مرشد پيروه پصلاح خوبي ښهيروه
معتمد وه هر گوره پري يه وسپاره له وروره
دي روان شه وطاعت ته ده مکي و بنه زيارت ته
ناگاه پير پمبتلا شه پرخوبي ده دي شيدا شه
بي طاقته شه بي تابه څو يه وروښته مهتابه
آلوده يه پصحبت وه پگناه يه قربت وه

آخر حمل تری پیدا شه چه فقیر خبر پیدا شه
ویړ ده لفضیحته دا یه مړه کړه نیک خصلته
چه فقیر دړ لو لحا له وار ه سلب شوه ځما لاله
اخر دی پخان خبر شه ځینی مړ ده حب شړ شه
تل په آه په فغان وه چه پر ځپل گناه پښیمان وه
یوه روح پر سجده یاره عاجز پروت وه غمگساره
خوله یه ولیده پخواب کښ په تلقین پخواب کښ
چه ته دړ و مه گناه کاره ده فلانا ته لو دړ باره
چه فلانا ځایه وطن دی چه ر ده کوړ مسکن دی
وه پړو پر فتار کښ چه داخل شه پدیار کښ
ده پوښتنه کړه لچانه ده فقیر لحال له شانه
دوی به داویل خمار دی بچه باز بد کردار دی
چه داخل یه پلړ بار شه ده صحبت په انتظار شه
سمن بره گل رخسار وه لخلوته یه رفتار وه
پاس بطاق کښ بی حسابه صراحی پروتی مهتابه
کل احوال راغله په بیارته عاصی و گناه کارته

شعبان

شه حیران پظاهر حال کښ ۞ ده فقیر په پټ کمال کښ
ده پو ښتنه کړه ای لاله ۞ ده فقیر لدا احواله
ده وی گوره داخوب رو په ۞ خما پسر دی ای خوشخو یه
صراحی دکی طالبه ۞ لس کی و یا لر بـه
دامی طور ده داشان کړم ۞ چه غلط د ښو گمان کړم
چه و نه سپاری هیڅ کله ۞ امانت وما ته دله
شرمنده شه لحیرته ۞ لدا رمزه اشارته
چه ده حب لسته جامه ۞ پیاله نوش که دل آرامه
و که تیښته لعادته ۞ ده اولس لملامته
مست پجام محبت و یے ۞ نیه زهد ریاضت و یے
زخیره نکه ای وروره ۞ ده صباح ده پاره گوره
بیا نامه یه قلندری ۞ ښه خصلت ښه یه هنر دی

تمام شد کتاب الاسرار العارفین حسب
الفرمایش عالیجاه سید رحمت آخونزاده
باتمام رسید حق سبحانه وتعالی از جمیع
آفات و بلیات نگهدار اد ۱۲

شمائل محمدی رسولنا عظیم الهامة

رب یسر و بسم الله الرحمن الرحیم تمم بالخیر

لوی بزرګ ده حضرت سرو ... چه لایق ده تاج افسروه
کل پیدا ده ده لرویه ... که ملک وه که بشر وه

زلحة الجبهة

پاک نبی چه ستوده وه ... پجبین کبن کشاده وه
هغو نور کونه بیاموند ... چه پردریه افتاده وه

ازج الحاجبین

کږی وروځی نی باریکی ... لا نظیر پطرا ری کی
چه لوصله یه محروم شوه ... هغه تل دی پخواریکی

اشهل

شهلا سترکی کیه کوری ... بادامی عشق هم توری
عاشقان په انتظار دی ... ده قیامت ته وروځی پوری

اهدب الاشفار

دراز مژګان چه ده رسول وه ... عاشقان پسی مبلول وه

پوم مړانه

چه رانده یه شوه لدره | هغه تل دننه پیول وه

اقنی الانف

ښایسته لوړه یه پوزه | تر عنبر خوش هنوزه
چه لوصله یه مهجوړ وي | مبتلا لدرد سوزه

افلج الاسنان

هم یه غابن وه څبله لړی | ښایسته تر مرغلري
تجلی به شوه ملکونه | چه حضرت بکړی خبری

فصیح اللسان

چه د ده پاك بنی گفتار وه | ډیر لذیذ شکر بار وه
هم یه هر لغت گویا وه | دا اعجاز د ده پاك بنی وه

مجتمع اللحیة

هم یه توره گرده زیره | ښایسته وه بي نظیره
وه خوشبویه لگلابه | هم لعطره لعنبیره

طویل الیدین

پاك رسول چه خیر الناس وه | ښایسته اوږده یه لاس وه
رسیده تر زنگونه | سخاوت یه بي قیاس وه

شثن الکفین ١٢

لوی ورغوی د سرور وه | هم یې ګوښته منوّر وه
چه لاس یې بیعت نکړ | صحیح ځای د دوی سقر وه

رقیق الانامل ١٢

ښایسته نري یې سرونه | زیب یې ډیر وه تر ګلونه
د حضرت د لاس ګوتې | ښه نوکان لکه درونه

بعید ما بین المنکبین ١٢

هم اوږې یې څبله لرې | ښایسته کښلې نادرې
یې کښې مهر نبوّت وه | ډیر زیبا تر مرغلرې

بینهما عیناه ١٢

هر د ولو چه میان وه | د رسول یې کښې چشمان وه
لکه سیم چه د سوزن وه | تر آفتاب مهتاب رخشان وه

ضخم الکرادیس ١٢

هغه پاک رسول کریم وه | ښه مهیب صورت جسیم وه
وه پیدا لبرکته | ډیر هیبت یې ډیر علیم وه

معتدل الخلق ١٢

هغه پاک نبی سرور وه | نه سمین وه نه لاغر وه
بنایسته زیبا صورت وه | هر اندام یه برابر وه

عظیم الصدر

بنایسته فراخی سینه وه | ده حضرت چه گنجینه وه
پوره علم لحکمته | نه حسد نه کینه وه

اجرد طویل المسربة

نوره وینسته نوه پری باندی | بی ده سر تر زیره لاندی
مگر لیکه پر سینه وه | و نامه وته دو راندی

املح

پاک رسول چه نمکین وه | نهایتی دیر رنگین وه
چه یوسف یه ثانی نوه | رحمة للعالمین وه

اسمر بیاض اللون

گندم گون سفید تر زر وه | هغه پاک نبی سرور وه
ده بنایست هغی یه نوه | که آفتاب وه که قمر وه

تام القد

هم یقد میانه بالا وه | هغه دوست ده پاک مولی وه

سر تر پایه گل اندام وه　　دیر پر مخ بنا یسته لاوه

اطیب

هم خوش بوی ده شول تن وه　　زیات لمشک ده ختن وه

چه بتیر جری پکوی شه　　خوش نسیمه بوطن وه

ماکان شعره جعدًا اولا بسا

هم وبنسته چه ده نبی وه　　کلپید اپزیب خوبي وه

وه خوشه نکه میانه قده　　نه اوزده نه کارکوتی وه

همگی چه ده سروه وه　　ده سینی زیری ده سره

خلوپیر دیرش زره خلوبیت لکه　　شیز هم نوری بالاتر وه

واره نور وه لکه نوری　　هیځ خلاف نوپه بوری

دا اولس پکبن سپین وه　　ځلیده بلکه ستوری

اوده زیری لس ده فرق　　ځلیده بلکه برق

روایت دی لکتابه　　پکبن نښته زیاتی فرق

وعمره ثلث وستین سنة دون المعراج

چه ده عمر یه حساب دی　　پښته کاله پکتاب دی

دری هم نوری دی بی معراج　　روایت چه پد باب دی

هم او زده اتلس کاله　　معراجی شپه وه ای لاله
قوت شوق یه محبت وه　　رازیه کړه لذوالجلاله
شمائل ده محمد دیے　　پښتو کړی شیر محمد دیے
خاتمه یه پر ایمان کړے　　ثناخوان ده محمد دیے

بسم الله الرحمن الرحیم

الهی زه گناه گار یم　　پر گناه استغفر الله
مستغفر بالاسحار یم　　پر گناه استغفر الله
کبیره وی که صغیره وی　　چه پما یی تحریر وی
له هغه واړه بیزار یم　　پر گناه استغفر الله
گناه دیر لرم بی شماره　　کرم وکړی کردگاره
پر خپل جرم توبه گار یم　　پر گناه استغفر الله
خما دیر دی گناهونه　　گناهونه لکه غرونه
ستا ده فضل امیدوار یم　　پر گناه استغفر الله
یو می خپل نفس اماره دی　　بل ابلیس غوندی مکاره دی
بند ده دوی بیمار یم　　پر گناه استغفر الله

دواړه مست خوني هتيان دي — مسلط پر ما حيران دي
ستا و فضل ته فرار يم — پر ګناه استغفر الله
پغفلت مي عمر تير کړ — معصيت مي پکښ ډير کړ
د طاعت لباره خوار يم — پر ګناه استغفر الله
خالي لاس بخم ته ګوره — خجالت لرم هر ګوره
سراره اعتذار يم — پر ګناه استغفر الله
توبه نلرم ناچار يم — روند پر سخته لار يم
که انعام کړې منت بار يم — پر ګناه استغفر الله
که عاصي يم که مخ تور يم — بنظر د کرم ګوره
چه بخيل ګناه اقرار يم — پر ګناه استغفر الله
تکيه نلرم بي تا نه — اى کريمه مهربانه
بناله به آه زار يم — پر ګناه استغفر الله
ته حليم يې هم ستار يې — هم رحيم يې هم غفار يې
زه عاصي هم شرمسار يم — پر ګناه استغفر الله
ته دانا يې هم بينا يې — هم قادر يې هم توانا يې
زه عاجز ذليل نزار يم — پر ګناه استغفر الله

ستا لقا ته نوی روی یم　لکه موم هسی ویلی یم
ده غفران په انتظار یم　پر گناه استغفر الله
رب ستا رحم فایق دی　پر غضب باندی سابق دی
ځکه تل پدا کوکار یم　پر گناه استغفر الله
بنده یم کرده ابلیس یم　ورک ده نفس په تلبیس یم
زاری کوی دی دربار یم　پر گناه استغفر الله
که بخوله وایم بنده یم　پت پر زړه کښی شرمنده یم
چه بد فعله بد کردار یم　پر گناه استغفر الله
بخوله خه وایم سبحانه　هیڅ مخفی نشته لتا نه
بخیل خان پوری اوګار یم　پر گناه استغفر الله
که قرار کښی نه وریږم　که طاعت کوم شرمیږم
بی حضوره بی وقار یم　پر گناه استغفر الله
طوق ده غاړی می طاعت شه　که لما په معصیت شه
ده طاعت پر گناه بار یم　پر گناه استغفر الله
چه توبه ځینی بار بار کړم　بیا هغه گناه اظهار کړم
ده توبی په استغفار یم　پر گناه استغفر الله

که هر څو یم نالایقه امید دې کرم خالقه
نه ثواتی ده رویك ارم پر ګناه استغفرالله

چه ستا حبل المتین دی دی خاتم المرسلین دی
رحمة للعالمین دی پر ګناه استغفرالله

ده ابوبکر ده عمر یم ده عثمان ده حیدر یم
خاکپای ده چهار یار یم پر ګناه استغفرالله

ده نیکانو دامن ګیر یم پر در پروت لکه قطمیر یم
ده بدانو دې بیزار یم پر ګناه استغفرالله

په نیکانو پسې زغلی شیر محمد یم درغلی
هوادار دی ده دیدار یم پر ګناه استغفرالله

یا کریم کرم و کړې عفو ستا ګناه ده ده کړې
چه کوی یاد اذکار یم پر ګناه استغفرالله

استاذان لوړ پلاره آل اولاد عزیز لیاره
دواړه وزیر مه خوار یم پر ګناه استغفرالله

بسم الله

بسم الله الرحمن الرحیم

ای ده دو کون سرداره　　پر مولی باندی رو ینباره
ده دی خوار امت غمخوار　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه آواز ده الفراق وی　　پر ما ل قال قیل مَن راق وی
ملتفت می ساق پساق وی　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه عزرائیل پر ما ځنی زګی　　دلسوزی ئ نرمی پریږدی
ده زړه پانهیه می ریږدی　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه شیطان مکر جدل که　　ده جنګ اوره ومال به بل که
په ایمان ښما خلل که　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
پر تخته چه پروت عریان یم　　ده ژوند بمیان حیران یم
ستا ده فضل نګران یم　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه سفر کرم و عقبی ته　　دا فانی دنیا به پاته
امید نلرم بل چا ته　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه کفن ښما یتن وی　　توره لحد ښما مسکن وی
نه شمعه نه روزن وی　　راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه بسته ښما تربت وی　　لیاران می وحدت وی

کوره کلی می غربت وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه د ړون قبر پاره شی — بیا منکر نکیر سنکاره شی
نه زور نه آواره شی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه هلک می یتیمان وی — خپل پردی یه غلیمان وی
ډیر ده دوی اه فغان وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
لوی فرح چه ده قیامت وی — عالمونه پحیرت وی
ده هر چا اه حسرت وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه تبسته وی لو ږوه — هم لیلاوه هم لمو ږوه
بیزاری شی لوه ترور — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه ده نمر اتلس روبه — وزمکی نه شی یکسویه
دریابونه شی لخوبه — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه قاضی به پاک الله وی — ژبه لاس بنی به کواه وی
ډیر به واویلا و آه وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه حساب یه بخیر خیر وی — برزه و یه تقطیر وی
عاصیان خسته زهیر وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
نیک بد چه بیتله وی — ده هر چا به وهواه وی

ډیر ذل

ډیر بدان په ولوله وي — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه ځران په رسولان وي — شفاعت به وړنه ګران وي
عاصیان به سرګردان وي — راکړه لاس ده خدای ده پاره
لصراطه چه مرور وي — پسختئ بصرور وي
جهنم راته حضور وي — راکړه لاس ده خدای ده پاره
حطمه وهم سقر دیے — لا تبقی لا تذر دیے
دوی لواحه للبشر دی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
هم جحیم هم لظی ویے — چه نزاع للشوی ویے
دوزخیان به په غوغا وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
هاویه وهم سعیر ویے — چه ده دوی شهیق زفیر ویے
نه غوث نه نفیر وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
چه بدان وی مضطرب — وچې شوندې لغضب
مخ یه تور لتور شب — راکړه لاس ده خدای ده پاره
ډیر حیرت کړیه بیم وی — آب خور ده دوی حمیم وی
شاربون شرب الهیم وی — راکړه لاس ده خدای ده پاره
په دوزخ کښې چه تل شوم وی — یا خوراک ده دوی زقوم وی

زهر آلود بیه حلقوم وي — راکړه لاس ده خدای ده پاره
عمر تیر شه په غفلت کښ — په ګناه په ندامت کښ :
شیر محمد بنده امت کښ — راکړه لاس ده خدای ده پاره
یا رسول نظر وکړه — هم په ما هم په پرده کړه
که مو زبد بوته هم شه کړه — راکړه لاس ده خدای ده پاره

صاحبه سید رحمت

بسم الله الرحمن الرحیم

ای ده هر مشکل تدبیره — ده ګناه ډیره اکسیره
ده درماند دستګیره — خلاص کړه ما له هره غمه
ډیر دی قدر ډیر دی جاه دې — په دربار کښ ده الله دې
څکه څما فغان آه دی — خلاص کړه ما له هره غمه
هم چه ته غوث الاعظم ئې — په ولیان کښ افخم ئې
ده رنځو زړه مرهم ئې — خلاص کړه ما له هره غمه
چه خراب ده رسول دین شه — بیا په تا قوی متین شه
څکه نام د محی الدین شه — خلاص کړه ما له هره غمه

ګل بته ده کوم بوستان ئ | ده رسول ده خانه دان ئ
ده مولی ده دربان ئ | خلاص کړه ما لهٔ غمه
کل وليان وتا ته خم شوه | هم عرب هم عجم شوه
تول دِ لاندی د قدم شوه | خلاص کړه ما لهٔ غمه
که اقطاب دی که ابدال دی | چه دوستان ده ذوالجلال دی
خم وتا ته لکه دال دی | خلاص کړه ما لهٔ غمه
الف واره چه صنعان شه | ستا لپايه ګريزان شه
په اخر عمر خوبکان شه | خلاص کړه ما لهٔ غمه
پکردن ده ده زنار شه | بيا شفيعه په عطار شه
پرده فضل ده ستار شه | خلاص کړه ما لهٔ غمه
هر قدم سروری دے | ده رسول په سروری دے
څکه دم ده عيسوئ دی | خلاص کړه ما لهٔ غمه
چه دی مره پلم زنده دی | غرابونه جنيده دی
کرامات دی شنيده دی | خلاص کړه ما لهٔ غمه
خاص بنده ته ده قادر شوی | په بندکی کښی پیر ماهر شوی
پر هر څه باندی قادر شوی | خلاص کړه ما لهٔ غمه

هر چه وائی هغه خدای که — کل کار ونه رهنمای که

پر خاطر یه ده آشنای که — خلاص کړه ما له ره غمه

شیر محمد دله افګاره — ده الله رسول ده پاره

یو نظر وکړه رو یداره — خلاص کړه ما له ره غمه:

صاحبه حسبیل

تم تم تمام شد کتاب اسرار العارفین من
تصنیف مولانا شیر محمد مرحوم بن مولانا
ملا شاهو مرحوم قدس الله سرهما العزیز
المعروف بقوم غلجی خصوصا هوتکی
اسحاق زئی حسب الفرمایش عالیجاه
ملا کروه آخونزاده بید احقر العباد
رسول باباء کشمیری تحریر یافت

جمال خصال هلال سمال خوشحال کمال خجال حال سوال فضل قال لال

نهال پرنهال سرحال مجال خیال نهال وبال خجلال نامال کشال مثال اجلال

اعمال

وکالے

اور روز پور سرتور لور کور نور شکور و بلاهور

اور روز پور سرتور لوکور نور نشکور و بلاهور .

اور روز پور سر تو

نور نشکور و بلاهور